

ددې شعري ټولگې نوم:

# څلير کې د ددو دود

شاعر: انجينر صفی الله فردوس

د غبرگولي نولسمه ۱۳۸۸

## بسم الله الرحمن الرحيم

**د الله په نوم پيل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لرونکی دی او مهرباني د هغه له ذاته سره ملګرې ده.**

## ليکي پوهه:


**سرليک:** ځلېږ کې د ددو دود « شعري ټولګه »

**ليکوال:** انجينر صفی الله « فردوس »

**خپرندوی:** مومند خپرندويه ټولنه – جلال اباد

**چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**ايډېټور:** سر مؤلف مرستيال محمد عزيز « تحريک »

**طراح او ډيزان:** انجينر صفی الله « فردوس»

**چاپ نېټه:** اوړی ۱۳۹۵

**( تر اته کاله ځنډ وروسته، غبرګوني نولسمه ۱۳۸۸ لېږديز لمريز کال)**


**د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نشته !**


پتې:

ننګرهار : عبدالمجيد مومند کتاب پلورنځی – مخابراتو ځلورلاری

کابل : اصلاح افکار کتابپلورنځی، خيبر کتابپلورنځی، دارالسلام کتابپلورنځی، مستقل کتابپلورنځی او پکتوس کتابپلورنځی. پکتيکا : مجاهد کتابپلورنځی.کندهار : امير کروړ کتابپلورنځی او افغان کتابپلورنځی. خوست : غرغښت کتابپلورنځی، رحيمي کتابپلورنځی، لمر کتابپلورنځی، سباوون کتابپلورنځی. هلمند : سيد جمال الدين کتابپلورنځی، عرفان کتابپلورنځی، تاج منور کتابپلورنځی. پکتيا : علمي کتابپلورنځی. غزني : قيومي کتابپلورنځی.

# ډالۍ

**په هاغه مینه! هغه مینه چې ماته زما مېرمنې راکړې،**
**سارانیسا، ازلدا، محمد الیا یې راته پیدا او رټ ستر کړي، ددې ټولګې خوندي کولو او خپرولو ته یې وهڅولم.**
**په همغه مینه چې ستاینه یې رسول الله ص کړې، هغه یې د مینې د اندازې په ګنې پوهیده چې وویل یې که له الله عظیم نه پرته بل چاته سجده کول ایجازت درلودی.**
**نو ما به میرمنو ته امر کړی وی چې خپلو میړونو ته څځلې وکړئ!**
**د پښتون پښت هغه مینې ته چې له خپلې ژبې او مېنې سره ګڼلې پښتونوالې کوي، لکه زما پلار او دهغه لومړي دیارلس ملګري چې د الله عظیم پر ارته ځمکه یې د هغه غوښتنه غوښته.**
**په همدې هیله همدو ته ډالۍ.**

**انجینر صفی الله « فردوس»**

# لړلیک


| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۱ | د دې چاپ تراڼ (پیل، شروع، برید) | ۱۳ |
| ۲ | د انجینر صفی الله « فردوس » لنډ ژوند لیک | ۱۸ |
| ۳ | د لیکوال په باب څو خبرې | ۲۴ |
| ۴ | انجینر یو ښه لار ښود | ۲۹ |
| ۵ | ځلېږ کې د ددو دود او څو کرښې ( پوهنوال محمد ابراهیم همکار لیکنه) | ۳۴ |
| ٦ | آرام خو له شوره ډک انسان | ۳٦ |
| ۷ | انجینیر صاحب صفی الله جانه ! | ۳۹ |
| ۸ | د محمد عزیز « تحریک » ځینې پوښتنې او د لیکوونکي ځوابونه | ۴۲ |
| ۹ | صفی الله فردوس چې زه پېژنم | ٦۱ |
| ۱۰ | د عـدل محکمو کې | ٦۴ |
| ۱۱ | له نظره نشي (د شهسوار سنگروال لیکنه !) | ٦۷ |
| ۱۲ | گرانو لوستونکو ( د استاد جاندات لیکنه !) | ٦۸ |
| ۱۳ | ننه توزي (پیلیزه، سریزه، مخکې وینا، مقدمه ) | ۷۲ |
| ۱۴ | الله الله! | ۷۵ |
| ۱۵ | فـترت | ۸۰ |
| ۱٦ | سپوږمۍ | ۸۲ |
| ۱۷ | سحق | ۸٦ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۱۸ | گوډاگی ( محمداجان گوډاگی) | ۹٦ |
| ۱۹ | د شیطان پلان | ۱۰۱ |
| ۲۰ | د ځنگله قانون | ۱۰۸ |
| ۲۱ | چا ته نه گو رې | ۱۱۳ |
| ۲۲ | تمکه | ۱۲۲ |
| ۲۳ | د ژوند باغه | ۱۲۵ |
| ۲۴ | کاکړۍ | ۱۲۷ |
| ۲۵ | څلوریزه | ۱۲۹ |
| ۲٦ | څلوریزه | ۱۲۹ |
| ۲۷ | څلوریزه | ۱۲۹ |
| ۲۸ | ملاست | ۱۳۰ |
| ۲۹ | د خره کار نامه | ۱۳۳ |
| ۳۰ | ضربتي | ۱۳٦ |
| ۳۱ | وطنه | ۱۳۷ |
| ۳۲ | غزال | ۱۴۰ |
| ۳۳ | میوند | ۱۴۲ |
| ۳۴ | انگړ | ۱۴۴ |
| ۳۵ | ورمې | ۱۴٦ |
| ۳٦ | د نهنگ خواص | ۱۴۷ |
| ۳۷ | چا ساده ته نصیحت کاوه | ۱۴۸ |

**ګڼه: سر لیک: چوپړی:**

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸ | هېـر وون | ۱۴۹ |
| ۳۹ | یاره هو | ۱۵۱ |
| ۴۰ | لمپاکا | ۱۵۳ |
| ۴۱ | غجکه | ۱۵۴ |
| ۴۲ | ډکی | ۱۵۵ |
| ۴۳ | رانه څه !؟ | ۱۵۸ |
| ۴۴ | د انجونو سندره | ۱۵۹ |
| ۴۵ | مُنتها | ۱۶۱ |
| ۴۶ | نو بیا تري تمه هم نشته | ۱۶۳ |
| ۴۷ | د ښوونځي ترانه | ۱۶۵ |
| ۴۸ | مستزاد | ۱۶۷ |
| ۴۹ | ببولالې | ۱۶۹ |
| ۵۰ | اشنا | ۱۷۱ |
| ۵۱ | سرکوب | ۱۷۳ |
| ۵۲ | مُرید | ۱۷۵ |
| ۵۳ | سلګۍ | ۱۷۷ |
| ۵۴ | غوړه مال | ۱۷۸ |
| ۵۵ | ژرفا | ۱۸۰ |
| ۵۶ | غزل ساز | ۱۸۲ |
| ۵۷ | بد مرغه | ۱۸۳ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۵۸ | کیسه | ۱۸۵ |
| ۵۹ | یاد | ۱۸۶ |
| ٦۰ | ماښام دی | ۱۸۸ |
| ٦۱ | رښتیا | ۱۹۰ |
| ٦۲ | ټگ او برگ | ۱۹۲ |
| ٦۳ | واورین | ۱۹۳ |
| ٦۴ | اټک ځای | ۱۹۴ |
| ٦۵ | دریځه لکړه | ۱۹٦ |
| ٦٦ | بې ترتیبه | ۲۰۱ |
| ٦۷ | څومره ښه | ۲۰۳ |
| ٦۸ | هرُم | ۲۰٦ |
| ٦۹ | پاچاخیلې | ۲۰۷ |
| ۷۰ | مرکه | ۲۰۹ |
| ۷۱ | لولۍ | ۲۱۰ |
| ۷۲ | بیل بیتۍ | ۲۱۳ |
| ۷۳ | قطعه | ۲۱۳ |
| ۷۴ | ځلوریزه | ۲۱۴ |
| ۷۵ | ځلوریزه | ۲۱۴ |
| ۷٦ | هایکو | ۲۱۴ |
| ۷۷ | پرما گرانه | ۲۱۵ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
| --- | --- | --- |
| ۷۸ | پلار جانه! | ۲۱۹ |
| ۷۹ | غلـی | ۲۲۲ |
| ۸۰ | مصـرۍ | ۲۲۴ |
| ۸۱ | لنـــډۍ | ۲۲٦ |
| ۸۲ | ټپــې | ۲۲۷ |
| ۸۳ | ټیـکۍ | ۲۲۹ |
| ۸۴ | حقیقـت | ۲۳۰ |
| ۸۵ | گـنهکار گـنهکار | ۲۳۱ |
| ۸٦ | هایکو | ۲۳۵ |
| ۸۷ | هایکو | ۲۳۵ |
| ۸۸ | هایکو | ۲۳۵ |
| ۸۹ | هایکو | ۲۳۵ |
| ۹۰ | هایکو | ۲۳٦ |
| ۹۱ | هایکو | ۲۳٦ |
| ۹۲ | هایکو | ۲۳٦ |
| ۹۳ | ټپــې | ۲۳۷ |
| ۹۴ | لنـــډۍ | ۲۴۰ |
| ۹۵ | قطعه | ۲۴۳ |
| ۹٦ | قطعه | ۲۴۳ |
| ۹۷ | هایکو | ۲۴۳ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۹۸ | هایکو | ۲۴۴ |
| ۹۹ | هایکو | ۲۴۴ |
| ۱۰۰ | هایکو | ۲۴۴ |
| ۱۰۱ | هایکو | ۲۴۵ |
| ۱۰۲ | هایکو | ۲۴۵ |
| ۱۰۳ | هایکو | ۲۴۵ |
| ۱۰۴ | غزل | ۲۴۶ |
| ۱۰۵ | مجبورې | ۲۴۷ |
| ۱۰۶ | گــڼلی | ۲۴۸ |
| ۱۰۷ | مصرۍ | ۲۴۹ |
| ۱۰۸ | د شپه میرو ټپې | ۲۵۱ |
| ۱۰۹ | پنیر | ۲۵۳ |
| ۱۱۰ | زنځیرې چاربیته | ۲۵۷ |
| ۱۱۱ | مرغومی | ۲۵۹ |
| ۱۱۲ | وې وایـم کنـه!؟ | ۲۶۱ |
| ۱۱۳ | واو زور وا | ۲۶۳ |
| ۱۱۴ | ځلوریزه | ۲۶۵ |
| ۱۱۵ | ځلوریزه | ۲۶۵ |
| ۱۱۶ | ځلوریزه | ۲۶۵ |
| ۱۱۷ | ځلوریزه | ۲۶۶ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۱۱۸ | څلوریزه | ۲۶۶ |
| ۱۱۹ | څلوریزه | ۲۶۶ |
| ۱۲۰ | څلوریزه | ۲۶۷ |
| ۱۲۱ | څلوریزه | ۲۶۷ |
| ۱۲۲ | څلوریزه | ۲۶۷ |
| ۱۲۳ | یاره را | ۲۶۸ |
| ۱۲۴ | گیډۍ | ۲۶۹ |
| ۱۲۵ | گوړبیتي | ۲۷۱ |
| ۱۲۶ | څلوریځه | ۲۷۴ |
| ۱۲۷ | سرخندنه | ۲۷۴ |
| ۱۲۸ | غڼه | ۲۷۵ |
| ۱۲۹ | غوږکی | ۲۸۰ |
| ۱۳۰ | کاش | ۲۸۱ |
| ۱۳۱ | کم کی اختر | ۲۸۳ |
| ۱۳۲ | څلوریزه | ۲۸۵ |
| ۱۳۳ | څلوریزه | ۲۸۵ |
| ۱۳۴ | سروکی، پام یا نیمکۍ | ۲۸۶ |
| ۱۳۵ | چاربیته | ۲۸۸ |
| ۱۳۶ | په دغه کې د پېغلې آه (دویزه یا مثنوي) | ۲۹۰ |
| ۱۳۷ | رټ | ۳۱۵ |

| گڼه: | سر لیک: | چوپړی: |
|---|---|---|
| ۱۳۸ | ترانه | ۳۱٦ |
| ۱۳۹ | کاکـۍ | ۳۱۸ |
| ۱۴۰ | ازانگـي | ۳۱۹ |
| ۱۴۱ | ټمبونی | ۳۲۱ |
| ۱۴۲ | جنون | ۳۲۲ |
| ۱۴۳ | اه ؟؟ | ۳۲۴ |
| ۱۴۴ | فیلان او بنگله دیشیان | ۳۳۱ |
| ۱۴۵ | نـاوۍ | ۳۳۸ |
| ۱۴٦ | بنـده گي | ۳۴۲ |
| ۱۴۷ | یو مخ درې عنوانه | ۳۴۴ |
| ۱۴۸ | یو مخ درې عنوانه | ۳۴۵ |
| ۱۴۹ | اوښـکه | ۳۴٦ |
| ۱۵۰ | منلی | ۳۵۰ |
| ۱۵۱ | قضـاوت | ۳۵۱ |
| ۱۵۲ | ښایست | ۳۵۲ |
| ۱۵۳ | مېنـه | ۳۵۴ |
| ۱۵۴ | نیمکۍ | ۳۵۸ |
| ۱۵۵ | باران | ۳٦۲ |
| ۱۵٦ | مایوسه | ۳٦۴ |
| ۱۵۷ | مور | ۳٦٦ |

**گڼه: سر لیک: چوپړی:**

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵۸ | راز | ۳۷۰ |
| ۱۵۹ | زښت او زیبا | ۳۷۴ |
| ۱۶۰ | زښت او زیبا | ۳۷۴ |
| ۱۶۱ | ډارنـــه | ۳۷۵ |
| ۱۶۲ | پښتون | ۳۷۷ |
| ۱۶۳ | میرخمنو | ۳۷۹ |
| ۱۶۴ | په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې !؟ | ۳۸۰ |
| ۱۶۵ | کاکړی غاړې | ۳۸۲ |
| ۱۶۶ | زما امریکایي شعر او د هغه پښتو ژباړه | ۳۸۳ |
| ۱۶۷ | پیله | ۳۸۵ |
| ۱۶۸ | خلېر کې د ددو دود ټولګې د پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي | ۳۸۸ |
| ۱۶۹ | لنډون | ۴۳۷ |

# د دې چاپ تراڼ

**د دې چاپ تراڼ (پیل، شروع، برید) د دې کتاب له نوم څخه کوم، ځلېږ کې د ددو دود، پښتو په پښتو مانا یې ده:**

**؛دشتې ډنډ کې د ځناورو د ژوند تګلاره؛ زموږ په هېواد کې څومره ظلمونه، نادودې، ناګڼلې، ستم،نارواوې، جنګونه، سترې او نانډرۍ تېرې شوې.**

**دا دیرش کاله پر له پسې تېرې کړې، افغانستان د پښتنومیرځمنو. دا ټولې کانې هغو ته ورته دي لکه په ځلېږ کې چې کومې نندرۍ ځناور کوي.بېلګه:**

**لکه یوه هوسۍ به د اوبو څښلو لپاره د دشتې ډنډ ته راشي،چې اوبه وڅښې، نو یا به یې لیوان، پړانګان یا ځمریان وخوري، که ترې تېره شي نو د اوبو څښلو په دوران کې به یې لویه سمڅاره له اوبو څخه ورټوب کړي او له خولې به یې را ونیسي، پرې حشر به جوړ کړي، له ډېرې تندې څخه به اوبو ته یو هم لاس رسی نشي موندلی. له ځنګلي سپیانو به لیوان ځغلي او زمري به له فیلانو څخه ځغلي او ماران به هم اوبه نسې څښلی چې ټپسان به یې نه پرېږدي.**

**د دې ټولو دود دلته پر موږ تېر شوی، شو او روان دی.**

**همدغه محیط زما شاعرۍ را ټوکه ولې ده، چې په کې له داسې ناګڼلو بوی را پورته کېږي، زما په شاعرۍ کې د لغمان ادبي محیط د اثر زېږنده ده، د سېمې انځور، اخذ او اغېزه شته، هم په کې د مزاحمت او مقاومت کړنلاره، د خوی تګلاره شته.زما ځینې زېږه،**

بېباک او بربنډ ټکي، ترکیبونه او خبرې که له یوې خوا زما د جرې، ازاد او بېباک ذهن ترجماني کوي، له بل لورې په تخلیقي عمل کې زما د مزاحمتي رویې شدت، د برلاسې طبقې له اخلاقیاتو زما د مخالفت او د ژوند د بقاء او پرمختګ په چارو کې زما فعالیت څرګندوي.

یووار عبدالله « بختاني » صیب په ۲۰۰۵ میلادې کال کې د افغان ادبي بهیر کې وویل: ؛ چې زه د استاذ ګل پاچا « الفت » شاګرد یم. ما دهغه په لاره پل ایښی دی، دې ته یې نغوته وکړه چې هر څه زموږ په ژبه کې شته، سولیت شا ویرګینوف روسي نوم یې واخست چې هغه ۲۰۰۲ میلادي کال کې د پښتو ژبې په کنځلو کې ماسټري واخیسته ؛موږ به داسې فکر کوو چې په پښتو کې به یا دوې یا درې کنځاوي وي.

او بس نورې به شتون نه لري، هره یوه کنځا ځانته په ځانګړي ځای کې ځانګړې مانا لري. که خوشحال خان خټک، خان عبدالغني خان یا ما فردوس خان له ژبو څخه کنځاوې

( سپکې، سپورې، ژیړي ، زیړي، ستغې) چې راوتي په شعرونو کې نو ژبه نیولي شوي ورته نه یو، که ادب: پوهې، زیرکی، اخلاقي تهذیب او فضیلت ته ویل کېږي. یا په اصل کې ادب هغه پوهه او ریاضت دی، چې انسان ته فضیلت ورپه برخه کوي، په خپلو کړو وړو کې یې له سهوې او ښویېدنې څخه ژغوري. زما شعرونه زما احساس کټ مټ انتقالوي او ستاسو لوستونکو او اورېدونکو پرعواطفو اغېزه کوی شي. ځکه ما له واقیعت څخه خپل برداشت

په عاطفي بڼه انځور کړي دي. همدې ته ادبيات ( ليټرېچر) هم وايي چې لويديځوال بيا د ټولو له چاپه راوتو اثارو مجموعي ته وايې.
ځکه دې برخې ته ښوېيدنې نه وايي چې زما له پامه په نوموړې برخه کې کښل شوي دي. زما موخه په هېڅ بڼه داسې نه ده پاتې شوې چې د لوستونکو ذهني سويې ته خپل معيار راټيټ کړي وي بلکې جغات مې دا سې ځرګند پاتې شوی چې د لوستونکو ذهني معيار را لوړ کړم. زما شاعرۍ د نظمونو پر بېلا بېلو فورمونو د غږيز او څپيز خجيز جوړښت تطبيقېږي.
ډېری يې د پښتوژبې د غږيز او اهنګين جوړښت پر بنسټ رامنځ ته شوي.خوند يې په بډايه پښتو ژبه کې دی چې ډېری يې قافيه او ان رديفونه نلري، ځېنې يې بيا له دې قيد څخه هم ازاد دي. دا سمه خبره ده، تر اوسه پورې د پښتو شاعرۍ ټول فورمونه دې ځرګند شوي وي.د دارنګه کالبونو مجموعه به له دوو سوو بېلابېلو جوړښتو ته ورسيږي.
د پښتو د ولسي او لوستې شاعرۍ ځينې مشهور فورمونه له بېلګو سره په کتابونو کې شتون لري. په دې ټولګه کې به داسې څه ووينئ چې په هغه کتابو کې نه وي، لکه د پښتو ولسي شاعرۍ لمن چې ډېره پراخه ده او تر اوسه لا د هر فورم ټول ډولونه او د هغه بشپړې بېلګې نه دي معرفي شوي. کومې چې معرفي شوي له هغه پرته نور داسې شعرونه فورمونه شتون لري چې په پورتنيو کالبونو کې نه

راځي ما د خپل فکر او ژوند د اړتیا له مخې د نورو شعري کالبونو له پام کې نیولو پرته رامنځ ته کړي چې ځانګړې نومونه هم نلري.
هر تن د خپل ذکاوت په انډول له ډېرو ویکو شعرڅخه په بشپړ بڼه اشنایې پیدا کوی شي په کې. د ډېرو ویکو شعرونه چې ویکو ګڼه یې په پایلیک کې ( په هم هغه مخ کې ) یې مانا او توضیح لیکلي وی نه ځایېده، چې ځېنو ویوکو لا یوه یا دوې پاڼې یا چوپړي ځای نیوه.
نو دهمدې لپاره مې لکه د نړوالو ژبو په شان د هر سخت او پېچلې لغات ( وییکي، وی ، ویکو ) چې په غونډله (جمله ) کې یا د شعر په کوم بیت کې راغلی وي.
هغه په اخر کې له پیلې وروسته د ځلېر کې د ددو دود ټولګې د پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي کې د صفحو له شمیر سره په کې یاده ونه کړي.

بېلګه: د پښتو درې وی چې پر دې شعري ټولګي نوم کې دي، د هغو پښتو په پښتو مانا لاندې ده. لمړی ؛ ځلېر : د بېدیا تالاد، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د سارا حوض، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د ښتې ډنډ، جووړ، ترېلی، اود . ؛. ۱، ۲، ۱۳،۴، ۱۱۳، ۱۱۴، ۳۶۳، ( ټول ټال ۴۵٦ واري نور) په چوپړي کې (پاڼه کې ، مخ کې ، صفحه کې، مخګڼه کې) کښل شوی.

دویم ؛ ددو : دد یې مفرده وی ده، یعنې ځناور، جمع یې ددو کېږي مانا یې ځناورو، ځیرونکي ځارویو، ځیرونکي ژویو، وحشي حیواناتو یا د دد جمع ده ځناورو، ځیرونکي ځاروي، ځیرونکي

**ژوي، وحشي حيوانات . ؛. ۱، ۲، ۳، ۴، ۸،۹ ( ټول ټال ۴٦۵ واري نور) درېم ؛ دود: دستور ، رواج ، د ژوند تګلاره. ؛.۱ ، ۲، ۱۲،۱۰،۹،۸،۴،۳، ۲۰،۱۷، ۲۱، ۲۳۲، ۲۳۳ ( ۴۵۲واري نور).**

**له يوه اړخه ادبي فنون له عربی څخه موږ ته راغلي دي. ځکه د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې نېمګړتياوي شته.لکه د حميد مومند په باره کې د قافيې عيبونه، د رحمان بابا په باره کې د رديف او سيلاب عيبونه. له بل اړخه په ټوله نړۍ کې به په شمېر داسې شاعران وي، چې له شل کلنۍ نه په کوز عمر کې دي. شاعر ټولګه کښلي وي، زما شاعرې د شل کلونونه څخه په کم عمر کې شوي ده، ښايي عيبونه به ولري له تاسو درنو لوستونکو نه هيله لرم چې له عيبو يې په پټو سترګو تېر شئ او په راتلونکي کې يې راته په نښه او رابرېښليککړي.له دې سره به نوی پښت دا کابو وومي چې تر دغه منځ يوه پرتله وکړي او يوه پايلنيوي ته خپله ورسي!**

**ټولو لوستونکوته روغ صورت ، اوږد ـ نېکمرغه ژوند ، سرلوړي او برياليتوبونه غواړم !! د الله عظيم څخه په دنيا او آخرت کې ورته خوشحالي او سوکالي هيله کوم !!!**

**په درناوي ستاسو ورور**

**انجينر صفی الله « فردوس»**

## د انجینر صفی الله « فردوس » لنډ ژوند لیک

**انجینر صفی الله « فردوس خان » د استاد محمد عالم « عظیم خان » زوی، د مولایي حبیب الله خان مسی، ماتو، ګوډو، شخړو، پرېکړو او تړې تړونکي زرغون شاه خان کړوسی، د انجینر نعیم الله « عظیمي»، قاضي مولایي صفت الله « محسن»، زکرالله « حمزه»، ابرار الله « پرتاب خان»، بی بی عالیه، مرضیا، زکیا او عاطفه ورور، د مولایي عبدالناصر « عنایت الله خان »،**

**ملا عبدالله خان، عزیزالرحمن خان، فضل الرحیم خان وراره.**

**په ختېه تره خیل، د لغمان مرکز مهترلام پرتې زرغونې اوارې سېمې کچورشمعتې پورې تړلی ؛ مور یې د پړوایې سیمې د منجلام کلي د سکندر خان لور، د نیازمحمد خان « سدوزي » مسۍ ده.**

**ښاغلی فردوس په۱۰/۰۳/۱۹۸۶میلادي کال کې په دینداره، زده کړیاله، پښتنې ، میلمه پاله ، سپیڅلې کورنۍ کې دهجرت پر محال د پیښور څمکنو په استوګنځي کواټروکې زېږیدلی دی.**

**لومړی ټولګی یې په ۰۸/۰۳/۱۹۹۰ میلادي کال کې په کډوالۍ کې د حضرت قیس بن سعد ښونځي کې لوستی، ټولګي کې څلورم نمره و، لومړنۍ زده کړې یې له ۱۷/۰۵/۱۹۹۲ څخه تر ۱۲/۰۲/۱۹۹۵ میلادي کالونوکې. په مهترلام ښار کې د تجربوي نمبراول په ښوونځي کې لوستي، ټولګي کې درېیم نمره و، له یو کال د سوې ازموینې سره، منځنۍ زده کړې یې له ۰۱/۰۳/۱۹۹۶ څخه تر۰۷/۰۲/۱۹۹۷ میلادي کالونو کې. په روښان لېسه کې لوستي ،**

**په اتم ټولګي کې ځلورم نمره و. د زاړه تحریک دوران و، د زده کړې کچه په پرې وتنې وه له ناخوالو سره، اړ شو چې پېښور نصرت مېنې ته د زده کړې لپاره لاړ شي.**

**په حضرت ابوایوب انصاری لېسه کې ځان داخل کړه. چې نوموړې لېسه په یوه کال کې دوه ټولګي بې له کومې رخصتۍ د دوبي او ژمي څخه په بشپړه توګه بشپړا وه. د حضرت ابو ایوب انصاری لېسې څخه په ۰۱/۱۲/۱۹۹۹ میلادي کال کې پېنځمه نمره په عالی درجه کې فا رغ شوی دی .له دوه پرله پسې د کانکور له ازموینې انجینری پوهنځۍ ته د بریالیتوب سر بېره خو طب پوهنځي ته لاس رسی پیدا نه کړ او پورتنۍ پاتیشونې پوهنځۍ یې پرمخ بوتلله.**

**اسلامې زده کړې یې له خپل نیکه څخه تر اولې درجې پورې کړې، د قران پاک د پښتو تفسیر او ترجمه یې له شیخ القران غلام الرحمن څخه کړې.**

**لوړې زده کړې یې په پلازمینې کابل پولي تخنیک پوهنتون کې کړې. په ۰۱/۰۳/۲۰۰۲ میلادي کال کې د نوموړي پوهنتون د الکترومیخانیک پوهنځی کې داخل او په ۰۱/۰۷/۲۰۰۷ میلادي کال یې د نوموړي پوهنځی د بریښنا د تامینولو څانګه په بریالیتوب سره پای ته رسولې ده، په ټولګي کې پېنځه نمره و. له نوموړي څانګې څخه یې دوه ستاینلیکونه : د روڼ اندیتوب، درناویتوب او ښه چلند د پوهنتون له استادانو، زده کړیالانو سره په شریکولو په برخه کې اخیسي دي. او د کابل پولي تخنیک پوهنتون کې د ځوانو انجینرانو د لغمان کمیټې علمي استازی پاتې شوی دی. د زده**

کړیالۍ پر محال یې له ۲۰۰۳/۰۳/۰۳ څخه تر ۲۰۰٦/۰۷/۲۵ میلادي کلونوکې د پوهنتون په شپه غاله کې له خپلو نږدې ملګرو څخه د ادبیاتو او بشري علومو څانګو د زده کړیالۍ درسي نوي کتابونه او لکچرونه اخستل ، له ځانه سره یې په بشپړه توګه لوستل. ټول افغانستان یې څو واري لېدلی، د روښن مخابراتې شبکې اسانتیاوې یې په لومړیو شیبو کې له ښارونونه نیولې تر درزنۍ سیمو پوري برابر کړي دي، په لسګونو تنو ته یې ټرېننګونه، نوي عصري مخابراتي وسایلو څخه ګټه اخېستنه، د ښادو (پایې، ډونګې، موټې، انټینا )، ناوو (نړیوال سیستم د غوږکي خبروکولو لپاره)، کاسو(وړوڅپو)، منځني سویچونو ټولوالو، طرحه کولوو،
د تارونو غزولو، په سم ځای کې په سمه توګه د کارکول، له هغو څخه پوره پاملرنه کول او وګړوته رټې اسانتیاوي برابر ولې.
له فرانسویانوڅخه یې په (TDCA) کې روزنه کړې وه، په لومړۍ دنده کې خپل وطنوال روزل، له زرو زیاتو ښادوڅخه یې په وطن کې او له څلورسوه زیاتو ښادو څخه یې په ازبېکېستان کې لېدنه کړې ده، له ۲۰۰٦/۰۱/۰۲څخه تر ۲۰۰۸/۰۲/۱۵ میلادي کالونوکې.
هغه مرستې چې د امریکا متحده ایالاتونو د انجینري ټیم له لوري په بیا رغولو، حکومت ته د بنسټې ودانیو ودانول وه. په خپل لاس د افغان خپلواکو شرکتو په لاس سره پرمخ بیوه، د افغانستان د بیاودانولو او پرمختګ شرکت کې د (QCM) په توګه دنده پرمخ بیوله چې له پېنځه وېشتو زیاتي امنیې قومندانۍ، امنیتي حوزو او

لسو زیاتو سرحدي لیواګانو ، ګاریزونونو، تورو سړکونو په رغونه کې ښه کړه وندړه کړې، ډېری ګڼه شپه میري
(پولیس،څارواکي ) ساتونکي او ملکي وګړو ته یې د بیت المال له نوموړو ودانیو څخه دسمې ګټې پورته کونې او د ډېری ژوند پاتې کېدو روزنه ورکړې.

**نادرې شېبې یې:**

:- په ۱۹۹۶میلادي کال کې د طالبانو د تحریک د فرهنګي مرکز غړي ترانه ووینکي استاذ قاري زین الدین « حقیار» د سید جمال الدین ښوونځي شپږم ټولګي شاګرد پاتې شوی،غلی شاګرد یې باله.
:- په ۲۰۰۴ میلادي کال کې. د روښان لېسې لومړۍ دورې لومړی اول نمره، د پولي تخنیک لومړۍ دورې لومړی اول نمره د المان پوهنتون پروفیسور، پوهندوي امان الله ژغورندوی ورته د استول ګراسکي د روسي ریاضیدان عالم لقب ور کړه . د انتیګرال څېړنېزه برخه کې. چې ځېنو متعصبو په تعصب تورن کړه او هغه ته خو ټولو د پوهنتون ښوونکو احترام کوه چې د ډیفارټمینټ امر پوهان حمطا یې هم شاګرد تېر شوی و. داسې سخته پرچه یې را وړې وه چې له څلورو ګروپو ۱۲۰ کسانو څخه. درې تنه بریالي شوي وه چې دوه زده کړیالانو پنځوس پنځوس نمرې وړې وې او ده یو پنځوس. چې له دې وروسته ژغورندوی صیب انجینرصفی الله خپل یو ښه شاګرد، ملګری او وطندار وموند.
:- له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۲ میلادي کلونو کې. د کابل پوهنتون د انجینري پوهنځۍ د لومړۍ دورې اول نمره او د سردار داود خان

**د ارگ د انجینري برخې آمر الحاج انجینر سید کمال « رحماني » سره پېنځه کاله په یوه خونې کاري دفتر کې د ښې لاس ځنگ په ځنگ میز باندې دنده کړې، او هغه ریښتنی وفادار شاگرد بللی دی.**

**:- په ۲۰۱۱/ ۳۱/۳ د امریکا متحده ایالتونو د نظامي انجینري ټیم مشر ( د یو ایس ارمي کورفس انجینري ټیم مشر) مارک سي جونیس له لوري په خپلو لاسونو، د انجینري ستاینلیک د ودانیو څه رنگوالي مدیریت او قرادادونو اداري بر خه کې په کابل ښهرنو، د مارشال شاولي خان په کور ( کلا هوس ) کې ورکړی وه.**

**:- په ۲۰۱۱/ ۷/۷ د امریکا متحده ایالتونو د انجینري ټیم عمومي ستر قومندان ( د یو ایس ارمي کورفس انجینري ټیم عمومي ستر قومندان) کول ټامس مگنیسس له لوري په خپلو لاسونو بریښنا د څه رنگوالي څارلو مدیر،د انجینري ستاینلیک په کابل افشارو کې ، د شپه میر و عمومي قومندانۍ (پولیس اکاډمۍ) کې ورکړی وه.**

**:- له ۲۰۱۴/ ۱۱/۸ څخه تر ۲۰۱٦ پوري . د یو ایس ارمي کورفس بنسټ ایښودونکي او شریک ښاغلي رای کارویر سره په غیر مستقیمه بڼه په ایم وي ایل شرکت کې د ابوموسی تر مشرۍ لاندې دنده کړې.**

**:- ۲۰۱ سیلاب قول اردو د دویمي لیوا ځمکني ځواک قومندان الحاج برید جنرال ولي محمد « احمدزي » له لوري ستاینلیک د ښې دندې او ښه خدمت د خاص کنړ د نوي کمپ په ودانولو کې ورکړی دی.**

**:- په ۲۰۱۵ میلادي کال کې . لغمان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لورې د ادبي او فرهنګي سپېځلو هڅو په ویاړ ستاینلیک ، د شاعر انجینر صفی الله فردوس او د هغه نږدې ملګري شاعر انجینر محمد یونس « حمیدي» د حمید یار استاد ورور ته یوځای ورکړی و.**

**:- د خدایي خدمتکار خان عبدالغفار خان کړوسي خان ظفر خان « اصیم » انجینر صیب صفی الله « فردوس خان» خپل ورور بللی او د وطنوال لقب یې ورکړی ورته.**

**له کوچینیوالي څخه یې په ادبې ناستو، غونډو، دودیزو مشاعرو او تړې کې برخه اخېستله.**

**چاپ ته چمتو اثار یې دا دي: ځلېږکې د ددو دود، ځنګل کې غړمبهار، د انګړ بېخلیک، دلنډیو، مصرو، ټپو او ټیکیو انګړ، چمتو سرفراز او د مچنغوزې ګاټی دي.**

**له خپلي میني سره یې له درې کاله ځنډه وروسته په ۱۹/۰۳/۲۰۱۰ میلادي کال کې لومړی کوژده اوبیا واده وکړ . له الله (ج) نه خوښ او راضي دی چې تر اوسه یې ورته دوې ښکلې، معصومې لورګانې ورکړې دي سارا النیسا ځنځله او اعزلدا ځنځله او یو زوی محمد الیا خان سره. دی او دده کورنۍ دې الله آرام، سرلوړي، نیک نومه، بډایه او اشراف لري.**

**پښتو ژبې زده کړیال زکرالله « حمزه »**

**د مولوي محمد عالم مېنه مهترلام ښار، لغمان، افغانستان**

## د لیکوال په باب څو خبرې

محترم انجینر صفی الله د ملا محمد عالم زوی، د مرحوم مولوی صاحب احمد خان لمسی، د مولوی صاحب حبیب الله کړوسی او د مولوی صاحب عنایت الله مشهور په مولوی ناصر وراره دی، اصلی ځای یې نېمنانی دی، فعلی سکونت یې شهرنو شرقی دی، په ۱۹۸۶ /۱۰/۰۳ میلادي کال کې دهجرت پر محال د پیښور څمکنو په استوګنځي کواټروکې زېږېدلی دی. دینی زده کړه یې د خپل پلار، نېکه او تره څخه او عصری تعلیم یې ابتدایي په ۰۸/۰۳/۱۹۹۰ میلادي کال کې په حضرت قیس بن سعد ښوونځي کې کړي دي.
او ثانوي دورې تعلیم یې په حضرت ابوایوب انصاری لېسه کې کړي. په ۱۹۹۹/۱۲/ ۰۱میلادي کال کې له نوموړي لېسې څخه د 12 دولسم ټولګي فراغت سند اخستی دی. د فاکولتي د دوري شمولیت یې په ۰۱/۰۳/۲۰۰۲ میلادي کال کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون کې شوی دی.
او فراغت یې له پوهنتون څخه ۰۱ /۰۷/۲۰۰۷ میلادي کې شوی دي.
انجینر صفی الله یو متدین شخصیت په دیني او عصری علومو کې پوره پوره د لیاقت او پوهې خاوند دی. د شعر او شاعري شوق او علاقه مندي د یو څه دردونو په اساس د خپل عمر په ۱۲ دولس کلنۍ کې په ۰۷/۰۲/۱۹۹۸ میلادي کال، چې د نهم ټولګی متعلم وو، د حضرت قیس بن سعد په لېسه کې شروع تر نن ورځې پورې جریان لري. او لومړنی شعر یې د ښوونکي مولوی صاحبزاده صاحب د نهم ټولګي تفسیر له درسې ساعت څخه ورسته پیل کړی دی، دا یې لومړی شعر دی په دې بڼه:.

یا په زده کړه کې جـهان ځان له اسیر کړه
یا خو تخـت د سـلیمان ځان له تدمیر کړه
بسم الله باندې خپل هر یوکار شـروع کړه
ستا وچـه بیړۍ به هېڅوک نه درگیر کړه

تاسو یې د سحق دوه یزه یا مثنوي په ځغلنده نظر ولولئ.
دا به کره څرگنده شي چې فردوس له فردوسي سره برابر د پښتو په دې قالب کې تللی دی، په دوه یزه کې هر بیت یې په خپل منځ کې گډه قافیه لري یا مقفی وي، د بیتونو شمېر یې ثابت نه وي په ټولو قافیه والو شعري چوکاټونو کې دوه یزه تر ټولو خلاص اولوی شعري فورم دی، شاعران کولی شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر ورستي بریده بیان کړي، ځکه نو ډېری شاعران د لویو موضوعگانو د بیان په موخه دا فورم غوره کوي، دوه یزه کې که شاعران په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللی شي. په دوه یزه کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خود ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي مانا دا چې دوه یزه مقفی مشترکه الوزنه او مساوي څپو لرونکي فورم دی په دې کې کېدی شي ځینې بیتونه ردیف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي.
لکه څنگه چې ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د لیکلو لپاره یې دا فورم وټاکه انجینر صفی الله فردوس د حضرت لوط علیه سلام

**پېژندنه، احوال، افعال ،کردار ،عمال او د هغه د قوم د کړنو ټوله ښکاره ږګندونه کړي ده او دا يې څو بيتونه دي :**

**نـا مـرده شـرمېدلي و عوامـه**
**کيسـه د قـوم د لوط علی سلامه**
**لوط د ابراهيم ښـکلی وراره و**
**سـيوا ورته له ځانه او له هـرڅه و**
**حضـرت لوط د هـاران زوی و**
**ابـراهيم د هـاران روکـی و**
**دوی عـراق کې اوسيـدله**
**د بابـل ژونـد ګـړ کـېدله**
**دوی د الله تـوحـيد کـوله**
**شـاه نمرود مـنع کـوله**
**دې کيسې د نـمرود ډېرې**
**حـق يې نه مانع له وېـرې**

**د الله الله! او فترت په موزون ادب کې او په منثور ادب کې سپوږمۍ او غلـی زما په زړه پورې شعرونه دي.**

**که جـيجـۍ دې په جـيجـرۍ کې کړه ا يساره**
**هم خـورک ورلـه تـوران کـړه الله الله!**

**توراېتـه تورتېيلـی راله ښـکارې**
**هر ګـلاب راڵــه تــرخان کـړه الله الله!**
**چــاڼ چامبيـل به بيا جـوړه سره چاڼدو کړو**
**دا دښـن راڵـه تېـږان کـړه الله الله!**

**غلـی**

**په دغه ستره پينۍ !**
**کې هر بې نومه ژوی!**
**چې همېشه تلا ش کړي،**
**تل سرګردانه ښکاري!**
**خو د ارمانونو سره!**
**غاړه غړۍ غواړې تل،**
**خو دا پوره هېڅ نشي!**
**شونډې يې سپينې پاتي،**
**شي بې دمه يې وجود.**
**هر يو راشـي ورته غلی!؟**
**هر يو لاړشـي ترېنه غلی!؟**
**او پټه دې پاتې نه وي، چې دده نېکه مبارک مولو صيب احمدخان مور؛ مبارکه زموږ له کورنۍ ځخه وه؛ چې پوره عالمه مُدرسه او مبلغه بې بې وه.**
**د محترم انجينر صفی الله پلار نر ښتون دی.**

**د جهاد لومړی مجاهد دی ؛ دوی او دیارلس تنه هغه پښتانه کسان و؛ چې د الله د رضا لپاره یې وسلوال جهاد د لمړي ځل لپاره په افغانستان کې؛ د نورستان له لارې پیل کړه؛ او له هغه نه یوه اونۍ ورسته د پکتیا په زیړوپ ولسوالۍ کې جهاد پیل شو. زه د هغه دیارلس کسانو ډېر احترام کوم، ځکه چې ستا د پلار ملګري دي. او هغه نور یې هم راته معلوم دي:-**

**۱: معلیم قیس د کچور۲: شهید جنګي خان د سنګر ۳: شهید خاکسار د بدیع اباد ۴: ډاکټر عشق الله د کچور ۵: مولوی محمد حنیف د سنګر٦: غلام دستګیر صایم د بدیع اباد ۷: محب الرحمن د چهار دي ۸: عظیم خان د کچور ۹: مولوی زبیر د سنګر، ۱۰: شهید عبدالموقیم د کچور ۱۱: شهید اسرار د چلمتي ۱۲: مسلم د تګاب ۱۳: عبدالحق د بدیع اباد.**

**او په الیشنګ کې یې پلار ډېر سپڅلی د جهاد تاریخ لري. دا وو یو لنډ معلومات چې د انجینر صفی الله په باره کې د یاد ګار په توګه ولیکلی شو.**

**په درنښت**

**مُلا سید آمین « اواب »**

**اصلی سکونت قلعتهک نیازی الینګار**

**فعلی سکونت قلعه شیخان چهلمتی مهترلام مرکز لغمان**

## انجینر یو ښه لاربښود

**انجینر صفی الله فردوس خان، د مولوی محمد عالم عظیم خان زوی، د مرحوم مولوی صاحب احمد خان مسی، د مولوی صاحب حبیب الله کړوسی د مهترلام ولسوالۍ مرکز کڅور شمتي اصلي اوسیدونکی.**

**چې زما پېژندنه دده له کورنۍ سره لا له پخوانه ده. نموړی د یوې روحاني، مجاهدې اومهاجري کورنۍ بچی ده. چې د کورنۍ نارینه او زنانه یې د اسلامې دیني علومو پوهې لرونکي دي، چه پکې ملایان او مولیان هم شتون لري.**

**نیکه یې مولانا احمد خان لغمانی ستر عالم او د هجرت په ټاټوبې کې یې د اسلامې علومو طالبان روزلي دي.**

**انجینر صفی الله فردوس خان هم د دینی علومو پوهه او شاعري پوهه هم لري. شعرونه یې ما لوستلي اوریدلي او دا ځلېږ کې د ددو دود ټولګه یې ما ولوستله چې ښکلي د پښتو کلاسیک ، کلیوالي په زړه پوري ساده بڼه کې اصلاحي کیسې ، طنزونه ( لغاز)، دوه یزې په فلسفي عشقي مجاز کې د حقیقت روښانه ښوونه یې د اسلام مقدس اساساتو تکیته کړي دي، دده اشعار دده دشخصیت سره بل کل ورته دي.**

**انجینر صفی الله فردوس خان مخلص مسلمان، په سُتره روحي ښاغلی دی.په میوند نومې شعر کې خپل پښتون قوم ته ابلاغ کوي او پښتونواله پکې ټوکه وې د شعر په ژبه وایې :**

حـيوانــانو ټـولې يو بـل گـډه وي
د ځـمريانو مــنځ ته هـېڅ يـو نه ورځي
د رمـو سـاتل ښې ويښې سترگې غواړي
که نه دا لــيوان يې ويښــه باندې وړي

که د ادبي کره کتنې له پامه د فردوس په شعرونو؛ د خپل زهن انځورونه؛ د تورو په بڼه ؛ په دې سپېڅې پاڼې ترسيم کړو. نو آند به مو په تشريحي کره کتنې بسيا شي، په پښتو ادبياتو کې ځينې برخې داسې دي. چې سپړلو و شرحې ته اړتيا لري، زموږ عام شعور په بشپړ ډول د دې جوگه نه دی، چې له هرې ادبي ليکنې څخه څنگه چې لازمه ده په همغه ډول مفهوم ترلاسه کړو فردوس وايي :

ربـه تا راکـړي نه کـړم ټـاټ بـاټ
غـاړې له مې کـړي نه کـړم ټـاټ پـاټ

ټـاب کـړمه چې ټـنـډه نشوه خــاپ خـاپ
ټـاپ وکـړم چې تونده نشوه چــاپ چـاپ

نو ځکه زه د لاندې ټکي په پام کې نيسم
لومړی :- لغوي زېرمه تشريحي کره کتنه پرې وکړم بايد په کافي کچه د لغاتونو (ويوکو) زېرمه ولرم ، د لغاتونو له بېلابېلو مانا وو څخه خبر شم ، دهرې کلمې د کارونې له ځای څخه خبر شم.

ټـاټ: افسوس، ټاپ ، ارمان، اوسوز، اوسوس بـاټ: د برجو کانې، بېلو، نوسی، هغه کاڼي چې چاقو چاړه او داسې باندې تېره کوي.
تېره کول، بېد کول ( لکه دچاقو چړې اوداسې نور )
پـاټ: پر شا ټپول، نازول، خوشالول، پر شا ټپونه ( دشاباسی په توگه ).
ټـاب: سپیلنی، سپانځه، سپانده.خواشیني ښکاره کول، افسوس کول، پښېمانه کېدل، پښېماني افسوس.
خـــاپ:داغ، نښه
ټـاپ: افسوس، ټاټ ، ارمان، اوسوز، اوسوس
چـــاپ: تولید
ټنـــډه: وچلی، تندی
تونده: غوړه مړی
غاړې: مفرد وی یې :- ژی، غاړه، کناره، جی، پیڅه، څنډه، 2) ژی: د اوبو مشک، 3) ژې: د پښتو الفاباء لیکل شوی او کاپي شوی 20 حروف، 20 حرف دی.
دوېم:- ادب پوهنه؛ زه باید د ادب پوهنې په اړه کافي معلومات ولرم، چې د لیک بېلگه مالومه کړم او دهغې په رڼا کې د لیکنې پیغام را وسپړم.
دریم :- دینی معلومات؛ داچې زموږ ټولنه اسلامې ده؛ زموږ هر شاعر او لیکوال په دین کې پوره معلومات لري او کلاسیک شاعران او لیکوالان مو په ټوله کې دینی عالمان و نو دی هم له رب عظیم څخه بښنه غواړي په سمه بنده گې ځان نه وینې سمه بنده گې

غواړي.

ځلورم:- ژبه؛ دا داسې برېښي چې فردوس د فزيک دانانو او انجېنرانو په ژبه لګیا دی نه د دوکاندارانو که درسره خبرې هم کوي. ته به وایې چې ماغزه دې سم پرې نه پوهېږي او سخت برېښي، او د دوکاندارانو په ژبه سم پوهېږي سړی ځکه اسانه خبرې کوي. نو ځکه د ژبې اړوند پوهه لازمې ده؛ نو که هر کره کتونکی د اثر په ژبه پوه نه وي؛ د هغې ژبې له پښويې (ګرامر) او نحوي باريکيو، همدارنګه کړنو، او نورو خوا وو څخه بې خبره وي، نشي کولی چې ترې پوهه کره پرمخ يوسي.

پېنځم:- پر ادبې فنونو بشپړ برلاسيتوب اړين دی. ځکه له ليکنې څخه په مانا را ويستنه کې لوی لاس لري نو که ورسره بلد نه وم نو په مانا او مفهوم کې به له خطا څخه خالي نه يم.

شپږم : پېخليک: په ډېريو ادبې ليکنو کې داسې پېښېږي چې موقعې؛ بې شرحې څخه نه روښانه کېږي، ځنې خو داسې پېښه شي، چې د تلميح په بڼه وي، او ځنې يې بې له دې که د تلميح وي نو پېخليک سپړلو ته اړتيا لري. او دی يې موده له خپل ځان څخه ځانګړي کوي.او ته به په دې آند يې چې دا د کلاسيکو دورو د شاعرانو شعر دی. د قافيو او رديفونو ډکه ده ته به وايې سم ټولقافيز شعر دی.

بله دا چې د پښتو ادب ترټولو ښکلی ټولګی؛ لنډۍ او له مانا ډک ټولګی؛ ټپه دی. نو فردوس دومره ډک کړی دی. چې په يوه ټپه يې پوره څېړنه وکړې، نو کتابونه به پرې ډک شي، ځکه موږ د ډېرو بابا

ګانو نړیوالو شاعرانو دیوانونه لرو چې د خوشحال بابا دیوان، رحمن بابا دیوان او داسې نور. چې د دیوانونو جمعې ته کلیات وایې چې په دې ټپه کې یې له لنډ مطلبه څومره ډک ویلي دې :

مـینه کې ویصل ټکی ورک شو
هـجر کې وګوره کلـیات راغـلې دینـه

او همداسې دا لاندې لنډی یې :

ځښتنـه ژوند عمر مې خیر کې
ړبــن جیویـش مې د لالا ډډون کوینه

فردوس پښـتو ویوکي وایي
ځـکه ژاپــن ړنـګری په ژی ږغـرله وینه

داچې هرتن اړین دی، چې په خپلو ادبیاتو ځان پوی کړي، نو کوی شي، چې د انجینر ټولګه د ویکو او شاعری یو ښه لار ښود شي.

چې ترې د هرې کچې پښتانه ترې، لږ تر لږه د یوه ټکي په کچه د پښتو ګټه واخلې لا هم د پښتو لپاره کم نه دی.

کوم خدمت چې د دې شعري ټولګې له لارې خپل اسلامې زوریدلي ، دردیدلي ولس ته یې کړی. د منلو وړ او په راتلونکي کې ورته د الله ج له درباره څخه ورته لابریالیتوب غواړم.

په درناوې
انجینر عبدالسلام شرین « خلیلي »

## ځلېږ کې د ددو دود او څو کرښې !

حـیوانــانو ټـولۍ یو بـل گــډه وي
د ځـمریانو مــنځ ته هـېڅ یو نه ورځي
د رمـوسـاتل ښې ویښې سترگې غواړي
که نه دا لـیوان یې ویښــه بانـدې وړي

د پورته دوو بیتونو له مخې په د شاعر ورکه لار درپه زړه شوي وي، هر شاعر په یوې ورکې پسې سر دی او کوښښ کوي، چې لاسته یې راوړي، کېدای شي د دغې ورکې لار د مینې بنسټ راځرگنده شي کېدای شي د کرکې په اساس وي.
انجینر صفی الله فردوس هم په خپله شعري ټولگه کې د خپل زړه ارمان لټوي، چې کله یې په عروضي او کله یې هم په ولسي څپلونو کې ځای په ځای کوي.
زموږ د ژوند چارپیریال له داسې اغېزو څخه پوښل شوی دی، چې شاعر مجبور دی د وطن غم د ټولو غمونو په سر کې راولي نو په دې ټولگه کې هم ددغه غم غمخوري په څپو ده.
د ځوانۍ عمر د دې وي چې د سړي زړه له کومې ښکلا څخه اغېزمن شي نو سړی هم له ښاره بهر د چا تر اغېز راغلی دی خو د دې منظر ښکلا په دې کې ده چې پښتو او پشه یې ژبه یې سره گډه کارولې ده او د لوستونکي تلوسه په څپو راولي لکه:

یوه ورځ له ښاره ووتمه بانـدې
یوه ښـکلې سـپوږمۍ مخ ته مې شوه وړاندې

**په پسته ژبه له لرې په وینا شوه**
**خدایزده ځنګه یوځلې داسې ګویا شوه**
**( تو په چا دی ژوند بیاء! )** [1]
**ما ویل داسې څه خبره شوه بیا!**

**زه نه غواړم د ټولګې په منځپانګې ته ور داخل شم یا یې فني خوا را وسپړم، ځکه شعر څخه خوند اخستل په ښکلا او اغېز یې خبرې کول پخپله لوستونکي ته پرېږدم. هیله ده په اړه یې په خپله فکر وکړي.**
**په پای کې زه انجینر صیب ته د ښه ژوند دعا کوم او د نورو بریاوو په هیله یې :**

**درنښت**
**پوهنوال محمد ابراهېم همکار**
**۹ /۱/ ۱۳۹۵ کال**

## آرام خو له شوره ډک انسان

**د پل تخنیک پوهنتون یو محصل او په لیلیه کې زموږ د یوه ملګري ملګری، چې ډېره ارامه او کراره څېره یې لرله او لږي راسره مخامخ شو، روغبړ مو سره وکړ، ارامي او ظاهري سکون یې سخت خوند راکړ. همدې څو ځله مخامخ کېدا زه له انجینر صفی الله فردوس سره ملګری کړم، ډېر کله به مو سره یو بل لیدل، خو د شاعرۍ له کماله یې ډېر وروسته خبر شوم، هغه وخت چې له یو بل شاعر ملګري سره موږ ناست و او د هغه له شعر اورېدو وروسته ښاغلی انجینر په شاعر صفی الله بدل شو او خپل خوندور شعر یې راته واوروه.**

**ما، ډګروال صیب، حسیب شینواري، شاه محمود شینواري او انجینر صفی الله فردوس په ګډه په لمړي ځل د پوهنمل محمد آقا شېرزاد په ملتیا په علوم اجتماعي کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګه د ډیفارټمنټ ځغاستي (دحلیز) په منځ کې د مشاعري بهیر بنسټ په ۲۰۰۴ میلادي کال کېښود.**

**انجینر صفی الله فردوس خواریکښ انسان دی، ده به هڅه کوله، چې د خپلې سیمې پاخه او نږه پښتو توري راټول کړي، په شعر کې یې ځای پر ځای کړي او بیا یې تر خلکو ورسوي، داسې پښتو ویيونه یې په خپلو اشعارو کې راوړي، چې ما خو مخکې نه دي اورېدلي او ورسره نابلدي هم کوم، خو ښاغلي فردوس په دومره ماهرانه انداز کې د شعر په قالب کې راوستي، چې ښایي نور تکړه شاعران به یې په راوستلو کې پاتې راشي.**

د پښتو تورو په راپیدا کولو او بیا د مانا په موندلو کې یې ډېرې هڅې کولې او ځان به یې د هر توري په مانا پوهاوه؛ نو بیا به یې په خپل شعر کې ځای پرځای کاوه، دا سمه ده چې ځینې وخت یې په شعر کې د دغسې تورو په زور ځایولو د شعر خوند لږ پیکه کړی دی او یا یې هغه شعریت په کې مات کړی دی، خو بیا هم په خپل وخت کې یو نوښت دی او که د ښاغلي فردوس شعري غونډ وګورو؛ نو دومره پښتو توري به په کې ومومي، چې د قاموس تنده به مو پرې ماته شي.
ښاغلي فردوس د شعر په هر جوړښت کې خپله طبعه ازمایلې ده او تر ډېره په کې بریالی هم دی، خو یو کار یې چې تر پایه پاللی دی، هغه د نویو تورو ځایونه ده، چې په هر قالب کې یې هماغه خپله نږه او جلا ژبه ساتلې او کارولې ده. د خپل همدې سبک د پاللو او ساتلو په پار یې ډېری وخت قرباني هم ورکړې ده.
ځلېږ کې د ددو دود زما د ګران ملګري انجینر صفی الله فردوس شعري غونډ دی، چې د خپلې تنکۍ ځوانۍ راهیسې یې خپله شاعري په کې راغونډه کړې ده او غواړي لوستونکو ته یې ورسوي.
زه ښاغلی فردوس له شعر ویلو نه منع کوم، خو ترڅنګ یې په خپل مسلک کې د ژباړې او لیکلو ته هڅوم، ځکه زموږ ژبه په تخنیکي برخه کې هېڅ نه لري، هیله لرم، چې د دې شعري غونډ تر چاپ وروسته په مسلکي برخه کې خپل تمرکز ډېر کړي او پښتو ژبې ته یو تخنیکي او مسلکي کتاب وروبښي، خپله شاعري دې هم کوي

**له ادبي لیکنو او مطالعې ډېر وخت لرې پاتې شوی یم؛ نو د ادبیاتو د یوه شاګرد په توګه هم ځانته دومره حق نه ورکوم، چې د ښاغلي فردوس د شعر په شعریت او نورو لیکل وکړم، خو یوازې همدا ځو کرښې د دې لپاره لیکم، چې د یوه حقدار انسان حق مې پر ځای کړی وي.**

**خپلې خبرې په همدې راټولوم، چې وایي:**

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي**

**ځولۍ مې تنګه ده زه به کوم یو ټولومه**

**درناوی**

**رفیع الله ستانکزی**

**وزیر اکبر خان مېنه، کابل**

## انجینیر صاحب صفی الله جانه !

**له ډېرو اړیکو نه ورسته: ما ستاسي د کور شمیري ، نعیم الله ، ذکر الله ته هم اړیکه ونیوله ولې بریالی نه شوم ؛**
**د الله نه درته د نورو کامیابیو غوښتونکې یم: ډېر زیات خوشحاله شوم چې تاسي داسی ستر کار تر سره کړ!**
**د سریزي د لیکو مخکې غواړم چې یو څو خبري درسره شریکه کړم ، که څه هم زه ډېر د شاعري په ژبه نه پوهیږم .......**
**تاته خو معلومه ده چې زما شاعري ولی بده راځي ..... هاهههاهاهاها**

**سړی چې یو کار لومړی پیل کړي یا په یوه لار د مزل تکل وکړي، هرو مرو له ستونزو او تیندکونو سره مخ وي، دا ډول شاعري هم ده دا کتاب چې نوم یې (ځلېږ کې د ددو دود) دی، زما پرې سر خلاص نه شو، هیله ده نوم یې داسې اېښودل شوی وی، چې لوستونکي یې ور جذبولی، تاسی ولسي شاعري هم کړې ده، غاړې یې کښلې دي، خو د غاړو په ځای یې کاکړۍ غاړې ورته لیکلې دي، ښه به دا وه چې غاړې یې لیکلې وی، ځکه پښتنو لیکوالو پرېکړه کړې چې غاړې یواځې د کاکړو نه دي په نورو سیمو کې هم شته ځکه باید غاړې وبلل شي.**
**د غاړې هم ځینې د غاړو په څېر نه دی، ځینې یې غزل ته ورته وي، ځکه هره یوه د بلې په قافیه جوړېږي همدارنگه هغسې رواني هم نه دي لکه عادي خلک یې چې جوړوي، خو ځینې دا ځانگړنه لري.**

**لکه:**

**نصیب پورته له اسمانه**

**ځای زما کړ ریګستانه**

**تاسي لنډۍ یا ټپې هم لیکلې دي، لنډه دا چې ډېر ولسي صنفونو کې مو خپله طبع ازمایي کړې ده.په نورو برخو کې هم څه ناڅه کار کړی دی، خو یو نیم ځای یې ژبه ډېرې پرېوتې او د ادب له چوکاټه لوېدلې ایسي،**

**یو ځای کې، چې له املایي تېروتنو سره یې کټ مټ را اخلم.**

**زما ځـوانۍ ته ګوره د پردي زو**
**ستا لپـاره سـوزم د پلانکي زو**
**دوې ساعته کېږي درته اوضرکړم**
**ولـئ نه پوهېږي تـه د سپي زو**

**همدارنګه په ځینو برخو کې یې شعر ډېر سېلابونه لری چې تول او تال یې ور سره له لاسه ور کړی دی،**

**دا سترګې به له سترګو سره جنګیږي خو کله نه نا کله**
**دا لېـچې به د غاړې هـار جوړيږي خو کله نه نا کله**

**په ورته وخت کې ځینې کیسې هم شعر کړې دي، همدارنګه یې د خپل ژوند او ښوونځي په هکله همدارنګه د نجونو سندره په نوم د**

**نجونو حال د کیسې په ډول ویلی دی، په دې ډول یې د خپلو خلکو د ژوند انځور اېستلی دی. یوه بېلګه په دې ډول ده**

**له یخنۍ رپي په ژړا یې ماشومان شوو     ماښام دی**

**بیا کوچیان روان شوو!؟     ماښام دی**

**ښاغلی فردوس صیب په دې شاعري دي بیا غور وکړه. ځینې ترې لرې کړه یا هم بیا یې وګوره، له شاعرانو سره پرې خبرې وکړه د نیمګړتیاوو د لرې کولو هڅه یې وکړه، ښه ګام به دې پورته کړی وي.بل دا چې پښتو ژبې ته خدمت یواځې شعر لیکل نه دي، موږ له شعر علم ته ډېر اړتیا لرو، دا چې تخنیګ دې لوستی که په دغه برخه کې کوم کتاب ولیکې یا یې وژباړې خپلې ژبې ته به دې ډېر کار کړی وي. هیله ده ګرانه چې په پورتینو خبرو رانه خفه نشې زه غواړم چې له خپلو تجربو یو څه ولیکم او کیدی شي چې زه به غلت ووسم هر انسان له غلیتو نه خالې نه وي. زه هم یو انسان یم.**

**په درنښت**

**سجاد محمود**

**محمد عزيز « تحريک » ځينې پوښتنې او د ليکوونکي ځوابونه**

**د قدر وړ درون‍د پښتون استاذ ښاغلی**

**سر مؤلف مرستيال محمد عزيز « تحريک » صيب، زه به خپل ځوابونه په [[ ...]] کې ستا د هرې پوښتنې لاندې در ته په زرغون رنګ کې وليکم .**

**ورور انجينير صاحب صفي والله جان «فردوس » سلام ! ما خو دا دوه ورځې کېږي چې د تا له خوا ځخه په رالېږل شوي کتاب پيل کړی دی او اوس مې ۱۱۸ مخ پورې ولوست .**

**زه غواړم چې له تا ځخه ځينې پوښتنې وکوم ، شرط يې دادی چې بېخي به را ځخه نه خوابدی کېږې !! او که چېرې پوه شوې چې زما پوښتنې تا خوا بدی کوي ، نو را ته وليکه چې بيا زه در ځخه نورې پوښتنې هېڅ ونه کوم ! زما پوښتنې دادي**

**۱.دا کتاب خو تا په ۱۳۸۸ کال کې کمپيوتر کړی دی ، ولې دې تر اوسه پورې نه دی چاپ کړی ؟**

**[[ ۱:- دوې علتونه لري، يو دا چې زه په دنده کې مصروف وم، دومره وخت مې نه ده پيداکړی چې چاپ يې کړم، بله دا ده چې له همغه وخته مې ډېريو شاعرانو او ملګرو ته ورکړی دی. چې ليکنه پرې وکړي، خو هغو درندې وادې کړي دي او هېڅ وخت يې نه ده پيدا کړی.چې ليکنې يې تراوسه پورې دي پوره شوي وي. يو خو دا زما شاعري د شل کلو نه په کم عمر کې شوي ده. زه د هغو د پښتو علمي ليکنو په طمعه پاتي يم تر ننه]]**

**۲. د تا د دغه کتاب نوم :« ځلېږ کې د دو دود » تا په خپله غوره کړی دی ؟ او که کوم دوست دې درته انتخاب کړی دی ؟ د دې عنوان معنا د تا په خپل نظر څه ده ؟**

**آيا ستا لوستوونکي او زموږ هېوادوال دغه سرليک ته اړتيا لري او معنا ور څخه اخيستلی شي !؟**

**[[ ۲:- هو د دې کتاب نوم : (ځلېږ کې د ددو دود ) ما په خپله غوره کړی دی. هېڅ داسې دوست مې نشته چې داسې انتخاب راته وکړي،**

**ځلېږ کې د ددو دود پښتو په پښتو مانا يې ده: ؛ دشتې ډنډ کې د ځناورو د ژوند تګلاره ؛**

**: زموږ په هېواد کې څومره ظلمونه، نادودې، ناګڼلې، ستم، نارواوي، جنګونه ، سترې او نانډرۍ تيرې شوي، دا ديرش کاله پر لپسي تيرې کړي د افغانستان د پښتنو ميرځمنو. دا ټولې کانې هغو ته ورته دي، لکه په ځلېږ کې چې کومې ننډرۍ ځناور کوي.**

**بېلګه: لکه يوه هوسۍ به د اوبو ځښلو لپاره د دشتې ډنډ ته راشي، چې اوبه وڅښې، نو يا به يې ليوان، پړانګان يا ځمريان وخوري، که ترې تيره شي نو د اوبو ځښلو په دوران کې به يې لويه سمڅاره له اوبو څخه ورټوب کړي او له خولې به يې را ونيسي، پرې حشر به جوړ کړي ، له ډېرې تندې څخه به اوبو ته يوه هم لاس رسي نشي موندلې. ځنګلي سپيانو به ليوان ځغلې؛ او ځمري به له فيلانو څخه**

ځغلي؛ او ماران به هم اوبه نسي ځښلی؛ چې ټپسان به يې نه پرېږدي .

د دې ټولو دود دلته پر موږ تير شوی، شو او روان دی. همدغه ادبي محيط زما شاعرۍ ته ټوکه ولې ده، چې په کې له داسې ناګڼلو بوی را پورته کېږي، د سپينو چوپړو يا پاڼو پر مخ ترسيم شوي دي. پورته مې د عنوان مانا وکړه د پښتو درې وۍ چې پر دې شعري ټولګي نوم کې دي، د هغو پښتو په پښتو مانا لاندې ده.

لمړی ؛ ځلېر : بديا تالاو، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د شتې ډنډ

دويم ؛ ددو : دد مفرده وۍ ده، يعني ځناور، جمع يې ددو کېږي مانا يې ځناورو

دريم ؛ دود: دستور ، رواج ، د ژوند تګلاره.

هو انشا الله! چې زموږ د پښتو لوستونکي له ٦٠ ميلونو څخه که يو تن يې هم يو ټکی ياد کړي، وي لولي. زه پرې د زړه نه وياړم ، هو ارو مرو چې پښتون وي يو ځلې به ورته زهن نيولی شي، د لوستو لپاره به يې را پورته کړي . ]]

٣. تا د شمېرې پر ځای د «چوپړی » کلمه په هر مخ کې ليکلې ده ! دا لغت د کومې ژبې دی او څه معنا لري ؟

[[٣:- ما دا د شمېرې يا ( ګڼې، عدد ) په ځای نه ده راوړی ، دا د پښتو ويوکی دی، مانا يې مخ ، صفحه، پاڼه ( لکه د کتاب او داسې نورو چوپړی) دی. بېلګه :- ١٠ چوپړی ( لسم چوپړی يا لسمه پاڼه )]]

**۴. د تا په نظر شعر څه شی دی ؟**

**[[ ۴:- ما په ١٦ کلنۍ کې په خپله کتابچه کې د شعر په اړه داسې لیکلي وه په لاندې بڼه :.**

**۰:- صفی الله فردوس خان داسې وایې :**

**شعر هغه منظمي خبرې، هم وزنه کلام، هغه خبرې چې وزن او قافیه ولري، چې له زړه څخه راوځي او په زړونو مثبت اثر غورځوي . چې په کې هڅونه، مېړانه، سرخندنه ، اړي ، عفه او میلمه پاله په کې وي او اکثراً سندري ته هم وایې.**

**څه زیات او کم دا دوه نیم زره کاله کېږي چې ادیبانو دشعر او ادب مینه والو د شعر په ډگر کې، د خیال او فکر نیلی ځغماولي دي. د شعر د پیژندو لپاره یې زیات پخلي کړي دي، د شعر په اړوند یې لا ډېر بحثونه جارې ساتلي دي.**

**۱:- یوناني فیلسوف افلاتون دشعر په باره کې داسې ویلي دي چې شعر په اصل کې دهنر نوی پیدا کونکي وینا ده چې د شاعر په ژبه موږ ته اورول کېږي.**

**۲:- ارسطو د شعر په باره کې داسې ویلي دي چې شعر هغه قول دمقدماتو څخه ترکیب شوی وي، چې د هڅونې په نفس کې خاص تاثیرات راولي، چې یا خفگان پیدا کړي او یا خوشحالي. نو دغه کلام ته شعر وایې.**

**۳:- د عربانو له نظره شعر داسې تعریف کوي.**

شعر په لغات کې پوهې او خبریدو ته وايي . او په اصطلاح کې هر بلیغ کلام او سپېڅلي خوندوري وینا ته چې وزن او قافیه ولري شعر وايي او مهم رکن يې وزن او تول دی.

۴:- ویلیم ورډ زورټ وايي: چې شعر په سندره لرونکي ډول سره د تندو احساساتو تخیلي افاده ( څرګندونه ) ده.

۵:-کار لایل وايي : چې شعر يو موزيکال فکر دی.

٦:- الفت پاچا وايي : چې شعر هغه وینا ده چې الفاظ يې ښکلي وي او ويونکي پکې فکر، پوهه، ذوق، د زړه حيجان او روح اغيزه سره ګډه کړي.

۷:- صدیق الله ريښتين وايي :شعر دهغه لطيفو او نازکو احساساتو او تخيلاتو او هڅو ماينو څخه عبارت دی چې د موزونو او رنګيوه الفاظو په جامه کې را ولاړ شي.

۸:- صديق روهي وايي :- سندره لرونکو عبارتونو په واسطه د واقيعت تخيلي او بيا ځلي انځورولو ته شعر ويل کېږي.

۹:- د نويو ادبياتو له پامه :- شعر د يو ځانګړي ذهني او عارفانه حالت زيږنده دی، چې د هغه په نتجه کې شاعر د چاپيريال د شيانو او انسانانو سره يو ډول روحي او ذهني اړيکه پيدا کوي چې دغه اړيکه د احساس او فکر د تحريک سبب ګرځي او شاعر خپله پنځونه پدې انفعالي حالت (الهام) کې وړاندې کوي. او شعر په موزون بيان د خيال او فکر عاطفي تړون دی.]]

**۵. آیا تا د نورو شاعرانو د شعرونو لا اقل ۱۰ـ۲۰ کتابونه لوستلي دي ؟ ( رښتیا به راته وایې !) آیا تا د کوم چا په کوم دغسې څه چې تا لیکلي دي ؛ لیدلي او لوستلي دي !**

[[۵ :- ما د افغانستان اسلامې دولت د تعلیمې نصاب د لمړي ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پوري، ټول د پښتو مضمونونه سم لوستلي، په ازموینه کې مې ښې پوره سل سلنه نمبري اخستي وي، په خپل دوران کې راسره یو د کانکور لا رښود هم وه چې د ۳٦ کلونو د ژبې او ادبیاتو سوالونه پکې و. ټول مې یاد نه بلکې حفظ کړي و، خلقیانو د وخت پښتو ژبې کتابونه مې هم له ځان سره شوقي لوستلي وه. ما ویل چې پکې څخه توپیر شته دی او کنه!!. ( دومر متعصبه نه وم لکه د افغانستان ددک یا تاجک چې ټول تعلمې نصاب پښتو مضمون په هر ټولګي کې ولولي چې هر کتاب یې په اوسط ډول له سلو پاڼو څخه زیات وي او پکې په سلګونو بیتونه او لغاتونه وي چې تر دولسم ټولګي پوري له زرو پاڼو ډېر وي ، خو دوی به د پښتو سره دومره کرکه لري چې یو لغات یا وی د پښتو چې ؛؛ ډم؛؛ دی نه زده کوي ، یا ؛؛ ټول؛؛ به نشي زده کولی او پروا پرې هم نه لري او یاده وي یې هم نه).

:- په کور کې د ننه مې د پښتو لیک او لوست او وی پوهنه یا ویيوکي پوهه له سرمعلم عظیم خان نیازیوال څخه کړي ده، چې یوه یوه وی لکه ( سمه ده، مننه، کمتون، پاتیشونی، شتون ، اکا، تاسو، موږ، ټول، ښوونکی، ټولګی، ښوونځی، ټولګوال،سړی، جام،

غټ ، غبرگ، کې ، د، وه، ده، و، چې ..) به يې راته په توش قلم په پارماټ باندې ليکه او پنځوس پنځوس دانې به يې ما په اړخ جيب کې گرځول. تقريباً اندازه به د پارماټ اوه ساني په پنځلسو کې د هر يوه ويوکي لپاره وه، لکه د پيسو بنډل به مې کړی و،او کشک به مې ترې تو کړی و، چې لوسته به مې کششک به مې لري کړه يوه په بل پسې به مې ايښوده؛ او لوسته؛ او يادوه به مې؛ په شپږ کلنۍ کې.

:- د ادبياتو اوم هنر يا رسامي او خطاطي مې ځلور کاله شاگردي په لغمان کې له محبوب استاذ څخه کړي و. تر ټولو کوچنی شاگرد زه وم، چې اووه بڼه د خطاطۍ ليک مې بشپړ کړی و، رسامي مې کوله. ډېر نادره لوگو به مې؛ د رحمان بابا د يو بيت شعر ؛ او حميد مومند يو بيت شعر ليکه؛ او دوکاندارانو، خلکو به په ديوالو زړول ، پخوانۍ ودانۍ د جرمنيانو، اريايانو او کوچيانوبه مې رسامې کولي. له عجيبه ځيرو د انسان سره. لا اته کلن نه وم شوی.

:- د ملا شيرن ټولگه

:- سعدي شيرازي

:- د جلال دين بلخي او عليشير نوايي

:- د رحمان بابا ديوان،

:- درومرجان دحميد ديوان

:- ملکی خزان ټولکه

:ـعبدالقدير وطنوال

:- بدیع او بیان

:- نظیر احمد سهار

:- په پښاور کې مې د طالبانو په دوران کې مې د ښوونځی، انګلسي کورسونه، کرکټ، کراټې سر بیره، هره ورځ لږ تر لږه څلور ساعته د غالیو نقشه کشي کوله، چې پام مې ستړی نکړي. نو د پښتو محلي سندرغاړو سندرې مې ښې ډېرې اوریدلي دي. ( لکه د ملا استاذ، شاګل ، ګلکي، ملا او ګلکي، ایوب استاذ، قدیم استاذ، خان قره باغي، حیات ګردیزي، رفیق شینواري، اړم لومړی کېستې، بنګي). دهمدې لپاره ما ځینې تکراري سروکې، بیتونه په خپلو شعرونو کې راوستي چې د پښتو سندرغاړي یې کټ مټ ولولي. ځکه له یوي خوا به دوی ته اسانه وي. او له بل پلوه به په اسانی سره کمپوز کېږي، په سور او لی کې به یې لولي زما په نشتون کې هم.)

:- د ګل پاچا الفت شعر :.

یوه ورځ چېرې په لاره تیریدم زه + ناصافي د وني لاندې ودریدم زه ++ دوه مرغۍ شوي پاس په ونه کې په جنګ...،

د زرغوني انا ( زرغونه کاکړ) شعر :.

اورېدلې مې قصه ده++چې له شاتو نه خوږه ده++داختر په ورځ سهار+ بایزید چې ؤ رویدار ++ له حمامه را وتلی+ په کوڅه کې تېرېدلی،

د بیټ نیکه یا شیخ بیټني شعر :.

لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه،

**د امیر کروړ شعر یا ویاړنه د امیر کروړ جهان:.**
**زه یم زمری پردې نړی، له ما اتل نسته+++**
**په هندوسندوپرتخاراوپرکابل نسته ++++ بل په زابل نسته ++**
**له ما اتل نسته ،**

**همدې شعرو زما د شعر ښاپیری، زوکړه کړه. ځکه په یادو مې یاد و، ډېره مینه مې ورسره وه، په خوب کې به مې هم لا ویل. :- پلار جان مې نه پرېښودلم، چې وخت مې بې ځایه تېر شي. په لغمان کې دولتي ښوونځي تجربوي نمبراول، وروسته له وخته سیدجمال الدین ښوونځی په بیعه لوسته، له خطاطی، کورس سره، بیا د روښان لیسې څخه ځلورم نمره پیښور ته لاړم بیا مې هلته د انجینر گل بدین حکمت یار یو ستر ښوونځی و، په کال کې به یې شپږمیاشتي یو کلنی درسي کال و، بې رخصتیو څخه په یوه کال کې دوه ټولگي لوسته. ترې په دیارلس کلنی، کې له دولسم ټولگي څخه خلاص شوم. په 1999 کې. ( د افغانستان اسلامي دولت د معارف وزارت ته بیا زموږ د کوچنیوالي فراغت سند د منلو وړ نه و. چې بیا یې د ارزیابې ازموینه له درې سوو کسانو څخه واخسته، الحمد الله 11 یوولسم نمبر په هغه ازموینه کې هم بریالی راغلم ).**
**د خاله کور مې د رحمن بابا زیارت خواکې و، کله کله به مشاعرو ته ورتلم او غوږ به مې نیوه چې دوی څه وایې. د شمشتو مشاعرو ته هم ورتلم، لغمان ته راغلم د کانکور ازموینه مې ورکړه انجینري ته بریالی شوم، دوې واري ما طب غوښته خو ونه شو، بیا مې**

ازموینه ورکړه. پولي تخنیک پوهنتون ته یې ورکړم او هغه مې په سر لوړی سره بشپړ کړه په 2007میلادي کال کې د افغانستان په عالي تحصیلاتو کې مې په انجینرانو کې ۷ اوم ځای خپل کړه. د پوهنتون په دوران کې راسره د ادبیاتو پښتو ژبي زدکړیالان و، مینه مې ورسره و، خوښ مې و، چې پښتو درسي کتابونه مې له هغو څخه اخسته اوبیا به مې لوسته، لکه:. د پوهنمل محمدآقا (شېرزاد)، پوهنمل جمشېد (رشیدي)، پوهندوی نورمحمد غمجن تمیل، پوهندوی محمد اسمعیل یون ( هغه زموږ د نیا کلیوال او خپل چې هغوورته کورنی نوم اخسته ( تور) باله چې زده کونکی و په نیمنانیو کې)، څېړنیار مسافر ریس خیل، پوهنمل پاچا الفت د پښتو ټولني ریس، عبداشکور رشاد، سرمحقق هېوادمل، پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار.

:- د څېړنوال عزیز الله امرخیل، څېړنمل محمد نعیم سالارزي، څېړنمل علي محمد منګل، څېړندوی دکتور دولت محمد لودین، څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالي، څېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد ، څېړونکی نصیر هنر پښتون، څېړونکی میر ولي نیهام، څېړنوال حبیب الله اپریدي ، څېړنوال عبدالرحیم ځدراڼ ،

څېړونکي حضرت محمد ویاړ، ضیا احمد ندرت، عبدالولي فراهي، څېړنوال دوست محمد دوست، پښتو ژبې ته د دوی د خواریو، جغاتو نتیجه ده چې زما ټولګه (څلېر کې د ددو دود ) درنده ده، د الله عظیم لورینه شاعري ده چې پر مایې کړي ده همداسې.

زده کړيال وم، هم مې په پلازمېنه کې دنده و، د ټول افغانستان ډېرو ولسواليو ته مې سفرونه وکړل، ټولي ننديی او ناستې مې له سپين ګېرو سره وې، دې پورتنيو ياد کړل شو ټکو سره ما د خپلي شاعري ښاپيریی سره الله پاماني وکړه چې ما ويل هسې نه چې دا خپله انجينري رانه پاتي شي،

:- همدومره پورتنیی تجربه زما د شاعریی او شعر لپاره کافي نه ده ؟!!!

:- له خپلې شاعریی نه مې وروسته د لاندې شاعرانو کتابونه لوستلي دي :

د نورمحمد غمجن شعرونه، د لغمانيانو شاعرانو تذکره چې محمد نادر چاپ کړی و، شهسوار سنګروال دوې ټولګي، پوهندویی محمد ابراهيم همکار، عبدالباري جهاني دري ټولګي، نظير احمد سهار او فيض محمد ځلاند يوه يوه ټولګه (چې په شمشتو کې زموږ ګاونډې و، په يوه مسجد ګډ وو سره)، اسماعيل اړم دوې ټولګي، عبدالعزيز تحريک يوه ټولګه، لټون د غني خان، او د غني خان کليات. ما ډېر شاعران ليدلي دي چې پښتو ادبياتو پوهنځي ته تلل. خير ده که زه نه يم تللی. او ډېر مې اوريدلي دي چې تللي و. لکه:. غمجن تميل،عبيدالله ماهک، تور (اسماعيل يون)، عبدالباري جهاني، عزيز تحريک، احمد ظاهر]]

٦. د تا په نظر د سندرې او غزل تر منځه توپير څه دی ؟

**[[ ٦:- زما په نظر سندرې او غزل ترمنځ توپیر داسې دی. لکه لښته او ډډ، زما له تعریفه د ډمتوب ( ارکستر، میوزیک) پارچې یا د موسیقۍ پارچې ته سندرې وایې.**

**د پښتنو په ځینو سیمو کې په عام ډول ټولې ولسي سندرې لکه لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چاربیتې، نیمکۍ ، بدلې سندرې بولي خو هغه سره جلا جلا دي.**

**او غزل هغه شعري چوکاټ ته وایې چې مطلع ولري، یانې د سر بیت یې اکثراً مقفي وي او د بل هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري اود مطلعې قافیه تعقیب کړي ، د بیتونو شمېر یې له ۵ څخه تر ۱۵ بیتونو پورې وي د څپو شمېر یې معمولاً سره برابر وي، په پښتو ژبه کې له پینځه څپیزو څخه نیولي تر ۱۵ پوري غزلونه شته چې قافیه په غزل کې اساسي توک دی خو ردیف اختیاري دی.**

**:- دې دواړو سندرې او غزل زموږ بدلې ته جنازه ور وتړله ځکه د بدلې قالب د لنډیو، نارو، سندرو، چاربیتو، بګتیو، سروکو او نورو بومي پښتني قالبونو په څېر د پښتو ژبې له موسیقایي جوړښت سره سم خورا زوړاو مترنم قالب دی، چې زموږ نیکونو او اناګانو به وایه او غالباً چې زړې سندرې هم له همدې څخه جوړیدلې، د همدې قالب نوم ښایي وروسته دومره عام شوی وي چې اوس ګڼ شمیر پښتانه د موسیقۍ پارچې (سندرې) ته هم بدله وایي. تردې مخکې چې یو شمیر عربي قالبونه لکه غزل، قصیده، مثنوي او ترکیب بندونه پښتو ته راشي موږ خپل بومي قالبونه درلودل چې**

**بدله یې یوه ممتازه بیلگه ده. بدله لومړی څلور یا دوه هم قافیه مسرې (نیم بیتۍ) لري چې تردې وروسته څلور څلور یا تر څلورو ډېرې مسرې داسې راځي چې لومړۍ درې_ که څلور وي او که زیاتې وې ټولې لومړۍ مسرې له وروستۍ جفتې څخه پرته_ بیله قافیه او وروستۍ (څلورمه) یې له لومړیو څلورو مسرو سره ورته قافیه لري**

**بدله د غزل او قصیدې په څیر عربي روح نه لري او قالب یې تنگ نه دی، تر ډېره یې موضوعات عشقي دي او په پټه خرانه کې یوه وعظیه بدله هم شته. بدله د لنډیو په څیر له تصنع او تکلف څخه پاک قالب دی او د ویناوال سوچه احساسات او طبیعی ولولې لېږدوي، مترنم جوړښت لري او لوستل یې سړی د پښتنو بې آلایشه او شډل ژوند ته بیا یي]]**

**۷. د تا په نظر د : مصرۍ ، لنډۍ ، ټپې ، او ټیکۍ تر منځه توپیر څه دی ؟**

**[[ ۷:- هو هر نوم یې ځانته دی. لکه مصرۍ، لنډۍ ، ټپې او ټیکۍ او هره یوه یې ځانته ځانگړې فلسفه لري. ( ځکه دا به ته هیڅ ونه مني، ده دې لپاره یو مثال درته وایم: یو کس په امریکا کې پولیسو ونیوه او سیده یې ستا کور ته بوتلو نوم یې عزیز وو ، تخلص یې تحریک وو او ستا د پلار هم نامی هم وو خو هغه د فاریاب ولایت وو او د نیکه نوم یې خان باقر وو، ستا د کور دروازه یې وټکوله، له کوره ورته وریندار وویل چې څوک یې هغه ورته وویل زه عزیز یم،**

تخلص مې تحریک دی. خو ورېندار له اواز نه وپېژندچې دا بل څوک دی او دواړو ته یې وویل تاسو ځای غلط کړي دی. ده دې تن ډېري ځانګړنې به له تا سره برابري وي خو هغه خو ته نشي کیدلی . که دننه ورشي خدایږو چې سر خو ورته مات کړي. هم داسې ځانګړي فلسفه چې مصری ، لنډۍ ، ټپې ، او ټیکۍ له خپل نوم سره یې لري. ترې معلومېږي او پیژندل کېږي . لکه: لنډۍ له لټکې څخه اخستل شوي چې لټکه هغه دوه سره مار ته وایې چې ډېر کړندی او چټک وي او په چټکۍ سره خوله لږوي، دوې سره لري، په کال کې یو واري پوستکی اچوي، لټکې ته ځکه لنډۍ وایې چې د سیلا بونو له مخې لنډه او دمانا له پلوه ډیره اوږده او غښتلې وي او یا داچې چې لو مړۍ نیم بیتۍ یې د دوهم نیم بیتۍ نه لنډه وي لکه دا لا ندې لنډۍ:

کفن مې کلک وګنډه موري

د ځوانۍ ټول عمر په دې کې تیره ومه

مصرۍ ، لنډۍ ، ټپې ، او ټیکۍ د دیوانونو شعرونه که د عربی عروضو تابع دي خو دا شعرونه نه یوازې د عربي عروضو څخه بی نیازه دي بلکه د سېلاب (Syuable) سیستم په اساس ځانته عروض لري ، لومړی برخه یې لنډه (۹) سیلابه او دوهمه برخه یې اوږده (۱۳) سیلابه ده . د دې اشعار ویل څرګند خصوصیت دا دی. چې زیاتره پکښې د ښځې له خوا نارینه ته خطاب وي. او څنګه چې د ښځې احساسات تر نر رقیق، تاثیرات یې تر نر اغیزمن او اغیز یې

تر نر وخوندور دي. نو په لنډیو کې هم طبعاً تر نورو اشعارو خوند او اغیزه زیاته محسوسه کېږي ، په پښتو اولسی ادب کې د لنډۍ لپاره نور نومو نه هم شته چې د پښتون اولس لخوا په دې ټولو نو مونو پېژندل کېږي .لکه: ټپه ، مصره او ټیکۍ .... چې دې هر نوم ته یو ځانګړي فلسفه موجوده ده چې د بیلګې په ډول یې زه یادونه کوم .

مصرۍ ته مصره هم وایي او دا ځکه چې په پخوا زمانو کې د تورې او ډال جنګونه و، د هغو جنګونو په مهال د جنګ ښه او پیاوړې توره به په مصر کې جوړیدله، نو د مصرۍ تورې شهر ت ډیر زیات و، هغه به ډیره تیره او ځلانده هم وه، ډېرې لنډې بڼې یې هم لرلي، نو د مصرۍ تا ثیر او ښکلا یې د مصرۍ تورې سره تشبیه کړي. لکه:.

په سپینه ږیـره سودایې یې
جومات کې کښنه عبادت وکړه ړبنه

د دې مصرۍ تاثیر همدومره ډېر دی. چې سړی یې پرې غوس کړی هم وي خو توره لا په وینو نه وي شوي. خو دی وروسته پرې پوهېږي، چې ترې ویني ځي، او دی خبر هم نه وي.

ټپه له ټپ یا زخم څخه اخستل شوي ده. چې سړي ته ټپ ورکوي، په دردونو یې اړوي دا هم یو ه د تسمیی وجهه لری هغه دا چې د ټپې تا ثیر د سړي په زړه ټپ جوړه وي . یعنې که تورې او ټو پکې ښکاره ټپونه جوړه وي، نو لنډۍ بیا پټ زخمونه د انسان په وجود

**کې جوړولی شي، چې یواځې احساس یې کېږي، خو لېدل کېږي نه. لکه دا لا ندې لنډۍ**

**دا سترګې ما وژني جانانه**

**چې تر مې اوښکې یې سهار کې ووینمه**

**ټیکۍ :.**

**هغه شی چې ښه برابر وي؛ یا سم برابر ته وایې؛ چې اکثراً یې میرمنې په ښادیو کې وایي؛ چې ناوي ودروي او چارپیره ترې پیغلې ولاړي وي؛ یوه یوه ټیکۍ ورته وایې؛ د ناوې تعریف پکې کوي او دهمغې حلقې د وینا برابر وي. لکه یوه زړه میرمنه ده، د ناوي ښي اړخ ته یو پیغله ولاړه ده، هغه یې ډېره خوښه راغلې ده، له وړاندې ځایه څخه ټیکۍ اچوي او وایې لکه لاندې ټیکۍ:**

**که یې بوغان راباندې پلـوري**

**زه پیر ودونکې د ابـۍ د ګـسټ ګل یمه ]]**

**٨. د تا په خپل درک د « شپه میر و ټپې » څه معنا لري ؟**

**[[ ٨:- هغه ټپې چې پولیسو ویلي وي او یا وایې لکه :**

**موږ له قـوي پولیـس پـکار دي +++**

**ړبـن پولیس خلک میوزیک کـنډک له وړینه ]]**

**٩. آیا په پښتو شعر او شاعرۍ کې تا تر اوسه پورې په کوم شعري کتاب کې د « ځنځیرۍ ځلوربیته » په نوم کوم ژانر لیدلی او لوستلی دی ؟**

**[[ ٩:- هو په 14 کلنۍ کې مې د دې ژانر مې لوستی دی.**

**دا فرانسوي کلیمه ده په نسبي توګه ژانر د فکر د بېلابېلو شکلونو وړاندې او په ادبیاتو او ژورنالیزم کې حقایقو څرګندولو ته وایي « ځنځیرۍ ځلوربیته » یا زنځیري چاربیته پوهندوی محمد اسمعیل یون پرې د خپل زهن پخلی کړی دی. په خپل کتاب د پښتو شعر هندسي جوړښت کې له ۱۴۹ صفحي څخه تر ۱۷۳ پوري]]**

**۱۰. ما د ښاغلو وروڼو او دوستانو هر یوه ملا صاحب سیدامین خان ، انجینیر صاحب عبدالسلام «شېرین ـ خلیلي» او ښاغلي سجاد « محمود » صاحب لیکنې ستا د شعر ـ شاعرۍ او ژوند په اړه چې دوی لیکلي دي ! دا سریزې بولې او که د تا ژوند لیکونه !؟**

**[[۱۰. دا لیکني داسې وبوله چې زما ژوند لیکونه دې نه سریزه :ـ چې هر کله ما د ټولو لیکنې پر خپلي ټولګې راټولي کړلي بیا پرې زه په خپله سریزه لیکم چې عنوان یې دی د دې چاپ تراڼ (، پیل، شروع، برید، سریزه) په ۱ چوپړي ( لومړي چوپړی ) کې لا بشپړ شوی نه دی او د هر لغات مخې ته د پاڼي نوم چې کله ټول چوپړي ځای پر ځای شو هغه بیا ورپوره کوم ]]**

**۱۱ . آیا امکان نه لري چې د همدې کتاب درې ، ځلور کاپۍ دې یوه یوه ښاغلي غلام حسن «دردمن » صاحب ، مدیر صاحب میا رسول «حمید یار» ، شهزاده « شېرین زوی » صاحب او محمد نادر «مخور » صاحب او ښاغلي صفي والله «باران » صاحب او ښاغلي « پټان » صاحب او ښاغلي حیا تالله «وړ » صاحب ، ښاغلي دوست**

**محمد «نعمان » صاحب او ښاغلي عبدالله «صداقت » صاحب ته ورکړې وای !**

**او د هغوی نظرونه دې هم پرئ اخیستي وای !!**

**زه خو دې په هر صورت په خدمت کې یم !**

**ځکه چې له یوې خوا مې د سیمې ، کور او کلي ځوان یې ، له بلې خوا زما د ارواښاد دوست استاد نورمحمد «غمجن ـ تمیل » صاحب د خښینې زوی یې او له بلې خوا څخه زما د «افغان ادبي بهیر » انډیوال یې !!!**

**په قهر نه شې ! ځوابونه ارو مرو راته را ولېږه ! په شعر ، شاعرۍ او ادبیاتو کې به نه ورخطا کېږې !!!**

**۱۹/۳/۲۰۱٦ م. کال**

**ساندېیګو- کلفورنیا د امریکا متحده ایالت**

**[[ ۱۱.ما پورتنیو کسانونه یوه یوه کاپي شیرین زوی ته وړي وه او ورسره الله یار تلاش ته هم خو وویل یې زما له کچې پورته دي ډېره درنده شاعري ده ، یو کال په موده کې ور سره پاتي وه او دي. لا ځلور ځلور واري پسې ورغلی وم او څو وارې به مې زنګ ور وهلی وي. !!! په هر حال. !!؟**

**زما مور پښتنه ده زه هم پښتون یم، نور محمد ، دین ، مذهب، سیاست، انډیوالي ، کلی او ولایت په پام کې مه نیسه ، چې څه دې زړه وي همغه ولیکه.!؟**

**په پای کې زه ډېره ښښنه غواړم. چې په لمړۍ ورځ دلته بريښنا نه وه، په دويمه ورځ نوروز و، دا دی نن مې ستا سوالونه درځواب کړه ستا سوالونه دومره اسانه نه دي. لنډ دي خو ډېر پېچلې اړخونه يې لرل څه چې و، هغه مې درته وليکل. خو پرمادې هغه د حميد مومند يوبيت شعر درته به يې ډالۍ کړم ستا د سوالونو په خاطر ياد ته دې راوسته:**

**لکه سر د پسه په اور غاښونه سپين کا**

**هســې ما ته له دې غمه خندا راغله !!!!؟**

**زما کور کې، زما کوټه ، د مهترلام ښار، لغمان ، افغانستان**

**[[ ۲۱/۳/۲۰۱٦**

## صفی الله فردوس چې زه پېژنم:

**له یو دفتر سره مې نوې دنده پیل کړه، په لومړۍ ورځ راته د دفتر مشران جدي او غصه ناک ښکاره شول زموږ خلک (خوږیاني) چې هر څومره حوصله لرونکي وي بیا هم که ووایم چې هېڅ حوصله نه لري نو مبالغه به مې نه وي کړي، چې دا ولې بې حوصلي دي په دې اړه څه نه لیکم ښې ځانګړنې هم لري په یوه خبره ولاړ دی دا وروسته صفت مې ځکه وکړ هسې نه چې د عزیزانو له پامه بد شم بس ددې غیبت او صفت څخه به تېر شم را به شم خپلې خبرې ته د کار په دې لومړۍ ورځ مې یو ډېر نرم، زیرک، مینه ناک او حوصله ناک همکار وموند، اصل کې دې همکار مې زه وموندلم ځکه دی پخوانی کارکوونکی وو او زه نوی ورغلم خو هغه همکاري یې راسره په دې لومړۍ ورځ وکړه کومه چې ده پورې نه وه تړلې، منډه یې راسره ووهله او د همکارۍ ټېر یې راته وواهه پروژه یې ټوله راسره ګزوګام کړه،وروسته مې د کار په جریان کې ښاغلی صفی الله دده په خپل مسلک یعنې د بریښنا انجنیرۍ په برخه کې یو ډېر تکړه، باذوقه ، د ټولو ملګرو سره مخلص او د ډېر پاک زړه څښتن وپېژنده، انجنیر صیب سره مې مینه په ناڅاپي ډول هغه وخت لا زیاته شوه کله چې دده د شاعرۍ او پښتونولي احساس په اړه پوه شوم، انجنیر صیب صفی الله فردوس سپینې خبرې کوي او هرچاته یې سپینه وایي چې دایې د شاعرانه مزاج زیږنده بولم شاعر باید سپین هم وي او سپینې خبرې هم وکړي، د انجنیر صیب**

**صفی الله په شاعرۍ کې به ډېر زاړه او له استعماله لوېدلي ویونه واورۍ چې زه یې د شاعر نوښت بولم ، د انجنیر صیب هر شعر د پېښو شاهد دی که دده شعرونه دده په خپل غږ او درد کې واورئ نو خوند به درکړي د انجنیر صیب شاعري ښکلی ولسي رنګ لري که هنرمندان یې له دې اړخ څخه خبر شول سرونه به پرې سره مات کړي لکه چې وایي:**

**رخـچـــینه مـــې په سـر ده د لا لـي**
**سـهار سـهار په کـوزه لاره ځي**
**ورو ورو قـدم اخـلي په نـخرو**
**کمـــیس غـاړه یې وي د قـندارو**
**اوږه بانـدې جـوړشــوی ځـادر وړي**
**سـهار سـهار په کـوزه لاره ځي**
**رخـچـــینه مـــې په سـر ده د لا لـي**
**سـهار سـهار په کـوزه لاره ځي**

**یا لکه چې وایي:**

**الله قبول مو کړه سوالونه !        یاره هو!!**
**اوؤ! لغمـان ته ځـونـه !        یاره هو!!**
**په سـترګو سـترګو کې مې پوی کـړه! یاره هو!!**
**اوؤ! لغمـان ته ځـونـه !        یاره هو!!**

**دا خو د انجنیر صیب د شاعرۍ یو زورور اړخ وو دده شاعري نورې رنګېنې هم لري چې ډېر څه په کې شته دي.**

**د انجنیر صیب د شعر په کمزورتیاوو او نیمګړتیاوو خبرې کول د ځان حق نه بولم ښايي په دې اړه یې بل څوک څه ووايي ځکه هر انسان نیمګړی دی پوره یو الله دی خو ماته ددې کتاب (څلېر کې د ددو دود) شعرونو ډېر خوند راکړ، د انجنیر صیب د لا بریالېتوب هیله من یو،**

**د سرلوړي، ازاد، ارام ، بسیا او هوسا افغانستان په هیله!**

**انجنیر جعفر اثر**

**د مرستون څلور لارې کرايي کور/جلال اباد**

# د عـدل محکمو کې

یوه لیکنه هغه وخت ادبي ارزښت پیداکولی شي چې لیکوال یا ادیب الفاظ په ډېرو ښو او مناسبو ځایونو کې وکاروي تر څو لوستونکی دده مقصد او پیغام ژر اخذ کړي.او په ذهن کې یې کښیني که دا کړنه په نثر کې وي او که په شعر کې .

زه نه غواړم په نثر څه ووایم راځم شعر ته شعر هم دالفاظو یو موزون ترکیب دی چې په ذهن اثر کوي او احساسات په حرکت راولي .

هو هر څوک شعر ته د خپلې پوهې له زاوېې څخه ګوري د خپل ځان او چاپیریال د انځور ایینه یې ګڼي .

بیرته خپلې لومړنۍ خبرې ته ګرځم چې د شعر ژبه باید داسې وي تر څو هرڅوک خپل ځان د شعر د لفظونو په هینداره کې وګوري ، نو دا هر څه د ښاغلي فردوس په شعر کې شته دي د غزل هر لفظ یې لکه د مین غږ په زړه خوږ لګیږي او زړه ته سکون او ارام ورکوي، هر غزل یې د زړه آواز دی او په زړونو سلطنت کوي، سړی له ځان سره د خیال په زرینو وزرو یوې بلې دنیا ته بیایي او د سړي له ذهنه بې شمیره تصویرونه تیروي، کله سړی غره ته بیایي او کله یې بیا بیرته ښار ته راولي، کله د ګل او دبورا د کرشمو خبرې کوي او کله د بیلتون او اغزیو له نا کردیو نه سر ټکوي.دا هر څه فردوس په خپلو پشمینو ګوتو د شعر په جادو یي او هنري ژبه کوي .

دا ځوان تقریباً اتلس کاله کېږي زما ملګری او کلیوال دی، له کوچنیوالي څخه د ارام طبیعت څښتن او د خپلو همزولو د ټولګي سرخیل و، په کلي یې څوک د غېږې د تاب نه و،ټول کلیوال د ښاغلي فردوس صاحب له اخلاقو او له جسمي قووت څخه متاثره و، زه د ښاغلي فردوس د یوه نږدې ملګرې په حیث دومره وایم که فردوس صاحب ته سړی له هرې زاویې وګوري نو مثبت یې ارزوي او د یوه ښه ملګرې ټول نیک صفات په کې موجود دي.
زه یې په ملګرتیا باندې ویاړم دی نه یواځې شاعر بلکې یو تکړه سوک وهوونکی، تیږه وارونکی. مچنغوزې ویشتونکی، لمبو وهونکی، همدا راز د پلار ښه اولاد،د خپلو اولادونو مهربانه پلار، په خپلو ورونو او خویندو شفقت کوونکی، او له عاطفې څخه د ډک زړه لرونکی، د عاجزۍ او بې کبرۍ خصلت درلودونکی دی. او تقریباً اووه کاله یې د محمدی مسجد [چې نوموړی نوم پرې ده اېښی و] کې چړیتوب او اسلامي دودیز علوم لوستلي دي.
زه د ده په شاعرۍ ډېر څه نه وایم خو دومره وایم چې ښاغلي فردوس په خپلو شعرونو کې د اوسني شعر تر ټولو ارزښتناک توکې په څپو راوستي شعرونه یې د ملي هڅونې پیغام له ځانه سره لري.
په مخلتفو قالبونو کې یې د شعر مرغلرې پیلي دي، د ټولنیز عدالت، ازادۍ او ولسواکۍ له پاره د شعر په ژبه د حق غږ اوچت کړی، ټولنیزو ناخوالو ته یې ګوته نیولې د ښځینه او نارینه وو د پوهې او حقونو په اړه یې څه پټ نه دي پرېښي، پنځونې یې د ویښ

ضمير د هيلو غړونه او دردونه ځرګندوي د نويو هيلو او ټولنيزو دردونو، انساني عواطفو او جذباتو ځرګندونه کوي.
ولسونه ويښوي او يو بدلون ته يې هڅوي، په پياوړي احساس او درک سره يې د محروم او بېوزلې ولس د غوښتنو ترجمانې کړيده، کلام يې هم پيچلی او هم ساده بې تکلفه ټولنيز اند او خوند لري.
د هرې طبقې خلکو له پاره په کې د عبرت عدالت، غيرت او يوالي خبرې شته د مطلب د افادې په خاطر هر ډول کلمات او ګړنې راوړي. سوچه پښتو کلمات په کې ډېر تر سترګو کيږي، هر ډول مطالب يې په شعر کې خوندي کړي دي د بيلګې په توګه علم، جهل، وحشت، انصاف، اجتماعې عدالت، غفلت، کفر، اسلام ...
موضوعات په وينا کې رانغاړي، د شعر مضمون يې فلسفي، عشقي، سياسي،او حماسي رنګ لري چې ښه مثال يې دده دا لاندې بيت ګڼلی شو چې په څه ښه هنري انداز يې د ټولنې موجوده حالات د يو ټولنپوه په څير بيان کړي دي.

د وخت په اقتدار کې به دې داسې تاواني کړي
د عـدل محکـمو کې ټول قاضيان شو ټګ او برګ

ښاغلي فردوس ته ددې شعري ټولګې په ځلېږ کې د ددو دود د چاپ مبارکي وايم او تاسو د دې کتاب لوستلو ته رابولم .

د پښتو ادب دلا غوړيدا په هيله

پرويز « نيازی »

خپله جونګړه ، تعميرونه، مهترلام ښار لغمان افغانستان

## له نظره نشي

د یوه پیاوړي او تنکي ځوان له قلمه څڅېدلې څو اوښکې او څو رنګینې مرغلرې مې تر لېو کړې، ورته تم شوم، چې د یو ورک الماس په تندې څوکرښې را کاږم، او د یوې تتې ښکلا په تندې یې څو ښکلي ستوري وټومبم .لا د تیاره ماښام په لمنه کې ټوکېدلي ستوري یې همغسې د وریځو په غرونو کې ساه کاږي. ولې راښه ستوري پکې ، بیا هم له ورایه ځلېږي او د ماښام په تتهر خپلې رنګینې وړانګې کري، زړه مې وه چې درښا ګانو له رنګینو څانګونه خاورې اېرې وخندم، دا ځکه چې نه مې غوښتل د سپوږمۍ رنګینې دب دبې ته څوک خاورې ایرې ور وشیندي. د ځوان شاعر فردوس د شعر دب دبې ته خپه نیولی شوم چې پخپل شعر کې د کپکاس ښاپېریو ته ورغاړه وتی دی، غواړي په تندي ورته د رنګینو او ګلابونو بازار جوړ کړي.د فردوس صیب د شعر رنګیني پدې کې ده چې د څښتن تعالی د سپیڅلی ذات مقام ته یې د دوعا لپې راغبرګې کړیدي. ده په شاعرانه تخیل هستي هم پایلې ده، دا ځکه چې ښاغلی فردوس پدې پوهېږي چې د شعر ویلوستره هستي او مستي په شاعرانه تخیل کې ده. شعر د متفکر انسان د عواطفو انعکاس دی، شعر د شاعر د خوبونو هنداره ده، او شعر د الهام سرچېنه ګڼلی شو.ګرانه شاعره! شعر دې تاند او څپانده اوسه، ستا د بریو په هیله په ډېر درنښت

ستا سنګروال

د شهسوار سنګروال مېنه، مهترلام ښار، لغمان، ۱۳۹۵/۲۳/۱

## ګرانو لوستونکو

زما لپاره دغه نوی کال له شروع څخه د خوښیو او خوشحالیو نوي نوي زیري راوړي لوی خدای دې وکړي چې دا خوښي مو د ژوند په ټولو اړخونو کې راوځلېږي او ورسره مو د ټولنې او هېواد سیاسي حالت هم راسم او مونږ ته د خوښۍ پیغام له ځانه سره راوړي.

که څه هم لوستونکو او د کتاب مینه والو ته به زما پورتنیو جملو دا سودا او وسوسه پیدا کړې وي چې دا خوښۍ له کوم درکه او په څه باندې تاته راپیدا شوې دي؟

زه د ځان لپاره د خوښۍ زیری پدې کې وینم چې د همدغه نوی کال په لومړي سر کې د ښاغلي استاذ شهسوار سنګروال صاحب له څو جلده پښتو کتابونو څخه برخه مند شوم او پدې کې د خوښۍ خبره دا وه چې سنګروال صاحب تقریباً درې څلویښت پښتو کتابونه ډول ډول موضوعاتو لیکلي او کوم یې چې چاپ کړي وو هغه یې له اروپا څخه دلته زمونږ خدمت ته رارسولي دي.

دویمه د خوښۍ خبره پدې کې داوه چې سنګروال صاحب دا کتابونه په ځانګړي ډول زمونږ د ژبې او ادب د ښانګې په درسي نصاب پورې اړوند او هرکتاب یې زمونږ په سلګونو ستونزې حلوي.

درېمه د خوښۍ خبره دا چې زمونږ د الینګار ولسوالۍ د ټولو وګړو لپاره پکښې ډېر ډېر افتخارات نغښتي ځکه چې موږ یې په لیکنه او ادب کې د نوروسیال وګرځولو او زمونږ شمله یې هسکه کړه.

په دې سر بېره څو ورځې د مخه دوه نور کتابونه چا د کتلو او مطالعې لپاره راکړل چې زه د هغو په لیدلو او مطالعه کولو ډېر

خوښ شوم که ماته چا څه ډېر ماديات رابخښلي وای زه پرې دومره نه وم خوښ لکه له دې کتابونو چې ماته کوم دې خوښۍ احساس راپیدا شوی دی.
اوس دا دريمه خوښۍ ده چې د ښاغلي انجينر صفی الله « فردوس » د شعرونو کتاب مې مخ کې پروت دی او ماته هم د څه ليکلو اجازه پکښې راکړل شوېده.
داسې وګڼۍ چې دا هم زمونږ د خوا دی او کوم کتاب چې دی يې لوستونکو ته وړاندې کوي داهم زما د مسلک سره ډېره نژدې اړيکه لري او پدې اثر کې ځينې داسې سرليکونه هم راغلي چې هغه له موږ څخه ورک شوي وو خو اوس مو بيا وموندل او بېلګو سره زمونږ لاسته راغلل.
دا چې نوی کال ما له خوښيو ډک بللی سبب يې همدا دی ځکه چې زه له هر څه کتاب ښه بولم په تيره لا هغه کتاب چې زما د مسلک اوريشتې سره يې څه اړيکه موجوده وي.
انجينر صفی الله « فردوس » چې کوم اثر اوس د چاپ لپاره تيار کړی زه پکښې درې ښکاره ښېګڼې وينم:
لومړی داچې پدې شعري ټولګه کې د پښتو ادب د مينه والو لپاره د پښتو شعري فورمونو او چوکاټونو ډېره ښه ښودنه شوې ده.
او هغه فورمونه چې لا تراوسه ځينو لوستونکو ته نامعلومه او څرګند نه وو دلته يې پدې اثر کې ښکارونه يې شوې او بېلګې يې ورسره راوړل شويدي.

دویم دا چې پدې اثر کې ډېر هڅه شوې چې د پښتو ژبې د سوچه او خپلو لغاتو څخه کار اخستل شوی او دا کار تر یوې اندازې په پوره غور سره تر سره شوی دی.

دریم دا چې پدې اثر کې یو بل کیفیت د اوستیوب موجود دی چې لیکوال یې پدې برخه کې پوره مهارت او وړتیا ښودلې ده او خپله هنري ژبه یې له خپل پښتني اولس سره داسې شریکه کړې چې بېلول یې خورا ګران کار دی.

نو که مونږ دغه درې برخې په عمومې لحاظ تر غور لاندې ونیسو ډېر څه مونږ ته په لاس راکوي:

لکه له مورنۍ ژبې سره دده مینه لرل، د خپلو اولسي ادبیاتو سره دده مینه، د خپل هېواد او خپلو خلکو دسیاسي او ټولنیزو حالاتو څارنه، د ناخوالو په ګوته کول او کله کله د هغې د حل لار ښودل ، په نویو ادبي فورمونو او چوکاټونو کې د شعرونو ویل او په مجموع کې د هغه څه په ګوته کول چې ادب او هنر په جهان کې ترې خبرول اړین او ضروري بریښي.

که څه هم فردوس صاحب ځینې نا اشنا وییونه هم پخپلو شعرونو کې کارولي خو ورسره یې په نوم لیک او تعلیقاتو کې په هغو رڼا اچولې او مطلب یې روښانه کړی دی یعنې لوستونکي کولی شي چې د اړتیا په صورت کې هغو ته مخ ورواړوي او خپلې ستونزې پرې حل کړي.

د انجینر صاحب فردوس ابتکار پدې کې دی چې ده په خپل شعري کلام کې د هرچا د ذوق خیال ساتلی او په هنري لحاظ یې داسې

هنري انځورونه کارولي دي چې هر چا ته خپله برخه خوښي ورپه برخه کولی شي او د زړه راز ورسره شریک کولی شي.
په هر صورت زما لپاره د خوښۍ زېرې پدې کې دی چې انجینر صاحب د خپلې دندې او مسلک تر څنګه د ادب جهان ته هم د خدمت ملا تړلې ده نوله لوی رب څخه ورته پدې لاره کې د پوره برې غوښتونکی یم.

په درنښت

ښوونمل جانداد « الکوزی »

ځانـګې دې ګل شه چې خـوشبویه شي ټول بڼ ورسره
ځوانان رامست کړي هم شروع کړي خپل اتڼ ورسره
کېږدي سـرو کې هر یو ګل ستا د کتاب له پاڼـو
ستا د کتـاب له پاڼو جــوړ شـي یو ګل بڼ ورسره
ج – ا

# ننه توزي (پیلیزه، سریزه، مخکې وینا، مقدمه )

**زه به په لنډو ټکو کې په سریزه کې وکاږم، چې ځلېږ کې د دود دود، د ټول پښتون پښت لپاره دی، هغه کسانو لپاره دی چې هېڅ یو یې دلته ژوند نه کوي، سبا نه بل سبا زما ورځ ده.**
**له الله نه تمه لرم چې زما له مرګه ورسته نه، بلکې په ژوندونې د پښتون پښت د دې ټولګې لوستونکي وزېږوي.**
**ځینې لوستونکي به داسې پام کوي چې، د دومره زاړه له کاره ولېدلي ویي شعرونه دې، چې کروړ د زمانې پښتو ویي پخلیک (تاریخ) په یاد راولي. چې وس ورته اړتیا نه برېښي.**
**ما قلم خوځولی دی کله بند او کله روان د خپلې ژبې لپاره، چې په نن ورځ کې زما ژبه ۳۱ یودیر شتمه لیکه کې دی. او د نړۍ په ټولو (۶،۵۰۰) ژبو کې یودیر شتم روڼ ځای لري، چې له دې ټولو ژبو څخه (۲،۰۰۰) ژبې داسې دي، چې له (۱،۰۰۰) څخه لږ کسان پرې خبرې کوي، دا هم په څرګنده ټول په علمې بنه د نړۍ ژبپوهانو څېړلي دي، چې په دوکې هغه ژبه له منځه ځي او د ورکیدو په حالت کې دي، چې د وویونکو ګڼه یې له (۳۰،۰۰۰) څخه لږه وي، (۶۰،۰۰۰،۰۰۰) شپېته میلونه پښتون پښت په پښتو ژبه خبرې کوي، د نړۍ پر ټولو ژبو کې لومړۍ، بډایه او پرمختللي ژبه چې ځواک یې خپلو خپل ژبو په لاس کې دی، هغه د چین اساسي لهجه ده، چې**

(۱،۲۱۳،۰۰۰،۰۰۰) یو بیلیون او دوه سوه او دیارلس میلونه تنه پرې خبرې کوي. بله دا چې که انګلسي ژبه(۱،۲۰۰،۰۰۰) یو میلون دوه سوه زره وییکي ( لغات) لري، عربي او روسي ژبه بیا(۹۰۰،۰۰۰) نهه سوه زره وییکي لري، پښتو ژبه (٦۰۰،۰۰۰) شپږ سوه زره وییکي لري، دري یا فارسي ژبه بیا(۴۰۰،۰۰۰) ځلور سوه زره وییکي لري، دلته په یو نه یونوم داسې کسان شتون لري؛ چې د خپلې ژبې له ویوکو سرا تربګني لري؛ په کومو چې نه پوهېږي؛ هغه بیا ناګڼلي ګڼي؛ په دې سره به لازمې وي؛ چې پښتو خپل کره وی له منځ لاړ شي. ما ایله (۴۰،۰۰۰) وییکي نه دي زده کړي، نو دا د دې مانا نه لري، چې پښتو ژبه دې الله مه کړه نیمګړي وي. خو زه به په نورو پاتې(۵٦۰،۰۰۰) پښتو ویوکو نه پوهیږم.

زموږ یو وطندار، شمشتو پیښاور کې مې کلیوال، په ۲۰۰۰ میلادي کال کې، ډاکټرمحمد هارون سیلاب عبدالرحیم زی، د لغمان ولایت یادوم، چې هلته داسې مشهور و، چې د انګلېسې ژبې ټوله ډیکشنري یې حفظ کړي وه،

خو تر نن ورځ مې نه ده اوریدلي، چې کوم تن دي. د علومو اکاډمۍ پښتو په پښتو ډیکشنري حفظ کړي وي. او یا یې ژبه درنده او له ویي پلوه ډکه کړي وي.

په ۱۹۹۸ میلادې کال را په دې خوا را باندې د لوی افغانستان د غرونو، درزنۍ سیمو، خړو کمرونو خړ پښتانه پیریان کښېنه ناستل یا دې را باندې سره ښاپیرۍ ناسته وي، بلکې د الله عظیم لویه

**لورینه راباندې وکړه چې د شاعرۍ لور او پړی یې داسې په لاس راکړ چې تر دوې سوه دېرشو پورې تشي سپینې پاڼې یې راباندې ډکې کړې. زما شعرونه ډېره ساده ښکاري خو ساده توب یې ډېره پېچلتیا هم لري. د پېچلتیا ډېر پوړونه لري او ځینې شعرونه مې دومره پېچلې برېښي چې له پېچلتیا سره یې پښتون پښت خپل ساده مفهوم اخستلی شي.**

**دا چې د لوستونکو او اوریدونکو خپله یوه تشریح په هر صورت موجوده وي. دا کتاب ستا سو درنو لوستونکو په لاس کې دی او په نوموړي نوم مې کښلی دی.**

**که زما دا ټولګه د یوه سوړ بځري ( الکترون) په اندازه زما د پښتون پښت او پښتو ژبې د پرمختګ سبب شي زه پرې خورا ډېر ویاړم.!!**

**په ټوله پښتني افغاني مینه او لورېینه**

**انجینر صفی الله « فردوس »**

# الله الله!

د زړ ګې باغ مې ودان کړه ا لله ا لله!
یا جغات راله خزان کړه الله الله!

یا دا ګرم اه مې خولې ځینې بهر کړه
یا سینه راله بوستان کړه الله الله!

دلته ګل راته اغزو سره ویده کړي
دغه زوړ بستر یې وران کړه الله الله!

زما د زړه غوټۍ یې ټاټ باندې ټاپن کړه
ته دریځ راله ګلدان کړه الله الله!

دا نوټونه دې چې خره طاقت د آس کړي
بې زبانه ازاریان کړه الله الله!

یو صادق دوست مې په څنګ کې پیدانه کړ
چې دې خلاص راله ګریوان کړه الله الله!

توریشانه ده کبله په تورغره کې
په شکل یې درخشان کړه الله الله!

توره پاڼه شوغکیو سره مل کړه
خرپټه او خوړا سره ټکان کړه الله الله!

په جلګیو مو جیجیونتې راشروع کړه
په ارو امرو يې تراڼ کړه الله الله!

که جیجی دې په جیجری کې کړه ایساره
هم خورک ورله توران کړه الله الله!

تورایته تورتېلی راله ښکارې
هر ګلاب راله ترخان کړه الله الله!

چاڼ چامبیل به موږ جوړه سره چانډو کړو
دا دښن راله تپړان کړه الله الله!

دا ځانمنې پېغلې بیا دې په ځاځل کړې
ځانځارونی مې جانان کړه الله الله!

ټول ټانټس به د الله په لورې ګور کړم
زما په ژمنې خو يې تان کړه الله الله!

ثولسېزو کې عیال له يې تمکه کړو
خپل بچي ور له ماران کړه الله الله!

تورو کټ مټ کړو ټانټوری
کې پیدا يو احمد خان کړه الله الله!

ثلاثل يې ثلور ثندو کې مدام وو
نه يې خلاص راله تابدان کړه الله الله!

ټبوټبوک نه یې کارغــــه را لره ســــاز کــــــړه
هـــــر یو ژنــــی څــــرخبانې کـــــړه الـله الـلـه!

زما څرګـــــــــه به بې له ځنډه یې مرګ څرمه شــوه
چې به یي یاد ورلـــــه کېلمــــــان کــــړه الله الله!

هر تروګـــــــــی یې ســــنډا میخـــــې خوراک کړه
بیا لـه نـاسـتــــې یې چـــــالان کــــــړه الـلـه الـلـه!

دې شــــــلیتـــــې ګټیالــــــــې نه مو نور خلاص کړه
پڼجابو نه خــــــــلاص مــــردان کـــــړه الله الله!

سـلو شـل کالـــــه پښـتون خـــدړ خـــدشـه کړه
هــــــر یو میـــــر یې خـدریوان کـــــړه الـلـه الـلـه!

هر پټــــــون یې په ټپــــــړ بانــــدې زینـــدۍ کړه
لکـــــه زه داســـــــــــې حـــیران کــــړه الله الله!

د خــــیبر خـــــــلک خــــدعه را لـــــه را نه کړي
نـــــــور په ســـــمه یې روان کـــــړه الله الله!

د ســـــرحد خـــلـک د اوښ په شـاه ســــــــواره دي
ســـــاز محتــــــاج یې د لغمــــان کـــــړه الله الله!

**پښــتانـــه به د خـــريتې طـــــور ورشـــــي**
**بيا يې بنــــد ښـــــه په اســـان کـــړه الله الله!**

**دې کـــــبږو وږو ســـــتهو له مو ژغونــــدي کړه**
**بيا مې ســــاز ورلـــه سـا مان کـــړه الله الله!**

**لمپاکا لـه مې څــکل کـــړه چـــې څکل کړم**
**را پـــوره مې دا ارمـــــان کـــړه الـلـه الـلـه!**

**مونږ چــــرلنډي بـه چغشـکـــــی ورلـــه پرېږدو**
**خــــپل دښـــــمن له مو ځپان کـــړه الله الله!**

**لـه تنځــــرو خـــراوه نـه مې ګوښـــــه کـــړه**
**بيا تومـــــن غونـــــدې مې ځان کـــړه الله الله!**

**شـنـــې بانـــډه کې خو هر څوک غـــزلي وايي**
**خـــر ټــتـنګ کـــې يې کاروان کـــړه الله الله!**

**د الفت غونـــدې ګاډيلـــې جـــواري خـــوار کړي**
**خـــــروړک ورلـــه ځـــپاڼ کـــړه الله الله!**

**خـــر پياځه او خـــــــرتسکي چې ښکلي بيا کړي**
**خـــرغينی را لــــه ګـــلان کـــړه الله الله!**

**هر ميره کې خـــرډيګ خـــروه خچلـــي کړه**
**خـــرغوله خـــره واژ ځـــلان کـــړه الله الله!**

**خرسمبه خرغوږی تن سره خرتي کړه**
**خره کی تمن خرسان کړه الله الله!**

**زما مېنه کې تندوس خرډک زرغون کړه**
**خرمیری مو کوره سان کړه الله الله!**

**خرنگی د خرزوره سره خځوک کړه**
**له خرسو ډک کُلمان کړه الله الله!**

**زه به سیمه کې جلبنگ واشه زراغ کړم**
**ژړکوري بوتي جنبان کړه الله الله!**

**دا فردوس چپټ به رب در له چپټ کړي**
**هر پښتون را له تړوکان کړه الله الله!**

**په خپوځو به څرگړو جوړ جوگړ کړم**
**سربلند مې مور پلارجان کړه الله الله!**

**ځینگوړا نه ایډال ویس گلونه را وړم**
**ما نه تیټ بیا سیوسیان کړه الله الله!**

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، دوېم پوړ، ځوارلسمه کوټه**

**E214 , pm10:05 1384/12/27 هـ ش**

# فترت

سلام سلام زما پر تا نبي سلطانه
ولې دي نه پرېږدي دمې ته کافرانه

شپږ سوه کاله وه دوره د فترت
له خلکو هېر وا سماني شرعيت
واړه وګړي وه اخته په رذالت
ځکې له نه راتله منان پيغمبرانه
ولې دي نه پرېږدي دمې ته کافرانه

سلام سلام زما پر تا نبي سلطانه
ولې دي نه پرېږدي دمې ته کافرانه

مشرکو وويل غوږ شئ ګورئ ای ځوانانو
زموږ له جملې راځي هغه له اتلانو
لرى پر غاړه کړئ امين ته عزيزانو
فاطمې وويل سر ترې جېګ کړه وه پلارجانه
ولې دي نه پرېږدي دمې ته کافرانه

سلام سلام زما پر تا نبي سلطانه
ولې دي نه پرېږدي دمې ته کافرانه

الله ویـــــل گـــــــوریٔ ا هل کــــــتابو
بـــیان د حـــق درته کـــړي له منـــکراتو
زیـــر وېــــری کړي په تاســـو په څو کراتو
با نې ونـــکړیٔ وخــــت شـــو ختم د رسولانه
ولـــــیٔ دي نه پرېږدي دمــــې ته کافـــرانه

ســـــلام ســــلام زمـــا پر تا نبې ســـلطانه
ولـــــیٔ دي نه پرېږدي دمــــې ته کافـــرانه

تورات انجــــیل خبردار ټـــول نصرانـــېـــانو
جګړې چې منځ کې یې کړې دي یهودیـا نو
فردوس دوعا به یې کــــړه ویل ای الله نــــو
مونږ سرفراز کړې په خـــاطر د اخـــیر زمانه
ولـــــیٔ دي نه پرېږدي دمــــې ته کافـــرانه

ســـــلام ســــلام زمـــا پر تا نبې ســـلطانه
ولـــــیٔ دي نه پرېږدي دمــــې ته کافـــرانه

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه 1384 /19/11 هـ ش

**am 1:05, Mehter lam, Our House at my Room**

## سپوږمۍ

**پاسنو اووه آسمانو،**
**ویل: د پنځا ښتنه!**
**په دې ټولواله کې،**
**تا ولئ سپینه سپوږمۍ،**
**جوړه کړله ؟**
**هو دا د دې په خاطر !**
**چې ځمکې هر بڅری،**
**په هر یو سوب رپ کې!**
**خپل منځې له توکي ټول کړي.**

**مونږ ورته ځیر ځیر ګورو !**
**چې پینۍ هره ژونکه،**
**خپل زوزان راټول کړي،**
**په لاس نغوته وکړي،**
**چې ای: ښتننه!**
**په دې ټولواله کې ،**
**تا ولئ سپینه سپوږمۍ ،**
**جوړه کړله؟**
**ځکه څڅبکي طور،**
**مونږه په هره نۍ کې،**
**ټولې اوږدې تیارې،**

**په کتو لنډې کړو،**
**چې هغه سویل طرف ته،**
**له مونږه غلې درومې.**
**پاسنو اووه آسمانو،**
**ویل: د پنځا ځښتنه!**
**په دې ټولواله کې،**
**تا ولې سپینه سپوږمۍ،**
**جوړه کړله ؟**
**سمه ده واړه ستوري،**
**چې هر ماښام زوکړه شې،**
**او خپلي سترگې مخي،**
**چې د هغې ورستۍ لرلید،**
**په سترگو زر وگورې،**
**پاسنو اووه آسمانو،**
**ویل: د پنځا ځښتنه!**
**په دې ټولواله کې،**
**تا ولې سپینه سپوږمۍ،**
**جوړه کړله ؟**
**هو دا د دې په خاطر !**
**چې ځمکې هر بخری،**
**په هر یو سوب رپ کې!**
**خپل منځې له توکي ټول کړي.**

**ځښتن نغوته وکړه،**
**چې زما د خوږ جانان،**
**د اوږو په منځ کې،**
**د دهغې سپينې سپوږمۍ،**
**ښکلی ښاپ به نه و.**

**هو دا د دې په خاطر!**
**چې ځمکې هر بڅری،**
**په هر يو سوب رپ کې!**
**خپل منځي له توکي ټول کړي.**
**څو ځلې زما پلاوي ته!**
**څو شپې شيبې شيبې کړي،**
**د خپل لوښه اند سره،**
**د يوه پوهګړ په نظر،**
**زيرسر په سر ولاړ وه.**

**هو دا د دې په خاطر!**
**چې ځمکې هر بڅری،**
**په هر يو سوب رپ کې!**
**خپل منځي له توکي ټول کړي.**

**ځکه زما یار لپاره،**
**په خپل منځ دوه ځایه شوه،**
**څه په ختیځ څه په لویدیځ لاړه،**
**او هغه دد ژوو له یې،**
**ځان ځارول وښود.**

**هو دا د دې په خاطر!**
**چې ځمکې هر بڅری،**
**په هر یو سوب رپ کې!**
**خپل منځي له توکي ټول کړي.**

**پاسنو اووه اسمانو،**
**ویل د پنځا څښتنه!**
**په دې ټولواله کې،**
**تا ولې سپینه سپوږمۍ،**

**جوړه کړله ؟**
**هو دا د دې په خاطر!**
**چې ځمکې هر بڅری،**
**په هر یو سوب رپ کې!**
**خپل منځي له توکي ټول کړي.**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شـــپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ،**
**دوېمه کوټه، د لیکلو د وخت موده اوه دقیقې 1385 /1/ 31 هــــ شـ**
**Time Duration writen at 7 seven Minute, KPU H, 2**
**E102 from 9:20am to 9:27**

## سحق

**نـامـرده شـرمیدلي وه اعـوامه**
**کیســه د قـوم د لوط علی ســلامه**
**لـوط د ابــراهیم ښــکلی وراره و**
**سـیوا ورته له ځانه او له هـرڅه و**
**حـضـرت لـوط د هـاران زوی و**
**ابـراهیم د هـاران روکـی و**
**دوی عــراق کـې اوسیـدله**
**د بابـل ژونـد گـړ کـیدله**
**دوی د الله تـوحــید کــوله**
**شـاه نمرود مـنع کــوله**
**دې کیسـې د نـمرود ډیــرې**
**حــق یې نه مانـع له ویرې**
**په نـمرود او نه په قـوم یې کـړه اثره**
**د مـنان په اذن شـو له ښـار بـهره**
**له عـراقه شـلو شـام طـرف روانه**
**کـه و غــر او کـه وه سـمه که ودانه**
**زمونږ له پـلار سره سارا بي بي په لاره**
**هـم وراره ورتـه په لار شـلو پکاره**
**الـخلیل کـې ابــراهیم شـلو مـقام**
**په ســدوم کـې لـوط علیه سـلام**

**په سدوم کې چې به ښځې جوړه کېدله**
**خپل جامې به یې ایستې بربنډیدله**
**یو له بل سره شهوت باندې مزې کړې**
**کری ورځ به یې په سحقو جذبې کړې**
**ښځې به یې په ښځو سپړېدلې**
**نرانو به یې پر نر سوارې کولې**
**که و نر او که وه ښځې دا یې کار**
**خدای وهلې ازاریانه و په دې لاره**
**نه له خدایه شرمېده نه له بل چانه**
**صرف خبره یې منله د شیطانه**
**په نړۍ کې نه پیژنده دغه کاره**
**لعنتي شیطان ښوولې وه دالاره**
**دې پلیت او بې حیاء عمل ایجاده**
**د سدوم خلکو ایښودی و بنیاده**
**چې سیوا شو دا بد کاره**
**ښځن و لیره خپل یاره**
**ګاونډی د دوی له میانه**
**حضرت لوط پیغام رسانه**
**چې هر سوبه یې سلا او مشورې کړې**
**دوی پرې ټوکې مسخرې کړې**
**دوی وی څه خدای ته دې وایه**
**چې نازل کړي عذاب له ورایه**

نه يې کوم يو بل ځوابه
چې وه ياد د کوم نوابه
ګورئ ای قومه زما اومه
په لمبو کې به شئ مومه
لږ خو و شرمېږی مانه
بيا به ډېر يئ پښيمانه
د سرکش قوم بدي ډېره
نيک کارونه و تري هېره
حضرت لوط وويل خدايه!
سرکشان له دنيا بيايه!
دا شرير قوم مې هلاک کړې
مخ د ځمکې ترېنه پاک کړې
الله قبول کړه د لوط سواله
پوئ پريښتې کړې په دې حاله
لومړی ورشئ علي النبياء له
دوهم د لوط آل او عياله
شوې ملايکې را راوانې
د الخليل په ښار ودانې
چې شوې داخل وايې چاو سلامه
په ابراهيم عليه سلامه
شو ميلمانه د ابراهيم
چې ميليمه دوست ګنې رحيم

**کړه يې ښايسته خوسی حلاله**
**کړه يې کباب لکه هلاله**
**ملکو و نخوړ طعامه**
**شو ابراهيم له ويرې جامه**
**وی تاسو مه ويريږۍ مانه**
**مونږه راغلې له اسمانه**
**مونږه دا ټول ملائيکانه**
**يو راليږلې رب منانه**
**د الله په زيري تا به کړو خبر**
**په دا تير عمر به در کړي جوجکلر**
**يو هلک ښکلی هوښياره**
**په اسلامې علمو تياره**
**دغه زيري کړمه زه داسې حيرانه**
**په دا سل کلنې عمر مې ويرانه**
**دا رېښتين زيری دی حق**
**تا له در به کړي اسحاق**
**په رحمت د الله نا اميد نشي کسانه**
**مگر وي چې فاسقان او کافرانه**
**وويل نور څه له مو اړه**
**چې راغلې يئ دا واړه**
**وی د لوط قوم به هلاکېږي**
**له مخ د ځمکې به وره کېږي**

د سدوم ښار طرف روان شو
چې ډله ایز ملائیکان شو
چې کله راغلل د لوط کورله
کلی خبر شو هرې لور له
لوط وویل ناشناء غوندې کسانه
دومره ښایسته لکه ګلانه
په زړه کې وېره ترې پیدا شوه
چې خدایه دلته څه دي دا شوه
دغه سرکښ قوم چې خبر شو
ټول د لوط کور طرف بهر شو
لوط وویل ګورئ زما وګړو
ای! د سدوم د ښار ژونګړو
دغه کسان زما میلمانه دي
راته سیوا ګران له هر څه دي
مه شرموئ ګوره خپل ځانه
چې په کوربه وي میلمه ګرانه
د کلا لوی ور یې کړه بنده
له دې ځای ځئ کورتم پابنده
دوی دو باره کړه دا ترونه
په دیوالو ځان اړه وونه
د دیوال شاه باندې بالا شو
په حویلۍ کې په دربا شو

مـوږ لـره غوږ شـه نیک عملـه
ښـه يې خـبر مـوږ بدعمله
تـه دې کـوه خــپل نیـک افعاله
مـونږه خـوشحال یــو په دې حاله
تا له مـو څو ځلې ویلـي
یـو هلکانـو سوزولي
زمــوږ دا عمـر د شبابـه
شـلو هـلک پسې کبابـه
مـونږه تا هـېڅ نه شــرما وو
نـه دي پـه ځـان مغـروره وو
څـوځلې کـړه موستا سـر خلاص
پر دیس به نه راوړي خـپل پـاس
اخـتیار لـرو د پردېسیانـو
چـې څـه کـوو پـه هلکانو
نـو بیا د سـتـا څـه ضرورت دی؟
ښـنکو سـاتلو ته حاجــت دی؟
هسـې گــروې دا خــپل ځانه
ښـه يې خـبر مـونږ مـدهوشانه
پربېرده چـې خـپلې سترگې سرې کړو
په اننـگو ورنـو مـزې کړو
چې په پـوس وجد يې ښځې کړو دا داړې
چې دا ټول سدوم يې واورې يې دوی رمباړې

**حضرت لوط وويل قومه گوره**
**زما په لوښو وکړې شوره**
**چې ټولې دي ستاسو کورو کې**
**وي انتظار در له ورو کې**
**ټولو وويل احمقه**
**زموږ خبره وي يو حقه**
**هميشه تُوف پر جينکيانو**
**چې دې سيوا له شيرکانو**
**چا جلۍ کړه د ځنکيانو برابر**
**چې الماس په زرو ور کړي سراسر**
**لاس په لاس کې په بازار کې در سره وي**
**پيزيبونو سره کرښې شر شره وي**
**يا له شاه به لکه سپی در سره درومې**
**توره شپه کې به دښمن در لره مومې**
**تر هغو به زمونږ په منځ کې وي منلي**
**چې ورغوي کې وينښته نه وي ختلي**
**په ژړا شو حضرت لوط وويل يايه**
**دا پرما څه سخت ساعت دی خدايه!**
**کړه مې دېرش کاله دعوت د حق بيانه**
**نه شول شپږلکو کې يو کس مسلمانه**
**دوه مې لوڼې يوه ښځه مسلمانه**
**واعله ښځه مې ډلې د شيطانه**

**پـوئ شـو ملائیکې په خفـګانه**
**چې حضرت لـوط شـوه پریشـانه**
**جبـرائیل ویـل مـوږ ملائیکانه**
**یـو را لـېږي پـاک سبحـانه**
**یـو مـوږ راغلـي صـادقـانه**
**کړو بـه هـلاک دا سـرکښـانه**
**نـو بو ځه! دې ځـای نه عایـله**
**له ورسـتـه وکـړه ورته خیاله**
**د شپـې اخــر وخت کې روان شئ**
**ښـار کې داخـل به د هـوران شئ**
**تاسـو ورځئ شاتـه مه ګورئ**
**چې نه شـئ وهـم لانـدې سورئ**
**تاسـو ورځئ ښـــه په امانـه**
**جغـړې به یې و باسـو له میانـه**
**خـبرې و دې کـړې بسیـاره**
**غلـی نـور کـېنـه ته قـراره**
**روان شـــو پلـن داړه مارانـه**
**دا مخ تـورن بچـه بازانه**
**زنګنونـه جیــګول غـره په ځان و**
**تا به ویل چې مهر شوي مسـت اوښـان و**
**په ټوخـیو شـو کــوټې ته ور داخله**
**تصـور کـې یې ښایسـته ښکلي مخښله**

**چې سم يې وليده دا ښکلي هلکانه**
**شولو نشه نه وه خبر له خپله ځانه**
**د مستيونه هر يو وهل ټوپونه**
**چې چارپير به کړو ځنکيانو نه لاسونه**
**جبرائيل و وهل دې وخت کې وزرونه**
**شولو تور مخ يې بدل لکه ستهونه**
**لکه شل گوزړو په سر باندې تاويده**
**غلام خان کلا کانتهار غوندې بغيده**
**د غرور بادونه يې ووتل له سره**
**کيسه واوره ليونيه براده**
**کړه قسم الله مستۍ کې گمراهان دي**
**غفلتونو او نشوکې سرکښان دي**
**وی زما قسم دی محمده ستا په ژونده**
**د نړۍ واړه وگړو لره پنده**
**دوی ونکړ له د لوط احوال ځيږنه**
**لکه پړانگ به يې هميش په ځان داړنه**
**د سدوم ښار مې آسمان طرف بالا کړه**
**کړه معکوس او بيا په ځمکه مې خطا کړه**
**څه چې وه هغه او دا شو**
**نښه پاتې په دنيا شو**
**دغه خاوره ده پرته په سمه لاره**
**د دوزخ په کاڼو شوې ده سنگساره**

**په گـــردونو کې سپیـره ده په رنـگ خړه**
**دا دلیـل مـو مومنانـو ته وکړه**
**لا تراوسه په کې هـیڅ شی نه شین کـېږي**
**زراعــت په کې په خپلـه خـرابـېږي**
**الله ایښـی عملـو طرفتـه قوسـه**
**یو طرف ته یې جـــیهون بل خوا فردوسه**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ شـ1384 /12 /7**

**Mehter lam, Our House at my Room, 07: 10pm**

## گوډاگی ( محمداجان گوډاگی)

کلي کې خوار سړي ښادي و
په ټول ولس کې ورورولي و

د ولس خلکو نازوه
هر یو مجلس یې گرموه

خپل کار ته وه به یې ملا ماته
د بل چا هر کار به یې و شاته

و به ملاتړ د هر یو خواره
که به وزگار که بې وه کاره

یوه یې سپۍ یو یې چوپک و
یوه چاړه و زوړ ټوپک و

نه یې وه وس او نه مالدار و
مگر نامه کې برخوردار و

دوه دیگه باندې یې شوله کړه
واړه ولس له یې پښه کړه

ټول به پرې عذر خپل دوستان کړم
هم به خوشحال کلي زلمیان کړم

**دیګو نه بل طرف روان شو**
**دیګ ته را جمعه حرامیان شو**

**له ډېره یخه رپېدله**
**سپۍ یې له دیګه تا ویدله**

**کلي زلمو منځ کې سلا کړه**
**سپۍ یې شولې دیګ کې خطا کړه**

**خوار ګوډاګي باندې خندا کړه**
**دغه کانه یې په رښتیا کړه**

**د کوډاګي پلان یې وران کړه**
**د غم سوچو ته یې روان کړه**

**چا ورته لرې نه صدا کړه**
**راشه چې سپۍ په دیګ کې چا کړه**

**رنګ یې تک زیړ لکه زعفران شو**
**په عجیبه لهجه ګویان شو**

**هی! هی! قسمته ګوره لاره**
**سپۍ د شولې دیګ کې ایساره**

**د ګوډاګي واده به تېر شي**
**نه به مې ستا ناځوانۍ هېر شي**

**په ټول ولس کې دې رسوا کړم**
**د ټولو خلکو د خندا کړم**

**دربانـدې هغـه کانې بيا کړم**
**د پوز پوستکی دې جلا کړم**

**ټولې پښې دې ماتې بيا کړم**
**ورځ د قيامت جوړه په تا کړم**

**نو سپی پر تا څه مُصيبت و**
**د شولې ډک ديگ ته حاجت و**

**يا مې خپل زوړ ټوپک را واخلم**
**يا په چړې درنه ساه واخلم**

**اوس لاس په سر وهمه ژاړم**
**زړه وی ديگې کې دې ونغاړم**

**نصيبه ستا بدې نا خوالې**
**رانه په چل کې هر څه والې**

**څه به له زړه درته دعا کړم**
**تا چې مرگ کندې ته خطا کړم**

**چې زمونږ کلې کيم ځوانان شته**
**په نصيب خوار شه احمقان شته**

ترینه تعلیم او علم پاتې
خوشې په ژبه کوې باتې

نه هېڅ په ځان او جهان دي
ټول بې خبر ځنا وران دي

ورته خوشحال بی مور او پلار وي
ډوډۍ خوړلو ته تیار وي

ټول له یوې مخ نرښځان دي
عبث کارو پسې روان دي

لنډ یې لمن اوږد خښتگان دي
ته به گومان کړې چې خرسان دي

نه به د خوار ملک له دوا شي
پرېږده چې مرگ ځای ته خطا شي

د چا په درد نه دوا کېږي
خوار د شي خوار نه اصلاح کېږي

څو چې مو تا دا ځای جوړ نه کړو
څه به خدمت د وطن وه کړو

امریکایې نه جوړه وي
چې زما او ستا بیغورۍ وي

**تر ځو چې ټول یې نه کړو جوړه**
**امریکایې بم نه کړي موړه**

**فردوسه مل د هر یو خوار شه**
**زوی د غریبو خدمتګار شه**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه**

**Mehter lam, Our House at my Room on**

**1385/ 10/ 24 pm 9:30**

## د شیطان پـلان

دا کیسه شوې رېښتیا ده
راتـه کـړې مې انـا ده

چې په تېـره زمانـه کې
اوس روښانه په ائینـه کې

دوه ملگـري یا دوسـتان و
لغمـانـی او بـل شـیطان و

شـیطان ویـل چې نومـوړ یم
خـو دده دلاسـه پـړ یم

بشـپړ تېـر مې له ابـا نه
پـوره کــم نه دی له مـا نه

کـرۍ ورځـې زه ځورېږم
صـرف دده له لاس کــړیږم

اوس نـو خــامخا زړیـږم
نـه ځـوانیږم نه مړ کیـږم

لغمـانی چې مې مـل شوی
ځـای مې ځمکـې د تـل شوی

همېش ده تـه ملامـت یم
شـرمینده پـه تـولعنـت یم

دا مې دوسـت نه دی ټګـمار دی
تیـر له ما هـم مې له پلار دی

راځه جـوړ ورتـه پلان کړه
داخـل خپل چـل کې یې زیان کړه

ورته داسې دام به جـوړ کړم
په غـمونو به یـې مـوړ کړم

له پیسـو به مې کار واخـلم
ترینه ورو، ورو ځینـې ساه اخـلم

وایـم به زما پیسې د ستا شوې
داسـې فکـر کړه چې بیا شوې

خـوره او ځښـه مـصرفـوه
ارمـان زړه کې مه پریـږده

په خانانو کې سـتر خان یې
بـډه یـار هم د شـیطان یې

په خپل چـم کې به یې ګیر کړم
داخـل سـم به یې پـه ویـر کړم

په پیسو به یې قرضدار کړم
یو ځل زه یې ګرفتار کړم

بیا نو زه پرې ښه پوهېږم
زه له ده سره جوړېږم

چې یې ختمه سرمایه شي
زما مېله به بیا توده شي

زما د اوښ ګډا به ګوري
ځان بیا وژنې او که پلوري

خو ښه یې خاندي او که ژاړي
خو پیسې ترې شیطان غواړي

د خپل دوست کور ته روان شو
دوست یې دا رنګې ګویان شو

نن ورځه راځه سبا ته
دا خبره کړمه تا ته

ته مې دوست او که ټګمار یې
پیسه غوښتو ته تیار یې

لږ خو سوچ وکړه هوښیار شه
وه نامرده سم تیار شه

يو پيسه نه لرم کور کې
تاته څه درکړم ستا پور کې

چې اوس دومره ورخطا يې
سهار غرمه پسې الا يې

صرف همدغه يو دې کار دی
نه د کوم بل کار روزګار دی

په توره خره را الا يې
تير لسم او داخل بيا يې

راته وايې چې دوستي ده
دامو څنګه ورورولي ده؟

کوم قرضداره چا وژلی!؟
چا زندان ته رسولی؟

صرف مې راولې ديرې ته
بوځه نور مې جيل خانې ته!

په دوستۍ کې مې بالا کړې
بيا په ځمکه مې خطا کړې

داسې څوک نکړي نا ځوانه
بې همته بې وجدانه!

چې پیسې دې رانه لاړې
دا په دا راځینې غواړې

همیشه راته ولاړ یې
په دوستۍ باندې لا ویاړ یې

چې مې ټولې در کولې
هغه دم دې نه اخیستلې

نن ورځه راځه سبا ته
در کوم دې پیسې تا ته

زما او ستا منځ کې وعده ده
دا مو آخره فیصله ده

چې سبا له خیره راشې
دوباره به نه بیا بیا شې

شیطان ویل چې نه ورځمه
لېږ یې نور وځورومه

سبا نه ځم بل سبا ته
شي سرکوزی به بل چا ته

ورک بانه بیم د سبا شي
زما جوړ پلان کې راشي

**ما سره دا چل بازي کړي**
**په نامه مې ورور ولي کړي**

**چې په کومه ورځ مې مل شي**
**هغه ورځې مې اجل شي**

**د پينۍ چې ادم ذات دي**
**نر يا ښځه که زوذات دي**

**واړه ماته په لاسو دي**
**په امان او په ستايو دي**

**زما له نومه ټول ډاريږي**
**دا زوۍ مړی نه سميږي**

**په حالاتو يې تبصره کړم**
**پرې سوډۍ خبر نامه کړم**

**چې حالاتو ته يې اټکل کړم**
**يا د ابا زوی سره چل کړم**

**چې لږ ځير يا په کتو شم**
**ليونی شم په ستايو شم**

**فردوسيانو کې بالا شي**
**دوزخيانو کېم رښتيا شي**

ربه تاته په توبو یم
دده لاسه په نارو یم

دا ځل زه به يې خوه شېرم
نور په ژوند کې نه خواريږم

لغماني کور ته روان شوه
چې پوره يې دا لړان شوه

تاو را تاو له یو راستې شو
د کلا لوی ور ته نږدې شو

د ور سرتاق ته په کتو شو
واړه وجود يې په خولو شو

یو دم وجود يې په لړزان شو
په واويلا او په ګريان شوه

د ور په سر باندې چوکاټ و
پرې ليکل شوي کاټ او واټ و

نن دي هيڅ نه دې د وسه !؟
پرون چيره وې خر کوسه!؟

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، دهم پوړ، ديارلسمه کوټه, A213 , 1385/04/26 am 10:35:20**

## د ځنګله قانون

په صحرا کې یو ځنګل و
ساز په ژمې کې کنګل و
کې ځینګر ځینګر ناجوان و
هم ځیږی نښتر پرګیان و
په ملکونو کې شهرت و
رب جوړ کړی په قدرت و
شین زرغونه وه په پاڼو
رنګا رنګ میو ممانو
د ځنګله ځمکه پسته وه
په وښو جلګو بسته وه
کې زرګونه حیوانان و
په قسمو ځناوران و
تخت شاهي و د زمریانو
ورته پاتې له پلارانو
د الله شکر ګذار و
په ستایو به یې ګرفتار و
رب ورکړې دب دبه و
په دا ټول ځنګله خوره و
د ځنګله چې حیوانان و
غټ واړه که بې زبان و
وژوندي د دوی خوراکه

**زرافه فیل باندې واکه**
**واړه ښکار و د زمریانو**
**و قانون د حیوانانو**
**یوه ورځ یې کړه فرمانه**
**کړه پیاده په حیوانانه**
**مشاور یې تور پړنګان و**
**هوښیاران زوره وران و**
**د پیاده ځواک یې لیوان و**
**نه په ځان نه په زوزان و**
**جوړ اختر و د لیوانو**
**و قیامت په عاجزانو**
**کړی ورځ به ګرځیدله**
**په ژوند نه کېناستیدله**
**و به سترې لکه سپیانه**
**ژبه ایستې بې صبرانه**
**پاچا ویل چې کوم حیوانه**
**زما بچی که وې کبلیانه**
**چې درې خوښې وې هر ځوانه**
**ترې نه وباسئ تخمانه**
**پریږدئ دوه خوښې حیوانه**
**چې راځي زمونږ له میانه**

**دا درې خوټې ټول تالا کړئ**
**د مرگ کندې ته خطا کړئ**
**نه دې زمونږه له پلارانو**
**ذاته نه راځي اصلي ځناورانو**
**دا ځنگل ترې ټول صفاء کړئ**
**له بد ذاتو نه رېښتيا کړئ**
**هر ليوه به کړه خپل کاره**
**سرچپه يې و کرداره**
**د ليوانو له کرداره**
**چې خبر شو شغال خواره**
**دوې يې خپلې دوې پردۍ کړې**
**چې په زړه يې نامر دۍ کړې**
**شکانه ورته وی وروره**
**ځغلولی يې چا په زوره**
**چې په ببړه ورخطا يې**
**ته له کوم سرحد ايلا يې**
**وی زما وروره خبردارشه**
**زرشه منډې ته تيار شه**
**په ځنگله کې پاس ليوان دي**
**هر يو شي پسې روان دي**
**تر ېنه هيڅ څوک نه خلاصيږي**
**له هېچا نه نه ويريږي**

**و په منډه په رفتاره**
**ګیدړ ودروه قراره**
**خیر شه وروره ورخطا یې**
**پاس ځنګله نه را ایلا یې**
**ویل یې وروره خبردار شه**
**حُکم پوئ د خپل سرکار شه**
**پاچا کړی دی فرمانه**
**کړه باور په پاک سبحانه**
**پرې به نړدې یو حیوانه**
**مشاور یې تور پړانګانه**
**ټول درې خوټې حیوانانه**
**وی ترې وباسئ تخمانه**
**رالیږلي یې لیوان دي**
**بې خبر ځناوران دي**
**ګیدړ وویل شغاله**
**نه یې پوئ له خپله حاله**
**نو دا ته ځنګه روان یې**
**اوس کم عقله بې وجدان یې**
**ته له ذاته یې هوښیاره**
**تېر زموږ له مور او پلاره**

**نـه کوم خـر یې او نـه کـوټی**
**یـې پـه خـپله ته دوه خـوټی**
**له خـپل ځانــه بې خــبر یې**
**په خـواص کې لکـه خـر یې**
**لـږ خو سـوچ و کړه هوښیار شه**
**ځــوانې مـرګه رټ تـیار شه**
**زه لـــه تانـه ځـار شم روره**
**زما د زړه ضربـان ته ګـوره**
**زه لـــه دې یـم تــوریدلی**
**مــرګ په ژۍ یـم ودریـدلی**
**ورتـه ټینـګ به یې چا ابـا شي**
**کـه خــبر تربـنـه رېښتیا شي**
**لـــه یـوې مخ را روان دي**
**ټـول نـادان ځـناوران دي**
**ټـول نــامرده راتــه ښکاري**
**اول یې باسـې بـیا یې شماري**

## چا ته نه ګورې

یو زمری وه له ځنګله نه را وتلې
تر ځلېږه په سهار کې رسیدلې

له ځلېږه تېرېدله په ټوپونو
که د ښکار مړی یې وشي له سرونو

را وتلې وه له خپلې کورنۍ نه
له تا ړاک ښکارو خپلوی نه

ګیره شوې وه په ختو کې سلطانه
له شاه نه تلله په مخ تله قهرمانه

داسې کلکه وه په ختو کې نښتې
لکه سر او پښې چې دواړه ترېنه وتې

لکه وي چې تړل شوې له پښونه
پاتې شونې وه کتو سر اړه وونه

له سهار یې کړې هسې چې شي تېره
ختو منځ کې یې د شپې راغله وېره

که هر څومره یې کړل هسې تلاشونه
ورتلی هېڅ نشو هغې ته په پلاټونه

خوارکۍ شوله خواری نه ناتوانه
د وتلو تمه یې ختمه شوه له ځانه

نـه وربـوز ژبـه اوبـو ته رسيده
نـه يې سـر ورمېږ بل لـور ته اوړيده

نه و کـوم حــيوان چې تېريـد له چکړو
خاموشـي وه کـوم يو نـه و په کوکـوړو

کـه هر ځومـره يې له زړه اېســتل اهونه
کـه هر ځومـره يې پاچا ته کـړل غږونه

پـاچـا نه اوريـد غږونـه د زمــرۍ
کـه يې بنـده وه ميرمــنه له مـرۍ

ننــداره يې ټولـه کـړې وه ګـيدړ
چې به څـه کانـې په تا کـړې دا خـدړ

څـه به ياد ساتـې په مرګ کې وه خان خيلې
زما ژونکـې تا نـه کلـه، کلـه بيلې

پـه زمـرۍ بانـدې ځو وار په ختو شو
پـه چټکــه لاره ژر پـه تښتيـدو شو

چـې باران شـو سيلابونـه
پـه خلېر راغـلل خوړونـه

اوبـه ډېـرې شوې هغه ګـړۍ باران
پـه زمـرۍ بانـدې ساتونکــی مهربان

زمری بېر تـه په شــاه راغلله کالـه ته
چـې زړګـی یې چا خـوږلی و الـه ته

صـبر نه ورتلــه چې څه وکـړې له واره
په ســلطان بانـدې په څـه وکــړې ګوزاره

د ستا ځنګــه پاچایـي ده وه سلطانه
نا خــبره يې ځنګله ځنـې وه مــا نه

خـفګانونه اندېښنـې دي سر خـوږلیه
بې قانونـه قانونــې دي شرمـېدلیه

زه په خـتو کې وم بنـده تر ساعتونو
راتلی هېـڅ نه شـوې و ماته تر کلـونو

د عـزت پـرده مې ولویـده سلطانـه
د غـیرت پـړونی وړی دی لـه ما نـه

پــر ما دا ظالـم دی څــو وارې ختلـی
ما لـه مخـې نه که خـدایږو وي لیدلـی

نو کـه زه ومـه با پـړه ناتوانـه
ژوي دومـره ناځوانــې کـوي سلطانـه

په کراتـو مې له شـاه نه را بـالا شو
پر مــا وختــه نا مـرده په خـندا شو

وی زما دا وخت دی همدا مې وزیري ده
د پښو لاندې زمری هم پاچاهي ده

و مې نه لیده زوی مړی شرمیدلی
کنه ما به ورته سم کار و جوړکړی

خو افسوس چې بد بختۍ راکړله غاړه
چې په ختو کې وم بنده خپه غاړه

ما لیدلی هغه نشولو له شاه نه
سر مې نېغ باستلی نشو له ژرفا نه

زه یې ستا په پاچاهۍ کې کړم بې پته
په ځنګله کې به ګرځېږم بې عزته

چې پر ما باندې یې دا کړې حمله ده
دا کیسه ګورئ همدومره عجیبه ده

نه مې غږ او نه اواز دی پیژندلی
دا په کومه لاره تللی رسیدلی

کس ورک شوی دی په دومره پاچاهۍ کې
یو حیوان لیدلی نه دی په پینۍ کې

چیرته غلی دی او چیرته تښتیدلی
په سختۍ کې مې ځان تا ته رسولی

ځناور به راته ژر تر ژر پیدا کړې
کنه ماته د خولګۍ خو بیر ته بیا کړې

پاچا وکړلو فرمان پر حیوانانو
په ځنګلونو په خوړو پر ټټنګانو

همغه سړی دی ماته ډېر منلی
حیوانانو منځ کې دی ماته ښاغلی

خپل وزیر یې قبلومه په ځنګله کې
خپل استازی یې ګڼمه کابینه کې

راته وي به وزیرانو کې سرلوړی
تر تازه به همیشه ګرځي سرغوړی

که اقرار یې راته وکړه دا رښتیا ده
زما هم ورته وینا یوه همدا ده

چې ګیدړ شلو خبر له دې فرمانه
لاس یې پورته په ناستي شلو حیرانه

پاچا څومره عجیبه ده کړې ژمنه
یا په دې کې یې ده کړې تېروتنه

یا په دې کې عجیبه ناشنا کارونه
یا پکې دې فریبونه کړاونه

**ما ته دومره تېروتنه راښکارېږي**
**ستا فرمان باندې ډېری کله پوهېږي!؟**

**ګیدړ ورغی ځنګله ته ور د ننه**
**خپل ملګري خواته ودریده له زړه نه**

**ورته ویل یې خره وروره پرې خبر یې**
**له کیسو له نوو دندو نه بهتر یې**

**پاچا کړې عجیبه غوندې کارونه**
**په فرمان کې یې ناشنا دي پلانونه**

**که هر چا دغه کار کړی وې اتل دی**
**وزارت ورکئ همداسې یې اټکل دی**

**که رښتیا باندې دا کار کړی هر چا وي**
**نو وزارت به خامخا نصیب د ستا وي**

**خره وروره زما تاته دا زاري ده**
**چې د ستا په حیواناتو کې ځواني ده**

**وزارت او دا چوکۍ زما ځلېږي**
**له تا پرته کوم حیوان سره ښایېږي**

**وزارت ګورئ له تا سره جوړېږي**
**د اصیلو خلکو دا کار نصیب کېږي**

**زما او ستا به په ځنګلــه کې پاچاهي وي**
**که تیاره مـو همداسې اشـنا يې وي**

**په صورت بانـدې له ټولـو يې پیاوړی**
**وزارت لـره يې خپل ورور درولـی**

**کـه په دې کې يې وي ځـومره فريبونه**
**دي معلـوم ماتــه يــې واړه پلانونـه**

**يا به تـير باسـم ملګـری له درشله**
**يا به کــوز باسـم زوی مړی تر اجــله**

**کـه وتلـی و لـه واړه پلانونه**
**رسـيدلی دی لـه سـتر وزارتونه**

**نـو په هر ګـنه زمـا په کې بختونه**
**نـو بـه زه کــړمه ارام بانـدې خوبونه**

**کـه پـاچـا کارونه داسې نه و نور و**
**يا غضـب او يا د زور په تـوره سپور و**

**درتـه و به کـړې يو ځو بدې کنځاوې**
**يــا به و کانـدي له زړه بــدې دعـاوې**

**يا به درکــړي بـې خوبــۍ او تکليفونه**
**يا به و کانـدې لړلـي ګـوزارونه**

**یا بــه یـو کال یا به دوه کالـه بندي کړي**
**یا شړلـو له ځنګلـه ځینې راستي کړي**

**دا فــرمان یې داسې کـړی دا رښـتیا ده**
**زه ورځـه وروره زما درتـه سلا ده**

**وزارت ګـورئ له تا سره جوړېږي**
**زه وړوکـی یـم له ما نه څوک ویرېږي**

**په هـمدې کې زما او ســتا دواړو فـایده ده**
**دا خـبره ګــورې هـمدومره عجـیبه ده**

**خـره ګـیدړ په خـبر و خوځول غوړونه**
**له خــپل ځـان ځینـې یې و شړل ګردونه**

**په ځنګلـه کې پاچاهـۍ په لـور روان شو**
**د زمـري په خواکـې دا رنګـې ګویان شو**

**زه چې څـه وایمـه ټـول واړه رښـتیا دي**
**په زمـرۍ چې هر څـه کـړي هغه ما دي**

**چې دې کرکـه او تــرې دومره بده خوا و**
**کاش چې کـړې مې ویـنا در تـه پخوا و**

**زمـري وکـول رنګ په رنګ غـړونه**
**حـیواناتو بانـدې و کـړه اوازونـه**

د ځنګله واړه راجمعه حیوانان شئ
سم دستي حاضر په هغه سپین میدان شئ

په نوبت، نوبت په د باندې بالا شئ
زما امر دی کنه مړه به په دا شئ

چې حلقه شولو له خره نه حیوانانه
د پاچا امر ته بې حده حیرانه

په نمبر، نمبر چې هر یو ورخاته
چې ترې کوز به وه نو بل تیاریده

په همدې کې د ګیدړ نمبر چې راغی
عجیبه ده وی پاچا وزیر په ماغی

چې یو څو وارې پرې شولو ښکته پورته
تاو را تاو شولو نږدې د خره غوږ لور ته

نو په غوږ کې ورته ورو وویل ګرانه
یو خوږه مچکه را کړه قدردانه

خره ترې مخ واړه وه بل لور په کتو شو
ګیدړ ورنه په تلو کې په اوازو شو

نورې بدبختۍ به اشنا له څه ګورې
چې له کوم وخت نه وزیر شوي چاته نګورې

## تمکـه

دا ښـکلي نن سـبا راته غوسـه غونــدې کې وي
لاسونه راته مـروړي په جــذبه غونــدې کې وي

گـودر کې راته خپلـه شي له ژبـې نه بې باکه
خولـه جینگه، جینگه کـوي بیا خفه غونــدې کې وي

دا بعضي مله گـورې چې له ژبـوېي تور توړو کړه
په تېر عـمر دا داسې مسـتانه غونــدې کې وي

بې رحــمه یې دا بعضي په غـوړو بانـدې کاڼه کړه
کری ورځـې دې ښکار پسې اخــته غونــدې کې وي

وزگار د کلـي ټول گـوره چې د سره یې کار وي
تــرې ډکـه همیشـه دې د دیره غونــدې کې وي

په څه او څه مې هسې د نیکـه دښـمن جـوړ شوی
چـټې په چــټې ما نـه ازرده غونــدې کې وي

په سپینه ږیـره نیغ راته په برگــو سترگو گوري
امسـا په څمکـه وهي په لړزه غونــدې کې وي

بــوډا نور سم سـړی شه ځان سـړی کـړه
په هر بازار د ښـکلو ستا لانجــه غونــدې کې وي

**په خدای که زم سړی شم چې دي دغه شانتې کار وي**
**د ستا نه ډکــه زما به بیا دوسیه غونــدې کې وي**

**مجردانو صـف کې ته به د قیامــت په ورځ ولاړیې**
**سر ټیټ به دي نیولی شرمنده غونــدې کې وي**

**راځـه چې دواړه یوځـای په مسجد کې په ځځلو شو**
**هر کار دې مشره ما غوندې چـپه غونــدې کې وي**

**راځـه کنــه نــور مشــره دا زما لاره رانیسـه**
**سرلوړ به دي جهان بانـدې نامــه غونــدې کې وي**

**مـومن شـه ځان پښــتون کړه پښـتو وایه**
**ټولواله کې به جوړه ستا جـرگــه غونــدې کې وي**

**نن ټول گوری چې هسې په خــپو لوڅـو راپسې دي**
**پـټون ځینــې تر میره عجلـه غونــدې کې وي**

**ځښـتنه که دې واړه ازارگټلـو دې گوښـه کړم**
**ستا رټــه بنده گي به مي بنـده غونــدې کې وي**

**د اسمـان انقلابونـه دي چـلیږي راچـلیږي**
**کله ورځ کله ماښام او کله شـپه غونــدې کې وي**

**خالقـه ککـری مې ورته کاڼـو لانـدې نیسم**
**پیغـور یې نه منمــه که نقره غونــدې کې وي**

دا ګــډې وډې ژبـې نـوري پرېږدئ زما ورونو
پښـتو مو راشـروع کړئ چې درنه غونـــدې کې وي

زه تـوره بلا ټولــه په دې نورو ژبــو کومه
چې مور ژبه مې ښکلې هم پسـته غونــدې کې وي

دا پښـتو ده چې پښـتې يې ورته ټـولې ماتې کړي
درغـل دښـمن تغذيې لره تمکــه غونـــدې کې وي

جـګړې او جـرګې دواړو ته په حـقه لاره ځمه
که تونده مې په خوله کې نيم پختـه غونـــدې کې وي

کوی شمـــه چې ربـــه په فردوس کې پښتو ووايم
زمونږ به ټولـو هلتـه دا لهجه غونـــدې کې وي

**کابل، د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی**
**پـوړ، دوېـمـه کـوټـه. E214 ,pm 05:02 , 12 / 01 / 1385**

## د ژوند باغه

مه ژاړه شیر ینې زما د پردو خپلوان شوې ته
وه زما د ژوند باغه له ژړا خزان شوې ته

تا سره خوږې شپې پام ته را ر سیږې زما
غلې افسانې زمونږ پام نه ویستل کېږې نا
څه څه څه زړګیه زما زړه د ارغوان شوې ته
وه زما د ژوند باغه له ژړا خزان شوې ته

مه ژاړه شیر ینې زما د پردو خپلوان شوې ته
وه زما د ژوند باغه له ژړا خزان شوې ته

ستا د بیلتا نه لړۍ ډېره زیا ته ګرانه وه
محضې تقدیر لو به کړه نه دومره اسا نه وه
غاړه کې پر ېوزه مه مال د بل انسا ن شوې ته
وه زما د ژوند باغه له ژړا خزان شوې ته

مه ژاړه شیر ینې زما د پردو خپلوان شوې ته
وه زما د ژوند باغه له ژړا خزان شوې ته

**تا و ما رضـــــا خپله ر ضـــــا د پا ک الله ښـــــوده**
**وعـــــده د محـمد پیغمبر یا د اسـما عیل کړلـــــه**
**وه وفـا لره د خپـل فردوس بـاربـارې حیران شـوې تـه**
**وه زمـا د ژونـد بـاغـه لـه ژړا خـــــزان شـــوې تـه**

**مـه ژاړه شـــیر ینـې زمـا د پردو خېـلوان شـــوې تـه**
**وه زمـا د ژونـد بـاغـه لـه ژړا خـزان شـــوې تـه**

# کاکړۍ

دغو سترګو به ژړلي
اوښکې یخې یخ وهلي

چې له سترګو بهېد لي
ترمې ترمې رتې دلي

یخ وهلو اوښکو تل به
د لیمو بانه راښکل به

دید د سترګو په تکل به
رسیدو د زړه تر تل به

خو له سترګو چې راتللي
ما ته سرې را ښکاریدلي

خو د زړه له درزه هاره
له اهاره له اهاره

ازانګي غوږ اوریدلي
چې به ته را یا دیدلي

چــېرې تـــللې چــېرې تـــللې
افســـــا نې مــــې غـــبږو لې

نـــا قـــراه مــــــې لیـــد لې
کـــا کـــړی غـــاړې د کــړلې

په مـــشکونـــو دې اوبـــدلې
خـــوب پـــه نـــاســـته خـــوبولې

نـــصـــیب پورتـــه لـــه ا ســمانه
ځـــای زمــــا کړ ریگســـــتانه

زه را ســـتون شـــوم تـــرلغمـــانه
زړه شـــو بـــېل لـــه تـــنه ځـــانه

تـــر مــــــنزله چـــې ر ســـیږي
عمر څـــومـــره بـــه تـــېریـــږي

له مــــا لرې چـــې اوســــــېږي
ربـــه څـــه څـــه به نورکـــېږي

څـــــومره لـــرې د مـــــنزل دی
ځه فردوســه خدای دي مــــل دی

## ځلوریزه

زما ځـــوانــــۍ ته گـــوره د پـــردي زو
ســــتا لـــپاره ســـوزم د پلانــــکي زو
دوې ساعته کـــېږي درته عذر کـــړم
ولــــې نه پوهـــــېږې ته د ســـپي زو

## ځلوریزه

مـــا تــــــه غـــــوږ شه ليونيه برادره
د خپل خيال نشـــه دې و باســـه له سره
دلـــــته ســــم په لاره گرځه بې خـــبره
د غــــرور بـــاد به دې وبا ســـم له سره

کابل، د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پينځم بلاک، دوېم پوړ،
ځوارلسمه کوټه 1385 /01/01 هـ ش 05: pm 4 ,E214

## ځلوریزه

ربـه تا راکـړي نه کـړم ټاټ بـاټ
غاړې له مې کـړي نه کـړم ټاټ پاټ
ټاب کـړمه چې ټنـډه نشوه خـاپ خاپ
ټاپ وکـړم چې تونده نشوه چـاپ چاپ

## ملاست

تور غوندې تور مخې نه دوستې غواړي
نا مرده له پښتون ځینې میرې غواړي

خدایه! نور ګیله مې ترینه نه کېږي
دوی له بې غیرتو تربګني غواړي

مستې پیغلې لاړې چې ګودر ته شي
تله ترینه اوبه که خدای راستي غواړي

څپو منځ کې تصویر یې ښه راونغاړي
په نر مه یې لیدل داسې حتمي غواړي

ټپ ټپ پیل په غولي د منګي کې کړي
ځان غورځي لامده ترینه کالي غواړي

ختې به یې تن سره پېچلي کړي
هره پلا ترې دارنګې ذاتي غواړي

ټاکور انا چرګوړي چې پیشي یو سې
کلکه وي تاوان یې له چړې غواړي

سـوری سـوری خلـته یې په سکوندلـوکړي
بـېر تـه یې د خـپل کـور ټیـکلي غواړي

دوی پـه میخـانه کې شـراب نه څښـوي
ولـې ولـې مـزد تـرېنه سـاقي غواړي

مـات مـات یې جامونه میکـده کې کـړي
بیـا بیـا یې په زوره ضـربتي غـواړي

وس یې په سوسیس دښـن رسـېږي نه
بـدلـه یـې د وطـن لـه خـوار بـچـي غـواړي

بخت به یې د پلار وي که سـړي شـي دوی
څـوک لـه نه سـړیو نه سـړي غـواړي

زمونږ خپله د غـوا په اذان پاڅـېږي
پـېره مـو کلیوال سـهار وختـي غواړي

خدای که ا کاډمی له مخې یـوځلې تېرشـوي وي
څـوک له داسـې خـلکو پولیسـي غواړي

څـوک چې د ابدال بچوکې ځان شـمېري
دا کـار لـږ مشـکله ده خـواري غـواړي

**سـ‍ـــــــختـه نـاکراره بـــــه پـــــه ژونـد کې وي**
**ځوک چـــــې په مېړانه ســــــپيڅــــــلي غـــــواړي**

**مونږ لا ړنــــګـــــيدلو ودانــــيو ته حـــيرانه يـــو**
**د راپـــــاتو ړنګـــــول مـــــو ګــــاونډي غــــواړي**

**پر يږ ده چـــــې لـــــږ نورې بلا وکـانــــــــــدي**
**خـوراک تــــــه نـړۍ وال مـو نـوبـتـــــي غـواړي**

**محضـــــــي د فــــــردوس بـــــډوډي کا کــــوي**
**ځـــــکه له دښـــــــمنه خوشــــــبختي غـــــواړي**

**حوض مدد کندهار**

**01/01/2008**

# د خره کار نامه

دا کیسه درته رښتیا کړم
د یو خره کار نقل بیا کړم

له آزله لعنتي و
د امام صیب ګاونډي و

په نا مه باندې رافضي و
سر خوړلی ازاري و

ډېر بد بخته کبرجن و
ډېر ناوړه مختورن و

د اصحابو کلک دښمن و
هم په زړه کې بغضمند و

له اصحابو یې بد راتله
پرې همېش به یې پسخندله

دوه یې خرونه درلودله
ابو بکر و عمر به یې بلله

شیطاني هوس یې داسې یخیدله
چې خپل خره به یې په دارنګ نومولـه

يوه ورځ لعنتي خر يې په غوصه
شو محضې مرګ ورته په دارنګي پلمه شو

له دنيا يې زړه ور تور کړه
کار يې داسې، داسې نور کړه

ورته سپينې کړلې داړې
دې مرګی راځنې غواړې

کړه يې رنګ، رنګ اوازو نه
سر يې ټيټ جيګ کړل غوړونه

خپل ځښتن يې په ګونډو کړه
په نارو په غلبلو کړه

د مخ پوست يې ترې جلا کړه
په غاښويې ترې سيوا کړه

خلکو دې پېښې اطلاع کړه
امام صيب سره صلاح کړه

خلکو ځير ځير ور کتله
زموږ امام و فرمايله

چې د عمر و نومولی
دا همغه خره وژلی

**خـلـکـو وویـل امــــام صـــــیـب !**
**پرې پوی شــوی واړه قـام صـــــــیب**
**د خـــــره دا ســــــې کـار نـامـه ده**
**د رافـــــــضـــــي وفـــات نــــامه ده**

**لښکرګاه شارجه مارکیټ موفق هوټل دیارلسمه کوټه**

**16/01/2008 pm 7:15**

# ضربتي

چې ښــــکلي راشي زه ســـودا يي شـــم

لـږ پـه ټـوخ ټـوخ لـږ پـه پـرنـجـي شـــم

پـــــه نفـــس زمـــا ډوډۍ پـــخـــېږي

چې نــــاقــــراره زه ضر بـــــتــــې شم

چېرې به زما لــــــه لاســــــه درومي

چې ور ته غــــلی زه اوس دســتي شــم

ولــــــي به نه پـــر مـــا غـــولـــېږي

چې زه په رنګ، رنګ په سـوځلي شــم

په دام به ســــمه زما راګـــيريــــــږي

زه شرخـوړلـی چـې بـه غـړومـبـي شـــم

خدای شــــته چې سمه دي ټکـــنی کړم

چې زه فــــردوس کله صـــــفي شــــــم

ايوب خان مينه کابل

G.S office my room 05/11/2007 pm 1:10

# وطنـه

مانـــــده ماندہ وطنـــــه مې لــــغمـــا نه
الله شـــــته راتــــه يې له حــــده گرا نه

وطنـــــه راتـــــه پاتې له پـــــلرو يې
له ډېـــرو رنــــگارنــــــگو افســـانو يې
نـــــا مه دي جيــــگه کړې هر يو ځـــوا نه
الله شـــــته راتــــه يې له حــــده گرا نه

مانـــــده ماندہ وطنـــــه مې لــــغمـــا نه
الله شـــــته راتــــه يې له حــــده گرا نه

دښـــــمن به دې ســــــرکو به په تبرو کړم
ســوری ســوری ټــــټــــر به يې په چړو کړم
هر يو بچی دې کــــم نـه دی لـه چـــانـه
الله شـــــته راتــــه يې له حــــده گرا نه

مانـــــده ماندہ وطنـــــه مې لــــغمـــا نه
الله شـــــته راتــــه يې له حــــده گرا نه

ټــــبر د ســـترو ســـترو مـــــــیړنو یــــې
شــمله چنګه په ســـــــر د پښـــــــتنو یــــې
زیګي دې همیشـــــــه ولاړ نښـــــانـــــه
الله شـــــــته راتـــــه یې له حــــده ګرانه

مانــــــده مانده وطنـــــه مې لـــــغمـــــانه
الله شـــــــته راتـــــه یې له حــــده ګرانه

قربـان دې شـــــــم لـه دنګو دنګو غـــــرونـه
خـــــــــوړونه، کـــمرونه، تېـــتـــنـــــــګونه
په دښـــــــتو کې رودونـــــــــه دې روانـــــه
الله شـــــــته راتـــــه یې له حــــده ګرانه

مانــــــده مانده وطنـــــه مې لـــــغمـــــانه
الله شـــــــته راتـــــه یې له حــــده ګرانه

نـــــرۍ نـــــرۍ دې ولــــې په قـــــطاره
ځـــــینګر ځـــــینګر باغـــــونـه د انــــاره
د هـــــر یو ښـــــاخ مـــــیوه دې اویزانه
الله شـــــــته راتـــــه یې له حــــده ګرانه

**مانــــده ماندده وطنـــه مې لـــغمـــانه**
**الله شـــــته راتـــه يې له حـــده گرانه**

**ښايســته، ښايسـته په ښــــکلو منـــظرو يې**
**په شــــنو پــــټو و يالو او پول چـــکو يې**
**فــــــردوس لـــره سـيوا يې له معـــوا نه**
**الله شـــــته راتـــه يې له حـــده گرانه**

**مانــــده ماندده وطنـــه مې لـــغمـــانه**
**الله شـــــته راتـــه يې له حـــده گرانه**

**مهترلام کټل د لويکې اختر ورځ**
**am 9:20 1385**

# غزال

**رخـــــچـــــینه مـــــې په سر ده د لالي**
**ســــهـار ســــهـار پــه کــوزه لاره ځـي**

**ورو ورو قـــدم اخـــلي پـــه نـــخـــرو**
**کــمـیــس غــاړه یــې وي د قـــنـــدارو**
**اوږه بـانــــــدې جوړ شـــوی څـادر وړي**
**ســــهـار ســــهـار پــه کــوزه لاره ځـي**

**رخـــــچـــــینه مـــــې په سر ده د لالي**
**ســــهـار ســــهـار پــه کــوزه لاره ځـي**

**ســـــــوچـــــه مچـڼه وي یې پر پښـــو**
**رفــتــار یــې د مــیــړانـــــو پښــتــنــو**
**ټـــوپــک گـــردنـــۍ دواړه گـــرځـــوي**
**ســــهـار ســــهـار پــه کــوزه لاره ځـي**

**رخـــــچـــــینه مـــــې په سر ده د لالي**
**ســــهـار ســــهـار پــه کــوزه لاره ځـي**

**ککیه هر انداز دې خومره ګران دی**
**زما در ته په زغرده دا اعلان دی**
**غزال به دې پر غیږکې ګر ځوي**
**سهار سهار په کوزه لاره ځي**

**رخچینه مې په سر ده د لالي**
**سهار سهار په کوزه لاره ځي**

**په زړه کې همیشه زما یا دیږي**
**بیغیر له ده ساعت مې نه تیریږي**
**آی! خدایه که فردوس مې لا لی شي**
**سهار سهار په کوزه لاره ځي**

**رخچینه مې په سر ده د لالي**
**سهار سهار په کوزه لاره ځي**

**کندهار چهارباغ، غرګی**

# میوند

حیوانانو ټولې یو بل ګډه وي
د زمریانو منځ ته هېڅ یو نه ورځي
د رمو ساتل ښې وېښې سترګې غواړي
که نه دا لیوان یې وېښه باندې وړي
چې دښمن د جوړ د لوښو پړی پروت وي
مه تیر وځه کنه دغه دم دې خوري
چې شیشکه له کاله ځي بیا انسان خوري
باګانه دي څوک له کوره نه باسي
فوځیان ګورئ چې په ویښه شپې کړي تیرې
دنګو غرونو کې شپې څه شیبه کوي
چې د میو ناب په توره شپه کې کاندي
دا رندان دي چې ځان هېڅ نه کموي
ستوري ځان لره معلوم کړي پرې روان وي
له منزله نه ځان نه راسپموي
چې ټټر باندې یې یو لوېش بڼې نه وي
کوم نادان دی چې میوند لره راځي
هوښیاران چې بې مطلب ځنګله کې ګرځي
تور پړانګان به یې ترې سر جلا کوي

**د زمريانو ښـکار څوک نه کوي فـردوسه**
**کـنه هر انـدام يې يو بـــېلوي**

**کندهار ميوند**
**29/10/2007 pm 11:20**

# انګړ

ځـــکه مې د زړه انـګـړ ودان دی
یار مـــې له کابــله را روان دی
ډېره مــوده وشــوه د هـجرانه
یـار مې په کابـل زه په لـغـمـانه
ځــکه يې د وصـال راځـي ارمانـه
خـو دا ظلم مې کړای په خپل ځـان دی
یار مـې له کابــلـه را روان دی
ځـکه مې د زړه انـګـړ ودان دی
یار مـــې له کابــله را روان دی

خـیال کې دي راوړم زه پـه دالانـه
زه د زړه غـم چاتـه کړم عیـانـه
ژر ده چې د خـپل مرګ کړم اعلانـه
ښـه راشې لالـيه حـال مې ګران دی
یار مــې له کابـلـه را روان دی
ځــکه مې د زړه انـګـړ ودان دی
یار مـــې له کابـله را روان دی

**اوښکې مې روانې په ګریوانه**
**ټول ژوند تیره وم په سرګردانه**
**ژر راشې لالیه فردوس جانه**
**په سره تبه مې ټول وجود لړزان دی**
**یار مې له کابله را روان دی**
**ځکه مې د زړه انګړ ودان دی**
**یار مې له کابله را روان دی**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، دهم پوړ، دیارلسمه کوټه 1385/06/11 هـ شـA213, 12:30 am**

## ورمې

راشه چې قدم دې په لېمو وړمه
ستا ورمونه واړه په نارو وړمه
ټولې سترې لارې راته وښایه
هر پښتون ته زه یې تر درینځو وړمه
لوړه چې نامه مې د ټاټوبي شي
سره وینه د زړه په لپه کو وړمه
ته راته د میو ډک جامونه کړه
نور یې درته زه په کړنګیدو وړمه
خیر که زولانه پرې دا زوی مړی شي
داسې، داسې، داسې یې په شپو وړمه
په خوله به ماضي نه وایم وفا درته
ځالې ادم خور ته یې په تلو وړمه
خیر که زه فضاء ته د تلو نه یمه
ستا خاطره زه یې تر بوړبکو وړمه
ته راته یې ښایست میکده وښایه
دا فردوس به هم په ټیل وهو وړمه

## د نهنګ خواص

خیر دی که له دې خیالونو لاړمه
لږ به دې په نره باندې غواړمه
ما سره ملګرې چې د ژوند نه شوې
خدای که یو ثانیه درپسې ژاړمه
لږ که دې دام کېښود زما وهلو ته
بیا به دې نهنګ غوندې وداړمه
ورک به دې بیا مړی او ژوندی کړمه
زه فردوس لړلی په دې ویاړمه

**حبیبي لیسې ځنګ ته، ایوب خان مینه دوهمه کوڅه SG د فتر**

**24/ sep/2007pm1:12:52,**

## چا ساده ته نصيحت کاوه

داسې راغلــه داســې لاړه داسې، داسې
سرخوړليـه وس يـې غواړه داسې، داسې
پسې هــرې کـلا لوی ور په ټک ټک کړه
کنـه ټــول عمـر بيا ژاړه داسې، داسې
چې کالـه ناوکـۍ جـوړه ترې نه کړې
بيا نــو شونـډې پسـې داړه داسې، داسې
چې د عـقل مورچـل جوړ نه کړې چوپړکې
خپل خـرتوب بانـدې بيا وياړه داسې، داسې

کابل ، د حبيبي ليسې څنګ ته، ايوب خان مينه دوهمه کوڅه د جې ايس
د فتر 22:21 : pm 1 24/ sep/2007

# هېروون

ساقي ټوله مزه دې چې له جامه ځنې لاړه
نور تمه د وصال مې ستا له پامه ځنې لاړه
ما پرېږده بوړبکو کې چې الا شمه فضاء ته
د آه! چېغه ناڅا په مې له ځانه ځنې لاړه
نو ولې د زوی مړې راته میو ناب شروع کړه
بد مرغې کرکه واړه مې له تانه ځنې لاړه
زه تور تیلی ښه یمه چې دود شم دې پینۍ کې
نصیبه ستا نا خوالې له وجدانه ځنې لاړه
لږ پرې مې ږده قسمته چې بدلون وکړمه ژوند کې
کنه نو ویره درسته مې زندانه ځینې لاړه
ناخولې تېرې شوې د هېروون چې راپه یاد شوې
خپل د ژوند کیسه مې نور له خوانه ځنې لاړه
زه ستا په سر بد دعاوې ورته نه کوم هېروونه
خو دا خبره هسې مې لبانه ځنې لاړه
په ټولو مختورنو کې په لویه لار د راشي
چې تمه زندګې یې له حیاء نه ځنې لاړه

**د حُسن میکده کې فردوس داسې په نارو شو**

**نفیس اشنا دوستـي مـې له توانه ځنې لاړه**

**د توریالي هېروون په باره کې ، د کاریز میر سولر سایټ**

**24 /sep/2007 Monday KBL 132 Rooshan Solar site at kariz Mir**

## یاره هو

الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
په سترگو سترگو کې مې پوی کړه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
په لباسي ژبه دي زه نه پوهېږمه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!

په تـو رو سترگو مې منظور ده! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
د سترگو جنگ کې به له تا نه کړم پښتنه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!

شپې په شیبو، شیبو شوې تیرې! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!
په اننگو مې د افسوس اوښکې را ځینه! یاره هو!!
اوؤ! لـــغمان ته ځــونـه! یاره هو!!

**الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**زه کـرۍ ورځ په ژړا ژړام! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**یا مې د ځان کړه یا دمرګ انګړ ته ځمه! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**د اور بڼـلـۍ مې په ژوند او رې! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**له ربه غواړمه فردوس مې نصیب شینه! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**الله قبول مو کړه سوالونه! یاره هو!!**

**اوؤ! لـــــغمـان ته ځـــونـه! یاره هو!!**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، ځلورم بلاک،**

**دریم پوړ، لسمه کوټه**

**1384/07/31هـ شـ am 06:20, D310**

## لمپاکا

**لکه څوک چې حرام خور وي مخ یې تور وي**
**لکه تـور چې وي همداسې مشران د لمپاکا**
**خـلګ بـوزې پر اوبو بانـدې لا هـو کړي**
**وايي زه دې ژغورندونکی سـالاران د لمپاکا**
**که ګڼ واليان توژن شو خو صفت يې چا ونکړ**
**ګرد سپينږيري مې ګويا وي حسن خان د لمپاکا**
**پاک ځـښتنه څه او څه د ډيمو کراتو عقيده شوه**
**تش په ژبه مســلمان وي ټګمارن د لمپاکا**
**لکه ژرنـده ټکه هار پـسيم پـکار دی**
**په ولاړه ويــده شـوي روڼ اندان د لمپاکا**
**په غوږۍ کې سره وايو که خبر نشي لا واړه**
**فردوس اووه ځله خـوړلي لـړمان د لمپاکا**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، ځلورم بلاک، دريم پوړ، لسمه کوټه**
**, D310 am7: 11 هـ شـ 2/08/1384**

## غجکه

**ورانکاریه محضې ورانول غواړي**
**امن له سېمې نه شړل غواړي**
**پوهګړو ژونکه له ټولواله باسې**
**افسوس په ژوند چې تیرول غواړي**
**په شل کلنه غلامۍ کې خوښ یې**
**د بادار هر لمسون منل غواړي**
**بل لوري لاړ شه کوم بل کار نه لرې**
**کړی ورځ ولې مو ځارل غواړي**
**ګیځ غجکې سیند په غاړه ږغو**
**ته یې د پلار را خبرول غواړي**
**چاره دې واخله کلي منځ ته راشه**
**یار نه د یار جلا کول غواړي**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، دویم بلاک، لومړی پوړ، چوړګه**
**میني کوټه1384/03/09 هـ شـ B.B 04 , pm7:27**

## ډکی

دا سترګې به له سترګو سره جنګېږي خو کله نه نا کله
دا لېچې به د غاړې هار جوړېږي خو کله نه نا کله

بې مېني محبت دی په مطلب یې نه رسیږم
په کوم طرف ترې لاړ شم
په کوم طرف ترې لاړ شم
خو د غم کاڼی غریب په سر لړېږي خو کله نه نا کله
دا لېچې به د غاړې هار جوړېږي خو کله نه نا کله

دا سترګې به له سترګو سره جنګېږي خو کله نه نا کله
دا لېچې به د غاړې هار جوړېږي خو کله نه نا کله

قسمت مې راته هسې په درندو لغتو وهې
نا مرده بې نیازه
نا مرده بې نیازه
مات شوی لاس خو غاړې ته ورلوېږي خو کله نه نا کله
دا لېچې به د غاړې هار جوړېږي خو کله نه نا کله

دا سترګې به له سترګو سره جنګېږي خو کله نه نا کله
دا لېچې به د غاړې هار جوړېږي خو کله نه نا کله

**دا څاڅکي، څاڅکي اوښکې مې په سترګو کې حلقه شي**
**ګـریوان باندې بهېـږي**
**ګـریوان باندې بهېـږي**
**چې ډک ترې شي جامونه خو اخر به لبریزېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**دا سـترګې به له سـترګو سـره جـنګـېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**نعـیمه ورتـه وایـه چې چـړې پـورې ځان مږې**
**په وینو کې به رنـګ شي**
**په وینو کې به رنـګ شي**
**خـو مات ډکی یـم په خـیټه مـنډل کېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**دا سـترګې به له سـترګو سـره جـنګـېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**په خوب کې راته ژاړي چې فردوسه ژرنـده ګړیه**
**زړه ژرنـده او تـه یې**
**زړه ژرنـده او تـه یې**
**خـو دا مـېنا غـنم دي بیـا اوړه کـېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېـــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**دا سـترګې به له سـترګو سـره جـنګـېږي خو کله نه نا کله**
**دا لېـــچې به د غـاړې هـار جوړېږي خو کله نه نا کله**

**په مهترلام کې، زمونږ کور، زما کوټه**
**1384/12/04 am 10:10, Mehter lam, Our House at هـ شـ**
**my Room**

# رانه ځه !؟

**مالیدلی په راستۍ کې سرګردان یې رانه ځه!**
**په جامه د ورورولۍ کې ستر شیطان یې رانه ځه!**
**دوست ته کندې جوړه وې چې ورګوزار شي**
**که د ستا ګټې تاوان یې رانه ځه!**
**د غزال په شان خپل زوی لیوه ته ورکړې**
**شرمنده د خپل منان یې رانه ځه!**
**او که چا وویلو اختر کلي ته را غلو**
**شي دي تبه یا لړزان یي رانه ځه!**
**خر چې مړ شي نو واده د سپیانو جوړ شي**
**په دا ورم نمایان یي رانه ځه!**
**زه که وایمه ابلیس لغمان خوښ کړی**
**ته یي نه منې نادان یې رانه ځه!**
**دروغ که وایمه فردوس زما اشنا دی**
**بیا په ټوکو ور روان یې رانه ځه!**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ، اوومه کوټه**

**1383/02/19 pm 11:20, A107هـ ش**

## د انجونو سندر

موري دا ښه ووهه ځان ته دا مېړه غواړي
غلې شه ته مشرې زما يې زړه که ستا يې زړه غواړي

موري دا واده کړه دا له خلکو نه شرمېږي نه
مسته مسته کېږي دا له هنډو نه يخېږي نه
ځان سره بڼېږي دا را تلل په درينځه غواړي
موري دا ښه ووهه ځان ته دا مېړه غواړي
غلې شه ته مشرې زما يې زړه که ستا يې زړه غواړي

موري دا واده کړه چې دا کور ترينه بيکاره شي
نور د ګډيدو ګاټو چيندريو نه وزګاره شي
پښه، پښه به کېږي څه چې وئ هغه يې زړه غواړي
موري دا ښه ووهه ځان ته دا مېړه غواړي
غلې شه ته مشرې زما يې زړه که ستا يې زړه غواړي

خپله هيلبندۍ ده دا پرديو باندې څه کوي؟
خپل کار يې اوښان دې چې هميش په لاره تله کوي؟
وينئ يې مور جانې دغه چټه څه نا څه غواړي
موري دا ښه ووهه ځان ته دا مېړه غواړي
غلې شه ته مشرې زما يې زړه که ستا يې زړه غواړي

**خپل ځان بـدرگه کړي چې زه خپل ځان له هرڅه کوم**
**ځـانته لـغمانيـانو کې يـو ښـه ښـکلی ميړه کوم**
**سـهار غـرمه مـاښـام له انجينر سره کاتـه غواړي**
**مـوري دا ښـه ووهـه ځـان ته دا ميړه غواړي**
**غلې شه ته مشرې زما يې زړه که ستا يې زړه غواړي**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ،**
**دوهمه کوټه , 1385/02/27 pm 4:10, E102 هـ شـ**

# مُنتها

**ای زما یــاره لـه چا ځـېني کم ســتا نه ښایـســته څـوک دی؟**
**لـه واړه نـړۍ لـه واړه عـالم ســتا نه ښایسـتـه څـوک دی؟**

**راځه په غرو کې جگا مُنتها کړو**
**دښــانو نه لري جـوړه دنیا کړو**
**کـهول کې خوښۍ مو شوله هُرم**
**سـتا نه ښایسـته څـوک دی؟**
**لـه واړه نـړۍ لـه واړه عـالم**
**ستا نه ښایسته څـوک دی؟**

**ای زما یــاره لـه چا ځـېني کم ســتا نه ښایـســته څـوک دی؟**
**لـه واړه نـړۍ لـه واړه عـالم ســتا نه ښایسـتـه څـوک دی؟**

**ورځ پـه ورځ انـګار کې تیرېږي**
**وچـه بیړۍ له ځنګ مو ورکېږي**
**د سـستو له لاسه زوزان د مطـعم**
**سـتا نه ښایسـته څـوک دی؟**
**لـه واړه نـړۍ لـه واړه عـالم**
**سـتا نه ښایسـته څـوک دی؟**
**ای زما یــاره لـه چا ځـېني کم ســتا نه ښایـســته څـوک دی؟**
**لـه واړه نـړۍ لـه واړه عـالم ســتا نه ښایسـتـه څـوک دی؟**

**ګلونه ستا ښایست نه شرمېږي**
**مخ پاڼو کې پټ ځار د ستا کېږي**
**د سپوږمۍ کرښې ساز ځاځکې شبنم**
**ستا نه ښایسته څوک دی؟**
**له واړه نړۍ له واړه عالم**
**ستا نه ښایسته څوک دی؟**
**ای زما یاره له چا ځېني کم ستا نه ښایسته څوک دی؟**
**له واړه نړۍ له واړه عالم ستا نه ښایسته څوک دی؟**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، ځلورم بلاک، درېیم پوړ،**
**لسمه کوټه 1384/04/18 pm 3:40, D310 هـ ش**

## نو بیا ترې تمه هم نشته

زما د پلار زنکیه!
دا دې له چا زده کړي؟
دا د بد رنګو ظلم،
هغو خو سر باندې میخونه وهل،
چې شوې د دوی په رفتار،
په درد دوا موهم نشوې،
نو بیا ترې تمه هم نشته!
نو بیا ترې تمه هم نشته!

ولې به زمونږ هېواد له؟
داموزیګان راتللو!؟
واړه زمونږه مینې،
د خپل ټبر په ضد وې،
ورځ یې تر نن ښه نشته،
صادق اړیکې لري،
نه مستقل پاچا یې،
دې نه لاسه به جوړ شي،
نو بیا ترې تمه هم نشته!
نو بیا ترې تمه هم نشته!

**ښخوا به زمونږ نیکونو،**
**ساړه سوکړکي خوړې،**
**او په یوه زړه لیندماره،**
**هغه قوي لښکرې،**
**چې تاړاک یې نوم لږیده،**
**په تش نارو په شا کړه،**
**او دا اوسني خلک مو،**
**په نس ماړه هم وینئ**
**ګورئ هر څه ورله سته،**
**خو هر څه له دوی نه هېر دي،**
**نو بیا ترې تمه هم نشته!**
**نو بیا ترې تمه هم نشته!**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، دریم بلاک، څلورم پوړ،پـینځه لسمه کوټه 1383/12/21 am 9:50, C415 هـ شـ**

## د ښوونځي ترانه

لـغمانه ښایه ســرفراز دې ښـوونځو کې
ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی

دا نمره اول مکتب مـدام
ښـایسته لري ښه شـاګردان
چې هـر سـهار ور له روان
اسـتاد پـابند وي همیشه خـپلو درسـوکې
ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی
لـغمانه ښایه ســرفراز دې ښـوونځو کې
ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی

موري ولاړ یم په سلام
راکــړه بکســه یمـه روان
چې انتـظار مـې دي يـاران
چې شـي ایـنده مې درخـشانه پښـتنوکې
ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی
لـغمانه ښایه ســرفراز دې ښـوونځو کې
ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی

**په یو خبره او احترام**

**غـټ او واړه دي که زنکـیان**
**چې صفت کړي يې ټول ښاريان**
**فردوس شاهد دی عـین الله تل ورمونو کې**
**ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی**
**لـغمانه ښایه ســرفراز دي ښـوونځو کې**
**ټولګوالو او ټولګو کې نوم ایستی نمره اول دی**

**د لغمان عالی دارالمعلمین شمال ختیځ ته، پاس تفه، زما د سبق کیناستوکه 1383/12/31 am 12:30, هـ ش**

## مستزاد

**رښتيا که مې اشنا يې مهترلام له به مې بيايې**

**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**

**دوستۍ بانــدې مې وياړه**
**لـوبېـړو سـره دواړه**
**جـوړه غـاړه په غـاړه**
**د اوبو تصوير له ګـورئ ياره ته رانه بالا يې**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**
**رښـتيا که مې اشنا يې مهترلام له به مې بيايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**

**تـوتـانو به ميـلې کړو**
**خوږې خوږې کيسـې کړو**
**اينـده ژوند فلســفې کړو**
**ته را ته تـوتان خـندېږه او ما ته به يې چل ښايي**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**
**رښـتيا که مې اشنا يې مهـترلام له به مې بيايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**

**نورلام په غروکېم کور وای**
**زمونږ نوم په هر لـور وای**
**د دواړو په کې شـور وای**
**ســاده مسـلماني ده زه غلام ته مې پاچايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې !؟**
**رښـتيا که مې اشنا يې مهـترلام له به مې بيايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**

**فردوس مـه کـړه انکار**
**زمـا زړه نـا قرار**
**لـذت مې شـو بار بار**
**زما مـينه سيوا شي چې ته نه نه کله وايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې !؟**
**رښـتيا که مې اشنا يې مهـترلام له به مې بيايې**
**کـه ته مـين پر مـا يې!؟**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ،**
**اوومه کوټه 09 /5/1383 هـ شـ am 5:07, A107**

# ببولالې

درود وه وایئ خومره ښایسته
دا زمونږ ناوکۍ له ګل تازه

شکر دی خدایه چې پښتنه
پلو پړونی له سر حلقه
له خپلو پیغلو هم کړي حیاه
دا زمونږ ناوکۍ له ګل تازه

درود وه وایئ خومره ښایسته
دا زمونږ ناوکۍ له ګل تازه

وه وګړي ګوره ستا انتظار
د ستا د رُخسار په لوري څار
وایې نوی ژوندون دي مبارک شه
دا زمونږ ناوکۍ له ګل تازه

درود وه وایئ خومره ښایسته
دا زمونږ ناوکۍ له ګل تازه

واړه او زاړه دي پر نڅـا
د شاه کـورنۍ پـر تا ډا ډا
وایې د خوښۍ سـندري کړئ زمزمه
دا زمونـږ نـاوکۍ لـه ګـل تــازه

درود وه وایـئ څـومره ښایسـته
دا زمونـږ نـاوکۍ لـه ګـل تــازه

وه له هر نقصان مـو الله ساته
دا ښـکلې جـوړم مه کـمه شـه
وه فـردوس جـنت مو په نصیب شه
دا زمونـږ نـاوکۍ لـه ګـل تــازه

درود وه وایـئ څـومره ښایسـته
دا زمونـږ نـاوکۍ لـه ګـل تــازه

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، ځلورم بلاک، درېیم پوړ،**
**لسمه کوټه 1384/04/ 19 هـ شـ D310 08:7pm ,**

# اشنا

**ای د زړګي سره اشنا، زما د ژوند سفره اشنا**
**ګواښ مې په زاری کړمه، ږغېږي مې ځيګره اشنا**

**وران مې ټول کارونه شو**
**سيوا زما غمونه شو**
**ځې اوښکې مې رودونه شو**
**هډوکي مې لړزې کړي تيک بدن مې شو اوتره**
**اشنا ای د زړګې سره اشنا، زما د ژوند سفره اشنا**
**ګواښ مې په زاری کړمه، ږغېږي مې ځيګره اشنا**

**ول، ول مې اندامونه شو**
**رنګړي، رنګړي دردونه شو**
**کړی، کړی زخمونه شو**
**اوس دم ګړی تيرېږي نه ورځمه تر سقره اشنا**
**ای د زړګي سره اشنا، زما د ژوند سفره اشنا**
**ګواښ مې په زاری کړمه، ږغېږي مې ځيګره اشنا**

**یار زما په انديښنو شو**
**د ساقي په ګفتګو شو**
**جام جام په اوړيدو شو**
**تا څښنه دوزخي کړه ما ویل څښو به له کوثره اشنا**
**ای د زړګي سره اشنا، زما د ژوند سفره اشنا**
**ګواښ مې په زارۍ کړمه، ږغېږي مې ځيګره اشنا**

**زما نذر په پښتو شو**
**غماز په ريږديدو شو**
**چې څکه يې له تر خو شو**
**فردوسه ځان مي ځان کړه يا بدن جدا له سره اشنا**
**ای د زړګي سره اشنا، زما د ژوند سفره اشنا**
**ګواښ مې په زارۍ کړمه، ږغېږي مې ځيګره اشنا**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، دويم بلاک، لومړی پوړ،**
**چوړګه ميني کوټه 14/ 10 /1384 هـ شـ B.B 0415:4pm ,**

## سرکوب

د هغه کلـــي کشـر دی مشـربېږي به نو ستایې پرې څه ؟
وس سـم دی چـــې کـرېږي به نو ستایې پرې څه؟

ناسـت مســجد کې د شــباب کیســې شروع کړې
دا لـه سـستو دی ږربېږي به نو ستایې پرې څه؟

دا رښـتین د ابلـیـس دوست دی هسې څله پسې ګرځې !؟
غــم غجـکه ده ږغـېږي به نو ستایې پرې څه؟

موږ له یې کـفر، کفر ویلې ځانله یې جام ډک را نږدې کړه
له ازله دوزخـې دی چې سوزېږي به نو ستایې پرې څه؟

سل یې سمې نه شړلي شل په شاړو کې پراته دي
درد د سل یې دی ټوخـېږي به نو ستایې پرې څه؟

دی بـه دنګ په لاره تـللو موږ یې زهــرو ته بللو
دا سالار وه اوس غـورېږي به نو ستایې پرې څه؟

دلـته یـې ډېر کوهـي کـېندلي دا مالـک وه د کوهیانو
داسـې کـړي داپرې کـېږي به نو ستایې پرې څه؟

دا د بـلې مــور بچیان و چې په لـنډه لار تللو
ویل یه خـزان وه سـرکوبـېږي به نو ستایې پرې څه؟

**ده له ډېرو پـلـرو مـېندو له زړې چـړې اېستلي**
**دا سـقر دی چــې کـړېږي به نو ستاېې پرې څه؟**

**څـه فردوس دی مخکې سپينې، ســپينې وايـې**
**ساده ګان دي نـه پـوهـېږي به نو ستاېې پرې څه؟**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، دويم بلاک، لومړی پوړ،**
**چوړګه ميني کوټه هـ شـ14/10/1384 B.B 0400:12pm ,**

# مُرید

**پلاره اورم چې یې خپل زامن وژل دې چا کیسه راته کړې**
**څه له پوسته څه له ستوني ځوړول دې چا کیسه راته کړې**

**تېک لاسونه زهر جنې سترګې یې چا وئ**
**کولمې ګېډې نه ویستل دې چا کیسه راته کړې**

**اېشېدلي اوبه ولې د خپل ورور په څنو توی کړې**
**د یوانه وه چې دایې کړل دې چا کیسه راته کړې**

**لوي جلات ترېنه د چا په لمسون جوړ شو؟**
**لاس له متو پرېکول دې چا کیسه راته کړې**

**دغه خوی د شاپیرو یې دا د کوم پیري مُرید و؟**
**نن پر موږ لقمان کېدل دې چا کیسه راته کړې**

**ترېنه هېڅوک نن په امن ژوندون نه کړي**
**بېچاره وو شکنځل دې چا کیسه راته کړې**

**د غریبو یې کوکارې خولې ته راوړې**
**د ګنو غوندې زبېښل دې چا کیسه راته کړې**

**ده د خپل محل ځان خدای خلکو ته جوړکړه**
**فردوس ځان ته يې جوړول دې چا کيسه راته کړې**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، دويم بلاک، لومړی پوړ،**
**چوړگه ميني کوټه 1384 /11/ 30 هـ شـ B.B 0405:02pm ,**

## سلګۍ

اشـنا کـه در ته وو وایم رښـتیـا به شپ په منډه
له چـا نه به کـړې منډه او له چا به شپ په منډه

لـړلي ژونـدانه تـه بـه وړې ګـوتې په غـاښ کړې
وړې، وړې سـلګۍ بـه کړې لـه دا به شپ په منډه

هر څـه به درنـه هېر شي پـه بېوزلـو به دي پام
لـه کـړنو د زوزاتـه په ژړا به شپ په منډه

نا لوسـتو نه د لوسـتو او خـدمتګارو غضب ډېر
د دواړو شـتون وبـا ده له وبـا به شپ په منډه

اوښـکې به دي راولي ګـریوان به دې کـړي لوند
چې لوند ګریوان ته و ګورې نو بیا به شپ په منډه

خـــیالونـه بـه دي لا یتـناهي کې تنـــهایي کـړي
پـه لایـتناهي کـې یـک تنـها به شپ په منډه

دښـن سوسـیـس چې څـومـره کړنې غواړي
یـې واړه دوزخي دې له مـعـوا به شپ په منډه

فـردوس که مـیرڅمنو ګاونـډیو په لمـسون شو
قـسم پـه خـدای هـغه محال له ما به شپ په منډه

# غوړه مال

**خپله خـاربنت کړي د بل ځان گره وي**
**دومره احـمق دي لغمـانيان گره وي**
**د ادب غـله دي غـوړ له تـېږو باسي**
**لـکه کـټـمل چي مرتبان گره وي**
**وژنـي سـپږې مـزد له ورگو غواړي**
**خوار ملکان دي چې خـواران گره وي**
**دلتـه پوهـگړو ته لکـی بسطه کړي**
**دغـه رنـــدان بيا اجـړاگان گره وي**
**د لتـه کې چـل يې په تسمه کې گورئ**
**کونـېان را پـاسي روڼ اندان گره وي**
**دلته مد هوشې دې خدای کونډې نه کړي**
**نـوري به يـو دوی به جهان گره وي**
**خدای دي غريب سړی مالداره نه کړي**
**خـانان شـي خوار بيا دووسان گره وي**
**مونږ نه چونگښـې خپو ته نـال غواړي**
**جاغور پانډوس کړي کانټاران گره وي**
**کـټوې اخـلي کولالانو ته يـې وړي**
**ايـنـجـووالا دي انجـينـران گره وي**

**غـل چې غلط شي بوساړې ته ورشي**
**شـي پـرې سـبا بیا چینچاران ګره وي**
**دلتـه حـساب کتاب له چانه غواړې**
**اېزکان مسـت شي مړویسیان ګره وي**
**دلتـه بـلاوې بـندې هر کلا کې**
**ګـیدړې پـویء دي چې زمریان ګره وي**
**غوړه مال خــاین سـره اړیکې لري**
**بعضـي راځـي بعضـي کـسان ګره وي**
**داسـي مـنلي دي ډانډس ته ډانس کړي**
**پـه ډولـه کې بانــدي اوښان ګره وي**
**فردوس پښــې چـې له څځنې اوباسي**
**بیـا نو اټــک کې ګوزړوګان ګره وي**

**په موټر کې، د علینګار په سرک بدیع اباد هـ ش 1438 /09/12**
**,11:00am**

## ژرفا

ځه !! بې وفا ځه !! درځه مینه دې نکړم
پرېږده مې شمه تنها درځه مینه دې نکړم

ستا نشته دی نظر پرما
نه ستا زړه دی خبر پرما
زه که ډوب یم پر ژرفا
درځه مینه دې نکړم
پرېږده مې شمه تنها درځه مینه دې نکړم

ځه !! بې وفا ځه !! درځه مینه دې نکړم
پرېږده مې شمه تنها درځه مینه دې نکړم

دا ظلم د ستا کار و
په کچه سمت د لارو
ستا اړیکې پر بغضا
درځه مینه دې نکړم
پرېږده مې شمه تنها درځه مینه دې نکړم

ځه !! بې وفا ځه !! درځه مینه دې نکړم
پرېږده مې شمه تنها درځه مینه دې نکړم

**زه به تل ستا انتظار وم**
**پر لارو به دې ځار وم**
**تا له دروغو وې را ځه!!**
**درځه مینه دې نکړم**
**پرېږده مړ شمه تنها درځه مینه دې نکړم**

**ځه !! بې وفا ځه !! درځه مینه دې نکړم**
**پرېږده مړ شمه تنها درځه مینه دې نکړم**

**تا خالي وعدې کړې**
**پرما دې مسخرې کړې**
**زما او ستا لاره جدا**
**درځه مینه دې نکړم**
**پرېږده مړ شمه تنها درځه مینه دې نکړم**

**ځه !! بې وفا ځه !! درځه مینه دې نکړم**
**پرېږده مړ شمه تنها درځه مینه دې نکړم**

# غزل ساز

**پلارجان ولې غوسه يې په ځوانانو باندې نه کېږي**
**ښځې زوروري شوې نرانو باندې نه کېږي**

**درې وخته په ناره مې څپېړې مخ ته واړه وي**
**چې سخت پټې قولبه ده په اچيانو باندې نه کېږي**

**سوال به درته وکړم که زړې له منځه ورکېم کړې**
**ښارياني درنه غواړم اطرافيانو باندې نه کېږي**

**غوږونه مې راتو کړي چې در دونه په دردو کړه**
**وی شونډې مې پر غاښ کړه په لبانو باندې نه کېږي**

**زه بم جګړه مار غوندې اوږده رنده را واخلمه**
**لښتو سازول په څيټکانو باندې نه کېږي**

**ربه په فردوس کې درنه ښکلې حورې غواړمه**
**دلته ژبه ورو پيشوګانو باندې نه کېږي**

# بد مرغه

نه کم اصل اصیل کېږي نه نوکر د چا باداره
څو به دې صفت کړم مندره وړ لویه بازاره ؟

مونږه چې خپل مشر کړئ
خپل کټ پزی دې خوشي کړئ
ته لاړې په کورسۍ باندې ویده شولې بې خاره
څو به دې صفت کړم مندره وړ لویه بازاره ؟

نه کم اصل اصیل کېږي نه نوکر د چا باداره
څو به دې صفت کړم مندره وړ لویه بازاره ؟

کېږدۍ تا لپاره غم شوې
له رمو دې زړه قلم شوې
د اکبرپاچا لټانو یې راپاتې ښه سرکاره
څو به دې صفت کړم مندره وړ لویه بازاره ؟

نه کم اصل اصیل کېږي نه نوکر د چا باداره
څو به دې صفت کړم مندره وړ لویه بازاره ؟

خـوارې زمونږه خـپلې شوې
په در تـلو مـو پښې شلې شوې
څـلور وارې خپل حق پسې درغلي يو په شماره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

نه کم اصل اصيل کـېږې نه نوکر ده چا باداره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

انا مې د دې ښـار کيسـه کوله
بې گناه به همـېشه زندان له تلله
حلقه چې د چا سر له برابره راتله هغه به و په داره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

نه کم اصل اصيل کـېږې نه نوکر د چا باداره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

لومړی تا خـالي وعدې کړې
پر مـونږ دي مسـخرې کړې
ته خپله يې بد مرغه فردوس هـيڅ نه دی مکاره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

نه کم اصل اصيل کـېږې نه نوکر د چا باداره
څـو به دې صفـت کړم مـندره وړ لويه بازاره ؟

# کیسه

کیسه ده یو سپین ږیری وه وزګار
همېش له بد کارو سره یې کار

د نورو زنانه او که د خپلې
په سترګو کې به یې نېغ، نېغ ورکتلې

یوه خواره جلکۍ وه ترې ترپوزې پورې تنګ
د لور او د مسۍ په نوم همېش ورتله تر څنګ

نجلۍ له قصده تېر ورته رضاء شوه
سپین ږیرې توان نه ورته یې شاه شوه

څو وارې سامان یې د بوډا سترګو له وړ
وړې څو دې سترګې جرمنې دې په نس موړ

## یاد

چې له زړه نه انسان نه مجبورې دی
اوس د زړه پردې مې ولې اوږدې دی

کاش چې نه مو ملګرې کړی
نه چې یار دا سر مردې کړی

ما صادق دوست را بللې
په تګی دې پښې تللې

کړې چې څومره تعلیم ګوره
مشوره اخلي له موره

که د علم د چم لمر شي
آه چې هر زړه له دلبر شي

که د لمر وړانګو له ګورې
په هرڅه ښایست کړې پورې

دلته لمر په را ختو شي
د هرچا په خبره وو شي

دا خو سېمه مشریقي ده
شه هوښیار چې سبایي ده

**هـر یـو خـپل په مـټ کړئ کار**
**چې زوی د پــلار نشـو پکار**

**لکه ډېر مې کړه خپل یار د لاري ځار**
**وی زه سـفیره لاسونه زما نشو ستا هار**

**ژباړه: له انګرېزی ژبې ځخه**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، ځلورم بلاک، درېیم پوړ،**
**لسمه کوټه هـ شـ/3/19/1384 D310 ,am 6:00**

## ماښام دی

**له يخنۍ رپـي په ژړا يې ماشـومان شو ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**قـسـمته څه شـی دې پر زړه کړم؟**
**ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**ژړد جنرېشـن کې مو واړه لـغمانيان شو**
**ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**له يخنۍ رپـي په ژړا يې ماشـومان شو ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**بـارانـه ورو ورو پـرې اورېږه**
**ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**کـېږدۍ يې نشـته د رمو لاندې بچـيان شو**
**ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**له يخنۍ رپـي په ژړا يې ماشـومان شو ماښام دی**

**بـېـا کــوچـيان روان شو ماښام دی**

**پاکه مولا رحم پرې وکړي**
**ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**
**مرسته یې نه کړي حاکمان یې سرداران شو**
**ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**
**له یخنۍ رپي په ژړا یې ماشومان شو ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**

**ځښتنه نور یې سرفراز کړې**
**ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**
**میریالي خیلو کې فردوس هم په ګریان شو**
**ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**
**له یخنۍ رپي په ژړا یې ماشومان شو ماښام دی**
**بېا کوچیان روان شو ماښام دی**

## رښتیا

هـرڅه په طالعو کـېږي شـولې په اوبو کـېږي
مـــینه له لیـلا سـره ګوره په زارو کـېږي

هـرڅـه ته به کار وایې دا ســوچ به مدام کوې
ځـــان رسول هر څه ته کســه په کـوو کـېږي

خـوله پـه سـره ول رواج دایې له پخوانه و
وی فـرهاد غوندې له غره سـره سر په جنګو کـېږي

چــل کې جنکـېانې وي او نـوم د هـلکانو بد
قصـیدي پخول لاره کې چادري لاندې په تلوکـېږي

پـیشـېر وارول د دوی چـاځینې به هـیر نه شي
ځوانانو ځـورول ښار کې په کونج د دسکولوکـېږي

نـوم یې چې د ښـځې شو ګرسـره کامـېابې دي
بس هر دفتر له دوی ګوره داسې په ورتلو کـېږي

زده کـړه یې دربیم پورې ځان لره بلقیس وایې
اسناد د زدکـړیالۍ ورته چپ په واسطو کـېږي

ښه کړنه په کور ورته سم د سـر بلا ښکاري
تل ځان سرګردان بولي جنګ یې په کاسو کـېږي

**ځان را سره سم ښايي څه وايې سيوا د ستا**
**غر په نغري منډل چاويل په کړو کېږي**

**"و" نه جوړول د "گ" دا گورئ اسان نه دي**
**فردوس له د فردوس ورتلل دا په تواضو کېږي**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه**

**17 / 11 /1383 هـ ش**

**pm 07:35 Mehter lam, Our House at my Room**

## ټـګ او بـرګ

وختونه ټګ اوبرګ شو هر دوران شو ټګ اوبرګ
عجـیبه زمـانه شـوه انسانان شو ټګ اوبرګ
تاریخ يې د نیکونو کړلو خـاورې سره خاورې
بې لاره چې مشران شو کشران شو ټګ اوبرګ
د وخت په اقتدار کې به دې داسې تا وانې کړي
د عدل محکمو کې ټول قـاضیان شو ټګ اوبرګ
امـتحان پارچو پـیـسو او واسطو ته رابـطه کړه
که دې فـضاء تـه ځـیر شو اُستادان شو ټګ اوبرګ
سو اسـتفاده شـوه د تعـلیم کچه شـوه ورکه
کم زوره زورور شـو شاګردان شو ټګ اوبرګ
دا واړه ټـول ټـګان شـو پیمانې ته که اټکل کړو
په سـلو کـې اتیـاء دوکان داران شو ټګ اوبرګ
فردوس سـره یوځای شئ شاعرانو ځو مورچل ته
زموږ د پاکې خـاورې سـربازان شو ټګ اوبرګ

پیښاور، شمشتو، وچ نهر، نصرت مېنه، الف ساحه، دکور نمبریوسلو پـېنځه وېشت، د ګستې لورې ځلورم کور هـ شـ1380 /11/02 02:05 pm ,

peshawer, shamshatu, wach neer, Nasrat Menah, Section A, at 11 Street, House No-125 Lift side No.4

## واورین

شـو واورېـږونه شولو غر  واورین ته

سپوږمۍ سر وئ لکه سـر واورین ته

د یارانې زنکی دې جـوړ کړه ځان نه

رقـیبان لاړه  د  لـوګر  واورین  ته

کابل ته مه ځه ټول دوران، دوران دی

باد به دې یوسـې د شلګر واورین ته

ټولـې  جـفا  دې  د  تـنګې  کـمرې

تـرې لانـدې زه وم ماهیپر واورین ته

لــغمان  مـې  ولې  راته  بـد  یادوي

چـې درنه لاړ شـم د شیبر  واورین ته

تانه بـغیـر  به یې ونه ځښې فردوس

در ته به ناسـت وي د کوثر واورین ته

پیښاور، شمشتو، وچ نهر، نصرت مېنه، الف ساحه، دکور نمبرـیوسلو پـېنځه وېشت، د ګس لورې ځلورم کور  هـ شـ 1377 /01/10  ,5:21 am

peshawer, shamshatu,  wach neer, Nasrat Menah,  Section A,

at 11 Street, House No-125 Lift side No.4

## اټک ځای

چې په ژبــه بـاندې سـتا په زړه د بـل کا
شـترمرغ دی د اوښـانو پـېښـې کړل کا

چـې د يـوې مـنې په قـدر نـه پـوهـېږي
سـم به نشي که ټول باغ يې په سـر تول کا

يو سـاده سـل لــيونو سره سـازېږي
په پيـشکې څوک د غوا غـوښـې ويشل کا

هـغه خلک به مـو څه په درد دواشـي
چــې اوبـه د پزي لاندې تويـول کا

تـش هغه سـړی صــادقه زما وروړشي
پنجابي سـر چـې له تـنه بېـلول کا

لـغماني که لـوغړن خلکو تـه ښکاري
په يو دروي شپـېتـه ښـکاره ويشتل کا

اټـکزو له خـو به وينې د زړه ورکړو
چــې احمد پــه شـان په سمو شاړو تلل کا

چې په نـېمه او پــوره بانـــدې پوه نشي
ترې اوباسه پرتوږ چې لـنگ کـتل کا

کــه د کوز کلـي شروار فردوس له راوړئ
چې په لاس کې منداڼو شـړومبي شـاربل کا

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ شـ 1384 /06/05
am11:00, Mehter lam, Our House at my Room

## درېځه لکړه

**درېځ لکړه يې په اوښکو پاکومه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهيدانو کې ښاېسته زنکی لرمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**وطنه الله پاک دې ودان کړه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**دا شرمښان دې په روپيو خرڅوېنه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهيدانو کې ښاېسته زنکی لرمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**درېځ لکړه يې په اوښکو پاکومه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهيدانو کې ښاېسته زنکی لرمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**زما په کې اووه ترونه شهید شو**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**خلک مې بولي چې افغان دې نه منمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**درېځ لکړه يې په اوښکو پاکومه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه وا**
**وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**گوتې د پلار مې روسي وړي**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**کېمه، کېمه شم تا دښمن ته نه پرېږدمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**
**په شهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

**درېځ لکړه يې په اوښکو پاکومه**
**وا وطنه وطنه فخر کړمه وطنه**

په شــهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه

وطــنه ستا پـه ازمـوینه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه
نفـس به ورکړم پـوروړی به څــو شمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه
په شــهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه

دریځ لـکړه یې په اوښـکو پــاکومه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه
په شــهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه

میرخــمن واړه پـنجابي دي
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه
ټول عیـسوي دي کـم عــقلان غلطه وینه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه

**په شـهیدانو کې ښاپسته زنکی لرمه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**

**درېغ لـکړه یې په اوښـکو پـاکومه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**
**په شـهیدانو کې ښاپسته زنکی لرمه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**

**ستا د دښمن په مورچل دانگم**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**
**یا به یې سرکوب کړم یا به ستا خوره پر پړ.دېنه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**
**په شـهیدانو کې ښاپسته زنکی لرمه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**

**درېغ لـکړه یې په اوښـکو پـاکومه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**
**په شـهیدانو کې ښاپسته زنکی لرمه**
**وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطــنه**

زه به د شپې شپیلۍ غږ ومه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطـنه
زه الـفردوس مې د زنـکي پـېـښې کومه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطـنه
په شـهیدانو کې ښـاېسته زنکی لرمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطـنه

درېځ لـکړه یې په اوښـکو پـاکومه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطـنه
په شـهیدانو کې ښاېسته زنکی لرمه
وا وطـنه وطـنه فخر کـړمه وطـنه

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ شـ 10/11/1384

AM 8:10, Mehter lam, Our House at my Room

## بې ترتیبه

**یو چرګوړی وم په کوره**
**کیسه کړم د خپل موره**
**سرپښې د چرګ جلا کړې**
**دیګې لره یې خطا کړې**
**غوړي یې کړل پر دېګ**
**لمبې یې کړې ور تېک**
**مور چې څه کوله**
**په هېنډو غړومبېدله**
**هرڅه چې پخوله**
**غوړونه یې را خوړله**
**چې سم به یې څه کوله**
**پرموږ غوسه کېدله**
**چې تا به څه ویله**
**ماغزه یې خرابېدله**
**پښلنځې له شوه روانه**
**چپه یې کړه دېګدانه**
**وی خاونده بې وجدانه**
**په ما دې کړله ورانه**
**هرڅه د بې ترتیبه**

**غــمو لــره قـــریبه**
**لــږ نــوره ورخطاء شوه**
**د ســر پــه ټــک وا شوه**
**نـــارې کــړي ماښامیه**
**ســـر وخـوري لیـونیه**
**دېــګ دېــګدان لــه ګوره**
**چې نشـــي درنه شـوره**
**مـا ورو وویل خــدایه**
**کــم عــقله ده لــه ځــایه**
**په سختۍ او زور کړي کاره**
**د بــڼو چـــرګ کــړه تیاره**
**خــو د مــور مې و دا کاره**
**ما ویل ټوکې کړي پر پلاره**

**ژباړه: له انګرېزۍ ژبې څخه**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ شـ 22/11/1384**
**pm 1: 45, Mehter lam, Our House at my Room**

## ځومره ښه

خاورو جوړ په الله ګران يې ځومره ښه!
ښکلي نښه چې انسان يې ځومره ښه!

ته د خپلې ژمنې کوم طرف روان يې
مختورن په هر ميدان يې ځومره ښه!

له دروا‌غو نه دې کوم کلام خالي دی؟
شرمنده د نګهبان يې ځومره ښه!

ته په خپله رضا هر کلي له درو مې
شهزاده چې د کُلمان يې ځومره ښه!

هر ديده او دانسته چې پرې غوليږي
چې خوی مخې هلکان يې ځومره ښه!

په دي تشې سلامتې ډېره تُف کړه
نا رضاء در نه سبحان يې ځومره ښه!

سل په سلو کې صادقه مسلمان شه!
بيا به دوست د ستر شيطان يې ځومره ښه!

د شيطان په ملګرئ به هلته پوی شې
چې په نام کې دې زندان يې ځومره ښه!

**ما په خپل درستېز هغه کلي ته بوځه!**
**سر فراز چې له لغمان يې ځومره ښه!**

**يې پښتون په خپله ژبه دې شرمېږي**
**شرمنده د خپل وجدان يې ځومره ښه!**

**د پېښۍ خلک لپ ټاپ په لاس کې ګرځئ**
**ستا په لاس کې مړزان يې ځومره ښه!**

**خلک پورته شول فضاء باندې ګرځېږي**
**ته لا اوس هم ګاډۍ وان يې ځومره ښه!**

**خلک ښکته پورته ګرځې ترې روان دي**
**غرغښتو غوندې نادان يې ځومره ښه!**

**خر چې مړ شي نو واده د سپيانو جوړشي**
**دې متل کې نمايان يې ځومره ښه!**

**چې دې ټوله سرمايه قارون ته ساز شي**
**چې پر تا باندې تالان يې ځومره ښه!**

**چې دې عمر شي سل کاله څه به وکړې**
**اخر باغ به دې خزان يې ځومره ښه!**

**چې بــوډا شــې بيــا توبې، توبې د څه کړې**
**بــيا په کــړو دې پښــېمان يې ځومره ښه!**

**ما خــتــيــن فردوس مــثال در سره واخله**
**قــســمې مــې د مــنان يې ځومره ښه!**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ ش 1384 /11 /26**
**am 10:00 Mehter lam, Our House at my Room**

## هـرُم

**هــرُم دې شـي خـو تاله د جـنـگ راولي**
**ټـنډې د غلــېم له د ټـنګ راولي**
**نـور راتـه په خـوب کې کیسـۍ مه کاوه**
**غـزال چې خپل کبلۍ ته پلـنګ راولي**
**سـترګو کـېم حـلقې، حـلقې د اوښـکو شوي**
**تا با ندې چې ګور کې دا زنـګ راولي**
**مـاته خــو به نـوره خـندا نه راځي**
**تــا چـې مخـــتورنو کې دنـګ راولي**
**اوس رانــه په خـپله رضاء ورکه شه**
**بیا بـم نیــمنانو کــې په ځنګ راولي**
**اوس خــو لاچـلم او چـرسي نه ځکوې**
**سـېـنه چې دې بادونو نه تـنګ راولي**
**زه ضدي فردوس به دي وانه خـلم هیــڅ**
**بیا که زما قــلم ته د رنـګ راولي**

**په مهترلام کې، زمونږ کور، زما کوټه هـ شـ1384 /23/11**

**Mehter lam, Our House at my Room, Am 10:30**

## پاچاخيلې ؟

پـه مطلب مـو نه رسـېږې پاچاخيلې ؟
راتـه ځـنګه، ځـنګه کـېږې پاچاخيلې ؟
د کارغه غوندې په سپکو پـښو ګرځې
تــش په موټې کې ټوخـېږې پاچاخيلې ؟
يا مـلالـه يـا نوکره د پښـتو شـه!
پـه دريـځ بـه مـو رسـېږې پاچاخيلې ؟
چې زما يـارې کوې نو دغه وا وره
پـه سـوکړ کو بـه چـپـېږې پاچاخيلې ؟
له کاله نه به وړو ته خوالې ورکـړې
پښـتنه پيغلـه بـه کـېږې پاچاخيلې ؟
په زانګو کې به بچې له غـيرت ښئ
په ادې به يې خـوشحالـېږې پاچاخيلې ؟
د لـړمې غوندې غـوښې ورله ورکړې
د زنـکې مطـعم بـه کـېږې پاچاخيلې ؟

**خـپل بچې به په قوي سوزني بسته کړئ**

**په لــغمان کې چې زوکړېږې پاچاخیلې ؟**

**لکه زه فردوس چې تور واسکټ کې ګرځم**

**په څـادرې کې بـه سازېږې پاچاخیلې ؟**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ شـ30/11/1384**

**, Am 09:10 Mehter lam, Our House at my Room**

## مــرکه

فـردوس ځانــګړې مـرکه کـړه
د مسلمان هـندو کیسه کړه
یـو ښکلـی مسلمان و
پـه سفـر بانــدې روان و
لار کـې مخ ورته ســړی شو
چـې یې و پوښـت بهارتـی شو
ده پـرې واچـوه سلامـه
پــه لاره ځو بـه کړو کلامـه
ترېنـه یې و پوښتـه څـو سواله
ځـواب که را یې کړې دا حــاله
ویل یې: غـلا قـتل کوې؟ د ویل هو!
وی: ته؛ زنا چپاول کړې؟ د ویل هو!
وی صرف کلیمه ووایه مسلمان شـه!
ستا ټـول اعمـال د مسـلمان دي!

## لولۍ

**کــډې مې بار دې ارمـاني له دنیا ځمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**

**کفن مې کلک په تار گـنډمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**
**د ځـوانۍ ټول عمـر په دې کې تېره ومه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**
**کــډې مې بار دې ارمـاني له دنیا ځمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**

**ناځواني داسې خو څـوک نه کا**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**
**ژوي له ژوو سـره څـومره ښـه کوینه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**
**کــډې مې بار دې ارمـاني له دنیا ځمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښــتنـه**

**خلک د یار خاطر څه نه کړي؟**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**رب د رسول خاطر دنیا زوکړله کړنه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**کـــډې مې بار دي ارماني له دنیا ځمه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**

**ساډۍ سوډۍ ملګرې راشه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**د غم ځواکونه مې ړنچې له منځه وړینه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**کـــډې مې بار دي ارماني له دنیا ځمه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**

**خپل ابکې له ښېرې مه کړه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**تقدیر سودا راسره کړې مختورنه**
**راشه ومې کړه آخره پوښتنه**
**کـــډې مې بار دي ارماني له دنیا ځمه**

**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**

**راشـه آخـر دیـدن مې وکړه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**
**یار دې لـولۍ دنیـا نه کـډه بار وینه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**
**کـډې مې بار دې ارمـاني له دنیا ځمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**

**فردوس څـښـتن نه عفوه غواړې**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**
**نامـردې تا نه د دعـاء درخـواست نه کړینه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**
**کـډې مې بار دې ارمـاني له دنیا ځمه**
**راشـه ومې کړه آخـره پوښـتـنـه**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ،**
**دوهمه کوټه هـ ش 1385/02/29 2: 20pm E102**

## بیل بیتۍ

**له واک سره کې ښکنځل سر دې خوزو**
**وګړو ټول رازونه پټ ساتلي**
**مشر سړی یې خوله دې سمه خوزو**
**وګړو ټول حالونه پټ ساتلي**

**شامحمود خان والي ته چا ویلي وه!**
**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه**
**کوټه هـ ش 1383 /02/02 ,Am 11:20,**
**KPU HRN Garden**

## قطعه

**ترښه ترښې دې ترخې راوړي دلته**
**تراښ په ګوته لوغړن مکر ته ولې؟**
**توږن تو شو وس فردوسه درله راغی**
**ګوت ځنډنې د دریځ فکر ته ولې؟**

## څلوريزه

چې هـر وختـې راسـره يې
په دي ليچـو مې ويـده يې
دې کـره ناخوالــې څه له؟
راتـه کانـدې پرې اختـه يې

## څلور بيته

د هغو درستـو الماسـونه تيگې يې شمنگل غوره
د ايفـل په شان برجونه يې گټونه يې کونده گل غوره
ښايسته، ښايسته لالـونه يې پرگـي د باغه گل غوره
نيويارک له تم ځـايونو نه يې تمځـي د منځه گل غوره

## هايکو

د خـره ســوارې مې خوښوله ډېره
چې زه د کـوز کلي په خـره واؤښتم
وي غـور ځولـم بيا يې لته مم راکړه

## پرما ګرانه!

**زما وروركيه ځنګ له راشه!**
**پرما ګرانه!**
**وه وړوکيه زما غاړې له راشه!**
**ځار شم د ستا لاليه دې طرف راشه!!**

**بيرون له كوره لرې مه ځه! پرما ګرانه!**
**وه وړوکيه زما غاړې له راشه!!**
**انقلاب وخت دی ځوک دې وو نه تخته وينه**
**پرما ګرانه!**
**وه وړوکيه زما غاړې له راشه!**
**ځار شم د ستا لاليه دې طرف راشه!!**

**زما وروركيه ځنګ له راشه!**
**پرما ګرانه!**
**وه وړوکيه زما غاړې له راشه!**
**ځار شم د ستا لاليه دې طرف راشه!!**

**د مور له غيږي لرې مه ځه! پرما ګرانه!**

**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**
**ماشومان وړونکې آدم خـورې راغلې دينه**
**پرما گـرانه!**
**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**
**ځار شــم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**زما وروركيـه ځـنگ له راشــه!**
**پرما گـرانه!**
**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**ځار شــم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**خپلې موركـۍ سره لوبيږه! پرما گـرانه!**
**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**
**چې د تنــزرو وۍ پـر تا بانـدې نشينه!**
**پرما گـرانه!**
**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**
**ځار شــم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**زما وروركيـه ځـنگ له راشــه!**
**پرما گـرانه!**
**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**ځار شم د ستا لالیه دې طرف راشه!!**

**خپل ابکي نه گرد تاویږه! پرما گرانه!**
**وه وړوکیه زما غاړې له راشه!**
**چې پر کراتو دې په سر لاس کشه وینه**
**پرما گرانه!**
**وه وړوکیه زما غاړې له راشه!**
**ځار شم د ستا لالیه دې طرف راشه!!**

**زما وروركیه ځنگ له راشه!**
**پرما گرانه!**
**وه وړوکیه زما غاړې له راشه!**

**ځار شم د ستا لالیه دې طرف راشه!!**

**له خپلو روڼو سره خانده! پرما گرانه!**
**وه وړوکیه زما غاړې له راشه!**
**بیا به دې خوېندې د اوږو له پاسه وړینه!**
**پرما گرانه!**
**وه وړوکیه زما غاړې له راشه!**
**ځار شم د ستا لالیه دې طرف راشه!!**

**زما وروركیه ځنگ له راشه!**

**پرما گـرانه!**

**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**ځار شـم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**فردوس به ولې نه خوښېږي!؟ پرما گـرانه!**

**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**د مچنغـوزې گاټـی رب ورکړی يينه!**

**پرما گـرانه!**

**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**ځار شـم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**زما وروركيـه خـنگ له راشــه!**

**پرما گـرانه!**

**وه وړوکيـه زما غـاړې له راشــه!**

**ځار شـم د ستا لاليه دې طرف راشــه!!**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ،**

**دوهمه کوټه هـ شـ 1385/02/27 ,KPUH , E102 , pm 6:20**

## پلار جانه!

**یم راغلی ستا لپاره**
**غږ مې واوره وه دستاره**
**موږ کړی کړو دا دعاء وې**
**خدای ښنونکو کې به آ یې**
**رسیدلی تر دې ځایه**
**کړو دعا درته له ورایه**
**د پښتون اصیله زویه**
**نرم زړه و خوږه خویه**
**د پښتون د پښت اتله**
**دې جرګه جګړه ساتله**
**پیړ ټړ او دنګه ونه**
**الله پاله و مېړانه دي له زړه نه**
**د الله په نوم جهاد و سرخندنه**
**کافران دې له مداره ورکونه**
**د منان په در قبول شې**
**جنتیانو کې مقبول شې**
**نه دې چا ته څه ویلي**
**نه دې چاپوري تړلي**
**غیر له خدایه او له غفوره**
**که و دوست که و تربوره**

**که بوډا و او که ځوانه**
**ستا مطلب ورته عیانه**
**خو چې ژوندي وي اتلانه**
**پروا نه یې کړې کسانه**
**چې شي مړ نو بیابه وایي**
**نور د ونې ډډ یې ستا یي**
**خدایه څه په دې وګړو؟**
**لکه چرګ وي په چرګوړو**
**ترې تعلیم او علم پاتې**
**خو په ژبه کوي باټې**
**ټول په لوړ اواز ږغېږي**
**په ناداني نه شرمېږي**
**یو د یو هم نه خوښېږي**
**عصبي رنځوران کېږي**
**اصل رنځ یې د کوپړۍ دی**
**وی تعلیم له مو کړۍ دی**
**دروغ په خپلو ژبو وایي**
**پلار استاد په ګوتو ښایي**
**نور لیپ ټاپ سره ږغېږي**
**دی مړز سره ګړېږي**

**رب وی څوک چې لوړ غږېږي**
**کم عقلان دي نه پوهېږي**
**خدای تعالی مو کړ فریاده**
**حجرات سورت کې یاده**
**ګوروئ ای مسلمانانو!**
**چې راځي له جاهلانو!**
**که يې و خبر خرابه**
**په خپل عمل نشئ بیابه**
**وکړئ ښه پکې څېړنه**
**هر عمل يې کړئ پلټنه**
**داسې نه چې مومنانه**
**خپل عمل شئ پښیمانه**
**هغه څوک چې کړي تګ لاره**
**د الله رسول په لاره**
**الله کړه ښایسته ایمانه**
**کړه يې بد درله کفرانه**
**زما فردوس دغه ائین دی**
**چې قران راته شېرین دی**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه هـ ش 1384/12/03 , Am12:30**

**Mehter lam, Our House at my Room,**

## غلـی

**په دغه ستره پیننۍ !**
**کې هر بې نومه ژوی!**
**چې همـېشه تلا ش کړي،**
**تل سرګردانه ښکاري!**
**خو د ارمانونو سره!**
**غاړه غړی، غواړي تل،**
**خو دا پوره هیڅ نشي!**
**شونډې يې سپینې پاتې،**
**شي بې دمه يې وجود.**
**هر یو راشـي ورته غلی!؟**
**هر یو لاړشـي ترېنه غلی!؟**

**هر یو راشي ورته غلی!**
**یوه شپه شېبه، شېبه کړې؛**
**نور يې صبر ترې زړګی شي؛**
**ورته هـیـڅ نه نړ دې کـېږي،**
**کورنه بیا يئ خرا بـېږي!**
**بیا به بوی کړي،**
**یا پړ سـېږي!؟**
**هغه پاس ادیره،**

**او که کوزه یوه،**
**او یا زړې ته،**
**خپل ټول درانه دوستان یې!**
**کړي لاس ترلی خوارک !**
**خاورو ته کوز کړي لاندې.**
**هر یو راشـي ورته غلی!؟**
**هر یو لاړشـي ترېنه غلی!؟**

**او هغه واړه زوزان!**
**چې د ته ډېر به ګران و!**
**پري ټولې خاورې واړی ،**
**چې بیا را وه نه و ځي !!**
**چې بیا را وه نه و ځي !!**
**خو !!؟**
**له هر یو نه به تله غلی؛**
**له هر یو نه به تله غلی؛**
**خو داځل!!؟**
**هر یو لاړ شي ترېنه غلی!**
**هر یو لاړ شي ترېنه غلی!**

**زابل قلات ښار، د قلات بالاحصر په سر**
**Roshan BTS site QLA 008, 2007**

# مصرۍ

**په لغمانیانو کې مې خوښ کړې**
**راځه راځه پرد یه زه دې خپله ومه**

**رښچېنه سمه په سر کېږده**
**چرلنډیه یاره څوک به غږ دروه کوینه**

**ستا کوږ اوږ پاج نه قربان شم**
**لکه جلغ زه درنه تاو راتاوه شمه**

**چې د وصال په خیال کې جوړ کړم**
**بیلتون ظالم مې سم دستي په منځ کې شینه**

**ستا له اوبښتو سترګو ځار شم**
**په دا زرغونه سېمه یې ساری نه وینمه**

**ته په ښایسته ډمبر ګرځېږه**
**زه په خامه کشونو ځم لیونۍ شومه**

**پرېږده چې ستا تعلیم پوره شي**
**مور مې خبره د کراري مجلس کړنه**

**ښاګلیه یاره مه ځوریږه**
**که قسمت و شو په هغه ځای به یوشونه**

**په ریګستان کې مې ریدي ده**
**ربه زرغون یې لویه وه ترې لرې یمه**

**زمام کم اصلو ته سلام دی**
**څوک چې له ټېټه وره ځې ځان کوپه وینه**

**ربه د ستا په ازموینه**
**ما خو له پیغلو شونډو رنګ خوړلي دینه**

**ربه د ستا په ارزونه**
**ما یې په زنه د ستا نوم لیکی ونه**

**بُست د فقیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند**
**Roshan BTS site HLM 030, 01/01/2008**

# لنډۍ

وطن تم تول کافران راغله
ژر را پاڅېږه چې جوړه جهاد له ځونه

د بُست له ور به زه درتېرشم
غاړه غړۍ دې له کاله راځه مینه

دا وطن نه جوړیږي یاره
غټ او واړه يې بلواګر جوړ شوي دینه

دا بچې څه بچې دي یاره؟
لکه لړمې بچې خپله مورکۍ خورینه

مونږ به ګاډیلې جواري خوارکړو
چې پر وطن مو کرارۍ حالت راشینه

ګڼو ژړو میرځمنو
څڼې له څنډو سازوۍ خندا راځینه

بُست د فقیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند

2007 12 /29 Roshan BTS site HLM 030,

# ټپې

**محضې په خوله ریښتېنې وایې**
**راځه د زړه خوالـي وکاندو مرگ راځېنه**

**راځـه وصال ته غـاړه کـېږدو**
**نور له هـجرانه تـوبـگاره شوم مـینه**

**مـینه کې وصل ټکی ورک شو**
**هـجر کې وگوره کلیات راغلې دینـه**

**په غـیږ کې سمه را غـورځـیږه**
**ما برایې درپسې ډیـر ژړلـي دینه**

**ستا رنگ انار غـوندې ښکاریږي**
**زما دې رنـگ د بـاگریز پاڼـه واړه ونه**

**کـه یارانـه نـه کـړي جـانـانه**
**داسې بیا مـه وایه چې بـیا له کلـي ځـمه**

**زه دې رمـتـه لـیونـی کړم**
**مینه دې واخـله ما په خپل خیال کـړه مینـه**

**چې زه پخوا په خـیال کې بیـا شم**
**نور بـه په ژونـد کې مـینه نـه کوم مینه**

**دا سـترگې ما وژنـې جانانه**
**چې تړمې اوښـکې يې سـهار کې ووينمـه**

**په گـناهو تـوبې وکانـدو**
**د پاک څښتن ډېـر گـناه گاره يو مـينه**

**له پـاک الله به فردوس غواړو**
**موږ گناهگار يې د ورتـلو لايـق نه يونه**

**د ملا باقي غونډۍ په سر، د موسى کلا ولسوالۍ، هېلمند**
**Roshan BTS site HLM 012, 16/ 01 / 2007**

## ټیکې

پېغلو چکچکي کړئ حلقه شئ
د پیغمبر امتی څوک نه نازوینه

ناوې لالی دي لاس نه نیسه
چې ننواتې ستا د زړه کور ته درځینه

ناوې رو رو قدم اخله
د ولس پیغلې په قطار درسره ځینه

ناکې دنیا درته فردوس شه
مونږ د الله نه درته دا غوښتنې کړونه

بډې ملګرې دې خوشحاله
واده د ستا دی ژړا دوی د دروغو کړینه

که یې بوغان راباندې پلوري
زه پیرودونکې د ابی د ګسټ ګل یمه

## حقیقت

**که قچر ځان لره آس بابک وبولي**
**د کم اصلو اصیل نه راځې داجي**
**خدای که یو ټکی یې سم کړې دا زوی مړي**
**حقیقت دی خر یې پلار اسپه یې ماجي**
**په کراتو که ترې تاو شي سم به نشي**
**خر به نشي په طواف باندې حاجي**
**د پښتون زوزاته څومره ژمنې غواړې؟**
**په سپیڅلي لاس په خدای درکړي چاچي**
**فردوس ځکه ترې د فیل تیزونه غواړي**
**ظاهر شاه بابا نه همدا غوښتل جاجي**

# گـنهکار گـنهکار

**گـنهکار، گـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

**یــار په ولاړه کـړیکه وکـړه**
**گـنهکار، گـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**تېر شـوی عـمر په ډالرو نه راځینه**
**گـنهکار، گـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

**له مهترلام پښې لـوخې راغـلم**
**گـنهکار، گـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**غاړه غاړۍ لـه پردې ملک راځه مینه**
**گـنهکار، گـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

**ته په ښایسته ډمبر ګرځېږه**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**زه په خامه کشونو ځـم لـیونۍ شومه**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

**ستا رنګ انـار غـوندې ښکارېږي**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**زما دې رنـګ د بـاګ ریز پاڼه واړه ونه**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

**زه دې رمتـه لـیونـۍ کړم**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**مینه دې واخـله ما په خپل خیال کـړه مینه**
**ګـنهکار، ګـنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

ستا له اوښتو سترګو ځار شم
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
په دا زرغونه سېمه یې ساری نه وینمه
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

دا سترګې ما وژني جانانه
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
چې تړمې اوښکې یې سهار کې ووینمه
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

محضې په خوله رښتینې وایې
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
راځه د زړه خوالي وکاندو مرګ راځېنه
ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

**فردوسه خپل کاله ته راشه**
**ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**
**عمر دې ټول مسافرۍ وخوړ مینه**
**ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي**
**بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي**

## هایکو

**ته یـې کـره زه به یې ریبمـه**
**ای د پلانکـۍ پـلاره**
**خـــدای به دې لاس کې راکـړي!**

**1385 /03/ 02 Am 7:15, E102 هـ شـ**

## هایکو

**پـرون له کـوره بې مطلب و وتم**
**پـه لاره یـوه مېږي و بـل ته ویـل**
**دا انسـانان ولـي محنـــت نه کوي!؟**

## هایکو

**د جنـۍ مینــه خـو یوځه موده وي**
**ملگـــرو زه بـه درتـه روغ، روغ وایم**
**چې لومړۍ شپه شي نور ترې هرڅه هېر شي**

## هایکو

**پیغلـه چې دې کلک له مـلا نه ونیسي**
**بیا به دې نفس هم له غـوړو وځـي**
**14 هارس پـاوره رټ تـوان لري**

## هایکو

میرمنې چا درنه گیله کوله
سهار په توره خړه
تر تعمیرو راتللې

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه 1385 /03/ 02 Am 6:05, E102هـ شـ

## هایکو

زما د زړه ازار، کړه جلۍ
خدای د په داسې خوابښې سر واړه و
چې بام له سره د ټیله کړي لاندې.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه 1385 /02/ 15 pm 8:05, E102هـ شـ

## هایکو

ښارنې مینه په برگرو کیږي
ځکه سړونه سندویچې غواړې
غاړه درکئ پټې پیسې دیم باسي.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه 1385 /03/ 01 pm 10:10, E102هـ شـ

# ټپې

**راځه جومات کې قسم وکړو**
**نور به په زړونو لوبې ژوند کې نه کوونه**

**زما ځښتن باندې سوګند دی**
**رسول الله له په پښتو درخواست لیږمه**

**د تبۍ غره د سر ښاماره**
**زموږ بدې داره افسانې دې غږوونه**

**موري د ستا مې نه منله**
**د مهترلام اوبه مې پاس طرف ته وړینه**

**زده کړیاله یاره یوځل راشه**
**چې دد وګړي خواست ګارې راله راځینه**

**زده کړیاله یاره یوځل راشه**
**چې ضدي پلار مې خدربوان له ورکوینه**

**چې هر څه وه راباندې تېر شو**
**ناځوانه خوب کې خو راځه چې خوالي کړونه**

**ته هلته ډاډ بانـدې اوسيږه**
**دلتـه زمـا لـه ډډه تــاو شـو کيبلونه**

**پښـتو پښتۍ کړې راته ماتې**
**ړبـن ړبـن سـره مې خواکې نه پريږدينه**

**چې څه د زړه و پـوره نشو**
**که ژونـد باقـي وه ننـه واتي به درځمه**

**ستا د کتو انداز را ياد شي**
**بې دريغـه وژاړم چې کلـه به مخ شـونه!؟**

**څښـتن تعالی نه به دې غواړم**
**په دې دنـيا دې خـدړان نه را کوينه**

**هلتـــه به دواړه سره گورو**
**څوک وفادار څـوک بې وفا په دنيـا ونه**

**کله په خيال کې ورسره يم**
**کله په خيـال کـې يې راوړم رانه تم يينه**

**کله تقـدير راسـره مل وي**
**کلــه بې رحمـه ټوکـې وکړي رانه ځينه**

**فردوسه ولې سودايي شوې؟**
**تقدير سودا راسره کړې مختورنه**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه E102, 3:00 pm 10 /02/ 1385هـ شـ**

## لنــډۍ

جانانه زه دې ساز خدړ کړم
چې خپلــه مـور مې تنــده نه مچو کوينه

جانانه پــلار د دد ښکارېږي
د درکړې بږوږ گـــورئ په هــر مجلس کوينه

ای خولگۍ زه د خــدريوان کړم
ځکه ولس کې د هر ميــر کـور له ورځمه

ربه له غيبو مې ثواب کړې
هغې دنيـا کــې مجردانــو د صف شومه

ربه د هغې دنيا مې خير کړې
چې مــجردانو صـف کـې زه ونه دريږمه

بيا به سـرکوب غوندې ولاړيم
د ټـول عــالم مخکـې به زه مختورن يمه

ربه د هغې دنيا مې خير کړې
بې پتــه يار مې د يهودو نوکـر کـړمه

ښـتنــه ژوند عمرمې خير کې
ړبــن جيويــش مې د لالا ډډون کوينه

**ژاخو جانانه خدای دې واخله**
**نه دې ښایست شته نه دې سم دي اندامونه**

**خداېږو درکړ دې رانه جوړکړ**
**چغځۍ کوراک ومه څرمه د مټاک شومه**

**یاره زوزان ته ساډیزم شوم**
**د غم دردونه مې ړنجې له منځه وړینه**

**دادا دې سم درسره پوی کړه**
**دا په دا داج به دې په دانګ را له راوړینه**

**جانانه مانه ګیله مه کړه**
**د لغمان خلک درغلي نه قبلوینه**

**ربه رښتینی مې سالار کړې**
**داکوږ ږبن به همیشه ژنل ومه**

**زما پر تا د ستا پر مادي**
**چناک ګټلی داوڼ زه نه درکومه**

**په دواړو لاسومې زیندې کړه**
**ساډۍ سوډۍ ملګرې څه دې وستایمه**

**یاره ساډو سابټ دې پلار**
**دی په ساړ پوکې دا سابیړی راغورځوینه**

**نامه دې شته حضور دې نشته**
**چرلنډه یاره په بیدیا دې لټومه**

**یار مې په لوبو کې ځرو دی**
**ځکه لوبغالې له په دنګو ګامو ځمه**

**غمونه نور دې رانه شړه**
**ما په شپه غاله کې سبق ته نه پریږدینه**

**ستاد دوستی کتاب مې جوړ کړه**
**په هر ځپرکي کې جفا لیکلړ راځینه**

**نا ځوانې دې پینی له ګوره**
**ژوي له ژوو سره ځومره ښه کوینه**

**فردوس پښتو ویوکي وایې**
**ځکه ژاپن ړنګری په ژی ږغرله وینه**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه**
**1385 /01/ 09 pm 5:14, E102 هـ ش**

## قطعه

په سپینه ږیره دا کارونه کوې
چنګ کې به ګیر د کوم پخې را نشې
چې د سندل تلی د سر ته واړی
چغې وهې او تښتیدی هم نشې

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102 9:3,5 pm 15 /02/ 1385هـ ش

## قطعه

څه عجیبه خلک دي په دې ښار کې
قتل وکړي وایي چې دا چا کړی؟
راشي ورته مړي باندې یم وژاړي
دا کار کوم سخت زړي ناروا کړی؟

## هایکو

زما د لغمان هغه وختونه یاد شي
جواري بم کلک په خپلو خیټو تاړه
بوټي بم وکړه بیا په شاه بم راوړه.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102 ,10:11 pm 01 /03/ 1385هـ ش

## هایکو

په لاره تللم یوې ښکلې پیغلې
راته ویل ای زلمیه دلته راشه!
دغه شیندل خو لېږ ډېران ته یو سه!

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102, 10:10 pm 01 /03/ 1385هـ ش

## هایکو

زده کړه خو وروره لږ جغات هم غواړي
سهار غرمه واښه غوایو له راوړه
لوځې پښې ګرځیدو درس بم وایه.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102, 10:13 pm 01 /03/ 1385هـ ش

## هایکو

خوشحاله شومه چې مې ولیدې اوس
کنه دا عمر به مې ځنګه تېرو؟
جلۍ منلي زوړ میړه ته ویل.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102, 10:13 pm 01 /03/ 1385هـ ش

## هایکو

زه مې سلام خپل ابکي له کوم
چې يې جدا کړم له خدړو خلکو
کنه په دوی کې ازاري بم زه وم.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
E102 ,11:20 pm 01 /03/ 1385هـ شـ

## هایکو

کار د تقدیر ده چې هرڅه هغه کړي
تلاش زما میناء کیدلو مه کړه
کنه د خوند مزه به يې و نه څکې.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لويې جرګې خیمې ترسیرمه
د یو خوا بلې خواته اوښتلو په حالت کې 06:25 Am 02 / 03 / 1385 هـ شـ
K.P.U Apricots Garden dodge side of Lwya jarga tent

## هایکو

فردوس دعا تل اعظیم خان له کاوه
څکه مسیه دې په غوږ کې وایم
چې په مغلو کې خو میم ده.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لويې جرګې خیمې ترسیرمه
د یو خوا بلې خواته اوښتلو په حالت کې 06:30 Am 02 / 03 / 1385 هـ شـ
K.P.U Apricots Garden dodge side of Lwya jarga tent

# غزل

تللي یاره بیا راغللي اوسې راته سلامت
زما د زړه قرار شوی یې نه لرمه شکایت
ستا په خپو کې مړه دي شم ستا سترګو ته بنده یم
بېلتانه دردونو نه دي نه لرمه فراغت
تللي یاره بیا راغللي اوسې راته سلامت
زما د زړه قرار شوی یې نه لرمه شکایت

تللی رانه ته په ځنډ وینې مې شوې زړه کې ډنډ
همیش د ستا له روح سره خوب کې کړمه شرارت
تللي یاره بیا راغللي اوسې راته سلامت
زما د زړه قرار شوی یې نه لرمه شکایت

زه د ستا د عمر مل نه لرم ارمان کوم بل
و مې تره زلفو نه بند مې کړه په اسارت
تللي یاره بیا راغللي اوسې راته سلامت
زما د زړه قرار شوی یې نه لرمه شکایت

ستا بغیر مې کوم سفیر نه لرم د زړه اسیر
خدایه راته سم کړې یار وکړي راته سخاوت
تللي یاره بیا راغللي اوسې راته سلامت
زما د زړه قرار شوی یې نه لرمه شکایت

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه
1385 /01/ 26 pm 5:47, E102هـ ش

## مجبوري

هی! هی! ای مجبوري - دا موسم او دا دوري
د خپل نصیب تر سیوري - په ژوند مو لمبې اوري

زما نصیب چې وران شو - ځوانی عمر مې زیان شو
دوستان رانه روان شو ـ له ژونده په سرپان شو
وس کوم یو مې جانان کړم - سورلنډی د لیوه روري
هی! هی ! ای مجبوري - دا موسم او دا دوري
د خپل نصیب تر سیوري - په ژوند مو لمبې اوري

یار زما را نه با لا شو - جدا را نه اشنا شو
له لرې په وینا شو ـ ستا دغه لار زما دا شو
ټهر راته بډغیږي - زړگی مې رپ، رپ خوري
هی! هی ! ای مجبوري - دا موسم او دا دوري
د خپل نصیب تر سیوري - په ژوند مو لمبې اوري

یو د یا ر غمونه ډیر شو- خپل بد زما ښه یې هېر شو
باک څه یاران یې ډېر شو ـ خپل جوړ دامو کې گېر شو
زما فردوس ملگري گوره- په پرېدو سترگو گوري
هی! هی ! ای مجبوري - دا موسم او دا دوري
د خپل نصیب تر سیوري - په ژوند مو لمبې اوري

کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرگې خیمې ترسیرمه د
یو خوا بلې خواته اوښتلو په حالت کې ,1385/01/ 30 Am 12:45 هـ شـ
**K.P.U Peaches Garden dodge side of Lwya jarga tent**

# گــڼلی

**ډېـر درنـه خوشــحاله شـوم راځه یاره**
**ټـټر په لاس ولاړ یـمه مــنه یاره**
**زما درته د زړه دریـنځې خــلاصې دي**
**رمـټ پـکې اوسـیږه همیشـه یاره**
**سمه ده د زړه خـواله به وکـړو بیا**
**تقـدیر له په تـدبیر پښـتـو ویه یاره**
**مــننه ده فردوسـه الله دې راولـه**
**رب راتـه گـڼلی کړې گــڼه یاره**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه**
**1385 /02/ 04 Am 9:15, E102هـ شـ**

## مصري

**د تورو ټکو برکت دی**
**تا غونډې خلک څوک منبر کې نه پرېږ دينه**

**سوګند په تورو ټکو کومه**
**که د نامه په خوله واخلم سرکوب به يمه**

**موږ به دې هسې خاطر وکړو**
**کم اصل خلک څوک په پوځ کې نه پرېږدينه**

**په سپينه ږيره کونې توب کړي**
**ورانو کارو پسې د سپي په شانتې ځينه**

**په سپينه ږيره سودايې يې**
**جومات کې کېنه عبادت وکړه ږبنه**

**د اسلام رنګه دې کړه بده**
**ساډی سوډی امامه څه دې وستايمه**

**اسلام بدنام خلکو بدنام کړه**
**ځکه يهودو باندې دين له منځه وړينه**

**ګاونډ دې وږی ته چرګان خوره**
**داسې کارونه اسلام هېڅ نه قبلوينه**

**اسلام د عدل انصاف دین دی**
**ځکه غریب غني یو ځای ښځلې کوینه**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه**
**E102 ,10:00 pm 10 /02/ 1385هـ ش**

## د شپه میرو ټپې

موږ له قــوي پولیــس پـکار دي
ږبـن پولیس خلک میوزیک کـنډک له وړینه

وطن تــکړه شپه میري غـواړي
چې مـلک دښـن له اوږدې شـپې شیــبې کوینه

خـــدای شته داخـــرنگه عسکر دی
چې مـلک وردۍ کې د دښـن سـوسیس راځینه

د ستا گـناه نه ده ملگــریه
د اکـاډمـۍ له ځـنگه پـټ تیر شـوی یـښنه

زه درتـه لـنډ تـورم غږومه
ږبـن عسـکر راتــه کـاږه گـامونـه بږدینه

لالیه یو دوه راتــه وایــه
موزون قـدم ډولونـه زه درتـه وهمــه

زه به د ستا لـوري له گـور کړم
تعلــیم قـدم مې قـبلوه چې خوښـه شمه

که سترې مه شي راتـه وایې
زه به ژونـد، ژونـد درله ویـم چې مـیر مې یښنه

**تــه بريالی اوسې فردوسه**
**له درســه وروستــه الله پامـان دې و واينه**

**له خدمتي ځينې راســتون شه**
**مور په خـپې لوڅـو تيرګړو پلـه له درځينه**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه**
**E102 ,11:00 pm 10 /02/ 1385هـ ش**

**پنیر**

**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**زه ستانه پټ لاړمه**
**د کوټې ورمې خلاص کړ**
**او په بوغـبند ورجګ شوم**
**پښه مې وه خویده**
**لاندې راوه غورځېدم!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**بیا مې جغات اختیار کړه**
**ښه پر طاقت ورجیګ شوم**
**بوغبند لړځې شروع کړې**
**بوغبند راوه غورځیده**
**زه ترینه لاندې شومه!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**بیا دو باره راجگ شوم**
**د کټ دوهم بازو ته**
**ځان مې اړم کړه ورته**
**لاسو مې درد هم کاوه**
**ښه په زورو ورجگ شوم!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**زه هېڅ خبر نه ومه**
**چې هغه پاس مرتبان**
**زاړه لړونه خلاص شوه**
**او زما په سر را ولوید**
**غیبي کوپړۍ ته شو ټم!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**پچۍ په منځ کې پنیر**
**راته تک سپین ښکاریده**
**لکه سپوږمۍ چې پاس وي**

**زه ورته ګرد تاویدم !**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**خو زما ضدي فردوس**
**ارمان پوره خو نه شو**
**داځل مې اووم کرت وه**
**لاندې را وغورځیدم**
**ورته پر ځمکه پروت وم !**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**سترګونه اوښکې مې**
**هله روانې شوې**
**چې زمونږ تیره تیشه**
**زما په ورون پخه شوه**
**نور ورته هیڅ نه ګورم!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**ما خو د خپل منلو**
**د مور خاطر مې نه کړو**
**ځکه خو کټ کې پروت یم**
**ایله مې سر پرې خلاص شو**
**اوس مې ماغزه شو سم دم!**
**وا وره مورې!**
**هغه زما برخه**
**پنیر خو راوړه !**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه، د لیکلو د وخت موده لس دقیقې**
**1385/01/30 pm 5:55:05 to pm:6:05:06, time duration written at ten minute ,in KPU H, E102**

# زنځیرې چاربیته

**پلې وهې او بیا پلــمې جـوړه وې**
**زموږ د ړیرې لاندې په خره سور تیریږې**

**ځوموره هوښـیار یې وروره**
**له مـغذو بـار یې وروره**
**بابـک تیـار یې وروره**
**د چــل افکار یې وروره**
**له خـره خـرې جوړه وې**
**زموږ د ړیرې لاندې په خره سور تیریږې**
**پلې وهې او بیا پلــمې جـوړه وې**
**زموږ د ړیرې لاندې په خره سور تیریږې**

**منمـه ستـا لالیـه**
**راځـه بـیا، بــیا لالیـه**
**کـړه دې مـدعا لالیـه**
**راکــړه دواء لالیـه**
**له شربت شملـې جوړه وې**
**زموږ د ړیرې لاندې په خره سور تیریږې**
**پلې وهې او بیا پلــمې جـوړه وې**
**زموږ د ړیرې لاندې په خره سور تیریږې**

پنځه کې سامان وهې
له دوست چرگان وهې
غاښ کې چوبان وهې
پټ ممپلیان وهې
له تار تزبې جوړه وې
زموږ د ډیرې لاندې په خره سور تیریږې
پلې وهې او بیا پلمې جوړه وې
زموږ د ډیرې لاندې په خره سور تیریږې

له غلنه غلا کوې
فردوس له دا کوې
موږ له وینا کوې
داسې ریښتیا کوې
له اوښ وزې جوړه وې
زموږ د ډیرې لاندې په خره سور تیریږې
پلې وهې او بیا پلمې جوړه وې
زموږ د ډیرې لاندې په خره سور تیریږې

د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرگې خیمې ترسیرمه د یو خوا بلې خواته اوښتلو په حالت کې

**K.P.U Peaches dodge side of Lwya jarga tent, 1385/01/28 am 12:35,**

## مرغومی

**یو ښه مرغومی ووژنه درځو مونږه بیګاته**
**نصرالله ویلې حیاته**

**د خلکو نارنجانه**
**زردالو او شفتالانه**
**پټول دې په اسانه**
**د کلي دانې ونې دې معلومې ټولي تاته**
**نصرالله ویلې حیاته**
**یو ښه مرغومی ووژنه درځو مونږه بیګاته**
**نصرالله ویلي حیاته**

**د کلي ټول چرګانه**
**بیرون چې وي کلا نه**
**وړه وړي یې ګیدړانه**
**پوهېږي چې شپه کېږي بیا یې خوري ټول حیواناته**
**نصرالله ویلې حیاته**
**یو ښه مرغومی ووژنه درځو مونږه بیګاته**
**نصرالله ویلي حیاته**

یو دوه درې ختهکیانه
لس دولس باد رنګانه
راوړه مونږ در روانه
چې ښه میله پرې وکړو تاریخي د دیرې شاته
نصرالله ویلې حیاته
یو ښه مرغومی ووژنه درځو مونږه بیګاته
نصرالله ویلي حیاته

فــردوس ګورئ راغلی
د کټ څنګ ته ناست غلی
وی ځم میلې وخت تللی
خو زه کنه زوی مړیه چې دا ځې بیا تورکوټا ته
نصرالله ویلې حیاته
یو ښه مرغومی ووژنه درځو مونږه بیګاته
نصرالله ویلي حیاته

د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې ترسیرمه
د یو خوا بلې خواته اوښتلو په حالت کې
**K.P.U Peaches dodge side of Lwya jarga tent, 1385/05/01**
**am 12:11,**

## وې وایـم کنـه

تېر کال نه مې زړه کـې دا ارمان دی وې وایم کنه!؟
نور مې اسارت کـې ژوندون ګران دی وې وایم کنه!؟

ســپینه زړه خـوله وې په سـر زما ګرځېږمه
هر چیرته چې ځم قـسمت مې وران دی وې وایم کنه!؟

ځـوځله تقدیـر ناځوانه خـتهو کې لړلی یم
ډوب مې په شلګر کې دومـره ځان دی وې وایم کنه!؟

ما خو ورته غــېږه د سـاحل غوندې پرانستې وه
ګورم دا کـم بخت ورله ځــپان دی وې وایم کنه!؟

زړه مې دې لــړلي تر دا خوله پورې راوړی ده
دار بانـدې په دار دا مې بیــان دی وې وایم کنه!؟

زړه مې وی دا خـیته یې پوپک باندې سورې کړمه
دا ده چې کنه نو دغه کار لږ ګران دی وې وایم کنه!؟

ما هــم کله خور غونـدې په دروې پړسـولی ده
که په ځمکه یې راخپـنځم زما زیان دی وې وایم کنه!؟

ما خـو پسـدتوب کې په والله مالګــه ځکلې وه
خو بیا مې تر لمن ځـیرې ګریوان دی وې وایم کنه!؟

**دغې دب دبې غـم به له خيره درته و خورمه**
**لاره مې جـهاد دا مـې اعـلان دی وې وايم کنه!؟**

**دلتــه ښـکرور فردوسـه خپونه غورځيدلي دي**
**دا خــاوره دښـمن ته قبرسـتان دی وې وايم کنه!؟**

**د لغمان ولايت په مرکز مهترلام ولسوالۍ کې،د وزيراباد په کلي کې د صمد خان ډنډ پر ژۍ.**

**1385/ 06/ 18 Am 5:05, At the edge of Samad Khan Pond in Wazir Abad villa, Mehter Lam district, Laghman province**

# واو زور وا

دا بعضې ښځې سازې سمې بلا
واو زور وا بیا واو زور وا
له کور مې باسې همیشه بینوا
واو زور وا بیا واو زور وا

کور ته په زغرده ورتلی هېڅ نشمه
وروره خبر دې کړمه واوره بیان
یوه خبر ورسره کړی نشمه
که ورته وایم ورسره خمیردان
چې داخل ورشم ښه وهل راکړې بیا
واو زور وا بیا واو زور وا

که پلار ته وایمه په دې څه وکړم
راته وی ورشه چپه وی ماشومان
داسې چې وکړم ورته بیا څه وکړم
راته وی ځه بازار ته وړه لیړوګان
جیب مې پالوچ کې راته وایې ګدا
واو زور وا بیا واو زور وا

**مـورې له دې بد بختېا څه شی وکــړم؟**
**که بیرون وځـم په ضـلا او سـلاح**
**څادر مې غـاړه کې بندۍ څــه وکړم**
**چې پاک کالـي غواړم وی داده فـلاح**
**ځپلۍ راباسي ورته به مې ټینګ شي ابـا**
**واو زور وا بـیـا واو زور وا**

**کله ترې زه مخکې شم دا راپسې را درومې**
**د کټ پښه ورسره لاس کې کلکه نارې وهمه دادا**
**که په هر ځای کې پټ شم هلته مې دا و مومې**
**فردوسه نـن نه وروسته میرمن بـبو شوله دا**
**ښه وهــل راکړي وی لالـی شه زما**
**واو زور وا بـیـا واو زور وا**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، دربم بلاک، لومړی پوړ، دویمه کوټه .1385/07/01 pm 5:10,C102**

## څلوریزه

تاو مې له وزره کړه ښـارو غوندې
ډېره مې اوتـره کړه ښـارو غوندې
ټينکه مې لـه دواړو تخرګونه کــړه
سم په چېغو سره کړه ښـارو غوندې

## څلوریزه

ما به پرې نخرې کړلې دې راته انار راوړه
چل کې مې مزې کړلې دې راته انار راوړه
له ډاګــې يې په ځمـکه باندې وويشتم
چې پيل ما غلبلې کړلې دې راته انار راوړه

## څلوریزه

پـاس د ديـوال سر باندې ختلې وه
کـونج نه مې رومــې باندې ويشتلې وه
ډېـره په کنـځلو زمونږ کور ته تلـه
لاره کې کـوهې کې غورځيدلـې وه

## ځلوریزه

پـټه په چـورن بانديې راغلې وه
په غــلا د زردالو سـر ته ختلې وه
پاس د ونـې ســر نه يې راته وویل
تېره ورځ مې مــفت غـيږه منلې وه

## ځلوریزه

داځـل مـې منـې او کنــه !؟
خــره باندې مــې ځــې اوکنــه !؟
پـلانـۍ ليونـۍ چيرې ځــې؟
ځو خـوله را کـوې او کنـه !؟

## ځلوریزه

خوشــحاله به شي نوره که زما شولې
خانــدې به په زوره که زما شولې
نـور به د پوهنتون ملگري هېره کړې
نـه به وايـې وروره که زما شولې

## څلوريزه

اشنا ملګرې غټه ده رښتيا وايم
دومره لټه پټه ده رښتيا وايم
ګونګه بې خبره سرخوړلې ده
سمه د خره کته ده رښتيا وايم

## څلوريزه

زه د بيټ نيکه دوعاء څه کړمه ډېر
ويل يې دا وګړي کم نه کړې لا ډېر
ښه چې لږ وي ډېرو بدو لا غوره
بد چې ډېر شي شرموي پلرونه ډېر

## څلوريزه

سر دي په شان د کدو
دښمن مې جوړ شوې ديدو
دعوي اسلام راته کړې
خواص دې ټول د هندو

## یاره را

په لیمو باندې سرحد د جګړې جوړ کړه
خپل د سپین جبین غازیان دې یاره را
خپلو زلفو نه شپه غاله راله ساز کړه
بیا کوځې ، کوځې وېښتان دې یاره را
ته په خپله رضاء زما غیږي له راشه
په ډاډینه مړوندان دې یاره را
سینه راوړه زما سیني سره نږدې کړه
رب موشته دی زړه ریږدان دې یاره را
ستا کتو باندې زما وجود خوله شي
د ښایست ملوکې ځان دې یاره را
ستا دې هرې عضوي ځان پسې خدړ کړم
بیا دا نور الګ شیان دې یاره را
په مورچل کې مې ترپایه څنګ کې اوسه
هم لیندۍ ته مې مژګان دې یاره را
زما شهیدې ستا له تتو وینو ځار شم
د اسلام بیرغ رپان دې یاره را
یار فردوس سره د مرګ په پوله ناسته
دا دښمن سوسیس زړان دې یاره را

# ګیډۍ

وه د ګلو ګیډۍ په ژړا ژاړم لغمانځې
وه د کلي وړکي مې شو اخته په سګرټې

وه د چا په لمسون شو لو اخته
د آپینو چرسو شول خوراکه
دا ښکلي ځوانی یې ړنګه شوه
سیخان ګرموي څنګ له یې چرګې

واړه ژړي مو د دیوال شاله
سګرټ خالي کړي ښه په خوشحاله
چره دار جوړوي په ناز او خیاله
وي مست خندانه سترګې سرې کې

خدایه دا څه وشوه څوک شو چرسیان!؟
څوک ناست ډېران کې شو پوډریان
ښه ډېر تعداد یې شو شرابیان
ربه ملک نم ورک کړې دا بېدینی

دا ټول کړې روان په یوه لاره
کړې جوړه ورته د تعلیم لاره

**چې هسک وګرځئ وطن کې غاړه**
**له وطن بم درومې دا بدبختۍ**

**میوند لالي ته مې وګوره**
**اټکځی ورسره حسابوه**
**فکري وفادار مه هېره وه**
**فردوس ژړا کې ورته دا وی**

## گوړبيتي

**يوه ورځ له ښاره ووتمه باندې**
**يوه ښکلې سپوږمۍ مخ ته مې شوه وړاندې**
**په پسته ژبه له لرې په وينا شوه**
**خدايزده څنگه يوځلې داسې گويا شوه**
**( تو په چا دی ژوند بيا! ) ۱**
**ما ويل داسې څه خبره شوه بيا!**
**نور له ځان سره په خوله و بنگيدله**
**لکه زاڼه په لفظونو کړنگيدله**
**زه هک پک شومه په خپل ځای شوم حيران**
**خدايه دا له ډلې جنس ده که انسان؟**
**زه په سوچ کې په تعجب کې ورته گورم**
**لکه ډډ په باد ټيلو باندې نه خورم**
**راته وويل يې ( طی نامی کوراَ ه ) ۲**
**ورته ما وويل لږ وايه په زوره**
**( مو پلي کوهستانی هگوت واشياء ) ۳**
**( مو طو هگاته شراه نه پام توم )۴ ښه**
**د گلونو څانگه چنگه په خندا شوه**
**لږ څه وروسته ډېره زر په حيرانتيا شوه**
**( تو مو هگاته شراه نه پام تي ) ۵**
**نه! د زړه سره د کوم قام به يې**
**ونې ته کېناسته بې وسه بې دم**

**( مو کم کم کوهستانی پهم توم ) ٦**
**( خدای پاک خوشحال کریو )٧**
**ښه ده زه ځم اوتر يو**
**( هر گوراگه تی خوشحال تی )٨**
**ما سره په ژوند خوشحاله شي**
**ترینه روان د کور په لورې شومه**
**جلا له ځنگ د هغه حورې شومه**
**چې لس قدمه ترینه شوم بینوا**
**په منډه راغله خوارکۍ يوځل بیا**
**وی ( ورختو مه بیاء )٩ د زړگي سره**
**( طوی کور )١٠ پوی شه دلبره**
**( تو اِخلاق آین کرو )١١ یار**
**سمه ده زړه سره منم دې دا کار**
**( مو پلی محبت کاه )١٢ ویل روره**
**ورته ویل ما ( طی هډی )١٣ ده گوره**
**زه چې روان شوم راته داسې ویل**
**( بانی صبر کره )١۴ په شا تله او کتل**
**ارمان مې دا ده که دې بیا ووینم**
**خو ( ادام اچی پی مو هنییم )١٥**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، دریم بلاک، لومړی پوړ، دوېمه کوټه**
**1385/ 07/ 02 am 5:00 ,C102**

**۱ : ته شا ته ودرېږه، په پشه يې ژبه کې**

**۲: ستا سو څه نوم دی؟**

**۳: په پشه يې راسره خبرې وکړه**

**۴: زه ستا په خبره نه پوهیږم**

**۵: ته زما په خبره نه پوهیږې**

**٦: زه لږ لږ په پشه يې (کوهستانی) ژبه پوهیږم**

**۷: خدای مو خوشحاله کړه**

**۸: هر چیره چې ځې خوشحاله اوسئ**

**۹: ورختاء کـېږه مه**

**۱۰: ستا يې پرې څه**

**۱۱: ته دې اخلاق ښه کړه**

**۱۲: ما سره مینه کړې**

**۱۳: ستا په زړه**

**۱۴: لږ صبر وکړه**

**۱۵: دا سترګې به ما و وژني**

## ځلوریزه

**غره ده که دې ښار ده ځومره ښکلې ده**
**دا چم پرې ګلزار ده ځومره ښکلې ده**
**وا يې له کرمه غرونه دښتې دي**
**ځانګه يې نوبهار ده ځومره ښکلې ده**

## سرخندنه

**ښکلی مې ريبار دی خدای راکړی دی**
**جانان تلو ته تيار دی خدای راکړی دی**
**ماته يې په چم کې د چمن درخواست منلی دی**
**سم دی که ټګمار دی خدای راکړی دی**
**تلې په قسمت کې مې همدا را رسيدلی دی**
**موږ دی او که خوار دی خدای راکړی دی**
**زر به يې ټټر په تخت ميلمه کړمه**
**زما د زړه قرار دی خدای راکړی دی**
**دا په دا دې ورانه راته خونه کړه**
**دامې د نيکه دی هم د پلار دی خدای راکړی دی**
**داسې ورته مه وايه چې وران به شي**
**دا زمونږه ښار دی خدای راکړی دی**
**عام المنفعه ته مې د زړه غوښې منلي دي**
**ورکومه دامې کار دی خدای راکړی دی**
**ځانه! په کراتو که شم وريت ګوره مومن يمه**
**دامې سرخندنه دامې زيار دی خدای راکړی دی**

## غـنه

**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**ځـښتن شاهد اوسیږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ دېره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سیوري ته ایښی تل وي.**
***********

**د خدای په دې پینۍ کې،**
**داسې قانون چلیږي،**
**څوک چې هغه نه داسې،**
**دنیا کې ډېر وېریږي!**
**هلته هغې دنیا کې:**
**الله وی رټ خوشحال وې!**
**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**ځـښتن شاهد اوسیږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ دیره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**

**سیوري ته ایښی تل وي.**

*******

**که داسې زمونږ پښتانه،**

**خپله د ژوند تګلاره،**

**دا خپل واسکټ او څادر،**

**په ناپوهۍ کې پرېږدي،**

**بیا به دا ټول پښتانه،**

**د اوښ په شاه سواره وي!**

**زما او ستا په منځ کې،**

**د دغې ځمکې او آسمان،**

**څښتن شاهد اوسېږه!**

**خو دا کټ دې نښه اوسه!**

**چې همېش زمونږ دیره کې،**

**د دغې شوې لاندې،**

**سیوري ته ایښی تل وي.**

*******

**خو دا د یاد اوسېږه!**

**بیا به د اوښ له شاه نه،**

**خپل د اړتیا څیزونه،**

**له لاندې خلکو غواړي!**

**بیا به د بل چا ورته ولاړ!**

**ورته به ور ټکه وي!**

**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**ځښتن شاهد اوسېږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ دیره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سیوري ته ایښی تل وي.**
***********

**خدای شته چې داسې خلک،**
**خپلي پښتو لمن ته،**
**پخپله اور ورته کړي!**
**خلکو ته خان ښکارېږي،**
**چې لږ شي ځیر ښه ورته،**
**د کچرې جولا وي!**
**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**ځښتن شاهد اوسېږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ دیره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سیوري ته ایښی تل وي.**
***********

**همداسې مانم وروره!**
**خپله د ژوند تګلاره،**
**له بې غمۍ پاتې ده،**
**چې ګورې دې پینۍ کې،**
**هېڅوک عزت مې نکړي!**
**او مانه هېر غیرت وي!**
**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**څښتن شاهد اوسېږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ دیره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سیوري ته ایښی تل وي.**
***********

**نو بیا بم هلته خلکو،**
**زمونږ د هر دښمن،**
**د اوښ ګډا وګورئ!**
**چې زمونږ د هر وکړي،**
**د کلا لوی ور مخکې،**
**څه په تدبیر تېره وي!**
**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**

**ځـښتن شاهد اوسيږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ ديره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سيوري ته ايښی تل وي.**
***********
**پلار جان راخودې ماته،**
**د کټ اوبدو چلونه،**
**خو اوس مې خيال کې نشته،**
**تنها د غمې غوندې!**
**فردوس چې تل وګورې،**
**په جال اوبدو مصروف وي!**
**زما او ستا په منځ کې،**
**د دغې ځمکې او آسمان،**
**ځـښتن شاهد اوسيږه!**
**خو دا کټ دې نښه اوسه!**
**چې همېش زمونږ ديره کې،**
**د دغې شوې لاندې،**
**سيوري ته ايښی تل وي.**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، څلورم پوړ، دولسمه کوټه . 1385/ 07/ 20 am 5:15, A412**

## غوړکی

مست دی په مزو یار دې څه کوي؟
راشه ګل بشرو یار دې څه کوي؟
تا خو وې اشپز ده یار داسې که وې ورک دې شي
سر باندې لیږو یار دې څه کوي؟
تا خو یې تعریف کړه خلاص زه یې ګورم تش پش دی
کټ وړي په ټیلو یار دې څه کوي؟
په ځمکه یې څادر څخي جیګ ټیټ یې پایڅې ګوره
وړي تر زنکنو یار دې څه کوي؟
ایښی یې دی جام څنګ کې خپلې اوبه لګن کې څښې
تېر له لیونو یار دې څه کوي؟
څنګ کې یې شباب کباب دا لــه بې خبرانو دی
ګرم په شړومبو یار دې څه کوي؟
زما یې د خوښۍ نشه هېره کړلـه دې نا ځوان
موړ په سمبوسو یار دې څه کوي؟
تا خو ویل چټک مې یار هر یو د روزګار کار کې
څه کړي په نخرو یار دې څه کوي؟
څه دی عجیبه انسان خپل د طبې کار کوې
اوړي په ټوپو یار دې څه کوي؟
تا خو ویل چې دا فردوس سم سړی له خلکو دی
ځانګي په ځانګو یار دې څه کوي؟

## کــاش

ښــه یم پــه ژړا کې پــه خندا کې نــه
ومــرم پــه ګـناه کې پــه خطا کې نــه

ټول عـمر مې تـېر پـه نا پوهــۍ کې کـړه
دلتــه مـلامـت شـوی عقبـا کې نـه

ژونـد د سـرلوړۍ مې پـه نامــه وی تل
کار مــې ښـــه کولـی نا روا کې نـــه

هـر کار د ګـټو وی پـه نصیب زما
وی داســې بدبختــه پـه دوکا کې نـه

ژونـد د اسارت مې پـه نصیب نه وی
خوشحالـه پرنـده وی پــه صحرا کې نـــه

وې راتـه غـازي غـلام یـې نه بولـئ
دا کې وی سـرلوړی خـو پـه دا کې نـه

ما نـه سـړیتوب نـورو زده کـړی وی
زه یـې وم لـه مـردو نامـردا کې نـــه

مــرګ پـــه پولـه ناست وی غورځیدلی نه
رټ ورتـه ولاړ وی پـه بـیدیا کې نـه

بیـل سـره مـې یوځـای بې دمـه شوی
پـروت وی پــه کــمین کې د غار خوا کې نـه

ځوځلــي مـړ شــوی بیا جیګ شـوی وی
نـوم مې وی پـه ننـګ کې بې ننـګا کې نـه

کاش چې دغـه وران وطــن مې جـوړ کړلی
لـمر غونـدې ځلیدی پــه آبرا کې نـه

تــورو سـپینو سـرو لمسـون مې نه منـی
خـوار وطــن مو جـوړ کړلـی په غلا کې نـه

نـیغ، نـیغ مې فــردوسه خـپل دښـن وهــئ
ټــټر بانـدې سـوري مې کـړی په شـا کې نـه

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټ
**Mehter lam, Our House at my Room on 1385/07/ 30 pm 4:35**

## کمکی اختر

تــور پاچ جوړووم د یار په سره، خوشحاله یمه کمکی اخـتره
شــمله ورپرېږدم ښـه برابره ، خوشحاله یمه کمکی اخـتره

خوښــۍ سندرې وایم په زوره
لالیه څېر شه راتـه وګـوره
دا ســتا په مینه شـومه اوتره، خوشـحاله یمه کمکی اخـتره
تــور پاچ جوړووم د یار په سره، خوشحاله یمه کمکی اخـتره
شــمله ورپرېږدم ښـه برابره ، خوشحاله یمه کمکی اخـتره

ســوګند په خدای دی چې تا وګورم
لیلام کړم زړګــی پر تا و پلورم
ټول ځان مې ورک کړم ستا په خبره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره
تـور پاچ جوړووم د یار په سره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره
شـمله ورپرېږدم ښـه برابره، خـوشحاله یمه کمکی اخـتره

څوچـه مچـڼه مې یار ته خپوکړم
څادر واسکټ یې ور په اوږو کړم
خـدمـت کې یې شم تل سر ببره، خـوشحاله یمه کمکی اخــتره
تــور پاچ جوړووم د یار په سره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره
شــمله ورپرېږدم ښــه برابره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره

**اختر لمانځه له مې یار راوان دی**
**خوشبویه ترېنه مې شوخوا ځان دی**
**له کــوره وځی په آسـپ بهره، خوشحاله یمـه کمکی اختره**
**تــور پاچ جوړووم د یار په سره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره**
**شــمله ورپریږدم ښـه برابره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره**

**فـردوس مو ځی کړې پاکه څـښتنه**
**په امن ژونـد کړم ښـه قدرمنه**
**تا رتې وساتــم په خپل ټــټره، خــوشحاله یمه کمکی اختره**
**تــور پاچ جوړووم د یار په سره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره**
**شــمله ورپریږدم ښـه برابره،خـوشحاله یمه کمکی اخـتره**

**په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټې کې د کمکې اختر په دوهمه ورځ**
**Mehter lam, Our House at my Room in Second Day of RoZah Akhtar, on 1385 /08/02 am 7:20**

## ځـلوريزه

**لکه مـوږګ خــوار چې تلک ونيسي**
**يا چې چـتکی خــوار چوپک ونيسي**
**احمق راګير مې کـړه د زړه په غلا کې**
**لکـه پوليس چې غـل ولچک ونيسي**

## ځـلوريزه

**مجلس بم پـېـل په بسـم الله کـړو**
**حل به مشـکل خـپل په رښـتيا کړو**
**دا کار بـه کړو دا بـه مـدا کړو**
**ځان له بـه مير خـپل يو دانا کړو**

## سروکی، پام یا نیمکۍ

ځنګ ته مې راشي راته نه ګوري
لکه هندو چې کلمه بده راځینه

لاس کې به غټ لرګی د ستا و
لکه د غره شپنه چې سمې ته راشینه

بیا به کرۍ ورځ را په شا وي
لکه چې کوټۍ ځوک په بار بلده وینه

ستا به لاسونه زما غوږونه
لکه ګاډۍ جلب دې هر وخت کش کونه

ځانه ځښتن باندې دې سفارم
تودو ایرو باندې مې خپل یار ولړمه

ځنګ ته مې راشي راته نه ګوري
لکه هندو چې کلمه بده راځینه

د غم سیلۍ را باندې راغله
نمجنې سترګې مې له خاورو ډکه وینه

ولې په اوښ باندې سوره یې؟
ماته معلوم شول ګلې ستا ټول فریبونه

ځان د پشان د کــوم قمری کړه!
د خلاصــیدو ځـواب په ســتونې کې واینه

زمامم کم اصلـو ته سلام دی!
څـوک چې له ټیټـه وره ځې ځان کـوپه وینه

څـنگ تـه مې راشــي راتـه نه گـوري
لکـه هــندو چې کلمــه بـده راځینـه

اوس په لکســـس باندې گرد مکړه!
ماتـه معلـوم دې واړه لوښـې لرگـي دینـه

ځانه د غـټ ساگـر جوړ کړی
ټـول شـیطانان دې دوه لاسـي ســلام کوینـه

بنگالـۍ پیغلـه درنه ښـه ده
کوډگـرې زه دې لـــه خـندا په ژړا کړمـه

فـردوس ته هغه وخـت وریاد کې
چې د غوبلـه غوبـل یې تابانـدې کونـه

څـنگ تـه مې راشــي راتـه نه گـوري
لکـه هــندو چې کلمــه بـده راځینـه

## چاربيته

څه نڅا کړي ستوري ګوره، سترګې موخي توره شپه کې
خپل خاوند ته ځځلې کاندي، دي مشغول اسمان خانه کې

ټول مصباح غوندې ځليږي
يو له بله ښه ښکاريږي
واړه خپل منځ کې خندیږي
دا سپوږمۍ خوارکه ګوره څه ښه نيسي يې بغله کې
څه نڅا کړي ستوري ګوره، سترګې موخي توره شپه کې
خپل خاوند ته ځځلې کاندي، دي مشغول اسمان خانه کې

يو خو ته يې نه پوهيږې
خپل بد کاندې خوشحاليږې
زما ياره نه سازيږې
سترګې رډې تندی تريو کړې ژبه باسې ځان غوسه کې
څه نڅا کړي ستوري ګوره، سترګې موخي توره شپه کې
خپل خاوند ته ځځلې کاندي، دي مشغول اسمان خانه کې

**وه نامـردې نامـردۍ کړې**
**را په غاړه مې رسـۍ کړې**
**ساز مې برکلي بگـۍ کړې**
**همیشه دې تـپږ لاس کې راته سـپورې دروېشته کې**
**څه نڅا کړي ستوري گوره، سترگې موخي توره شپه کې**
**خپل خاوند ته څځلې کاندي، دي مشغول اسـمان خانه کې**

**فردوس تانـه گیلـه مند دی**
**پوی شه ښځې عـزت مند دی**
**خاوند دوېم نوم ده څـښـتن دی**
**رب نه بل ته سـجده وې که ته به وې راته سجده کې**
**څه نڅا کړي ستوري گوره، سترگې موخي توره شپه کې**
**خپل خاوند ته څځلې کاندي، دي مشغول اسـمان خانه کې**

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ،**
**1385/07/25 pm 2:30, E102, دوهمه کوټه**

## په دغه کې د پېـغلې آه

کړم کیســه درتـه له تېرو خاطراتو
مسافـر شـوم د سـونو د ښـاراتو
یــو له ورځو ومه تللـی و لاهـور ته
وروسته څو ورځې راستون به شـمه کورته
په چـکر ومه وتلـی له خـپل کوره
د دنـیا غمونو گـیر کړمـه و نوره
ما ویـل گــورم به مـنار د پاکستان
هم ژوبـڼ او هم یې سـتر واړه پارکان
ما په خپل خیال کې ښـه ښکلې سـلاح کړه
خـو نصیب راځینــې هغه لار جلا کړه
نا صافي راتـه مرض راکړله غـاړه
ما ویل ټیـنگ شـه انجینره ورته ژاړه
له نس ناسـتي و له خولـې شومه چالانه
ښـه په بـیړه یو لیټرین ته شوم روانه
چې د غـم سپاره له چا پسې روان شي
هـغه دم به یې نصیب او قســمت وران شي
نشـي یو ټــکی ترې بلي خواتـه تللی
د اسـمان برخـې دې بولـه یې باللی
زه وتلــی وم پــراخ و ارت فکـرونو
چې مې ژونــد شو هسپتال کې په سوچونو

**په کوټـه کې يو مريض او بل يې زه وم**
**د هغـه مريض ليـدو ته په کاته وم**
**چې له خـپل بستر په نرمه را بالا شوه**
**اخـو ديخــوا يې کتلــې يې سودا شوه**
**يا سپوږمۍ چې شپ راپـورته له ديوالـه**
**د کوټې شيان شـو ښـکلي په دې حاله**
**يا چــې لــمر پــه را خـــتو شــي**
**د هــر شي پــه خـبره اووشـي**
**راتـه ويل يې رنـــګ د ژيړ د عاجزانو**
**تــه راغلـی يې له کومـو مريضانو**
**چې په بده ورځې دې خونـې ته راغلې**
**دومــره ژيړ يې زعفران پاڼې ته وداغلې**
**ګـوره خــورې مسـافر يـم**
**دې ځـــای نــه زه د بـهر يـم**
**زه لــه بـرې پښتونخوا يمـه راغلی**
**خپل پيسـو قسـمت لاهور ته يم باللی**
**دلـته يو ناڅاپه لاره کې بيـــمار شوم**
**په قسمت احمق مې ګوره چې زه خوار شوم**
**راته ګــوره چې د واو غونـدې ويده يم**
**د خـپل ژونـد لالهـنده په کاته يم**
**خدايزده مـور به مې کاله کې څه زوريږي**
**دلته ما بانـدې چــې دا ساعت تيريږي**

**زه زویکی یمــه د خــوارو غریبانو**
**غیرتــي پښــتون یا دیــرم له پلارانو**
**راتــه ته هم لــږه خــپله کیسه وایه**
**چې داته ناروغــه یې له کومــه ځایه**
**چې ناروغــه یې له پــټو مریضــانو**
**نه کوم کــس در سره شته ده له دوســتانو**
**چې زما غونــدې یواځــې یې خــوارکې**
**لږ خو پوی مې کړه معصومې شان خورکې**
**چې له کوم سرحد کیســه درته شروع کړم**
**دا د زړه له زوره وایــم نه نخرو کړم**
**د هغې پــېغلې له آه بــه څوک خــبر شي**
**چې یو ورځ کنجر خانــې طرف ته ورشي**
**چې پلټنــه کــړي بې وزله ماشومانو**
**هم پوښتنه کړي بې کس پــېغلو زنانــو**
**بې کسۍ لامل مې کوم یو مــیر بادار کړم**
**یا د قوم بې وسه خــلک یا ســرکار کړم**
**مونږ ټبــر و د لوی عــزت دارانــو**
**درد درمــن به وو، ولــس واړه خوارانو**
**وه نامه مــو په ولــس او په ملکونو**
**رســیدلې وه تــر لویــو ټبــرونو**
**پښـــتنو کې به چې څــه بلا پیدا شوه**
**زمونږ کاله کې پر هغې به بیا ســلا شوه**

پلار نیکه ترونه مې وو د قوم مشرانه
په ولس کې وو سرلوړي سردارانه
همیشه به دوی جګړې جرګې ته تلله
دښمنان به یې په نره راباللـه
د حقدار حق به یې ورکړه په حقداره
د ظالم، ظلم نسکور به یې کړه په تاره
په یوې کلا کې یوځای اوسیدلو
خپلو ورونو سره یوځای لوبیدلو
چې د ښځو جرګه رابه غله کلا ته
کړې پوښتنې به یې زما د مور سلا ته
مشوره به مو یوځای کړه د زنانو
مشکل حل بم کړه د خپلو مشرانو
داسې څوکلونه تیر شو په مونږ باندې
چې روسیان زمونږ په کور راغللو وړاندې
غم یې ګډ کړه په کورو د افغانانو
مخ یې نه کاته وړو و ماشومانو
ټول ولس یې زمونږ تالا کړه
د مرګ کندې ته خطا کړه
ټول راغلې شورویان و
ژبه ایستې بې صبران و
کرۍ ورځ به یې وژل کړل

**لکه سپي به يې داړل کړل**
**په توپونو په ټانګانو**
**هم په جيټ و چورلکانو**
**يوه ورځ يې کړه بمباره**
**کړه يې زمونږ په کور بسياره**
**لوټې، لوټې يې کلا کړه**
**په ژونديو يې ورخطا کړه**
**زما ټول ټبر تالا شو**
**لوټو لاندې په رښتيا شو**
**واړه تاړاک شو زمونږ دوستانه**
**رانه ورک شو خپل خپلوانه**
**وه د غم شپه پر ما باندې**
**ګرځېدم پر لوټو باندې**
**چې زه ګورم څوکسانه**
**زما طرف دې راروانه**
**يې په لاس کې ټوپکان دي**
**ما ويل څومره ښه کسان دي**
**چې يو څوک خو اوس پيدا شو**
**زما اوښکو ته تکيا شو**
**ورته ما ويل زما وروره**
**ما خو بوځئ تر خپل کوره**
**ټول وګړي مې خزان شو**

واړه يوځای شهيدان شو
دوه ديرش کسه شهيدان شو
کلی ورک نوم يې نښان شو
راشه زه دې بيايم ګوره
هلته شته د شيطان وروره
په نيکانو کې ټګمار دی
ځان کړه پوی شپتلې مار دی
هميش دا وايي په زوره
شيطان وی زما زوی ته ګوره
په کومه ورځ چې زه پيدا شوم
شيطان ويل چې زه رښتيا شوم
نور به زه نه ميرات کېږم
زما وارث شو نه خواريږم
پاکو خلکو کې دا غل دی
ښځې ذات لره عاجل دی
زه چې ورغلمه وړاندې
نږدې مه راځه له وړاندې
ښځې ذات زما کم زوري ده
دامې سخته مجبوري ده
اشاره يې کړه اوزئ وی باندې
وکم بختو ورکېږئ ځئ په وړاندې
څو خبرې يې و ماته په نخرو کړې

**بې شرمۍ خبرې زر راته شـروع کړې**
**ورتـه ما ویـل زما خواري ده**
**راتـه جوړه مجـبوري ده**
**زه لـه غـم نه په ژړا یم**
**ته خـندا کـړې زه پر تـا یم**
**چې مستي ستا دومـره ډېره**
**زه لـه تا نه نکړمـه وېره**
**زما لـه زړه درتـه اعلان دی**
**ځان کـړه پوی دا مې بیان دی**
**زه بې کسه یمه خـیر ده ما نکاح کړه**
**لاړ شه ښځـې سره جوړه د سلا کـړه**
**مشـوره ورسـره وکاوه قـراره**
**په ډاډېنــه ورتـه وکـوه اظـهاره**
**خـیر ده زه بم پیغله شـمه یو څوکاله**
**سـتا کاله کې بـه اوسېږمه تر حاله**
**ستا دوهم ناموس به جوړ شـمه سرداره**
**تر اخـر سلګـۍ بشـم ستا خـدمتکاره**
**ستا خدمت کې به د زړه غـوښې اوبه کـړم**
**په سینـې د پښتنـې به د ویـده کړم**
**د غـیرت شودې به ورکړم ستا اولاد ته**
**وړکتون به کور کې جوړ کړم ستا زوزات ته**

**شم ښوونکې به د ټولو ماشومانو**
**ستا سکه بچو او زما د ریزه ګانو**
**څه په ګډو وډو سر یې بې خبرې**
**ته په مخه کې ولاړ د کوم ټټر یې**
**اجاره غواړمه زه ستا له ناموسه**
**ته زما په دې خبرې باندې پو سه**
**کړم به لوڅ ستا مړوندونه**
**ستا پاسته و سپین ورونونه**
**دې کې ستا ګټه هم زما ده**
**ځان کړه پوی دا مې وینا ده**
**پوی شه ونامردې ولې وا ویلا کړې**
**زما رنګه بده وې ولې خطا کړې**
**پرېږده خلاص کړمه خپل کاره**
**چې سفر لرم د لاره**
**خپل سلا وکړه اظهاره**
**ګوره ډېر یمه په قهره**
**څو مېنته مهلت راکړه نازولې**
**چې دا خپلې سترګې سرې کړمه ښاغلې**
**تو لعنت دې شه په دغه بد کرداره**
**د وطن ناموس ته هم یې ته ټګماره**
**دا ارمان به دې پوره نشي کم بخته**
**ولې خدای ځینې نه غواړې د مرګ تخته**

**چې د مرگ په خوب ویده په دې دنیا شي**
**پــه خالصو اوبو پاک له دې گناه شي**
**خـپل ملگـرو ته وویـل چې راشئ**
**دا احمقـه دې کوټـې ځـینې اوباسئ**
**دې زما لـه امـره کـړی نافرمانه**
**ورته داسې سزا ورکړئ په میدانه**
**چې په خـپل ژونـد همیشه وې پښیمانه**
**ژبـه باسې سـکه زوی ته د شیطانه**
**دا مکاره په هیڅ شي نه اصـلاح کـېږي**
**اوس د ښکار ځای ته به دغه دم غورځیږي**
**دا به بوځئ د لاهور طـرف روانـه**
**حرا منډی کې به یې نـوم وې هـم نښانه**
**چې په ورځ کې سل اتیا سره یې کار وي**
**ورته یــاد سکنـی زوی شیطان مکار وي**
**چې دا ټـول عــمر یې تیر شي په داشانه**
**په منډی کې وې مشـهور ژبـه ورانه**
**هــلته داسې جنـوکیانې ښې چلیږي**
**چې زما په وینا سر یې نه خلاصیږي**
**په ځلوښت زره یې خرسه کړه راځه تـرې**
**که په دوه زره یې جنجال ورته پریږده تـرې**
**ځکـه دې کمبختې نشـتـه مور او پلاره**
**یو شیطان سکــه روکی لرې تیاره**

**چې د زړه ټول ارمانونه يې پوره شي**
**که وې پاکه مرګ په تخت به بيا وده شي**
**توره شپه کې يې روانه کړم له ښاره**
**ياد کې پاتې درونتې راته تور غاره**
**د شليتو ښار کې زه يې کړم دننه**
**يو کنجره ښځه راغله مختورنه**
**ويلې ښه د پرې چليږي ټول بازاره**
**ښه ګاکان به مې ولاړ وې په قطاره**
**دې شليتې ډبل مخ غټه يې خيټه**
**پښتنه وه نه وه نسل نه د بيټه**
**پيښورۍ وه له پخوانه يې دا کار و**
**نامه وره وه هغه بد يې کردار و**
**زه يم پرسټيټيوټ په ټولو کې ښاغلې**
**د حرا په ښار کې ډېره يم منلې**
**ما سره به دې زړګی دومره خوشحال وي**
**په مارکيټ کې به دې نوم ښه به دې حال وي**
**ورته ويل ما چې ورکېږه**
**وه مرداري زما مخ نه لرې کېږه**
**ګوره ځان زه مړه کومه**
**دا مې زده تا خبره ومه**

**پښتنـه د عــزت سودا نه کړي پوهیږې**
**زما پـه دې خبرې پوی شه که سازیږې**
**ویل یې زر شـه ځــان دې مړه کړه**
**یا لـه ستونـې ځان خفـه کړه**
**هېڅ به ونشـي په زوره به ځان مړه کړې**
**خود کُـشي گنـاه به ځان باندې اخته کړې**
**خـدکُشي گنـاه خو تاته معلومداره**
**ترقیامتـه به مـړه کـېږې په وار واره**
**خـودکوشۍ نه گورې کومه ستر گناه ده**
**دا خـــبره درته کـوم ځکه رښتیا ده**
**ته له ما سره ملگرې د دې کار شـه**
**خپل خـدمت او نورو خلکو ته تیار شـه**
**په دنیـا کې چـې دا واړه خلک کار کړي**
**ټولو یو مطلب معلوم دی خپل روزگار کړي**
**که د خپل یار سره تختـــې جلکۍ گوره**
**خپل مطلب ورځني اخلـي کوي شـوره**
**که مکتب یا پوهنتون کې کـوم کسانه**
**ذاته نـر وې یا که ښـځه یا انسانه**
**چې قاتــل گورې پرې ځومره کړې قتلونه**
**مسـافر خواران کړي ځومره سـفرونه**
**ټولـو یو مطلـب دا کار دی**
**د انســان همــدا روزگار دی**

**که څوک دلته دغه کار کړي**
**یا بل ځای کې خپل اظهار کړي**
**خو د ټولو مطلب همدا دی**
**لورې ویم دامې مدعا دی**
**چې ستا ضد ګورې همدا ده**
**زما هم پرې دا سلا ده**
**ستا مطلب ټول د پیسو دی**
**زما دا کار نه د کړو دی**
**خیر ده زه به دې خدمتکار شم**
**هم پخلي هم په سر شبکار شم**
**ستا منم به ټول امرونه**
**چې هر څو دې وې کارونه**
**خیر ده زه به دې لورکۍ شم**
**ستا کور انګړ کوکۍ شم**
**خو له بد کاره یم بې زاره**
**مورې زما خبره واوره**
**نه مې وس شته نه توانه**
**که مې وسوځۍ څوک ځانه**
**نه یم خوښه په دې کاره**
**پښتنه دا مې اقراره**
**ویل یې دلته به اوسیږې**
**زما خاوند به نه جوړیږې**

**دلته خلک به را غواړي**
**زړه دې خاندې او که ژاړې**
**نه یې مفته چا را کړې**
**نه یې ما ته اغوا کړې**
**خرڅه شوې یې پرما باندې**
**ځواب به نه وی له ما وړاندې**
**ما ویل که خودکوشې کړم**
**ځان ته جوړ به بدبختې کړم**
**هسې خدای مې نا رضاء شې**
**خفه ما ځینې رښتیا شې**
**پښتنه عزت سودا نه کوي روره**
**چې په مرگ ورته سودا کړې پلار او موره**
**نه به رنگه بده کړې ژوند کې زنانو**
**پښتنه پیغله وې تیره له زلمیانو**
**همیشه به عزت کاندي په ناموسه**
**د نړۍ له ارتو و به کړې تپوسه**
**رب د ښځو ذات جوړ کړی څه لپاره**
**چې نکاح کړي غیرتي پښتون خپل یاره**
**خپل خاوند ورته له هر څه عزتمند دی**
**چې خاوند نامه دوهم نوم د څښتن دی**
**داسې تېر شو دولس کاله**
**کنجر خانه کې په دې حاله**

**وم ناروغه دلته یې راوړم**
**غم کیسه وروره په تا وړم**
**نور به پریږدم دا داستانه**
**نور نږدې شو ملا اذانه**
**راته ته هم لږ څه وایه**
**د خپل کسب او کار وایه**
**زه ساده پاده انسان یم**
**اوس خفه ډېر ستا پر ځان یم**
**موږ ساده پاده انسانان یو**
**همیش حق وایو و حق پسې روان یو**
**د ابو ښلو نه اوبه مو ډېر خوښیږي**
**بسم الله وایو هر کار چې مو پیل کیږي**
**ډېر له خدای شکر گزار یو**
**په ستایو یې گرفتار یو**
**رټ د خدای بندگانان یو**
**ورته تیر له مال او ځان یو**
**په خوږې پښتو گویان یو**
**اصل، اصل لغمانیان یو**
**دغه زما د ټبر حال دی**
**څلور ورونه د خدای مال دی**

**څلور کمکۍ لرم خورګانې**
**دې پر ما له ځانه ګرانې**
**د بریښنا یو انجینر یم**
**اوس له خپل کور نه بهریم**
**ښه خفه به مې پلار جان وې**
**په ژړا به مې مور جان وې**
**زه په پټه ترې وتلی**
**اوس ستا کټ خوا کې ناست غلی**
**ستا خوږې ژبې نه ځار شم**
**وایه ورور که دې پکار شم**
**زما خوښ هغه کسان وي**
**په زړه پاک په خوله ګویان وي**
**ته مې دین پر دنیا ورور یې**
**زما هرڅه یې زما نور یې**
**خوب په دې حالت ویده کړو**
**په کیسو ژړا ماړه کړو**
**چې سبا شوه رابیدار شوم**
**د لمانځه تلو ته تیار شوم**
**چې روان شوم له کوټې نه**
**هغه جیګ شوه بسترې نه**
**وی ورور که ستا سهاره**
**درته غواړمه قراره**

ښه ده گرانې زه ورځمه
څه شی غواړې چې راوړمه
نه نه هېڅ ته مې حاجت دی
صرف د یو شي ضرورت دی
دا پیسې در سره واخله
دوه د چیریس جوس پرې واله
پرېږده زه یې خورې راوړمه
زه له تا پیسې اخلمه
خدای دې نکړې چې وغواړم
وایه څه کې دې ونغاړم
زه چې بیا راغلم کوټې ته
یو مرداره وه ولاړه دروازې ته
زه هم ډېر ترې په لړزان شوم
یې بد شکل ته حیران شوم
وی اسرا په ځان پوهیږې
ډاکټران وی چې مړه کیږې
رالیږلي یې احوال و
لس زرگونه یې دیوال و
نه په ما کې دا توان شته
نه د گور کفن شیان شته
ورته ویل ما ای هوښیارې
ای شلیتې و مردارې

**ځوک ناروغ تــه داسـې وايي**
**ځوک دښمن داســې نه ستايي**
**ويلـي ته ځـوک يې ای ځوانه**
**ژبـه ور دراز زبانـه**
**دې کې ستا څـه ضرورت دی**
**څـه دې چــيغو ته حاجت دی**
**دروازې نـه را ايـلا يې**
**په لـومړې ځـل ور خـطا يې**
**دغـه زما خوارکـه خـور ده**
**گرانــه له هر څـه راتــه نور ده**
**سـمه ده چــې يـې ته وروره**
**تـه دوا کــړه ورتـه نوره**
**تـه پوهـيږې او سـتا خوره**
**ښـه ده ځم درنـه تـر کوره**
**خـو يو زر روپـۍ به را کړې**
**يا موټـر ته تيـل خــطا کړې**
**ما ويـل سـمه ده دا واخـله**
**خـو دوسـتۍ ځـينې لاس ماخله**
**خجالــت شولـه روانـه**
**راتـه واچـوه سلامـه**
**گــرځوه يې پـر ډاکټرانـو**
**د جـــهان پـر طبيبانــو**

**زما زړه چې هرڅه غواړي**
**چې دوا که هر څه غواړي**
**کړم خدمت به ورته ډېره**
**یم پښتون نه مې شته وېره**
**چې یو کس راغله تر څنګه**
**وی امداد غواړم په ننګه**
**ایجوکیټ راته ښکاري**
**دغه واخله جوړ تیار یې**
**دا رخصت رانه روان شو**
**وس سارا په سوال ګویان شو**
**حقیقت دی ته مې وروړ شوې**
**زه د خوړ شوم راته ته د سترګو تور شوې**
**کړم پوښتنه درنه ګرانه صفی جانه**
**وه رورجانه قدردانه په ماګرانه**
**دا خوارک زده کړیال چې دغلته راغلی**
**پیسې غواړې رنګ یې زیړ دی روح یې تللی**
**تاته څه یې ویل وروره دغه خواره**
**ویل یې درې زره روپۍ زما په کاره**
**تاته څه ده چې هرڅه ورته پکار دي**
**افغانان په بخت یمن په نصیب خوار دي**
**پریږده ته راته د هغه خبر الا کړه**
**اوس خبرې دې له ماځنې جدا کړه**

**سر دې تاو کړه په کمپله کې قراره**
**پريږده خپل کار به کوي هغه غم خواره**
**راته ويل يې زه به ښه سړی سازيږم**
**په خپل ملک کې به قوي ډاکټر جوړيږم**
**وی نه مې مور شته نه مې پلار شته نه مې کلی**
**نه مې دوست شته نه تربور شته نه ښاغلی**
**يو ورځ باد په دې دهليز باندې ګرځيږم**
**څه امداد له خلکو غواړم رخصتيږم**
**دا پيسې کړمه راټولې له خوارانو**
**وروسته ويشمه يې په لسو ډاکټرانو**
**چې د کټ پښغله يې ولېده روان شو**
**دروازه يې کړله کلک ګډ په دالان شو**
**ماهم خپل بستر کې ځان کړلو درازه**
**په ناروغ وجود مې سر کړلو خپل سازه**
**په سوچونو کې د دې غريب غم خوار شوم**
**وم ويده چې يو ساعت وروسته بيدار شوم**
**د کمپل لاندې ارام ومه زه غلی**
**نرس مې خوروي چې ډاکټر صاحب راغلی**
**يو سورج يو څو ټابليټ يې وليکل نوره**
**دلته دوه ورځې به يې ځې به تر کوره**
**نور روان رانه ډاکټر او دوه نرسان شو**
**د يو بل ناروغ ورتلو کوټې پرسان شو**

**دا خـوارکه اسرا خوب نه را بالا شوه**
**کـټ کې کـېناسته په سـوال باندې ګویا شوه**
**دا سکلـیټ، سکلـیټ چې ویل هغه ځوانه**
**دا سکلـیټ ګوره کوم شی دی او که حیوانه**
**چې هغـه خوار په ژړا کـې یادولو**
**ما نه سخت یې په غمونو کـې ستایلو**
**د سـکلیټ په بـاره ما کړه خبرداره**
**که مو وس وې تر ېنه خلاص کړو دغه خواره**
**دا خوارکه مې وه ټینـګه په خپل سواله**
**او د هـغه په اړه غوښـته یې احواله**
**دا سـکلیټ نه کوم پـیری دی نه انسانه**
**مګر زما وجود کې شـته هم ستا په ځانه**
**دغه بڼـه د انـسان چې درته ښـکاري**
**غیر له د نه د انـسان غوښـې بیـــکاري**
**دا هم ښـځې ذات کې وې هم په نـرانو**
**دا هـډوکې دې چې جــوړ د له بندانو**
**بې له غوښو د انسان وجود سـکلیټ دی**
**کوږ اوږ دی یو زره سو یې پـلیټ دی**
**دا هـسپتال ګـوره چې ډګ دی له مړ دانو**
**مرده خونـې ټولـي ډکي له موردانو**
**ډاکټرانـو په سلا مـړي خرڅیږي**
**میاشت کې سل مورده خانې ځینې ورکـېږي**

**په تیزابو کې یې واچوي قراره**
**غوښې لرې شي سکلیټ ترې شي تیاره**
**دا ترې اوباسي و غوښې د کبانو**
**دا د غلا بازار کې خرڅ کړې په خانانو**
**ځکه دا هډوکې چاته پکارېږي**
**دا د طب پوهنتونو ته ور رسېږي**
**هلته ګوتو شمار خانانو ته رسېږي**
**د غریب زوی نه ډاکټر کله جوړېږي؟**
**مصنوعي سکلیټ خرڅېږي په بازار کې**
**په زرګونو بیع ایښي وي قطار کې**
**څو ځله مو وی کوښښ وکړه قبرستان کې**
**د قبرو نه مړي وباسته په سان کې**
**په دې غلا کې مونږه شپه کې ګرفتار شو**
**د پولیسو لخوا موږ جیل کې تیار شو**
**دا کم بخت غریب یې کوم ځای کړې تیاره**
**په عذرونو ډاکټر صاحب ته وې دا خواره**
**نه د نه ! بلې ځواب ورکئ په جاره**
**ننه باسې دا بې وزله افغان خواره**
**دلته خیر پرې ټوله وې په اطاقانو**
**بیا پیسې ترېنه جمعې پر تشنابانو**
**بیا یې ورټي سبا راشه افغانه!**
**ورته وایي سر دې خلاص شولو پټانه**

**تا نه هم به بیا یو ښه پیډیاټریک جوړ شي**
**دغه وچ بډوډ د غوښو باندې موړ شي**
**یا به ته راځي له لوی اورتوپیدیکانو**
**په مجلس کې به موجود د ډاکټرانو**
**ما کیسه ورته کوه هغه حیرانه**
**خدایه بد انسان خراب وي له حیوانه**
**په ژړا کې یې دا اوښکې سرې کیدلې**
**چې په مخ باندې یې بهیدې غوښې یې تللې**
**راغله کېناسته زما څنگ کې بې دمه**
**داسې ښکارې راته وروره چې زه مرمه**
**د ځوانۍ عمر مې وخوړه لیوانو**
**باقي ژوند مې شو نصیب په چنگړیانو**
**مرگ خو حق دی چې راځې پر انسانو**
**نه چې ځان ته مرگی راوړي په تبرانو**
**دغه زما درته وصیت دی زما وروره**
**ته زما غمه دې لوټه ټپو ته گوره**
**دې دنیا باندې رښتینی خو مې رور یې**
**زما وصیت دې قبول نکړه زما پور یې**
**د قیامت په ورځ به زه درنه خفه یم**
**رب ته وایم به چې د ته ډېر غوسه یم**
**ورته ورکړې بې حسابه عذابونه**
**چې د خپلې خورکۍ و نیسي نذرونه**

**زه چې غواړمـه د خپل د ملک دوا شم**
**که په یوه یا نیمـه یې روپۍ ســودا شم**
**که په ژوند او که په مرگ یې هم پکار شم**
**زه له هرڅــه ورته تیر هم له روزگار شم**
**که ذره ، ذره په ساه مې وطن جوړ شي**
**زما په مــړي باندې نه د کفن خور شــي**
**د وطن بچی مې سختې نه ایسـار شـي**
**زما ځان زما وجود دې ترې نه ځار شـي**
**خدای دې پاک کړي زما وطن له مردارانو**
**له بې شـرمو بې تعـلیم ځـناورانو**
**ظالمـان دې ټـول له یو مخې تالا شي**
**ښځـې یې پاتــې د وطن په درد دوا شي**
**تــاړاک دې وشـي منافـقو په کهولـه**
**چې منلـی مې وگـړو دا اصولـه**
**بې غیرت انسـان دې نه وی له افغانـو**
**ربه ساز یې کړې که وې له ماشـومانو**
**ربـه تـه مې شي پرده پر دې جهانه**
**مـړی هـــم مې کړې په گټه د افغانه**
**غـږ یې لـږ، لـږ رابدل شو ویل وروره**
**ته زما دې بدبخـۍ ژونـدون ته گوره**
**کـوم کیسـه چې راتـه تا کړله بیانه**
**که زه مړه شوم داسـې وکـړه په داشانه**

**زما سکلیټ په لوړه وسپاره افغانته**
**امانت مې ځان سپارلی ستا وجدان ته**
**بې دمه شوه زما په غیږه کې قراره**
**په ورو، ورو یې وزن ډېر شلو بسیاره**
**چې مې غېږ کړه ورته پاسېږه خور جانې**
**نور خفه شوه غږ یې نکړ پر ما ګرانې**
**ځان یې وسپاره ښتن ته په ارامه**
**نه شوه بیا راته په خوږه ژبه ګویانه**
**هسپتال کې یې زه ورور شوم دا مې خوره**
**ډاکټران و نرسان راغلله په شوره**
**ما وویل چې دا مې خور ده اسراجانه**
**پس له مرګه یې په زړه و یو ارمانه**
**تاسو ټول زما خبره کې سلا کړئ**
**ټول ځانونه زما له څنګ ځینې جدا کړئ**
**چې زما اخره ورځ ده درنه څمه**
**زه ارمان د خپل خورکۍ پوره کومه**
**غېږ کې جیګه کړه په نرمه په قراره**
**په ورو ګامونو تللو فردوس خواره**
**د کالو سره مې ورو غونډې الا کړه**
**په تیزابو کې مې دا کانه رښتیا کړه**
**د پخوا غونډې مې هغه کار تکرار کړه**
**له تیزابو علیده مې سکلیټ کار کړه**

**چې هغه خوار راته لري نه عيان شو**
**زړه زما ورته له دې ځای په رپان شو**
**ورته غبږ مې کړه ژړا کې په قراره**
**ستا ارمان خو هم پوره کړمه دلداره**
**دغه واخله پښتنه ده دا دې خور ده!**
**په ما گرانه هم دې ترور ده هم دې مور ده!!!**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون د زردالو باغ کې د لويې جرگې خيمې شنې جالۍ ترسيرمه زما د مطالعې ځای کې**

**K.P.U Apricots Garden next to Lwya jarga tent sniper Fence in my Study place.on 1385/07/04 am 11:25.**

# رټ

ښــه ده چې دلتــه خدایه پیدا انسان کړمــه زه
د بېـدینو نـه لـرې روان عیان کړمه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه تـا شـرافت راکړلـو
د جـهالت نـه لـرې سوتره انســان کړمـه زه
ښـــه ده چې دلتــه خـدایه تا سـرفرازه کړمـه
د ثمر لرونکې ونې د بار په شان کړمـه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه تا کـړم د هـغه پېـرو
د هـغه ســتر پیغـمبر امتـي جان کـړمه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه د انسانیت پـر محـور
د سـرښندۍ لـپاره له سر او ځان کـړمه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه ستا نا خـوښۍ نه لـر شم
رټ به دې زړه کې ســاتم زړه مې ګـــویان کـــړمه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه څـوک رانه پــند او شړۍ
غـوسـه مې ساه مرۍ کړي روڼ مسلمان کړمه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه لـوړ دې هـمت کړه راته
شـمله ولاړه پـه سـر بنـده افـغان کړمـه زه
ښـــه ده چې دلتـــه خـدایه فـردوس مـــیراث د راکړلو
کـړم اوسیـدونکی دې زه د شـین لـغمان کړمه زه

**د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې شنې جالۍ ترسیرمه زما د مطالعې ځای کې 1385/09/25 pm 3:55.**

## ترانه

سترگې په لار دی وطن تاسو ته کوچنیانو
گلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

ټول له یوې مخ رابیدار شئ
تعلیم او زده کړې ته تیار شئ
نوم به اوچت مو شي نړۍ کې په ملکانو
گلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

سهار وختي خوب نه پاڅیږئ
بکسه مو واخلئ روانیږئ
ښه سبق زده کړئ ښوونځۍ له استاذانو
گلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

مور مو کباب شوه دا څو کاله
د سرو مرمیو له جنجاله
زخمي ، زخمي شوه په راکټ او په بمانو
گلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

د چا له لاس درته فریاد کړم
درته مې کوم یو بچی یاد کړم
ټولو بربنډه کړم په درستو ګاونډیانو
ګلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

په مور خو هر یو بچی ګران وي
تېر ورته هرڅه او جهان وي
مرګ يې نه غواړي که ټوټه شي په تبرانو
ګلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

نور له خپل بدو نه بيزار شئ
د دښمن مه منئ هوښيار شئ
تاسو لمسئ خپل مور عزت کړي بې خبرانو
ګلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

همیشه قیس ښوونکی وایي
فردوسه تا خلکو کې ستا يي
که مور خدمت کړو ټول راځوله جنتيانو
ګلونو ماشومانو په علم ځان سمبال کړئ

د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پنځم بلاک، لومړی پوړ، دوهمه کوټه. 1385/09/26 pm 5:10, E102 ,

# کاکی

خومره مهربانه ده کاکی زما
ډېره راته ګرانه ده کاکی زما
تل به يې جغات ته بدرګه کړمه
هڅه کې له ځانه ده کاکی زما
زما يې د ژوند لاره روښنايي ته کړه
دومره قدردانه ده کاکی زما
ډير تکليف يې تېر زما په روزنه کړه
دومره ښه انسانه ده کاکی زما
زه يې د ککي په شانتې ستر کړمه
پياوړې له هر چانه ده کاکی زما
زده کړه د همت يې راته و ښوده
غښتلې ده روښانه ده کاکی زما
زه فردوس به خومره يې تعريف کړمه
اوښتې له بيانه ده کاکی زما

پيښور، شمشتو، وچ نهر، نصرت مېنه، الف ساحه، دکور نمبريوسلو پېنځه وېشت، د ګسټ لورې ځلورم کور
**peshawer, shamshatu, wach neer, Nasrat Menah, Section A, at 11 Street, House No-125 Lift side No.4**

## ازانگـي

چې ملگـرې جــوړه ستا شي
ستا طبيعـت به بيـا هوسا شي

په خپل گوډ خره يې سـپره کړه
هـسې نه درنـه پـــه شـا شي

ښکتـه پورتـه تـرې تا ويړه
چې د سـتا نشـي د چا شي؟

خپلــه خــور او مور دې پريږده
چې ماندينـه دې پـــخلا شي

کـه رښـتيا، رښـتيا شـــروع کړم
خو ستا خولـه ناجــوړه بيا شي

چې يو څـــوک نـوی شی وينـي
شـــي گـډوډ وار يـې خطا شي

کاشـکې مخکـــې دې لـيدی وی
ازانگـي دي وس سـيوا شي

چې زويکـی ځان لـره ستر کړي
هســـې نـه ورتــه بلا شي!؟

**یوځلي موسم بدل شي**
**کیسه داسې نشي دا شي**

**وی ټول ولس مې صفت کاندې**
**زما کیسه د سپینې غوا شي**

**ټوله ورځ درته غړومبېږي**
**وی سرکوزی یوځل را شي**

**بخت د پلار به یې وې هله**
**چې یې غوږ زما خوله کې راشي**

**دا زوی مړی به بیا پوی شي**
**چې د غوږ پوست یې جلا شي**

**نور به اوتې بوتې پرېږدو**
**ترې کیسه نور د جولا شي**

**تنها زه پرې ښه پو هیږم**
**چې جانان ورته سنډا شي**

**د حبیبي لیسې څنگ ته، ایوب خان مینه دوهمه کوڅه د 'جې.ایس' د فتر**
**Ayub Khan Mena, Second street ,GS Office, Next to Habibah high school 08/febr/2008 Am 10:53**

## ټمبونی

**پښتونـه ستا پوهول دومـره ګران دي**
**لکه ريکشـا کې چې څوک اوښ کېښنوي**

**پښـتو کول پښـتوويل پښـتومنل دي څکه**
**پښـتو کالـبوت هم په خلـوص کېښنوي**

**سويکو ښکار دې ترې نه نه غواړي نور**
**څـوک چې پـه لاس باندې ټپوس کېښنوي**

**محضې خـپل ځان غلطی ښه هوښيار دي**
**د دښمن کور کې څـوک طاؤس کېښنوي**

**د ټهمتونو هار ټمبونی په خپل تن ګرځوي**
**فردوس پـردی دی يار يې اوس کېښنوي**

**ابتيک، بخارا ازبېکـېستان**
**Uzbekistan Bokhara Provence Obtec**

**یا په زده کړه کې جهان ځان له اسیر کړه**
**یا خو تخت د سلیمان ځان له تدمیر کړه**
**بسم الله باندې خپل هر یو کار شروع کړه**
**ستا وچه بیړۍ به هېڅوک نه درګیر کړه**

## جنون

**عشقه نوم دې څه اسان دی عجیبه**
**چې په پیل کې دی زما زیان دی عجیبه**

**زه دې دومره کړمه ولې ناتوانه**
**ستاسې څه رنګې توان دی عجیبه**

**په کراتو که توبې کړم نه سازیږم**
**ستا لحظه ، لحظه تراڼ دی عجیبه**

**زه یې زړه انګړ ته راولم قرارشه**
**دا نامرد لکه څپان دی عجیبه**

**ما نه کوم یو په څڅلو کې مخکې نه و**
**تا له سر زما جنبان دی عجیبه**

**ای ژوندونه لالهنده داسې ښه یې**
**نا رضاء درنه خپل ځان دی عجیبه**

**ربــه ځــه وکړمــه مانــه زوروردی**
**دا زوی مــړی ځــومره گــران دی عجیبــه**

**ربــه ته مې فردوســیانو کې حساب کړې**
**زما دوزخ تــه تلــو امــکان دی عجیبــه**

**زه که ښــه خانــه خــراب شــومه ناځوانــه**
**کــړم دعــاوې خــدای مــنان دی عجیبــه**

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، دهم پوړ،**
**دیارلسمه کوټه A213 ,1386/04/08 pm 05:00**

## اه ؟؟

**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**وینم په اور باندې سوزېږې کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**وسه مې نشته څکه څم تر چرګۍ یمه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**ستا مختورن ګاونډیان مړه شه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**اوبه بانه کړي جام د زهرو درکوینه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**زه به چمبېل ګلونـه کښـت کړم کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**هره نوده به یې په اوښـکو اوبه کړمه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځینـې ګــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**شـپې په شـیبو شـیبو کـړم تېرې کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**چې ارامۍ ساعـت پر تا کله راځـینه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځینـې ګــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**چې درتـه سمـه توجـو کـړم کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**هریو ځوسیس مې له چړې نه تېره وینه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځینـې ګــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**اذان ښادې بانـدې ولاړوم کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ټولو پښتوکې د بچو ویورنـه وه نـه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما تـه لـه ځانــه ځینـې گــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**ما د هیلمنـد سیند ته کتلـې کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**په خاموشۍ کې مـو له څنگه تېریده نه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما تـه لـه ځانــه ځینـې گــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**پریـــږده چې مـــړ دلتـه بهیږم کنه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**په وینو رنگ مـې گاونډیانو کـره څمه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**
**ما تـه لـه ځانــه ځینـې گــرانه کنـه**
**وایم و افغانسـتانه کنـه**

**واړه د ستر ګوزڼو له لاسه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**راته په زړه کې یې د وینو ځلیر کړه نه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**سورسمندر منځ کې روان یم کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**بې نومه ځاځکی کجکي وکړمه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**هر بچی خپل مور ته نارې کړي کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**د کجکي سیند نه د وینو بوی راځینه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې ګرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**ستا د د فاع بچي يې حـلال کړه کنه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**چې کال کلو پورې يې اوبه په وينو شينه کنــه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځينـې گــرانه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**

**ولې به نـه ژاړم مـورجانې کنه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**ځنکي يې رنگ په رنگ لـه تېغه تېروه نه کنــه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځينـې گــرانه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**

**ستا د بچـو ســرونه يې پـرې کړه کنه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**گلـدان تحفـه يې پنجابي ته ورکوينه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځينـې گــرانه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**

**پریږده چې ښې بلا وکاندې کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**نادان بچي دې د دښمن په لمسون دینه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې گرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**ځان سره تل په ژړا ژاړم کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**د یهودي لمسی د دین ټیکه دارشونه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې گرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**خدایه اسلام دښمن برباد کړي کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**چې په هررنگ جامه کې وي هلال دي شینه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**
**ما ته له ځانه ځینې گرانه کنه**
**وایم و افغانستانه کنه**

**ټول د فـردوس ټيکه داران شــو کنه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**جـوړ ټيکټونه يې په رڼا ورځي پلورينه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**
**ما ته لـه ځانــه ځينـې گــرانه کنـه**
**وايم و افغانسـتانه کنـه**

**د ازان غونډۍ په سر، د سنگين ولسوالۍ، هېلمند**
**Roshan BTS site HLM010, 18/ 01/ 2007 , pm 3:00**

## فیلان او بنګله دیشیان

کړم کیسه درته بې حق او حقدارانو
دوه ټولي و د انسان او حیوانانو

دواړه یوځای په بنګال کې اوسیدله
یو د یو په درد په سخته کې راتلله

انسانان په خټه ټول بنګله دیشیان و
حیوانان واړه د دې سیمې هاتیان و

دواړو یوځای په خوښۍ تېروه ژونده
اوس شو پاتې انسانانو لره پنده

په سوونو کاله یو دبل خد مت کړه
ټولو یوځای به همیش داسې محنت کړه

که حملې به کړې انسان باندې پړانګانو
دفاع کړله به همېش ترینه فیلانو

د فیلانو د انسان مینه شوه ډېره
ناست انسان به وه د فیل په شاه بر سیره

فیل له ډیرې خوشحالۍ کړل اوازونه
خورول به یې خرطوم و سر غوړونه

**یــوه ورځ بنګله دیشیان تــوریان مقــبوله**
**سوچ او فکـر د ځنګلـه شــولو مشغوله**

**که ځنګلـه ساحـه کـړو تنګه په فـیلانو**
**پـه هوسا ژونـدون به شـي دانسانانو**

**ډېر خوشـحاله شـو به لرې غـم راتلـه شو**
**کوځــې پریـږدو اوســیدونکي د ځنګلـه شو**

**ځانتـه جوړبـه کـړو اوبږده اوږده کورونـه**
**ځمکـه شـي بــه زمونږ سوونه جریبونـه**

**سـمدسـتي یې خـوب حـرام کړه په فـیلانو**
**سـرګردان یې کـړې و ورځـې د بـچیانو**

**له ځنګلـه ځــخه کـوچ وکړلــو فیلانو**
**ځالــه ورکـه شـوه خاموشـو حیوانانو**

**له فیلانــو ځینــې ورکـــه شــوله لاره**
**له خـپل کـور او له ځنګلـه شـوله بیزاره**

**د بنګال خلکـو تریخ کـړی یې ژوندون و**
**په ځنګلـه کې یې وچ کـړی یې لـړمون و**

**ســم و غـر ځـنګل یې اور کړه په فیلانو**
**چا لیـدی نشـو ټولـی بــه د هاتیانو**

**د سهاره تر ماښام یې داړل کړل**
**د فیلانو وبچیانو یې وژل کړل**

**داسې څو ورځې کړې تېرې په ظلمونو**
**گرځېدل پر لویو غرونو ځنگلونو**

**له مستیونه هریو وهل ټوپونه**
**د فیلانو نه مو مات کړه ورمیږونه**

**که هر څو یې ځان له موږ ښخه پردی دی**
**که حیوان دی ژبه نه لري گونگی دی**

**خو د الله له غوسې هم وېره پکار ده**
**یوه ورځ د ټولو خلکو گور ته لارده**

**دا توریان گورې چې څومره ظالمان دي**
**ټول هاتیا نو ته قاتل و جلادان دي**

**نه زړه سوی لري نامرده نه څوربړي**
**نه له خدای او نه له عذاب ښخه ویربږي**

**نوره ختمه یې زمونږه حوصله کړه**
**کړله هسکه یې پر مونږ یې دب دبه کړه**

**کړله ختمه یې زمونږ د ژوند کیسه کړه**
**کړه لبریزه یې زمونږ اوښکو کاسه کړه**

**سمدستي يې کړه حمله په بنګاليانو**
**غم يې ګډ کړه په کورو د ظالمانو**

**مرګ يې ګډ کړه په کلو د توريانو**
**مخ يې نه کاته زړو و ماشومانو**

**د توريانو ټول کورنه يې ويجاړ کړل**
**لوټې، لوټې کړلو خاورو ته تيار کړل**

**کرنيزه حاصلات يې ټول تالا کړل**
**يې غوبل کړه څه چې وو هغه يې دا کړل**

**بنګاليانو ټولې هسې شوې ناکامه**
**کامياب نشو چې هر څه ورته له پامه**

**د ترومپيټ غږول او پټا کيانو**
**تاثيرنکړو په شړلو د فيلانو**

**څوک ترې خلاص نشو له ناستې له ولاړې**
**هغه دم يې ځان وحشي کړه کړې رمباړې**

**واړه وتښتيدل پرې ښوده کورونه**
**کنه مات به يې شي پښتۍ ورمېږ ستونه**

**واړو پورته کړل اوبو طرف ګامونه**
**رېږديدل يې لاس وربوز غوږونه**

**ټول هېواد سهيل لويديځ طرف گامونه**
**چې ډله يزه ورله هغه دم فيلان شو**

**د رتگامټي په سيند کې واخيستې پناه وې**
**د ظالم انجام اخره کې سم تنها وې**

**هره شپه به پرې فيلانو کړل بريدونه**
**که اوبو ځينې وتی پرې وه تاړاکونه**

**خو د ورځې رڼا وخت کې به بهر شو**
**د اړتيا خواړه په لاس که برابر شو**

**نور له اوبو نه وتی نشو ډېر له ډاره**
**د مستانو د فيلانو له تاتاره**

**را وتلی توريان نشو له اوبونه**
**چې ځوړند نه کړي فيلان يې له کلمونه**

**ټولې شپې بی تېره وې اوبو کې له ډاره**
**چې فيلان پرې حمله وه نه کړي له واره**

**په اوبو کې په لرگو ناست بنگاليان و**
**نر او ښځه غټ واړه که ماشومان و**

**له اوبو نه يوگړی وتلی نشي**
**نه و کډې له اوبو ويستلی نشي**

**کنه هغه دم د مـرګ په تخت ویده شـي**
**کـه یې یوه دقیقـه له اوبـو څخه واته شـي**

**ټولـه شـپه په کلیو برید کاوه فیلانو**
**اوسـیدونکو پـر کورونـو او کـیږدیانو**

**شـور ماشـور یې جوړ پرې کړه دې ته اړباسي**
**چې کورونـه خـپل ځنګلـه ځینې اوباسي**

**شـرم نه کـړي زمونږ په سـیمه کې اوسیږي**
**درغـلان دي اوس ورېـږي به تښـتیږي**

**انسـانان زمونږ په طبعـي ځایو یرغـل کړي**
**لـږه پاتـې چې زمونږ ځای د ځمکې تـل کړي**

**که ځـنګل هرڅـومره اوږد دی نـور ختمیږي**
**دوی زمونـږ ځایونـه نیسـي مخکیږي**

**الله مخکـې څـومره ښـکلي انسانان و**
**خپل روزګار به یې کـاوه ځـنګ کې فـیلان و**

**الله اوس څنګـه بدبختـه دا کسـان شـو**
**په نصـیب په بخـت پمـن دا مختـوران شـو**

**نه په ځمکـه نه جایداد بانـدې مړیږي**
**چـې هر څومره بـخل کـړي هومره کړیږي**

بنګالـه کې چې هــر کالې شـل مړه کېږي
د فیلانـو له خـوا خـلک وژل کېږي

نه شــرمېږي نه پــوهېږي نه رســېږي
ظالمـان دي نامــردان دي مـردارېږي

خپل ژونـدون را جـوړوي د بـل تـالا کړي
چې په خـپل ډېـران چـرګوړي نیسي دا کړي

درسـت د حـال زمانــې واړه مالکان دي
مـلایان دي یا پــیـران دي یا مشــران دي

ښـه پوهـېږي نه فردوسه پرې خفه شي
چې بې دینـه ټـول په ځمکـه کې تخته شي

زمونږ مشــرانو راتـه داسـې و ویلي
انسـانانو مونـږ تـه داسـې فرمایلي

نـن که و وهـې د هر چـا ور په نـوک
سـبا ســتا ور خامـخا وهي په سـوک

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې
شنې جالۍ ترسیرمه زما د مطالعې ځای کې

**Kabul, K.P.U Apricots Garden next to Lwya jarga tent sniper**

**Fence in my Study place. On 1385/05/17 am 12:11**

## ناوې

بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشې يه
ناوې جوړوې يې ناوې
د لالې ځنګ ته په رو رو يې راولې يه
ناوې جوړوې يې ناوې

ناوې د ستا خاطر لپاره
ناوې جوړ وې يې ناوې
د هر يو بڼ بوټې د ونسې ګلونه
ناوې جوړوې يې ناوې
بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشې يه
ناوې جوړوې يې ناوې
د لالې ځنګ ته په رو رو يې راولې يه
ناوې جوړوې يې ناوې

ناوې لالې د لاس نه نيسه
ناوې جوړ وې يې ناوې
چې ننواتې ستا د زړه کور ته درځينه
ناوې جوړوې يې ناوې
بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشې يه
ناوې جوړوې يې ناوې

**د لالــي څنگ تـه پـه رو رو يې راولـې يـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**

**ناوې لالي ســره جوړه شــه**
**نــاوې جــوړ وې يې نــاوې**
**چې سپيلني لوگـی کـوي نظـر نه شينه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**
**بســم الله وايئ پــرې گلـونه و پاشـې يـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**
**د لالــي څنگ تـه پـه رو رو يې راولـې يـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**

**نـاوې رو، رو قـدم اخلـه**
**نــاوې جــوړ وې يې نــاوې**
**د ولـس پيغلـې پــه قطــار درسره ځينـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**
**بســم الله وايئ پــرې گلـونه و پاشـې يـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**
**د لالــي څنگ تـه پـه رو رو يې راولـې يـه**
**نــاوې جــوړوې يــې ناوې**

پیغلو نمبر بانـدې یې ښکل کړئ
نــاوې جــوړ وې یې نــاوې
د پیغمــبر امتــې ډېره نازویه
نــاوې جــوړوې یې ناوې
بســم الله وایئ پــرې ګلـونه وپاشـې یـه
نــاوې جــوړوې یې ناوې
د لالــي ځـنګ تـه پـه رو رو یې راولـې یـه
نــاوې جــوړوې یې ناوې

پیغالو په خپل مـنځ کې اخـته شئ
نــاوې جــوړ وې یې نــاوې
کـړې دینـدکونه چــې ملګرې ودوې یه
نــاوې جــوړوې یې ناوې
بســم الله وایئ پــرې ګلـونه و پاشـې یـه
نــاوې جــوړوې یې ناوې
د لالــي ځـنګ تـه پـه رو رو یې راولـې یـه
نــاوې جــوړوې یې ناوې

ناوې دنیا درلــه فردوس شه
نــاوې جــوړ وې یې نــاوې
مــوږ د الله نـه درتـه دا دعـاء کونــه

نــاوې جــوړوی یې ناوې
بســم الله وایئ پــرې ګلونه و پاشـې یـه
نــاوې جــوړوی یې ناوې
د لالــي ځـنګ تـه پـه رو رو یې راولـې یـه
نــاوې جــوړوی یې ناوې

ناوې ښایسته یې زمونږ په زړه یې
نــاوې جــوړ وی یې نــاوې
ژړا، ژړا کـې هسې مونـږ ژړا کوینـه
نــاوې جــوړوی یې ناوې
بســم الله وایئ پــرې ګلونه و پاشـې یـه
نــاوې جــوړوی یې ناوې
د لالــي ځـنګ تـه پـه رو رو یې راولـې یـه
نــاوې جــوړوی یې ناوې

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې شنې جالۍ ترسیرمه زما د مطالعې ځای کې

**Kabul, K.P.U Apricots Garden next to Lwya jarga tent sniper Fence in my Study place. On 1385 / 05 / 23 am 4:00**

# بنـده گي

یا کافـي او یا شافـي دا زما ځان دا زنــده گي
ټولـه قــربان مې کړم له یاره اوس دسـتي

له یــاره مې هـو له عشـق مې هو
قســم چې هـو بربــاد کـړم هو
بنا له یاره یوګـړی کــه مې خوشـحاله تېره شي
یا کافـي او یا شافـي دا زما ځان دا زنــده گي
ټولـه قــربان مې کړم له یاره وس دسـتي

له مــری هـو له روحـه هو
له ژونــده هـو له مالــه هو
په زوره وایـم خــدایږو سـتا پـه بنده گي
یا کافـي او یا شافـي دا زما ځان دا زنــده گي
ټولـه قــربان مې کړم له یاره وس دسـتي

**له پلاره هو له موره هو**
**لــه روره هو له خوره هو**
**تـرې تېر يـم خـدای چې خـدای راستي**
**يا کافـي او يا شافـي دا زما ځان دا زنـــده گي**
**ټولـه قـــربان مې کړم له ياره وس دسـتي**

**له مرگـه هـو له قـبره هو**
**له فـردوس هـو له جـيهون هو**
**کــه ســر مې تــيږو لانــدې ږدي**
**يا کافـي او يا شافـي دا زما ځان دا زنـده گي**
**ټولـه قـــربان مې کړم له ياره وس دسـتي**

**د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، دريم بلاک، لومړی پوړ، دويمه کوټه**
**1385/ 09/15 am 7:00, C102 ,**

## مشتري وايي

په نیم پوره ته نه پوهیږې
غل دوکاندار يې نه سړی کیږې
ګریوان مې خوشي کړه راته وایه
دا کار ده شرم ته نه شرمیږې

## هټیوال وايي

دغه سودا په سل روپۍ ده
ته راته وائې چې شل روپۍ ده
د ښار قانون نه يې بې خبره
هسې خبره دې شپږشل روپۍ ده

## مل وايي

مشره سودا کې ته ښه ښکارېږې
تلې انصاف کړه جنتي کیږې
یو شی د یو يي په دوې يې وائې
ځکه خونس باندې هېڅ ته نه مړیږې

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون جامع مسجد منار څنګ ته زما د مطالعې ځای کې 1385/05/05 pm 6:55, Kabul,

K.P.U , Jame Masjed next to Alarm Tower in my Study place.

## اینگور وايي

نامر دې خواښې زه سپیلنۍ شوم
ستا له امرو نه روغ لیونۍ شوم
آخر ځل وایم ځان دې سړی کړه
په خداي که زه هم درله سړی شوم

## خواښې وايي

پخې هر کار دې په ریشخندۍ کړې
خواص خصلت دې قومندانۍ کړې
په توره پیاوه هم نه پوهیږې
خو ناز نخرې د بډیالۍ کړې

## زه وايم

مورې نادانه ده نه پوهیږي
پرونۍ ناوې ده نن بیلیږي
خیر یې دی زما خاطر خو وکړه
طلا نقرې نه نه جوړیږي

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون جامع مسجد منار څنگ ته زما د مطالعې ځای کې 1385/05/05 pm 6:35, Kabul,**

**K.P.U , Jame Masjed next to Alarm Tower in my Study place.**

## اوښکه

څومره ښکلې مې جانان دی لکه اوښکه
نیم پوخته غونډې یې ځان دی لکه اوښکه

لکه اوښکه صاف سوتره د له هر شینه
بې ګناه معصوم انسان دی لکه اوښکه

د پخې انګور شنګلې په شانتې ښکاري
داسې ، داسې مې جانان دی لکه اوښکه

هره سترګه یې ګرېي په شانتې ښکاري
کې ځینګر، ځینګر مژګان دی لکه اوښکه

یار ته حق وایمه اوښکې ترې روانې
کې حلقه، حلقه جشمان دی لکه اوښکه

دا د عمر په غمو کې درسره وي
بې اختیار درنه روان دی لکه اوښکه

د ساحل غونډې یې غیږ راته پرانستې
دا کم بخت ورله څپان دی لکه اوښکه

زه کــه لوټــه دریــاب منـځ ته نه رسـېږم
خــپل جغـات را له ټوکان دی لکـه اوښکه

د دنیـا غــمونو ډېـر کــړم لا لهنــده
دې یــار غــم را له ځــپاڼ دی لکـه اوښکه

چې فــرهاد غونــدې یې غــر راتــه ښودلــی
چا وې سـر زمـا جنبـان دی لکـه اوښکه

ابراهــیم غونـــدې مـې اور تــه وی دانګلی
چـې ابـک را له تـرخان دی لکـه اوښکه

د ایـوب غونـدې هـډو چینـجو خــوړلی
یې لحظــه ، لحظـه تـراڼ دی لکـه اوښکه

هغـــه د زړه غوښـې ورکــۍ او دا یې نه خـوري
د محــبوب پـــرې امتــحان دی لکـه اوښکه

دم پــه دم ادم بـې بـې تــه داسې ویل
د ځـښتن زرغــون بوسـتان دی لکـه اوښکه

**کــړه له سـهوې د غــنم دانـه کـړه تېره**
**هـم پـه کـړو بیـا پښـیمان دی لکـه اوښکه**

**د الله قانـون کـې داسـې نه چــلېږي**
**نــور يې ځـای پـه بیـابان دی لکـه اوښکه**

**یـو له بلـه يې جـلا کـړه ځان خـبر کړه**
**علیـحـده یــې هـم مـکان دی لکـه اوښکه**

**چـې يې خپلـه رضاء کـړه انجــام يې وينې**
**رخصـت شـوي له اسـمان دی لکـه اوښکه**

**پـه سـوونو کالـه لـرې یـو له بل وه**
**یـو د بـل دیـدن ارمـان دی لکـه اوښکه**

**پـه خـپو لوخـو دا ځــنگل هغه صـحرا کې**
**يې ټـول عـمر سـرگردان دی لکـه اوښکه**

**پـه آخــر کې الله یـو کـړه څه فاعده شوه**
**باقــي ژونـد یی پـه جـهان دی لکـه اوښکه**

که تـقدیر کې مـو الله نصـیب لیکلـی
زما ســتا کـیدو امــکان دی لکـه اوښکه

یـوه بلـه لار تقدیر بدلیـدو دا ده
کـړه دعـا وې خـدای مـنان دی لکـه اوښکه

زه فـردوس که در تـه څــه او څنگــه ښـکارم
دا خـلص زمـا بیــان دی لکـه اوښکه

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ،**
**دویمه کوټه 1385/ 05/ 14 am 01:55,E102**

# منلی

نورو ته بد ما ته منلی ښکاري
ابوالمصعب راته ګڼلی ښکاري

هر يو اشنا مې القاعده کې راته
کولمه يې ما پورې ټمبلی ښکاري

تا چې له شاه نه ډبولو بوشه
هغه لالی دې نن رټلی ښکاري

زما د نوره حوصله کړه ختمه
احمقه زور مې ببخ ختلی ښکاري

زما او ستا فرق ګورئ دغلته دی
تې بلواګر ما ته سپيڅلی ښکاري

هغه چې دنګو، دنګو غرو کې وسي
هغه سړی هم اوس راغلی ښکاري

« جانانه » خوله دې نوره بنده کړه ته
د سوبل سپی دی کړيدلی ښکاري

پريږده چې ښه يې خميره کړي ورته
دا د زمرو په خونې تللی ښکاري

کابل، د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ،
دوېمه کوټه E102، 06:03 pm 1385/ 04/ 12

## قضـاوت

سمه ده چې واړه یـاران ډېـر ښـه دي
لــړو نه د ډېرو دوســتان ډېر ښـه دي

دې کــې مـلا سـتا څـه فیصله ده پـرې!؟
هلته کې له حورو غلمــان ډېـر ښـه دي!؟

ښـه ده چـې پـه دې کې سـره یو شـولو
انجونو ځنې ښکلي ځنکیــان ډېـر ښـه دي

نــن به قضــاوت درسـره وکـوم
خدای شته د لغمان شاعـران ډېر ښـه دي

زه فــردوس به څه، څه درتــه وایمــه
دلته کې مې واړه مشـران ډېــر ښـه دي

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون جامع مسجد منار څنګ ته زما د مطالعې ځای کې.

**Kabul, K.P.U , Jame Masjed next to Alarm Tower in my Study place.on 1385 / 04/ 24, pm 8:30**

# ښایست

واړه ادم زاد دي څــوک ښایسـت څوک نه لري ښایست
نه وهـي ملنـډې چې څــوک څه رنګې لري ښایست

تاسـو د هرچـا د زړه په طبعې کې څـــه کار لرئ
یا به وطنـــی یا به خوښـی څوک خـارجي ښایست

څه مو مُنتهـــا ده چــې کولمې مو ورته غوټې دي
ځـــینې امریکائی او ځـینې خـوش ګمي روسي ښایست

همیش مو نفرتونـه له نیکـه ځـینې درپاتې دي
خـپله خو بدرنګـه خو، ښایست مو بـــد رنګي ښایست

پلانکـی ګـز متـر دې واخلـه ګـزوه یې اوس
نامـه دې بډیالـی ده خو تشـه یې پړوسکي ښایست

سـپینې پنـډی تورې سترګې او تور ویښـتان په تله کړه
تا له خـو دې درونـد پیشـو پړانګـــي ښایست

غـر د کوهې قاف ګـورې زمونږ کلي ترخنګه دی
ټـول ښایسـت، ښایسـت دی ښاپیـري ښایست

**زمونږ ښایســـت که تاسو چـیرته ویښه باندې ولیده**
**زړې بم بیا دعا کـړي خـدایه راکړې پیکنګي ښایست**

**دوه، دوه تـاره شونـډې مو پر مخ دي غــرورنه کوو**
**نــازک بـدن نـرۍ مـلا مو زري ښایست**

**هرڅـه راتــه وایې زه فردوس چاته څه نه وایم**
**خـیر دی کـه لـرم زه چـینائي ښایست**

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ، دوېمه کوټه .E102 ,pm 02:33 , 31 / 02 / 1385**

## مېنه

ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی
د شنو پټو منځ کې ایسار دی

لري ښایسته، ښایسته باغونه
ونو ځنګل، ښاخونه
چینې لري لوښ يې سرونه
هر يو مين زړه له قرار دی
ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی
د شنو پټو منځ کې ایسار دی

پکې سپيره او زرغون ډا ګونه
واړه او لوی اوږده خوړونه
کندې او کفرې کمرونه
زيږګي لرونکي يې ده درکار دی
ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی
د شنو پټو منځ کې ایسار دی

**له اوبو ډک ښکلي سيندونه**
**له رنګه شنه ښکلي ډنډونه**
**ځنګ له يې سرک ترې پاس کورونه**
**هريو ماښام پکې سهار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**وي محفلونه يې هلکانو**
**ميلې پرګو چارماغ توتانو**
**هم د لوکاټ بادرنګ بهانو**
**په خوشحالۍ هر کس دوچار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**پکې ديرې د ملنګانو**
**د زيارت ځنګ کې د نيکانو**
**ځنګ له وي ناست د چلمانو**
**لنګر يې جوړ په سماوار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**پکې حلقې د چړلنډيانو**
**چغشکې وي د طالبانو**
**هم وي ختمونه يې ملايانو**
**واړه ولس پکې ديندار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**هم پکې ډلې د ښکاريانو**
**نارې وهي په قذلاقانو**
**لاس کې وي لومې د مرغانو**
**خوندونه اخلي ځکه دې کې برخوردار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**هلته څڼې دي د کوچيانو**
**دي غرو لمنې د ګوجرانو**
**درزنی سيمې يې پشيانو**
**باد لړيدو کې يې سخه هار دی**
**ښار د لغمان څه ښکلی ښار دی**
**د شنو پټو منځ کې ايسار دی**

**ښکلې ويالــې يو تيـر پولونـه**
**د نـورلام سنـګره رودونـه**
**د هــرې سيمــې ګـودرونـه**
**تړانګـه شـنه د اليشـنګ او اليـنګار دی**
**ښـار د لغمـان څه ښکلـی ښــار دی**
**د شـنو پـټو منــځ کې ايسـار دی**

**فـردوس تعريـف کړي عالـمانو**
**هـم د سـرکار د افســرانو**
**د ټولــو پيغلـو او ځـوانانو**
**د هــر پـردېس يې دا اقـرار دی**
**ښـار د لغمـان څه ښکلـی ښــار دی**
**د شـنو پـټو منــځ کې ايسـار دی**

**کابل، د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ،**
**دوېمه کوټه .E214 ,pm 10:30 , 09 / 02 / 1385**

# نیمکۍ

په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

خولګۍ ورڅه خلک پوهیږي
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
سینه، سینه باندې مې مه کاوه خوبونه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

سترګې مې سترګوته نږدې کړه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
بیا مې ښنګلو ځینې واړوه لاسونه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

**شونډې مې غاښ بانـدې سورۍ کړه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**چې ځپلــه ژبـه بانـدې خپلي وینې ځکمه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په ســرو منګولـو مې بستــه کـــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**ملګـرې ما دې ببـړۍ وان کړه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**د اکلیاټوریس نوکـې لانـدې، لانـدې ځمه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په ســرو منګولـو مې بستــه کـــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**خولګـۍ ورځــه خلک پوهـېږي**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**ورځ کې پېنځـه ځلـه به زه غُسـل کومه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په ســرو منګولـو مې بستــه کـــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**جانانــه ښـځو کې زه نر شوم**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**د هـر شـروار ننه توزي زه ورته کومه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په سـرو منګولـو مې بستــه کــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**په خپلـې ژمنـې ټینــګار وکړه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**ولـس جرګـې به ننه واتـي درلـیږمه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په سـرو منګولـو مې بستــه کــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**ربـه له غیبـو مې ثـواب کړې**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**هغـې دنیـا کې مجـردانو د صف شومه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په سـرو منګولـو مې بستــه کــړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**ربه هغې دنیا مې خیر کړې**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**بې پته یار مې د یهودو نوکر کړمه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**فردوسه ځان سره مې ځان کړه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**زما ټټر کې جوړ د وینو ځلیر شونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**
**په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه**
**بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه**

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ،**
**دوېمه کوټه .E214 ,04:40 pm , 08 / 01 / 1385**

## باران

**باران ژرکـړه لـږ په بیړه راغورځېږه پرموږ، راوریږه پرموږ**
**زما د زړه په بـڼ ځینګر، ځینګر کوزیږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**بارانه زرشه زما د زړه کوځـې ویجاړې دي**
**سخـتو دردونو نم په زړه پلـی ولاړې دي**
**زموږ د زړه جوګر ته ځاځکی ځاځکی کېږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**بارانه زمونږ کلي نه ښکلـو کـډې لاړې دي**
**ځلی ځولـی راتـه د کلي کوځې لارې دي**
**ځوترځو ته راته د سترګو ځځځکی کېږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**بارانه تاتـه مې د اوښـکو څنځوونکی وښیم**
**درنــو دردونـو څـغونځـونکی وښیم**
**بیا د ځځبېکي تـور زما ځوسیس جــوړیږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**راته غوړغوړ کړه وریځې بیا راته روانې کړه**
**کړه الماسـک شاوخواته سپینې رڼا ګانې کړه**
**زموږ چغشکـی کې اړک په اړک تاویــږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**څه نا څه ته مې د څوکړ نه ځنګزان کړه ته**
**ځمځه څوګـیر مې د ځـدران کړه ته**
**ځـورله څورلیځـی ځمغېلـی کېږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**راته بارانه ځمغېلي، ځمغېلـي ژر وښایه**
**راته ځلېږ باندې ځـځـوبکي هله ژر وښایه**
**څه او څه فردوس شانتې ځځلو راځـر بولیږه پرموږ، راوریږه پرموږ**

**کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پېنځم بلاک، دوېم پوړ،**
**ځوارلسمه کوټه E214 , 5:20 pm 06 / 01 / 1385**

# مایوسه

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونــی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنــه ټوله ورځ درکــې ژړیږمه**
**عصاب مې ټول خراب شو نور په ژوند کې نه جوړیږمه**
**وسومه لمبــه شومه نابـود د غمخواران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونــی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**زه له هر وګـړي هر یو کس ځینــې ویریږمه**
**ټـوله ورځ په وېـره کې په دا رنګــې کړیږمه**
**هـلاک دې ټـول دوه مخي سـر داران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونــی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ما ویل تل به دې خدمت کوم**
**ځلوریشت ساعته کار کړم په انجام یې خجالت کوم**
**یوه دې هېڅ دوه کېږي نه مایوسه دې مشران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**د نورو ملکو خلک څه خوندونه او مزې کوي**
**ګرځي شپه او ورځي نندارې کوي**
**ړنګ بنګ دې د ظلم تعمیران شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**هلته کې کوترې تل په شګو کې لوبېږي**
**د لمر وړانګې یې په سر او خپو لړیږي**
**ورک دې ستا جیجکې چل بازان شه ستا**

**ځه ورک شې وطنه ورک د دوست او دښمنان شه ستا**
**زه دې لیونی کړم ورک د ترونه تربوران شه ستا**

**چې هر وختې را لـه خـار کـړي**
**نصیحـت پـه هـر ګفتـار کـړي**

**پـه دې خـپل زړه په قـرار کـړي**
**تـل زما مـور دغـه زيـار کـړي**

**مور**

**ای زما مورې !**
**څومره خـوږه يې راته،**
**وريښمين تارو په شانتې،**
**پــړی بسته يې راته ،**
**داسـې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره يې راته.**

**ها چې سزنۍ بسته کړم،**
**بيا دې پر پښو للو کړم ،**
**په ناز راجيګ دې کړمه،**
**زرو درنه يې راته،**
**ای زما مورې !**
**څومره خـوږه يې راته،**
**وريښمين تارو په شانتې،**

**پــړی بسته یې راته ،**
**داسې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره یې راته.**

**تا چې چارپېر کړه مانه،**
**دواړه لاسونه څنډه،**
**ځولۍ کې ګیږ دې کړمه،**
**ښکلا وږمه یې راته،**
**ای زما مورې !**
**څومره خـوږه یې راته،**
**وریښمین تارو په شانتې،**
**پــړی بسته یې راته ،**
**داسې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره یې راته.**

**د سهار ستوري غوندې،**
**څنګ ته نږدې دې کړمه ،**
**سپینې سپوږمۍ د هلال،**
**ګلو دسته یې راته،**
**ای زما مورې !**
**څومره خـوږه یې راته،**
**وریښمین تارو په شانتې،**

**پــړی بسته يې راته ،**
**داسې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره يې راته.**

**کاشکې دا ژوند مې درته،**
**ستا شان خدمت له کړلی،**
**خدای بنده ګانو کې،**
**بنده راسته يې راته،**
**ای زما مورې !**
**ځومره خـوږه يې راته،**
**وريښمين تارو په شانتې،**
**پــړی بسته يې راته ،**
**داسې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره يې راته.**

**ستا په خدمت کې راته،**
**الله فردوس راکوي،**
**ته راته زوی چې وايې،**
**مور پښتنه يې راته،**
**ای زما مورې !**
**ځومره خـوږه يې راته،**
**وريښمين تارو په شانتې،**

**پــړی بسته یې راته،**
**داسـې چې تا وګـورم،**
**د زړه قطره یې راته.**

**په مهترلام کې، زمونږ کور، زما کوټه**

**Mehter lam, Our House at my Room on Womens**

**International day, 1384 / 12 / 17 am 9:00**

# راز

**دا را واخلئ !!**
**د کور تر څنګ يې ښخ کړئ !**
**ښايسته زيارت به جوړ شي !**
**خلک به بيا وګورئ ؟**
**ټول ليوانيان به راوړي**
**بيا بم ساعت ښه تېر وي**
**ښه به خوشحاله ياستئ**

**د چا پروا مه ساتئ**
**له خدايه مه وېرېږئ**
**په سمه لار که لاړشئ**
**څنګه به وکړئ داسې**
**داسې که دا راواخلئ ! !؟**
**د کور تر څنګ يې ښخ کړئ !**
**ښايسته زيارت به جوړ شي !**
**خلک به بيا وګورئ ؟**
**ټول لېونيان به راوړي**
**بيا بم ساعت ښه تېر وې**
**ښه به خوشحاله ياستئ**

**زما واړه ورور پسې**
**زړه چاړه را واخلي**
**سر اضافه کړي تر ېنه**
**په سترګو ښه يې ګورئ**
**دا مو اکا را واخلئ ! !؟**
**د کور تر څنګ يې ښخ کړئ !**
**ښايسته زيارت به جوړ شي !**
**خلک به بيا وګورئ ؟**
**ټول لېونيان به راوړي**
**بيا بم ساعت ښه تېر وې**
**ښه به خوشحاله ياستئ**

**چې سم په سمه لاره**
**ملک کې کوهي را جوړکړي**
**په خپله وغورځېږي**
**بيا ترې راجيګ هم نشي**
**يوځلي بيا راواخلئ ! !؟**
**د کور تر څنګ يې ښخ کړئ !**
**ښايسته زيارت به جوړ شي !**
**خلک به بيا وګورئ ؟**
**ټول لېونيان به راوړي**
**بيا بم ساعت ښه تېر وې**

**ښه به خوشحاله یاستئ**

**د الله دربار وګورئ**
**تاسو یې دلته راوړئ!**
**لاره غلطه مه نکړه**
**غل بوساړې له تللی**
**دا ورخطا راوخلئ ! !؟**
**د کور تر ځنګ یې ښخ کړئ !**
**ښایسته زیارت به جوړ شي !**
**خلک به بیا وګورئ ؟**
**ټول لېونیان به راوړي**
**بیا بم ساعت ښه تېر وې**
**ښه به خوشحاله یاستئ**

**دوی وژنې سپړې**
**مزد له ورګو غواړي**
**فردوس ډېلۍ راخیستې**
**داسې مچانو پسې**
**تاسي بیا دا راواخلئ ! !؟**
**د کور تر ځنګ یې ښخ کړئ !**
**ښایسته زیارت به جوړ شي !**
**خلک به بیا وګورئ ؟**

**ټول لېونيان به راوړي**
**بيا بم ساعت ښه تيروي**
**ښه به خوشحاله ياستئ**

**په مهترلام کې، زمونږ کور، زما کوټه**
**Mehter lam, Our House at my Room, 1384 / 12 / 15 am 1:30**

## زښت او زيبا

ټولـه شـپه مې ودريـدو بانـدې وهلې
ستا کوټـې ورونـــه بنـــد وو ته ويده وې
ما کولـې ته پـرې هېـــڅ نه پوهېدلې
تا ته ډېـرې سـپکې سـپورې ته کنه وې

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه
**Mehter lam, Our House at my Room on 1384 /12 /15 am 1:30**

## زښت او زيبا

زه فردوس به دې په زوره پرې سـپره کړم
دا زمونږ د کلـي ټـال ده پرې زنگـېږه
نـــور تاوېـــږه راتاوېـــږه پرې سـپرېږه
دا ورېښـمين تيلـی جـال ده پرې دنگـېږه

په مهترلام کې، زموږ کور، زما کوټه
**Mehter lam, Our House at my Room on 1384 /12 /15 am 1:30**

## ډارنــه

خومره ښایسته وه ګل بشـرو ډارنـه
چې نـه راځـې اوس تر اوبـو ډارنـه

څـه ښه وه ښـکلې حياناکه
پښــتنه پـېـغله مـینه ناکه
هومره ساده او هومره پاکه
چې ګـرځيدله په نـخرو ډارنـه

خومره ښایسته وه ګل بشـرو ډارنـه
چې نـه راځـې اوس تر اوبـو ډارنـه

چنګه یې ملا نرۍ یې غاړه
زیړو بنـګړو یې لیچې دواړه
زیـړ جامې یې په تن واړه
چې به راتلـه زمونږ تـر ورو ډارنـه

خومره ښایسته وه ګل بشـرو ډارنـه
چې نـه راځـې اوس تر اوبـو ډارنـه

**د مهترلام د جینو مـیره**
**دومره ډارنه شــوه سفیره**
**سـوی ډارنه وه زهیـره**
**دومـره ډارنه کړه جنگـو ډارنـه**

**ځومره ښایسته وه گل بشـرو ډارنـه**
**چې نـه راځـې اوس تر اوبـو ډارنـه**

**لکه غـزال یې سترگې تـورې**
**له اوښـکو ډکې رنې سـورې**
**فردوسـه محضې ورته گورې**
**دوسـتۍ کې ډوبـه تر غوړو ډارنـه**

**ځومره ښایسته وه گل بشـرو ډارنـه**
**چې نـه راځـې اوس تر اوبـو ډارنـه**

## پښتون

له برخــې په تـالا خوښ
له کــوره په صحرا خوښ

نـادرې کانېم کـړلي دي
خــپل بچـي مم وژلي دي
دښـمن مو پر دې لا خوښ
له کــوره په صحرا خوښ

له برخــې په تـالا خوښ
له کــوره په صحرا خوښ

ښــې ډزې مــو کـړي دي
خـپل ورونـه مم وژلي دي
پـر دې ډزو دنـیا خوښ
له کــوره په صحرا خوښ

له برخــې په تـالا خوښ
له کــوره په صحرا خوښ

**ځـــان ته پښـــتانه وايـو**
**ځـــان لـره درانـه وايـو**
**په ستر تړاک او بلوا خوښ**
**له کـــوره په صحرا خوښ**

**له برخـــې په تـالا خوښ**
**له کـــوره په صحرا خوښ**

**دريځ کې په نشـتون يو**
**لـه واکــه په کـمـتون يو**
**پـر دې نـادانـۍ بيـا خوښ**
**له کـوره په صحرا خوښ**

**له برخـــې په تـالا خوښ**
**له کـــوره په صحرا خوښ**

**مـوږ پـر يو تـړون نه يو**
**مصلحت کې په غبرګون نه يو**
**فردوس بـويـه پر دا خوښ**
**له کـــوره په صحرا خوښ**

**له برخـــې په تـالا خوښ**
**له کـــوره په صحرا خوښ**

**تننر، خاص کنړ، کنړ**

## میرځمنو

خوښه دې چې ځې او که نه ځې یاره
ما به میرځمنو تـه نـه وړې یاره

نه ځمـه جانانـه لمـبې بلې وي
غـږ د بدبختۍ هر خواته تللې وي
هلتـه که مې وړې نو مې وژنې یاره
ما به میرځمنو تـه نـه وړې یاره
خوښه دې چې ځې او که نه ځې یاره
ما به میرځمنو تـه نـه وړې یاره

زه د ستا له ځــنګ نه لرې کېږمه
ځنګ په ځنګ له تاسره خوبېږمه
نه به مې له زړه مجبـورې یاره
ما به میرځمنو تـه نـه وړي یاره
خوښه دې چې ځې او که نه ځې یاره
ما به میرځمنو تـه نـه وړې یاره

دا نېمګړی شعر مې د خوست ولایت په ځائې میدان ولسوالۍ کې کښلی، چې هلته مو لومړنۍ د روښان کمپنۍ لومړۍ ډونګه ( موټې، پایه) مو کار ته چمتو کوله په ۲۰۰۷ کال کې. پورتني بیتونه مې په یادو یاد و، بشپړ شعر مې په یوه د شعرونو ډکې کتابچه کې و، چې هغه را ځخه ۲۰۱۱میلادي کال د کابل دهمزنګ د کوټې په انتقالولو کې را ځخه ترې تم شو، چې له هغې کتابچې ځخه مې دوې نېمګړي شعرونه یو په یاد کې پاتې و چې یو یې همدا او بل یې دا لاندې سپین شعر هغه هم دې ته ورته نېمګړی دی.

## په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې !؟

په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې !؟
ژوند په خوشحالۍ تېریدو!
ټول موسم مو ستر دوست و،
د لارو به دعوت نامې وې!
چې منزلونو به لیکلې،
پر ځمکې باندې زموږ لپاره!؟
او بیا به یې زموږ ننداره کوله !
په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې!؟

په هاغه ورځو کې د سیند په غاړه!
زما نونسم، ستا شپاړسمه،
چې څوارلسمه سپوږمۍ!
له پورې غره ختله !؟
شوخوا کوچنیو بوټو،
یو بل په سر خوځول،
وویل دوی فردوس کې اوسي !

په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې!؟
ژوند په خوشحالۍ تیریدو!

**ټول موسم مو ستر دوست و،**
**د لارو به دعوت نامې وي!**
**چې منزلونو به ليکلي،**
**پر ځمکې باندې زموږ لپاره!؟**
**او بيا به يې زموږ ننداره کوله !**
**په هاغه ورځو کې چې ته دلته وې!؟**

**دا نېمګړی سپين شعر (ازاد شعر) مې په پيداګوژۍ ( علومي اجتماعي) په بنې کې کښلی دی، چې هلته له خپل ملګري توريالي « هېروون » سره تللی وم ، هلته مو يو ليک چې چا له جرمني څخه رالېږلی و، هغه مو هلته د جرمني ژبې ښوونکو باندې ژباړه. په ۲۰۰۸ کال کې. پورتنې بيتونه مې په يادو ياد و، بشپړ شعر مې په يوه د شعرونو ډکې کتابچه کې و، چې هغه را څخه ۲۰۱۱ميلادي کال د کابل دهمزنګ د هستوګنې کوټې په انتقالولو کې را څخه ترې تم شوه، دا په رښتيا چې شعر د الله ج له لوري په خپل هر بنده باندې لورينه ده، دا لورينه په يو ټاکلي وخت کې کښل شوي وي.**
**زه چې خپل شعرونه لولم نو داسې پام کوم چې دا له سره ما ويلي نه دي، ځکه د ټولوشعرونو له يادو يادول امکان نه لري، له ما څخه ډېر شعرونه چې په بېلا بېلو پاڼو کې مې ليکلي و هغه تر اوسه په لاس ندې راغلي، ځينې يې چې څومره زما په ياد و ، هغه مې د دې د لپاره سره را ټول کړه چې په ورته حالت سره اخته نشي.**

## کاکړۍ غاړې

ګړندی ورځم عالمه
په رود نه وهمه دمه

له لغمان تر الینګاره
پسې ځم د زړه قراره

په ښاربندي کې مکان دی
ګل رحمن را بانـدې ګران دی

پړوائي چې ښه ښکارېږي
ګل رحمن پکې اوسېږي

څه ښه ډېر په کې وري دي
څه سېرلي څه په شیرلي دي

اوږ اختر کې به درځمه
تا له یاده نه باسمه

که فردوس نه ورکۍ اړي
په کور به نلري سړي

## that will whitveter you!

**once a summer night**

**my fother set the old roof,**

**that the apple of him eyes,**

**Let's chill to any story, to fight with russian force.**

**that will whitveter you.**

**we are thirteen a loyal friends,**

**we both the top banana,**

**that was the first fight and conflict**

**with russian force in nuristan,**

**after tow week start in zirof district in paktya**

**we all weaknesses force,**

**prey the strengthens time,**

**always we side the russian turn be the lemon**

**always we side the russian turn be the lemon**

**when we pray for extreme immortal god.**

**god take our a question**

**but we don't cover meak our a selfes.**

**we also turn Lemon**

**we also turn Lemon**

**ښايي دا تا تشويق کړي**

**د اوړي يوه شپه وه**

**زما پلار په زړه سترنجۍ ناست و**

**کومه چې د هغه ډېره خوښه وه**

**راځه چې يو کيسې ته لاړ شو**

**ښايي دا تا تشويق کړي**

**مونږ ديارلس صادق ملګري و**

**او ټول لومړی نمبر و**

**او دا اول جنګ او اوله مجادله وه**

**له روسانو سره په نورستان کې،**

**وروسته له دوه هفتونه شروع شوه د پکتيا په زيړپ ولسوالۍ کې**

**مونږه ټولو ضعيفو قوا وو**

**دعا کړه د مقاومت په وخت کې**

**همېشه به مو ويل چې خدايه روسان مات کړې**

**همېشه به مو ويل چې خدايه روسان مات کړې**

**کله چې به مو دعا کړه قادر او نادر څښتن ته**

**الله زمونږ سوالونه قبول کړه**

**مګر مونږ خپل ځانونه جوړ او اصلاح نکړل**

**او همداسې مونږ مات شوو**

**او همداسې مونږ مات شوو.**

**زما انګريزي شعر او د هغه پښتو ژباړه لغمان زمونږ کور ۱۳۸۴ ۰۴۰۴لېږديز**

**لمريز کال**

## پایله

**ګوا کې داسې بويځ! چې دا شعرونه زما احساس کټ مټ انتقالوي او ستاسو لوستونکو او اورېدونکو پرعواطفو اغېزه کوی شي.**

**ځکه ما له واقیعت څخه خپل برداشت په عاطفي بڼه انځور کړي دي. همدې ته ادبیات ( لیټریچر) هم وايي چې لویدیځوال بیا د ټولو له چاپه راوتو اثارو مجموعې ته وايي. که ادب پوهې، زيرکی، اخلاقي تهذیب او فضیلت ته ویل کیږي.**

**او په اصل کې ادب هغه پوهه او رياضت دی، چې انسان ته فضيلت ورپه برخه کوي، په خپلو کړو وړو کې يې له سهوې او ښوېېدنې څخه ژغوري. داسې وګڼځ چې وتاته مې ووې! ځکه چې هر پښتون باندې د خپلي ژبې ادبیات لازمې او اړین دي، که هغه په هر علمي مسلک کې وي، له دې پرته مو ژبه بډايه او ځوا کمنه کیدل نا شونې دي.**

**د پښتون پښت به د ویښتیا او پرمختیا لور ته بيايي ، هغه کسانو چې ددې ټولنې وګړو سره جفا کوله هغو ته مې نغوته کړې او د نیوکې لاندې مې په یوه نه یوه بڼه نیولي دي.**

**دا زما ښه بخت هم نه دی، چې تر اوسه پورې مې پښتون پښت له کتابه سره اشنا شوي نه دي، بل دا زما کتاب داسې دي چې د لوستونکو سویه، مزاج، او مېلان رسېدلی نشي. او د خپل پښت ډېری زده کړیالان د پردیو ژبو شاعرانو شعرونو کې خپله مزاج ويني، لکه د اقبال، سعدی او نورو....**

پردۍ ژبو یا فارسي ژبو کتابونه مطالعه کوي یا یې شعرونه حفظوي. چې شروع درته وکړي ته به وایې نېمچه فارسیوانان یا پنجابان دي.

زما د پښتون پښت نوی نسل او د ادب مینوال په همدومره پوی شي، چې زموږ میرځمن موږ ته په درنده سترګه نه ګوري، بد مو یاده وي، ټیټ او وروسته پاتې مو بولي، په درناوي مو نه یادوي، نو د هغو میرځمنو خبره په هره بڼه چې وي، مه منئ!؟

چې خپل یو ژبی ( له خپل پښته مو، ورته څهره، یو شان ونه، خوی، دود او په کومه بڼه مو چې زموږ مور ډوډۍ پخوي او په څترۍ لمونځ کوي په همغه بڼه مو بل پښتون یو ژبی یا بل پښتون ورور هم په ورته کړنه کړ وي). خپل پښتون پښت باید په هېڅ صورت و نه وژنو، موږ داسې ټبر وو چې اسکندر مقدونې مو مات کړی وه، ۳۴۰ کاله وړاندې له میلاد څخه په کنړ اسمار دره کې؛ اسکندر ژور زخمونه خوړلي وو، اسلام دین مو د اسیا په لویه وچه کې رسولی دی، او له هیندیانو څخه مو عربان مسلمانان ژغورلي،

همدا زموږ لوی پښتون پښت و چې اوس ټول لر او بر ٦٠ میلونو ته رسیږي، هم دا یو پښت و چې انګریزان مو درې وارې مات کړه، د نړۍ له پاچاهۍ مو را وغور ځول، همدو انګریزانو موږ په منځ کې یو خط کش کړ ترسو چې دا پښتون پښت چې ٦٠ میلونه کېږي نېمګړی او نا توانه کړي، او د نورو لاس ته یې محتاجه کړي.

موږ په حقیقت کې که سره یو شو او ټول پښتون پښت سره یو شي نو ٦٠ میلونه په ټوله نړۍ کې یو زورور او بډایه ځواک کیدلی شي

**او د خپل پښت هر وګړی به مو بډایه شي هر څه به موخپل وي بیا به افغانستان لوی کور وي، او خپل کوچني بېل شوي کورونه به له خپل لوی کور سره یوځای وي. لکه د پلرونو ۵۰۰۰ کلن پيخليک چې د پينۍ داسې پښت و چې ښارونه یې ودان کړي و، عصري ژوندیې وګړو ته تیار کړی و، دښمنانو ته یې زورورې ماتې؛ د پنده ډک درسونه ورکول. په شاعرۍ کې مې همداسې ازانګي شتون لري چې بری یې حاصولی شئ په زیار سره، هندسې بڼه د هر شعر د مانا له لوري حرم ته ورته دي، چې یوټکی یا هېڅ ښکارېږي چې هر څومره یې چې ببخ لوري ځئ نو قايده یې غځېږي او درندېږي !**

**دا چې د پښتو ادبیاتو له مخې د پښتون پښت هر سیمه په ځانګړي بڼه شعر کې ځانګړی مشهور نوم لري لکه کندهار په نکلونو کې، پیښور په ټپو کې، پکتیا په کاکړیو کې او مشرقي په چاربېتو کې نو په خپلې چاربېتې چې د پښتون تر عنوان لاندې دی یوبند وايم:**

**ښې ډزې مو کړي دي**
**خپل ورونه مم وژلي دي**
**پر دې ډزو دنیا خوښ**
**له کوره په صحرا خوښ**

**له برخې په تالا خوښ**
**له کوره په صحرا خوښ**

**په درناوي او رټ سپځلي پښتونولي**
**انجینر صفی الله « فردوس خان»**

## په ځلېر کې د ددو دود ټولګې د پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي

بېلګه:-

وی مانا ، د چوپړی ګڼه له کامې نه ورسته په شمیر باندې ښودل شوي

---

ا

ابـا : پلار، د مور خاوند، د مور څښتن، د مور ساتونکی، د مور میړه، والد.:. ۱۰۱ ،۱۰٦، ۱۱۲ او ۲٦۴چوپړي کې (پاڼه کې ، مخ کې ، صفحه کې، مخګڼه کې)

ابلیــس: شیطان :. ۱۵۸

اټکل: نظر . :۱۰٦، ۱۱۸، او ۱۹۲

اچیان: د غوایانو هغه جوړې ته وایې چې کروند ګر پرې کرونده کولبه کوي. له قده واړه وي او وطنې یا لغمانې یې هم بولي، ځانګړتیایې : په بېړه کار کوي او زر ستړي کېږي، د پیریدلو بیع یې ارزانه ده او د لاسته راتللو ګڼه یې زیاته ده. دویمه بېلګه یې انکیان نومېږي . له قده لوړ وي او زراعتي یا کنړي یې هم بولي، ځانګړتیایې : چې ورو کار کوي په ډېر طاقت سره او زر نه ستړي کېږي، د پیریدلو بیع یې ګرانه ده او د لاسته راتللو ګڼه یې کمه ده. او دریېمه بېلګه یې چپیان نومیږي . چې چپه ښکرونه لري او کم پیدا کېږي. :۱۸۲

**احمد خان: د پښتنومیر، پاچا ابدالي دوراني، احمد شاه بابا. ۱۹۵؛**

**اخته : مشغول. ؛۸۰ ، ۲٦۹، ۳۰۰، ۳۴۰، ۳۸۱ ، ۴۱۱ او ۴۲۴**

**ادم ذات: بشر، انسان، ژوی د حضرت ادم (ع) اولاده، اشرف المخلق، بنې ادم. ؛۱۰٦**

**ارو: راګ دی: سا دې دې ګې دې ما نا دې په دې ګې ما پا نې سا. ؛.۷٦ او ۴۰۲**

**اړک په اړک : بغل په بغل ، طرف په طرف، تاو را تاو. ؛. ۳٦۲**

**اړیکه: رابطه. ؛.۳٦، ۴٦ او ٦۹**

**ازاريان : د ازار جمع ده ، خلکو ته مصيبت ورکونکی . ؛.۷۵ او ۸۷**

**ازانګي : انګ . ؛. ۱۱، ۱۲۷، ۳۱۹، او ۳۸۷**

**اسارت: غلامي. ؛.۲۴٦، ۲٦۱ او ۲۸۱**

**اشنا: ملګری، دوست، انډيوال. ؛. ٦، ۱٦، ۱۲۱، ۱۵۰، ۱۵۸، ۱٦۷، ۱٦۸، ۱۷۱، ۲٦۷، ۳۸۵، ۴۲۱ او ۴۲۷**

**ازرده : ډېر زيان رسونکی. ؛.۱۲۲**

**اقتدار: دوران. ؛. ٦٦ او ۱۹۲**

**اکلياټوريس: مندکه، خسته. ؛.۳۵۹**

**اکيډمي : دارالتعليم،اکاډيمي، دتعليم جونګړه، دزده کړې کور، اکاډمي ، هغه ځای چې هلته د افلاطون د مدرسي پيراوۍ او نظري زده کړې ورکول کېږي. ؛.۲۲، ۷۳، ۱۳۱ او ۲۵۱**

**الا: خوشي، روان . ؛.۱۰۴، ۱۴۹، ۳۰۷ او ۳۱۳**

**الګ:** بېل، جلا، جدا، الیده. ؛. ۲٦۸

**الماسک:** په اسمان کې د لیکې په بڼه بریښنا ده. ؛. ۳٦۲

**امام:** ملا، پیشواء، میر،مشر . ؛. ۲۴۹

**امرو:** راګ دی: سا نا دې پا ما رې ګی دې نې سا نی سا رې ګا دې سا . ؛.۷۹، ۳۴۵ او ۴۰۲

**انا:** نیا، ادکۍ، د پلار مور، د نیکه مندینه، د نیکه ارتېنه، د نیکه مینا، د نیکه میرمن، د اکا ښځه، د بابا کور ودانه. ؛. ۴۹، ۵۳، ۱۳۰ او ۱۸۴

**انجینر :** یوه فرانسوي وی ده. هغه څوک چې طبیعت په خبرو راولي، د طبیعت ژبه ده چې زي روح شیان په خبرو راولي،برداښت، طاقت، ظرفیت، څرګند والي او ځانګړنې یې معلوموي. او په اصطلاح کې هغه متخصص ته وایې چې د یو شي په باره کې په زهن کې پلان جوړوي او بیا یې د خطونو په واسطې سره ترسیم او تیاره وي. ؛.۱، ۲، ١٦۰، ۲۹۰ ، ټول ۵۴ واري راغلی دی.

**انګار:** سکروټه. ؛.١٦١

**اوتې بوتې :** بې هوده خبرې، چټې او بې باکه خبرې. ؛. ۳۲۰

**اورپکي :** جګړه مار، جنګ اچونکي، وسله وال، د کلاشینکوف ریشته داران . ؛.۴۳٦

**اورغونکی:** وزګوړی، د اوزې بچی . ؛.

**اونـېزه:** هفته وار. ؛.

**ائینـه:** هنداره. ؛.۱۰۱

**ایستی:** ویستلی. ؛. ١٦۵ او ١٦٦

ایډال ویس: یو گل دی چې ستوري ته ورته بڼه لري، په رنگ سپین دی او داسې غرو یا د ځینگوړا د پرښو په درزونو کې شنه کېږي، دا گل د سیویس هېواد ملي گل دی چی وگړي سکې لوبه کوي اوپه ډېره مېړانه سره لاس ته راوړي چې پیدا کول یې گران کار دی، د دې راوړل د زړه ورتیا نښه ده ،دا گل یو ملگری د بل ملگري ته د لاس نښې لپاره ورکوي. ؛.۷۹

آ

آس: اسپ ، کورنی حیوان دی اس . ؛. ۷۵ ، ۲۳۰او ۲۴۸

آند: فکر، نظر ، اند. ؛.۸۴

ب

بابل: په عراق هېواد کې د ښار نوم دی. ؛ ۲٦ او ۸٦

ببولالې: هغه شعر ته وویل کېږي چې په هغه کې د ناوي ښه ستاینه،یادونه او تعریف کوي. د واده په هغه وخت کې وایي چې د ناوې سینگار تمام شي نو پیغلې سر یوه دایره جوړه وي او ناوې یې په منځ کې کېښنوي او ښه ستاینه،یادونه او تعریف یې په شعر کې کوي نوموړي شعر ته ببولالې وایې. پاتې شونې دي نه وي چې د پیغلو په دیرا کې هغه میرمنې گډون کوي چې هغه واده شوي او یا کوژده شوي وي.بې میرږخه او انجونې نشي کولی چې په نوموړي دایره کې گډون و کړي. ؛.٦ او ۱٦۹

بـادار: مالک. ؛. ۱۵۴

بادرنګ: سبزي ده. ؛. ۳۵۵
باغه ګل : د الینګار ولسولۍ کې د کلی نوم دی. د ګمبه او ځخره نومې کلیو د سیند نه پورې او د تورۍ کلا نه مخ په غره لورته په درځنۍ سیمه کې پروت دی. ؛. ۲۱۴
بخري : زره. ؛. ۷۴، ۸۲ ، ۸۳، ۸۴، ۸۵، ۳۹۲ ، ۳۹۷، ۴۱۸، ۴۱۹ او ۴۲۱
بدرنګه: مخنته. ؛.۳۵۲ او ۴۱۵
بـډه: د ماشوم توب ملګری، د کمکیوالي ملګری، وړکیتوب انډیوال. ؛.۱۰۲
برخوردار: کامیاب، بهره مند، بریالی. ؛. ۹٦ او ۳۵٦
بشـپړ: تکمیل، مکمل، پوره . ؛. ۱۰۱
بلواګر : شورشي. ؛.۲۲٦ او ۳۹۲
بڼ: باغ، فردوس. ؛. ۷۱ او ۳۸۱
بوستان: باغ ،فردوس، بهشت، جنت . ؛. ۷۵ او ۳۴۷
بهان: دمښو په شکل خیران ګردان پوټکی لر ي او زیړ رنګ. ؛. ۳۵۵
بګۍ: ټانګه. ؛. ۴۱۲
بیدیا: ټټنګ، بیابان، دښته، صحراء. ؛. ۲۴۲، ۲۸۱او ۴۰٦
بیړه: تیز، ګړندی، رټ، ځځبکی . ؛. ۲۹۰، ۳٦۲، ۳۹۲، ۴۰۵ او ۴۱۳
بیړنیو: عاجلو. ؛. ۴۳۵
بې زبانه: حیوان، کم طاقت، عاجز. ؛. ۷۵ او ۱۰۸

**بـېـلـګه:** نمونه، ورته بڼه، مثال. ؛. ۴۰۴

**پ**

**پار:** ساعت، وار. ؛. ۳۷

**پټون:** کشر، وروسته پاتي . ؛. ۱۲۳

**پردېس:** مسافر . ؛. ۹۱ او ۳۵۷

**پرګی :** غرنۍ میوه ده چې قهوه ئي اوبرګ رنګ لري البته زړي يې خوړل کيږي. ؛. ۱۰۸

**پړ:** چپه، نسکور، ژیړمخی، زیړمخی، ملامت. ؛. ۱۰۱ او ۴۱۳

**پړونی:** ښځینه ځادر، ټـېکرای. ؛. ۱۱۵، ۱٦۹ او ۴۱۱

**پسد:** سم دم، رمټ،جوړ تیار، هوښیار. ؛. ۲٦۱

**پښت:** نسل . ؛. ۳، ۱۷، ۷۲، ۷۴، ۳۸۵، ۳۸٦ او ۳۸۷

**پلاوی :** استازی . ؛. ۸۴

**پلنګ:** پړانګ. ؛.۲۰٦

**پلو:** د ټېکري هغه برخه چې په سینه پرته وي ، د ټېکري هغه برخه چې په سینه پرته وي او له پـېځکو(ځنډو، ژۍ) پـېل او د ټـېکري تر نیمایې پورې وي. ؛.۱٦۹

**پنځا:** تخليق مفرده وییکی يې پنځ دی. طبیعت . ؛. ۸۲، ۸۳ او ۸۵

**پوپک:** د ماشومانو یوه بېلګه لوبه ده. هغه خالي دروی چې د ولې ونې د نازک ښاخ څخه لرګی د منځ ساقه یا ډډ اوباسي

او پوستکی یې پاتې کېږي، چې ورته پوپک وایې. او ماشومان په خوله کې د غنمو دانې او یا نورې وړې دانې اچوې اوهغه د خولي په واسطه پوپ کوي. چې هغه دانه د پوپک په منځ کې په سرعت سره د نښې طرف ته درومې. ؛. ۲٦۱

پلوري: خرڅوي، خرڅلاو، خرڅول، پلورل. ؛. ۵۷، ۱۰۳ او ۲۲۹

پور: قرض. ؛. ۱۰۴ او ۱۹۸

پوړ: منزل. ؛. ۲۵۰ ، ۳٦۳، ټول ټال ۵۷ وارې راغلی

پوښت: پوښتنه کول، سوال کول. ؛. ۲۰۹

پوهګړي : روڼ اندي. ؛.۸۴، ۱۵۴ او ۱۷۸

پیدایښت : زوکړه. ؛. ۴۱۴

پیسو: مفرده وی یې پیسه ده، هامیانۍ، پیسې . ؛. ، ۱۰۲، ۱۰۳، ۲۹۱ او ۳۰۱

پیغله: باکیره جلۍ ، بې میړوخه ، نا واده . ؛.۲۰۷

پیمانه: تله،اندازه . ؛. ۱۹۲

پینۍ : کائینات. ؛. ۲۷ ، ۸۲، ۱۴۹، ۲۲۲، ۲۴۲، ۲۷۵، ۲۷۸ او ۳۸۷

ت

تابدان: درینڅه . ؛. ۷٦

تاریخي: د هرمل سیمه کې د یوه تن ښوونکي نوم دی. او د حیات الله قریشي پلار ده. ډېر زړه ور او مینه ناکه سړی وه چې دیرې به یې له څو دانو چلمانو دوې درې تیارو او پېڼځه به یې

**الیده ایښې وه او دیره به یې د تل لپاره له میلمنو نه ډکه وه.(که له یوې خوا نوموړې دیرې په خپل وخت کې تاریخي نوم درلود له بلې خوا یې اوس هم کلیوال د تاریخي دیره تاریخي بولي.). خدای شته چې تاریخي یو تاریخي سړی وه له مجاهدینو سره به یې ډېره مرسته کوله. یوه ورځ مې ملا عبدالله (جهادي نوم یې عنایت الله) کاکا مې د جهاد کیسه راته کوله چې مونږه ډېرې سختي ورځې تېرې کړې. یوه ښه خوشحاله او عجیبه واقعه یې راته په خندا خوله داسې وویله چې ۱۳۵۹ او د ۱۳۶۰ هجرې کلونو په منځ کې وه چې د تاریخي ټول بنګ چا غلا کړي وو، نوموړي به د خپل ځان لپاره ډېری ګڼه بنګ کرل چې ټول کال د دده او دده د دیرې د ملګرو بس کېده، دوی ډېره پلټنه، ډډون، پله ټون کړی وه خو کس یې پیدا نه کړه، د جبهې امیر اینجینر محمد عالم قرار ته یې داسې وویل، اینجینر صیب زما ټول بنګ یې غلا کړي دي او مونږه غواړو چې یو بیل ریاست جوړ کړو، چې هر څه زمونږه په طبه وي هغه وه چې د چرسیانو ریاست یې جوړ کړه او تاریخي یې مشر شو،چا به چې د چرسو عمل درلو په سیمه کې لږه ګڼه نوموړو شتون درلود هر صلح اوفیصله به یې د تاریخي له پامه تیریدله. نوم یې یاد روح یې ښاد . ؛. ۲۶۰**

**تان: تشکیل، رغونه، جوړښت، 2: خوی، رویه . ؛. ۷۶**

**تېږ: پړی، رسۍ ، عبدل شوې لومه. ؛. ۲۸۹**

**تېړان: بونجی ،مونجی، هغه څوک چې پزه پیته کوي او لنډه وي یې، پیت پوزی. ؛. ۲۷ او ۷۶**

ترانې: پیل، شروع، برید. ؛. ۴، ۱۳، ۵۸، او ۳۲۲

ترخان : د لرګي چینچی، هغه څوک چې له مالیې څخه معاف وي. ؛. ۲۷ ، ۷٦ او۳۴۷

تروګی: یو ډول ګیا ده چې غوا یې خوری پړسیږي . ؛. ۷۷

تاړاک: ټول وژنه، عام وژنه، قتل عام. ؛.۱٦۴، ۲۹۴او ۳۱۲

ترانګه: دره. ؛. ۳۵۷ او ۳۹٦

تعلیم قدم: شپږم حالت د سیستم دی، کې ورته وایې:- کله چې ګور پای ته رسي تعلیم قدم پیلیږي. بیا شپه میري سره په ګډه وایې یو!، خپلو پښوته ډب ورکوي. بیا وایې دوه! بیا خپلو پښوته ډب ورکوي. بیا وایې درې! بیا خپلو پښوته ډب ورکوي. ؛.۲۵۱، ۴۲۴، ۴۳۰ او ۴۳٦

تـل: بیخ، ژوره نقطه . ؛.۱۰۲، ۱۲۷ او ۳۳٦

تمکه: یو راز زهر او شیدې لرونکی بوټی، یو ډول غرنی بوټی دی چې زهر پې لري . ؛. ۵، ۷٦، ۱۲۲ او ۱۲۴

تمکه: زهري شیدې کونکی . ؛. ۱۲۴

تمن: اشخار، تمنه، د اشخارو د بوټی څخه جوړه شوې پلنه چکۍ چې د صابون په ځای استعمالیږي . ؛. ۷۹

تنځرو: تمځرو، تنزری، تمزری، یومرغۍ ده چې خوند وره غوښه لري. ؛.۷۸

تنډوس: یو ډول ګیاه، یو ډول واښه دي چې د پسرلي په موسم کې راټولیږي. ؛.۷۹

توتان: تازه میوه ده . ؛. ۱٦۷ او ۳۵۵

تود بځری:		پروتون. ؛. ۸۴ او ۸۵

توران:		تور کندهاري انګور دي بیخي تور. ؛. ۲٦ او ۷٦

تورایته:		یو ډول تورانګوردي چې لږ شان سوروالی هم لری . ؛. ۲۷ او ۷٦

تورتوړو: ګونګی . ؛. ۱۲۲

تورتیلی:		لمر سوځلی ، هغه سړی چې تک تور وي تورسوی شی . ؛. ۲۷ او ۷٦

تورکوټا:		د ځای نوم دی چې د مهترلام د ولایت مخې ته پروت کلی دی، د لغمان ولایت په مرکز کې، یا د تورکوټه . ؛.۲٦۰

توره پاڼه :		بنفشه، یو ډول بوټی دی چې ارغوانې رنګه ګل لري. ؛.۷٦

توره خړه:		سهار وختي . ؛.۱۰۴او ۲۳٦

تورم:		د موسیقۍ یا د ډم توب یوه اله د چې پوکوي یې او د تولۍ په شان اواز اوباسي. ۲۵۱

تورو ټکو :		د تورو نقطو جمع ده:قران کریم، مقدس کتاب، او پښتانه یې د الله تعالی له لوري رالیږل شوې مقدس کتاب قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی دی بولي . چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی.ورته وایو او منوونکو ته یې مسلمان وایي. الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو څخه په کلکه منه کړي چې حرام دي او نه به یې کوئ:په ځمکه کې فساد، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل، د خوږ غوښه خوړل، د یتیم مال خوړل، ظلم، منافقت،...او

له هغه سره شریک نیول دي. او بل لړ شیانو یې حلال ګرځولي دي چې همیشه به یې کړئ: لمونځ، روژه، زکات، حج، یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا لپار جهاد، ښه صلوک، ښه رویه، ارام خوراک کول په ټیټ اواز غږیدل، د مشرانو احترام، پاک خواړه خوړل، جغات، د مور اوپلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ویل.. ؛. ۲۴۹

توریشانه: تور بخنه، تورنګی. ؛.۷۵

توژن: دوران، پریود. ؛. ۱۵۳ او ۲۱۳

توکي: مواد. ؛.۸۲، ۸۳،۸۴ ۔ ۸۵

تومن: شیرګرم، ترم. ؛. ۷۸

تونده: غوړه مړی. ؛. ۳۰، ۳۱، ۱۲۴ او ۱۲۹

تیرې ګل: تیرګړی: د مهترلام په ولسوالی، په مرکز کې د کلی نوم دی. له مریم کوړې نه کوز لورته

(نوټ: نوموړې پرتې او اوارې سیمې پېخلیک دی. د شپاړسمې پېړۍ سرونه وه د کروندو د کرکیلې د مالیاتو غونډولو راپورونه چې به سلطانت ته ورتله نو د دې ختېځې پرتې او اوارې سېمې چې د الینګار او الیشنګ د سیندونو او تړانګو په غاړو کې وې افغانستان باله، او نومه وړی نوم به بابا ته ډېر خوند ورکاوه. او وروسته سلطان احمد شاه بابا ابدال دورانی د ټول افغانستان نوم کړ، چې تر اوسه پورې پرې یادیږي. )

نو یو هندوسوداګر چې نوم یې تیرې ګلې نومیده اوهمدې کلي کې اوسیده.او د وخت په تیریدوسره نوموړی تیرګړی شو.او بیربل هندو انګړ هم په همدې کلی کې وه. هغه وخت چې سلطان احمد

**شاه بابا ابدال دورانی له هندوستان څخه راستون شوی وو، نو ډېری ګڼه هندوان ور سره راغلې وو او په دې کلي کې ژوندګړشوې وو. ډېری ګڼه وګړي په دې اند دې چې نوموړی له پخوانه د ه تیری ګل په نوم وو او وروسته تیرګړی شوه.د لغمان زوړ ښار یې هم بولي. ؛. ۲۵۲**

**تیندار: دتره ښځه یا کاکۍ . ؛. ۴۲۲**

**ټ**

**ټاپی : په نښه شوی ،ټاپه شوی2: په ټکو لوخسی ( خصی) شوی، ټپي شوی، ټکیدلی ۷۵**

**ټاپن : مهر لګونګی، ټاپه کونکی، چاپه کونکی. ؛. ۷۵**

**ټاټ: افسوس، ټاپ ، ارمان، اوسوز، اوسوس. ؛.۳۰،۳۱، ۷۵، او ۴۰۲**

**ټانټس: کم عقل، شوده، ساده، ناپو. ؛. ۷٦**

**ټانټوری: ټانټور، ټانډور، د ځپیاکې (چاپکو) ټوټې چې نغري کې یو دبل دپاسه ایښودل کېږي او په اسانه اور اخلي. ؛.۷٦**

**ټبر: کورنۍ، کهول . ؛. ۱۳٦، ۱۳۸، ۲۴۹ او ۳۸٦**

**ټبوټبوک: غرنی بلبل . ؛. ۷۷**

**ټپړ: سونډي ټوکر . ؛. ۷۷**

**ټټر : سینه. ؛. ۲۴۸، ۲۷۴، ۲۸۲ او ۲۹۷**

**ټټنګ: دښته، بیابان، میره ، وچه دښته 2: خالي لاس3: د افغانستان په ختیځ کې د یو ځای نوم دی. ؛. ۱٦، ۴۴، ۳۹۲، ۴۳۳ او ۴۰٦**

**ټګمار:** دوکه ورکونکی، غلط توونکی، تیر ویستونکی،خوله په سروونکی، چل ورکونکی، فریبکار. ؛. ۱۰۲ او ۱۰۳

**ټنډان:** پلن، پړسیدلی

**ټنډه:** وچولی، تندی . ؛. ۳۰، ۳۱، ۱۲۹ او ۲۴۰

**ټنګ:** انګ، انګ لرونک اواز، د بدبختۍ زیری. ؛. ۲۰۶

**ټوکان :** د تخرګ لکړه، امسا، ټاپوړی. ؛. ۳۷ او ۳۴۷

**ټول :** درست . ؛. ۸۲، ۸۹، ۳۸۰ او ۳۸۱ ... ۳۰۰ نور

**ټولګو:** صنفونه، ټولګي، د ټولګی جمع ده . ؛. ۴۷، ۱٦۵

**ټولګوالو:** هم صنفیان، ټولګیوال . ؛. ۱٦۵ او ۱٦٦

**ټولګی :** صنف، کلاس. ؛. ۴۷ ، ۴۲۸ او ۴۲۹

**ټولواله:** سیستم. ؛.۸۲، ۸۳، ۸۴، ۸۵ ،۱۲۳ او ۱۵۴

**ټیټ:** کوز،لاندې. ؛. ۱۲۳، ۳۸٦، ۴۱۷او ۴۳۰

**ث**

**ثړد جنریشن:** ورسته پاتې ژوند، . ؛. ۱۸۸

**ج**

**جانان:** زما ریضائي نوم دی، زما ریضایي مور را باندې جانان نوم ایښی وه او په دغه نوم به یې نومولم، ۲:) لالی، معشوق، حبیب، محبوب. ؛. ٦۷، ۸۴، ۲۷۴، ۳۲۰، ۳۴٦ او ۳۵۰

**جرګه :** د پښتنو دود مجلس چې هلته فیصله کېږي. ؛. ۲۱۹ او ۴۳٦

**جغات:** کوشش، ربړ، زیار، زحمت . ؛. ۱۵ ،۵۱، ۷۵، ۲۴۴، ۲۵۳، ۳۱۸، ۳۹۸ او ۴۲۸

**جـلا: بیل، جدا. ؛. ۹۸، ۱۳۴، ۱۵۴، ۲۷۲ او ۳۴۸**

**جګا: (جګه)، کور. ؛. ۱٦۱**

**جګړې : جمع وی ده جنګونه، مفرده وییکي یې جګړه. ؛. ۸۱، ۱۲۴، ۲٦۸ او ۲۹۳**

**جلبنګ: یوډول خوشبویه واښه دی یوډول بوټی دی چی لرګي نه ئی سرنی جوړوی. ؛.۷۹**

**جلګیو: د جلګۍ مشابع ده چې د چمن واښه دي چې څرکا لري. ؛. ۷۹**

**جنبان : لړ زنده، لړ زیدونکی. ؛. ۷۹، ۳۲۲ او ۳۴۷**

**جوجکلر: په ترکې ژبه کې ماشوم ته وایې. ؛. ۸۹**

**جوګر : څپره، جونګړه . ؛.۳٦۲**

**جولا: غالۍ اوبدونکی، ټوکر اوبدونکی. ؛. ۲۷۷، ۳۲۰ او ۴۲۲**

**جیجرۍ: کوزړۍ ، کوزلۍ ، د خاورو ګډوۍ ، د خاورو ګډوه، د خاوروهغه لوښی چې لاستی لري اوبه په کې څښلی کېږي. ؛. ۲٦ او ۷٦**

**جیجکې: جمع وییکی دی د جیجی ، هغه مرغۍ دي چې د لوپټ نومي مرغه څخه نه جلا کېږي. ؛. ۳٦۵**

**جیجی : د یوه مرغه نوم دی، هغه مرغۍ چې د لوپټ نومي مرغه څخه نه جلا کېږي. ؛. ۷٦ او ۴۰۱**

**جیجیونتی : د موسیقي د کماچ ټاټ یو راګ دی، رکهب یې با**

**دي دی په دوو ګندهارو (کومل ، تیور) او دوو نکهار وویل کېږي، ارو، امرو . ؛. ۷٦**

**جیل خانې: زندان، بندیخانه . ؛. ۱۰۴**

**جیویش: یهود، یهودي. ؛.۳۳ او ۲۴۰**

**ځ**

**ځاځل : قهرول، په غصه کول. ؛.۷٦**

**ځانځارونی : ځاریدونکی، فیدایي ، قربانیدونکی . ؛. ۷٦**

**ځانګړې: خاصه . ؛. ۱۴، ١٦ او ۲۰۹**

**ځانمرګی : انتهاري، ځان وژونکی، خودکش**

**ځانمني : کرجنی، مغرور . ؛. ۷٦**

**ځدران : ځدراڼ په پکتیا کې دیونامتو اومشهورې قبیلې نوم دی. ؛. ۳٦۳**

**ځغونځونکی : په ډېره اوبی ترتیب ګڼه ګوڼه راوستونکی. ؛.۳٦۲**

**ځلان: ځلانده، درخشانه . ؛. ۷۸، ۴۰۲ ، ۴۱۱ او ۴۱۳**

**ځواکونه: پوځ، لښکر . ؛. ۲۱۱**

**ځنځوونکی: ښاڅکی ښاڅکی تویونکی، ټکی ټکی کوونکی ، څڅوبی کونکی، قطره کوونکی . ؛. ۳٦۲**

**ځینګر : ګڼ . ؛. ۱۰۸، ۱۳۸ او ۳٦۲**

**ځینګوړا : په لغمان ولایت د الینکار ولسوالۍ په نورلام بابا کلي سرته لوري ته یو دنګ سپین په واورو پټ د اوږدو پر ښو لرونکی غره څوکه ده . ؛. ۷۹ او ۳۹۱**

**چ**

**چاڼ: ستره، پاک، صاف شوی، پاک شوی، غلبیل شوی، کره شوی. ؛. ۲۷ او ۷٦**

**چامبیل: جمبېلی، چلمیلي، یو ډول سپین گل دی چې ډېر ښه بوی لري خوسپین یې ډېر پیدا کېږي. ؛. ۲۷ او ۷٦**

**چانډو: یوډول نشه ده چې افین (اپیم، تاریاک)په اوبوکې پخوي اوچلم کې یې څکوي. ؛. ۲۷ او ۷٦**

**چپاول: گوښه کول، چورول، تالاکول. ؛. ۲۰۹**

**چپټ : ټوکمار، ټوکي ، مسخره چې، ټوقي، ملنډي، مسخره کونکی، دوړه مار 2: کړتو ، قړتو، قړتن ، غورتن . ؛. ۷۹**

**چپټ: تکړه هلک، غټ هلک ، تندرسته سړی 2: څرگنده، ښکاره، معلوم ، چپټه . ؛. ۷۹**

**چټي په چټي : هسې بې فائیدي، محضې محضې . ؛. ۱۲۲**

**چرسي: نشه کونکي مواد دي. چرس . ؛. ۲۰٦**

**چرلنډی: خاکساری، متواضع ، چرلنډ . ؛. ۲۲۴، ۲۴۲**

**چرلنډی : متواضع، خاکساره . ؛. ۷۸، ۳۵٦**

**چرلنډی: متوازن، خاکسار . ؛. ۳۵٦**

**چغځی : مغز، مغځ . ؛. ۲۴۱**

**چغشکې : دماشومانو کوچنیانو زلمیانوڅښې، دماشومانوڅښی، کوچنیانوڅښی، ځلمیانوڅښی. ؛. ۷۸ او ۳٦۲**

**چوپړی: مخ، پاڼه ،ورقه، صفحه لکه د کتاب او داسې نورو**

**چوپړی. ؛. ۳۸۸، ۳۹۰،۴۰۳ او ۴۳۸ واري نور ټول ټال کښل شوی.**
**چارمغز: غرنی میوه ده چې گرد شکل لري البته پوټکی اومغزیې خوږل، غوځان. ؛. ۴۲۷**
**چناک: چېناغ، یو نوع شرط دی، چې د چرگ دسینې دوه شاخه هډوکي په ماتولو سره پیل کېږې، دوه تنه یې په دي موخه تړي، چې د زهن چټک تیا، زکاوت پکې معلومه وي. دواړو تنه په دې ببلـگه سره تړه تړې چې که هر څه ما تا ته لاس په لاس درکاوه نو د هغه سـیز له نیولو او اخستلو نه وړاندې به راته یاد وایې. که یاد یې ونویل نو هغه ورته وایې چې. ستا هـېر زما په یاد.**
**نو په دی حالت کې چې یې سره په کوم څه باندې شرط تړلی وي هغه به ورکوي. لکه :وړو او غریبو د چېناغ گټلو ناغه: بـېلـگه- هینداره، ږومنځ، د بوټانورنگ، کالي، لونگی، پکول، د میلې مصرف.**
**ځوانانو او مینو د چـېناغ گټلو ناغه: بـېـلـگه- نوی کتابونه، ښه قلم، غوږکی، ټـېسوټ ساعت، کمپیوټر، د سرو زرو گوته، له ټنډې مچه، په زړه پورې ختي اوکالي.**
**شتمنو د چېناغ گټلو وبه: بـېـلـگه- د ښادی مصرف، موټر، د لوړ پوړو ودانیو کور، د حج مصارف، په نړیوالو هوټلونوکې مېلمستیاء، د باندنې هېوادونو د ډیسکوټیک مصرف، باندنې هېوادونو د قمارخانومصرف پری کول. ؛.۲۴۱**

**څ**

**څاځکی: څڅوب، چکک، څکک، څڅیدنه، څڅوبی ، قطره، څڅواکی . ؛. ۳٦۲، ۴۰۲، ۴۰۵ او ۴۰٦**

ځار: تعقیبول، کتوکه . ؛. ۱٦۲، ۱۸۱، ۱۸۷ او ۳٦٦

ځارل: تعقیبول . ؛. ۱۵۴

ځاړي: بې اتفاقي. ؛. ۴۳۷

ځپان: د اوبو توپان. ؛.٦۷، ۷۸ او ۳۴٦

ځپاڼ: کتار، قطار، صف، چیل . ؛.۸۷

ځپرکی: فصل، برخه. ؛. ۴۲۱ او ۴۳۳

ځپوځو: ځپوځی، خاپوړی ۷۹

ځځلو: سجدو. ؛. ۱۲۳ او ۳٦۳

ځځلې: سجدې، مفرده وی یې ځځله یا سجده ده . ؛. ۳ ۲۵۰، ۲۸۸ او ۲۸۹

ځځبکی: ګړندی، چټک، تیز، ژر،رټ، بیړه. جمع وی یې ځځبکي ؛. ۳۹۲، ۴۱۳ او ۳٦۲

ځځوبکی: ځځواکی، قطره، خاځکی . ؛. ۳٦۲

ځخځخکي: د اوبوپوکڼی، د اوبوپړومبی، بړبوکی . ؛. ۳٦۲

ځربولیږه: غټول کېږه، چاغول کېږه. ؛. ۳٦۲

ځرخباڼ: بازینګر، ځرخباڼی . ؛. ۷۷

ځرګړو: ځرګړی، یو نوع غرنی بوټی دی،چې تارتار واښو په شان دی او په زړه پورې بوی لري او اکسره د جماعتونوکې یې د فرش لپاره اچوی لکه بروځې. ؛. ۷۹

ځرګه: بزبو، ترړی، حق دوسته مارغه ، یو ډول مرغی ده چې د شپې له خوا ځان په ونه کې ځوړند وي او حق نارې وهي . ؛.

۷۷

ځرمه: نږدې، کم وخت. ؛. ۷۷ او ۲۴۱

ځرو: د اور رڼا. ؛. ۲۴۲

ځکل: کم واټن ، لږه فاصله، لږه لاره، 2: څښل، چښل، چیښل ،چیکل، 3: څکل: په ژبه د یو شي کیفیت. ؛.۷۸ څکل: د یو شي خوند کتل په ژبې سره، د یو شي کیفیت معلومول. ؛.۲٦۱، ۷۸

ځکه: څکاکه، روزي. ؛. ۱۷۲

ځلنۍ : چهار شنبه

ځلورځنډی: ځلورکونجی، اطاق، کوټه، خونه . ؛. ۷۸

ځلور لارې: چوک . ؛. ٦۳

ځلی ځولی: لوړې ژورې، ځلې ځولې2 : د لارې توښه . ؛. ۳٦۲

ځلېر : د بېدیا تالاو، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د سارا حوض، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د ښتې ډنډ، په دشته کی ډنډ په ټیټنګ کې ډنډ په بیدیا کې تالاو، جووړ، ترېلی، اود . ؛. ۱، ۲، ۱۳،۴، ۱۱۳، ۱۱۴، ۳٦۳، ( ټول ټال ۴۵٦ واري نور)

ځمڅه: دځمکی په مخ درځ (درز) یا د ځمکی په مخ چاود. ؛. ۳٦۳

ځمغېلی: وړه اوزړه خیمه ، وړه او زړه کیږدی، ۱: څپره، شیشی، برلک ډوری، د مرغانو شکنو (شکاڼانو) او نورو ځناورو د ډارولو دپاره په پټی اوفصل کې درول شوی وي. ؛. ۳٦۳

ځمغېلي ځمغېلي: وتره (ځمکه) ، وچه اولمده ځمکه. ؛. ۳٦۳

ځنګزان: په ډډه ، په اړخ ، په یوطرف . ؛. ۳٦۳

ځوترځو: ترځوپوري ، تر ځومره پوري، ترځومره زمان پورې. ؛. ۳٦۲

ځورله : خنځیر، خنزیر، سرکوزی . ؛. ۳٦۳ او ۴۱۸

ځورلیځی : لټې، محور. ؛. ۳٦۳

ځوسیس: جاسوس، څارونکی . ؛. ۳۲۵و ۳٦۲

ځوکړ: کوځه، کوسه، چوکړ . ؛. ۳٦۳

ځوګیر : انتظارکې ناست، منتظر، په ځوکې ناست، د ښکار په طمعه ناست ښکاري. ؛. ۳٦۳

ځولسېزې : سو دفي لس، لس کاله. ؛. ۷٦

څه او څه : پلانی او پلانی . ؛.۱۲۲، ۱۵۳ او ۳٦۳

څه نه څه: کم او زیات، لږ او ډېر . ؛. ۳٦۳

څښتن: ساتونکی، الله تعالی، رب.؛. ۲۱۲، ۲۲۸، ۲۳۸،۲۳۷، ۲۷۵، ۲۸۹، ۳۱۳ او ۳۴۷

ح

حاکمان : مشران، والیان . ؛. ۱۸۹

حال: اوس، دمګړۍ . ؛. ۲۹٦ او ۳۳۸

خ

خاوند: رب، الله، څښتن، ساتونکی . ؛. ۲۸۸، ۲۸۹او ۳۰۲

خاوند: میړه، ساتونکی، شاه. ؛.۲۰۱، ۳۰۲ او ۳۸۸

خپنځیدو: خپنځیده، په ځمکه اواریدل، په ځمکه تنبته کېدل

**خپې غوړی:** غوړنرمی، غوړپوستکی ، دغوړپېڅلی ، دغوړ پوڅکی

**ختېځ:** شرق، لمر خاته. ؛. ۳۹۸

**خځوک:** خخوکی، د ځمکي مخ چاودنه. ؛.۷۹

**خچلې:** ټیله کړی، پورې وهلی ، اچولی، غورځولی ، پورې وهل شوی. ؛. ۷۹

**خدای رو:** په الله قسم، په الله سوگند، په څښتن تعالی سوگند، په څښتن قسم . ؛.۱۱۵ او ۳۴۲

**خدریوان:** هغه څوک چې د کلی مالونه بیایې او بیا ترې د مال په سر ډوډی غواړې، خدری، د غوبه ډوډی، غوبانه ډوډی . ؛. ۷۷، ۲۳۷ او ۲۴۰

**خدړ :** گدا، مسکین، خوار، غریب. ؛.۷۷، ۲۳۸، ۲۴۰ او ۲٦۸

**خدشه:** شوکاره، په نوکانو گر ول. ؛. ۷۷

**خدعه:** دوکه، فریب، چل . ؛. ۷۷

**خرپټه :** یو ډول خړ رنگه واښه دي چې اواره دښته کې شنه کېږي، نری پاڼې لري او خلک یې خوري اوهمدارنگه دپیچ مرض دوا ده. ؛.۷۷

**خرپیاڅه :** یو ډول بوټی دی چې سپین گلان کوي اونری اغزی لري. ؛. ۷۸

**خرټی:** غونډ، گردی . ؛. ۷۸

**خرټسکی : یو ډول بوټی بېخ چې ګرد یا غونډ منډ شکل لري او تریخ خوند لري. ؛. ۷۸**

**خرډګ : یو ډول سارنی بوټی دی چې پلنې اولویې پاڼې لري. ؛. ۷۸**

**خرډیګ: د بوټي نوم ده، موږکۍ ، هغه کوچنی لرګی چې د مرغیو په دام ( تلک ) کې وي او ډوډې یا غوښه یا بل شی په پېل کېږي. ؛. ۷۸**

**خر زوره : یو ډول واښه دي چې دوه جلګه اوشین لریو دا واښه په ژمې کې څارویو ته ورکول کېږي. ؛. ۷۹**

**خرسومبه: پښۍ ( رواش ) غوندې یو بوټی دی چې په غره کې ساره اوشګلن ځای کې شین کېږي، په اوړي کې تازه خوړل کیږي او په ژمې کې حیواناتو ته د خوراک په ډول ورکول کېږي. ؛. ۷۹**

**خرسونه: د خرس جمع ده ، یو ډول خوشبو یه واښه دي چې د ریشکي(ریشقې) په شان تخم کوي او خلک یې خوروا ته ور اچوي. ؛. ۷۹**

**خرغوږی: خرغوږ، یو ډول خړ رنګه پت لرونکی بوټی دی چې خلک یې د ځینو ناروغیو لپاره استعمالوي. ؛. ۷۹**

**خرغوله: یو ډول بوټی دی چې د ویالو په غاړه کې شین کېږي او ځینې خلک یې پخوي، همدارنګه د هغه دانو لپاره چې سر یې نه وي وهلی د ملهم په ډول استعمالوي. ؛. ۷۸**

خرغینې : خرړگی ، خرگی ، خریړی، یو ډول مرخیړی، گوځی (د هنوانو ستوری، کاپرخولی ، لیوه پسکی ) دغه ډول مرخیړی نه خوړل کېږي. ؛. ۷۸

خرمېری: یو ډول نبات دی چې په سارا کې شین کېږي ، که له ځمکي را وکښل شي په ولیو(ریښو) باندې یې ژولې نښتي وي . ؛.۷۹

خرواړه: یو ډول سارانې سابه (ساک) دي چې سورگل کوي او د پسرلي په سر کې پیدا کېږي . ؛. ۷۸

خروړک: یوډول ساراني سابه دې چې سپین اوسره گلان کوي د پسرلي په اولو وختونو کې پیدا کېږي او اومه خوړل کېږي. ؛. ۷۸

خروه: د شین شوبی (شمشوبی) په څیر یو بوټی دی. ؛.۷۸

خره کی : یو ډول اغزی دی چې خلک یې په ژمې کې د پسونو لپاره وچوي. ؛. ۷۹

خره واژ: یو ډول سابه دي چې د جوارو د بمبل په ډول گل کوي اوحیوانات یې خوري. ؛. ۷۸

خریټې: ازدحام، د خلکوگڼه گوڼه . ؛. ۷۸

خړا وه: د سپو جنگ،. ؛. ۷۸

خړ سان: کوره سان ، یو ډول نخي او سپین ټوکر دی. ؛. ۷۹

خړنگی : شینشوبی، یو ډول سارنی بوټی دی چې گل یې شین اوپاڼې یې خړ دي او لوړوالی یې ۵۰ څخه ۷۵ سانتي متره پوري رسیږي. ؛. ۷۹

**خولګۍ:** وړه خوله، کوچنۍ خوله . ؛. ۲۴۰ او ۴۲۷

**خولګوټی :** مچو ، مچکه، مچه . ؛.۴۲۷

**د**

**داج:** د ناوی د واده کالي، هغه کالي چې ناوۍ ته د پلار له کوره ورکول کېږي . ؛.۲۴۱

**دا په دا :** په دې سبب، په دې وجه، په دې خاطر . ؛. ۱۰۵، ۲۴۱ او ۲۷۴

**دانګ:** ټوپ، خیز . ؛. ۱۹۹ او ۳۴۷

**دانې:** میوه داره، ثمر داره، میوه دانه، بارداره. ؛. ۴۸، ۲۵۹، ۳۹۴، ۴۱۵ او ۴۲۵

**داوڼ :** ټکری، شال، زړوکی، پوړنی، پړونی. ؛. ۲۴۱

**دوچار:** ګرفتار، اخته، مبتلا، ګیر، ککړ . ؛. ۳۵۵

**دد:** ځناور، ځیر ونکی ځاروی، ځیر ونکی ژوی، وحشي حیوان. ؛. ١٦، ۴۴، ۲۳۷ او ۲۴۰

**ددو:** د دد جمع ده، ځناورو، ځیر ونکي ځاروي، ځیر ونکي ژوي، وحشي حیوانات . ؛. ۱، ۲، ۳، ۴، ۹،۸ او ټول ټال ۴٦۵ واري نور.

**درخشان:** ځلان ، ځلاند ، روښانه. ؛.۷۵

**درزنۍ:** پلن هوار میدان ، سم ډګر . ؛. ۲۰ او ۷۳

**دروېشته:** ګډې وډې، درشته . ؛. ۲۸۹

**درغل :** مکار. ؛. ۱۲۴

درغلي: خيانت، درغلنه، منافقت، چل ( چريکي لار ) . ؛. ۱۸۴

درکار: يو بوټی دی چې زيړگل اوسپين بيخ لري. ؛. ۳۵۴

درکړ : د بگۍ د ارابې گردۍ الفه، د گاډۍ گردۍ ارابه، گاډيله لرگی. ؛. ۲۴۱

درکړۍ : غوجل، د کورني ژويو خونه، د اهلي حيوانات کوټه

دريځ : ممبر . ؛. ۲۱۳، ۴۲۷، ۴۲۹ او ۴۳۱

دښانو: دښمنانو، ميرځمنو. ؛. ۱۶۱

دم گړۍ: اوس محال، اوس. ؛. ۱۷۱

دنگ: لوړ، جيگ . ؛. ۲۰۶او ۴۰۲

دود: دستور، د ژوند تگلاره، رواج . ؛.۱، ۳۳ او ۴۵۲ نور.

دوسيه : مکتوب . ؛. ۱۲۳

دوه نۍ: دو شنبه

ډ

ډاډ: مطمعين، باوري . ؛.۲۳۸

ډاډينه : تسلي . ؛. ۲۶۸ او ۲۹۶

ډډون: تلاش، لټون، پلټنه، لټونه، پلټون. ؛. ۳۳، ۲۴۰، ۳۹۵

ذ

ر

راخپنځم: پړ کوم، نسکوروم، راچپه کوم،چپه کوم. ؛. ۲۶۱

راستـــې: کوڅې، کوسې، لارې، کشونه. ؛. ۱۰۷

راستی: ریښتیا. ؛.۱۵۸

رپ: سانیه . ؛. ۸۲، ۸۳، ۸۴، ۸۵ او ۲۴۷

رټ: تیز، ګړندی، څڅبېکی . ؛. ۳، ۱۰، ۱۱۲، ۲۳۵، ۲۷۵، ۲۸۱، ۲۸۴، ۳۰۳، ۳۱۵، ۳۸۷، ۳۹۲ او ۴۰۵

رټه : تیزه، بیړه، . ؛. ۱۲۳

رټې : رټه یې مفرده وی دە، جمع وی یې ده بیړه، . ؛. ۱۲۷

رفتار: تګلاره، کردار، کړندلاره . ؛. ۱۶۳

رنده: د ترکاڼۍ یوه اله (وسله) ده چې لرګې پرې تراشي، اواره، ټیقل کوي. ؛. ۱۸۲

رنګړي: رنګی، رنګړی یې مفرد وییکي دي ، لکه پټی چې له خځلو څخه پاک کړي او کښت خپله اصلي بڼه وه ښايې . ؛. ۱۷۱

روښــانه: ځلانده، زلانده، درخشانه، معلومداره . ؛. ۲۹، ۳۲، ۷۰، ۱۰۱، ۳۱۸ او ۴۱۱

ریږدان: ځوځیدنه، تریدنه، لړزیدنه، ریږدیدنه . ؛. ۲۶۸ او ۴۲۵

ړ

ړبن: لیرجن، ناړجن، لاړجن . ؛. ۵٦

ړنجې: د غاښ ریښې، ولیې، ولې، او دمات شوي غاښ پاتي شوې جرړې(ریښې)، مغردئي ړنجه . ؛. ۲۴۱

ړنګری : د چلم دروی، د چیلم نل، چلم نی . ؛. ۲۴۱

ړبنه: هغه ځوک چې لیر ئي بهیږي، هغه څوک چې

لیږجن وې، هغه څوک چې ناږجن وې، هغه څوک چې لاږجن وې.
؛. ٥٦

ز

زانګو: د ماشومانو دخوب ټال . ؛. ۲۰۷

زده کړه : تحصیل. ؛. ۲۴، ۲۵، ۱۹۰، ۲۴۴ ، ۳۱۸ او ۳۲۲

زرغون: شین ، سمسور، زراع، شنه. ؛. ۴۲، ۷۹، ۱۰۸، ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۳۲ او ۳۵۴

زړان: زړامبو، ژړاندو، زړاندو . ؛. ٢٦٨

زنکیان: هغه ماشومان چې پر مور باندې ډېر زیات ګران وي؛. ١٦٦ او ۴۱۴

زوزات : ماشومان، واړه، کمکیان، اولاد،خیل خانه ؛. ۱۷۷، ۲۳۰، ٢٩٦، ۴۱٦، ۴۲۱ او ۴۲۲

زوزان : زوزات، ماشومان، واړه، کمکیان، اولاد،خیل خانه ؛.۸۲، ۱۰۹، ۲۲۳ او ۲۴۱

زوزان: تریخ اغزی، د اغزیو یو بـېلګه ده چې ډېر زیات تریخ وي او د اوښانو خاص خوراک دی؛. ١٦١

زوکړه: پیدایښت ؛. ۵۰، ۸۳، ۳۹۴ او ۴۲۵

زیان: تاوان، نقصان، سوی ګټه، نا ګټه، بې فیدې، سوی فیده، لامفید؛. ۱۰۲، ۲۴۷، ٢٦١ او ۳۲۲

زیرسر: ذخیره ؛. ۸۴

زیګي : د زیرګی جمع ده چې په دي مانا سره ده :

**جیړه گی؛ششگی ؛جزگی؛ځیوگی ؛څوڅکی ؛جیشگی؛سیزگی ؛ژیژگی شیژگی په لغمان ولایت کې ځوداني ځلی ته ورته بڼه غر دی، زیگی یې مفرده وی ده . ؛. ۱۸۳**

**زیندې: له ستونی خفه ول؛. ۲۴۱**

**زیندۍ: له ستونی خفه ول ؛. ۷۷**

**ژ**

**ژاپن: جاپان . ؛. ۳۳ او ۲۴۲**

**ژاخو: بې ډوله، بدرنگه . ؛. ۲۴۲**

**ژرنده: د غنمو، وریجو، جوارو او وربشو اوړه کولو ځای. ؛.۱۵۷**

**ژړکوری : یو ډول غرنی بوټی دی چې خوندورې دانې کوي او خلک یې خوري په بدن کې د پټ زخم ښه کولو لپاره استعمالیږي او لرگي یې سوزوي بله بېلگه یې تورکوری ده . ؛. ۷۹**

**ژغورند: ساتونکی، ژغورندونکی، نجاد ورکونکی . ؛. ۱۵۳**

**ژغونډی: هغه لرگی دی چې د غوایانو په سټ کې راځي په ژغ کې موقعیت لري اوغویان د قولبې حالت کې یوبل سره نه لرېږي . ؛. ۷۸**

**ژمنه: وعده. ؛. ۴۱۵،**

**ژمنې: وعدې . ؛. ۷۷ ، ۲۰۳ او ۲۳۰**

**ژنل: مښل، شاربل، زگول. ؛. ۲۴۱**

**ژڼی: ځوان، ځلما، بلغا، مرد . ؛.۷۷ او ۲۶۹**

**ژونکه: حجره ، سیل . ؛. ۸۲ او ۱۵۴**

**ژوو:** **انسانان، اشرف المخلوقات، د حضرت ادم (ع) اولاد یا زوزات. ؛.۸۵، ۲۱۰ او ۲۴۲**

**ژوی :** **انسان، اشرف المخلوق، بنې ادم، د حضرت ادم (ع) اولاد . ؛. ۲۷، ۲۲۲ او ۴۱٦**

**ژۍ:** **غاړه، کناره، جۍ، پیڅه، څنډه، 2) ژی: د اوبو مشک، 3) ژې: د پښتو الفاباء لیکل شوی او کاپي شوی 20 حر وف، 20 حوف . ؛. ۳۱، ۳۳، ۱۱۲، ۲٦۲،۲۴۲ او ۳۹۳**

**ږ**

**ږبن:** **وعده لر ونکی، ژمنه لرونکی . ؛.۲۳۸ او ۲۴۱**

**ږغرل:** **د زړه په غوږو او ریدل، د زړه له کومې اوریدنه . ؛. ۳۳ او ۲۴۲**

**ږغېږي:** **اواز کول، ږغـېدا،غـرېدا . ؛. ۱۷۳ او ۲۲۰**

**ږوږ:** **کوکارې، زوږ، شورماشور،غوریدا. ؛. ۲۴۰**

**س**

**سابټ:** **بیخی، سوچ، بالکل . ؛. ۲۴۲**

**سابیړۍ:** **الوتکه، طیاره، جوز. ؛. ۲۴۲**

**ساډی :** **بې عقل، کم عقل . ؛. ۲۴۹**

**ساډۍ:** **بې عقله، کم عقله. ؛. ۲۱۱ او ۲۴۱**

**ساډو :** **لاپو، باټک، دوړمار . ؛. ۲۴۲**

**ساډیزم:** **روحاً او جسماً څوک په غذاب کول. ؛. ۲۴۱**

**ساړ:** **وچ، سوی، تږ گی، تیندی نه لولپه . ؛. ۲۴۲**

**ساز :                برابر، ورته، مساوي، هم شکله، یوه بڼه . ؛. ٦، ٧٧، ٧٨، ١٦٢، ١٨٢، ١٩٤، ٢٠٤، ٢٠٨، ٢٤٠، ٢٦٨، ٢٨٩، ٣١٢ او ٣٢٢**

**سالار :              مشر، میر، سرلوړی . ؛. ١٧٣ او ٢٤١**

**سپورې:            کنځلې، پوچې، بدی، زیړې، ژیړې. ؛.٢٨٩ او ٣٧٤**

**سجدې:              ځښتن ته ځان ټیټ راوستل، ځښتن لوېې ویل، له ځښتن سره د انسانانو د غږیدا موقع. ؛. ٤٠٥**

**سحق:               د دوې ښځو سره سامان مښلو ته وایې. دوې ښځې چې له یو بل سره سامان جنګوې او خپل شهوت پوره کوي. ؛. ٤، ٨٦ او ٨٧**

**سخهار:              سخه هار، دباد دالوتلواواز . ؛. ٣٥٦**

**سدوم:              په شام هېواد کې د ښار نوم دی. نوموړی ښار 4 ځلور فرسخه مساحت لري. او د الخلیل ښار ځخه 12 دولس میله لرې پروت دی. . ؛. ٨٦، ٨٧، ٩٠، او ٩٤**

**سربلند:             سرفراز،سرلوړی. ؛. ٧٩**

**سرداران:            مالیکان، د مالدارۍ مالیکان. ؛. ١٨٩ او ٢٩٣**

**ســــرفراز:          سرلوړی. ؛.٨١، ١٦٥، ١٦٦، ١٨٩، ٣٠٤، ٣١٥، ٤١٧**

**سرکار:              حکومت. ؛. ١١١، ١٨٣، ٢٩٢ او ٣٥٧**

**سرکوب :            خرس، سرټیټی، مختورن ، نسکور، ژیړمخی، زیړمخی، ملامت. ؛. ٥، ٧٥ ، ٩٠، ١٢١ او ١٢٩**

**سرکوزی:            1: سرټیټی، مختورن ، نسکور، ژیړمخی، زیړمخی، ملامت 2 : سرکوب، خنځیر، ځورله، خنزیر، خرس . ؛. ٦، ١٧٣ ، ١٩٩ او ٢٤٩**

سوزني: د ماشوم تړلو پړی، هغه پټۍ چې ماشوم پرې تړي. ؛. ۲۰۸

سزنۍ: د ماشوم تړلو پړی، هغه پټۍ چې ماشوم پرې تړي. . ؛. ۳٦٦

سستو: بې ایمانو. ؛. ۱٦۱ او ۱۷۳

سقر: دوزخ، جیهون . ؛. ۱۷۱

سوکړکو: جواری . ؛. ۲۰۷

سوکړکې: جواري . ؛. ۱٦۴

سماوار: سماوات هغه مسي شی چې پکې اوبه جوشوي . ؛. ۳۵۵

سمه ده: صحیح ده، صیې ده، ۴۷، ۸۳، ۲۴۸، ۳۰٦ او ۳۱۵

سنډا: د یو حیوان نوم دی چې په منځني ختیځ کې زیات پیدا کېږي. ؛. ۷۷ او ۳۲۰

سو استفاده : ناوړه استفاوه، بده استفاده . ؛. ۱۹۲

سوب: حاضر . ؛. ۸۲،۸۳، ۸۴، ۸۵ او ۸۷

سودایې: چورتي، په سوداکې. ؛. ۵٦ او ۲۴۹

سوډۍ: لټ، تمبل، مټه . ؛. ۲۴۹

سوډۍ: لټه، مټه، تمبله . ؛. ۱۰٦، ۲۱۱ او ۲۴۱

سوړ بخرى: الکترون. ؛. ۷۴

سوسیس: جاسوس . ؛. ۱۳۱ او ۲٦۸

سوګند : ږو، قسم. ؛. ۲۳۷، ۲۴۹، ۲۸۳ او ۴۱۸

سویل: جنوب. ؛. ۸۳، ۴۱۹ او ۴۲۸

**سیوا:** زیات، اضافه. ؛. ٢٦، ٨٦، ٨٧، ٩٠، ٩٢، ١٣٤، ١٣٩، ١٦٨ او ١٧١

**سیوس:** په شمالي اروپا کې یو نامتو هېواد نوم دی، چې د نړۍ ناوې او زرغون هېواد دی، د دنیا جنت یې هم بولي . ؛. ٧٩، ش

**شاړه:** ویرانه، خرابه ، شاړو، . ؛. ١٧٣ او ١٩٥

**شباب:** ځواني، ځوان کېدل . ؛. ١٧٣ او ٢٨٠

**شپه غاله :** لیلیه، د زده کړیالو لپاره د هستوګند ځای. ؛. ٧٩، ٢١٣ او ٢٤٢. ټول ټال ٥٥

**شلګر :** هغه نرم پټې چې د شولو کرکیلې لپاره یې چمتو کړي وې، د شولو نهل کولو لپاره تیار پټی له ابو ډنډ. ؛. ١٩٣ او ٢٦١

**شلیتې:** کنجرې . ؛. ٧٧، ٢٩٩ او ٣٠٥

**شمن ګل:** شمن ګال: د مهترلام په ولسوالۍ کې سویل لورته پروت د پښتنو کلی دی.خاله خیلونه کوز او له جوګي کلا نه پورته . ؛. ٢١٤

**شنډ بخری:** نیوترون . ؛. ٨٢ تر ٨٥

**شوغکۍ:** یو نوع واښه دي چې د پسرلي په موسم کې په دشته کې شنه کېږي اوشغې خلکوپسې نخلي . ؛. ٧٥

**شیبر :** په بامیانو کې د یوې سمې نوم دی چې ډېر ساړه وي پکې ، او یو ډېر لړلی زوړی ( کوتل) هم لري چې د شیبر کوتل یې بولې. ؛. ١٩٣

شیطان: ابلیس، ازازئیل. ؛. ۸۷، ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۵، ۲۰۳، ۲۸۷، ۲۹۵ او ۲۹۸

ښ

ښکرور: زورور، طاقت ور، زناور، ځناور، سوپر فاور. ؛. ۲٦۲

ښوونځو: مکتبونه، ښوونځي، د ښوونځی جمع ده. ؛. ۱٦۵

ص

صفی الله : زما نوم دی،د عربي ژبې وی ده، د الله رښتینی ملګری، د الله صادق دوست ۲:) د حضرت آدم ع تخلص دی . ؛. ۱، ۲، ۳، ۴، ۱۷، ۲۱، ۲۳، ٦۲، ۷۴، ۳۸۷ ټول ټال ۳۸ وارې کښل شوی.

ض

ضدي: قصد ناک، بې پرواء، قصد ناک، لړلی. ؛. ۲۰٦ او ۲۵۵

ط

ظ

ع

عین الله: زموږ سر ښوونکی، او د پښتو مضمون ښوونکی وه په منځنۍ ښوونځۍ تجربه وي نمبر اول کې . ؛. ۱٦٦

عیاله: زوزات، واړه، ماشومان ۸۸

عیال: اولاده. ؛. ۸۸

غ

غجکې: لکه دوې تاره (دمبوره) غوندې دولسي موسیقۍ

یوه ډېره ښه اله ده. ؛. ۱۵۴

غزال: هوسۍ. ؛. ۵، ۱۴۰، ۱۴۱، ۱۵۸ او ۲۰۶

غړلېږدی: ژغ لېدی، لوړغږی، لوړویونکی، لاوډ سپېکر

غوټۍ : د گل هغه حالت چې خلاص شوی نه وي. ؛. ۷۵

غوړغوړ: په اسمان کې د الکترونونو د تصادم صوت دی، غوړغوړی بابا، په وريځ اسمان کې سړو بځرو د ټکرونو غږ. ؛.۳٦۲

غوږکی: ټیلېفون . ؛. ۱۰، ۲۸۰ او ۴۰۴

ف

فصل: ځپرکی . ؛. ۴۰۵ او ۴۰۷

فیصله: پریکړه، تړه . ؛. ۳۵۱، ۳۹۵ او ۴۰۰

ق

قلعه: کور، انگړ،خونه، مېنه، قلع، کلا . ؛. ۲۸ او ۴۴۱

قوي: مضبوت، طاقت ور. ؛. ١٦۴، ۲۰۸ او ۳۸۰

ک

کاروان: پیر محمد کاروان، شاعر لیکوال زما د ادبې بهېر د ۲۰۰۴ کال اشنا. ؛. ۷۸

کاروان: قطار، قافله، کافله . ؛. ۴۳۵

کاکۍ : د کاکا ښځه ، د کاکا مندینه، د کاکا ارتینه، د کاکا مینا، د تره میرمن، د تره ښځه، د تره کور ودانه، تینداره. ؛. ۱۱، ۳۱۸ و ۳۹۹

کاڼه : هغه څوک چې اوازنه اوري. ؛. ۱۲۲

کبلۍ: د هوسۍ زوزات، د هوسۍ اولاد، د هوسۍ بچی . ؛. ۲۰٦

کټ مټ: یوشان، ورته، هم شکل. ؛. ۱۴، ۴۰، ۴۹، ۷٦ او ۳۸۵

کډوالۍ : مهاجرت ، کډوان،کډوال، مهاجر . ؛. ۱۸

کرۍ : ټول، درسته، واړه، گر سره . ؛. ۱۰۱، ۱۲۲، ۱۵۴، ۲۱۹ او ۲۹۳

کړۍ: حلقه، دایره . ؛. ۲۲۰ او ۳۴۰

ککرۍ : کپړۍ . ؛. ۱۲۳

کلام : ویناوې، خبرې . ؛. ۴۵، ۴٦، ٦٦ او ۷۰

کلام خبره، وینا. ؛. ۲۰۳

کِلمان: په لغمان مرکزکې د میدانیو سیمې ځخه کوز د ملایانو کلی دی، تانده سیمه ده ورته کېلمان وايي: . ؛. ۴۲۳، ۷۷

کله خور: سر خوړونکی، کله خورک، یوه بیلگه الوتونکی دی چې زیړه سینه، تور سر ،اوږده لکۍ او ډبله چنگه مښوکه لري. چتکی یو بلگه وړوکی الوتونکی دی (امریکایې وړه مرغۍ) خورې. او ماشومان یې کافر الوتونکی هم نوموې. . ؛. ۲٦۱

کم اصل: بې نصبه، سوی اصیل، ډم جولا، نداف، قوال، بازینگر،نځی. ؛.۱۸۳، ۱۸۴، ۲۳۰، ۲۴۹ او ۲۸۷

کوراک: غوزانو یو ستره بـېلکه چې ډېر سخت وې او ماشومان یې د ځلورمغز و په لوبو کې د ټکي په ځای استعمالوي. ؛. ۲۴۱

کوره سان: خړسان یو ډول نخی اوسپین ټوکردی. ؛. ۷۹

او۴۱۴

کوړ : ناسم، سوی سم. :. ۲۲۴، ۳۰۹

کُلمان: په لغمان کې یو غرنۍ سیمه ده چې وګړي یې په کُلمانې( پشه يي) ژبه خبرې کوي . :. ۷۹ او ۲۰۳

کونده ګل: د الینګار په ولسوالۍ کې شمال ختیځ لورته پروت د کلي نوم دی. په نورلام کې د ډکرې کلا نه پورته. :. ۲۱۴

کنړي: د کنړ، د کنړونو، د کنړ ولایت چې مرکز یې اسد اباد او ښار یې چغسرای دی ( ځکه یې کنړونه بولي چې څو کنړونه لري لکه خاص کنړ، بر کنړ، کوز کنړ په کې دي) . :.۳۸۸

کوهی: ساه . :. ۱۷۳

ککی: ځنکی، زانکی، ښنکی، ښکلی ماشوم، ډولي ماشوم، هغه ما شوم چې په مور ډېر ګران وي. :. ۱۴۱

کهول: کورنۍ، . :. ۱٦۱، ۳۱۲ او ۳۹۹

کوټی: کیسکی ،د خره بچی. :. ۴۰۴

کـېږدۍ: خیمه . :. ۱۸۸

کېلمان: کِلمان، لغمان مرکز مهترلام پوري اړوند کلی دی چې د میدانو سمې کې . :. ۷۷

ګ

ګاډیلې: ګرده حلقه، د ګاډۍ ټیر . :. ۲۲٦

ګټیالۍ: ګټونکې ښځه. :. ۷۷

ګډا: نڅاء، بازي . :. ۱۰۳، ۲۷۸ او ۴۳۳

ګریان: ژړا. :. ۱۰۷ او ۱۹۸

گس : کین، چپ. ؛. ۴۳۰، ۱۹۳

گسټ : کین، چپ. ؛. ۵۷، ۱۹۲، ۲۲۹ او ۳۱۸

گسمټې : کینمټی، چپکو . ؛. ۴۳۵

گواښ: گواښنه ، گوت څنډنه، خبرداری، اخطار. ؛. ۱۷۱

گور: قبر . ؛. ۲۰۶، ۳۳۳

گور : کتل، د شپه میر ویا د ساتونکو په سیستم کې هغه حالت دی چې تر پـېنځه قدمه واټنه پورې امیر ته پاتې شو لاسونه سره تړي په ورنو کلک نیسي او د میر په لور گور کوي د تعلیم قدم په بڼه تیر بړي. ؛. ۷٦، ۳۹٦، ۴۲۹ ، ۴۳۱ او ۴۳۲

گویا: وینا، په خبرو اخته. ؛. ۳۵، ۱۵۳، ۲۷۱ او ۳۰۹

گویان: په خبرو، ږغا، غږا، وینا. ؛.۹۷، ۱۰۳، ۱۲۰، ۳۰۳، ۳۰۴، ۳۰۷، ۳۱۳ او ۳۱۵

گیځ: سهار . ؛. ۱۵۴

ل

لالا : ستر ورور، ستر اوښی، ستر کاکا، مشری ورور، خوږ مشر. ؛. ۳۳، او ۲۴۰

لالیه : پر میرمنې چې خپل خاوند ډېر گران وې نو په لالیه یې رابولي.شرین، خوږ، شات . ؛. ۱۴۵، ۲۱۵، ۲۱٦، ۲۱۷، ۲۱۸، ۲۵۱ او ۲۸۳

لانجه : جنگ اوجدل. ؛. ۱۲۲

لا ویاړي: سوی ویاړ، بې ویاړه، نا فخره، لاغروره. ؛. ۱۰۵

لرلید: دوربین . ؛. ۴۳۵

**لرلید:** ورستی‌ګنه، راتلونکي بڼه . ؛. ۸۳

**لـړان :** د سطر ونه غونه، رووې، قطار، ځنځیر، د عنوانو مخ، لکه: لیکلړ، د لیک یا موخو د عنوانو مخ، لیک د سطر و غونه. ؛. ۱۰۷

**لړزان:** ریږدان، ځوځیدنه، تریدنه، لړزیدنه، اینې دیدنه . ؛. ۱۰۷، ۱۴۵، ۱۵۸ او ۳۰۵

**لړی :** پروسه . ؛. ۱۲۵

**لغاز:** طنز. ؛. ۲۹

**لغمانی:** هغه کس چې په لغمان سیمه کې زوکړه شوی وي، هغه تن چې په لغمان سیمه کې پیدا شوی وي، د نومورې سیمې ژوند ګړ. ؛. ۱۲۴، ۳۰۳

**لمپاکا:** د لغمان ولایت پخوانی نوم دی. ؛. ۷۸ او ۱۵۳

**لوبغالې:** لوبغاله یې مفرده وی ده، ستېډیوم، د لوبې میدان . ؛. ۲۴۲ او ۴۲۵

**لوښه:** خاصه. ؛. ۸۴

**لوکاټ :** یو بڼه میوه ده چې په لغمان کې خورا ډېر دي او په زیاته ګڼه ثمره هم نېسې، ژیړ رنګ اوقهوه یې دانې لري. ؛. ۳۵۵

**لوګر:** لوګر ولایت چې مرکز یې پل عالم دی. ؛. ۱۹۳

**لویدیځ:** لمرپریوته، غرب. ؛. ۸۵، ۳۳۵، ۳۸۵ او ۴۲۸

**لوري:** سمتونو، طرفونو، له اړنه، د لوری یې مفرده وی ده. ؛. ۱۵۴، ۱۶۹، ۲۵۱ وا ۳۸۷

**لیکلړ: د لیک د عنوانو مخ، لیک د سطر و غونه، لړ لیک . ؛. ۲۴۲ او ۴۲۵**

**لینده ماره: غیشي ویشتونکي ربړي غولکه. ؛. ۱٦۴ م**

**مانده : هغه ځای ته ویل کېږي چې پر سړک باندې اوبه په لنډو واوړي، چې نوموړی ځای پر سړک د سیلاب یوناساپي راتلو لپاره جوړشوی وي، اوهلته سړک موړ اویا چړائي جوړه وي. نو که پر سړک داسي ځای شتون ولري چې اوبه ترې اوړي نو پښتو ژبه کې ورته مانده وایې.( واش) او د انجینرۍ له پامه که پر سړک داسي ځای شتون ولري چې اوبه تري اوړي د اوبو اندازه په کې تر دیر شو سانتیو پوري اویا د کوچنیو موټرو ټیر ونه په کې ډوب نشي نو مانده پري جوړه وي. اوکه د دیر شوسانتیو نه اوبه زیاتي وي نو پول چک پري جوړه وي . بیلگې یې : د محمد گل پاچا مانده، کندي مانده، خروټو مانده، باغ میرزا مانده، هرمل مانده، کټل مانده او د شخترای ماندې. ؛. ۱۳۷، ۱۳۸ او ۱۳۹**

**ماندینه : ارتینه، مینا، میرمن، ښځه، کور ودانه، د ژوند ملگرې. ؛. ۳۱۹**

**مټاک: سخت منځی، پوچ، خالي غوز،تش منځی چارمغز . ؛. ۲۴۱**

**مچو: مچه، مچکه، خولگۍ، چپو، خولگوټی. ؛. ۲۴۰، ۴۱۱**

مردان: په کوزه پښتون خوا کې یوه منطقه ده، چې تخبی ځخه سو واټن ړومبی راځي. ؛. ۷۷

مرغومی: پشیرلی، د پسه هغه بچی چې عمر یې له یوه کاله کوچنی وې مرغومی یې بولي، که له یوه کاله یې عمر لوړ وې وری یې بولي، او که چیره یې عمر له دوې کلو پورته شي نو مګ یې بولي. ؛. ۲۵۹ او ۲٦۰

مړوندان : مړوندونه. ؛. ۲٦۸

مسجد: د لونځ ځای، چې یوازې الله تعالی ته په کې عبادت کېږي. ؛. ۵۲، ٦۵، ۳۴۴، ۳۴۵ او ۳۵۱

مصباح: څراغ، چراغ، د شیدو یا د شرابو پیاله. ؛. ۲۸۸

مطعم: خوراک. ؛. ۱٦۱ او ۲۰۷

ملګري: دوستي، اشنایي، بډه والی. ؛. ۳، ۲۳، ۲۸، ۳٦، ۳۷، ۱۰۱، ۲٦٦، ۳۸۱، ۳۸۴ او ۳۹۱

منبر : دریځ، د تبلغ د ودریدو ځای،( مونږ ورته ډېر زیات احترام لرو او همیشه دا په پام کې نیسو چې غلطه خبره او کوم ناوړه وینا، ترېنه سوی استفاده ونکړو. ځکه چې حضرت محمد(ص) به له منبر نه د اسلام دین، کره شیان، مقدس کتاب قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی وو پوره مسلمانانو ته رسوه او ابلاغ کاوه یې . چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی. او منوونکو ته یې مسلمان وایې. الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو ځخه په کلکه منعه کړي چې حرام دي( حرام یې بولي). او نه به یې

**کوځ:په ځمکه کې فساد، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل، د خوږ غوښه خوړل، د يتم مال خوړل، ظلم، منافقت،... او له هغه سره شريک نيول. او بل لېږ شيانو يې حلال گرځولي دي چې هميشه به يې کړئ ( کوي به يې) : لمونځ، روژه، زکات،حج، يوازې او يوازې د الله تعالی د رضا لپار جهاد، ښه صلوک، ښه رويه، ارام خوراک کول په ټيټ اواز غږيدل، د مشرانو احترام، پاک خواړه خوړل، جغات، د مور اوپلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ويل.. .؛. ۲۴۹**

**منځی : هسته. ؛. ۸۲، ۸۳، ۸۴ او ۸۵**

**منځه گل: د علينگار په ولسولۍ کې سويل لويديځ لورته پروت د کلی نوم دی. بديع لاباد کې. ؛. ۲۱۴**

**منگي: د اوبو لوښي، گړي، مفرده وی يې منگی دی. ؛. ۱۳۰**

**موټي: مفرده وی يې ده ، موټی سوک . ؛. ۲۰۷**

**موخي : سوله وي، موخل، مخل. ؛. ۲۸۸ او ۲۸۹**

**مورچل: ډگر، سنگر. ؛. ۱۹۲،۱۹۹ او ۲٦۸**

**موزي: حسود. ؛. ۱٦۳**

**موزون قدم: د قدم هغه بېلگه ده، چې زموږ د هېواد افغانستان د شپه ميرو په سيستم کې له لمړني حالت پيل څخه شروع، تر 25 متری واټنه پورې چې د شپه ميرو مير ته نږدې کېږي. کله چې د شپه ميرو ټول ټولگی له شپغالې اويا له ټولگي څخه د پريټ ميدان ته راوضې. نو د پريټ په ميدان کې د کشونو په پيلنې ځای کې شپه ميري په لمړني حالت او سکون حالت کې**

ولاړ وي. چې دایې لومړی حالت دی. نوکله چې میر یا قومندان یې ورته وایې:- اسلام علیکم ورحمته وبرکاته؟ ، په ځواب کې شپه میري وایې:- وعلیکم ورحمته وبرکاته! او بیا ورته وایې:- ستړي مشئ؟ په ځواب کې شپه میري وایې:- ژوند!، ژوند!، ژوند!. او که چیرته سر پټې ودانۍ، تالار، ټولگی، ځغاسته، حال، وې په ځواب کې یوځل لپاره ژوند! وايي. اویا وايي چې څنگه یيئ؟ ژوند!، ژوند!، ژوند!. او که خدای په امان وايي؟ نو بیا ټول شپه میري یې علمي او نظامي د درجه(رتبه)گوري او وايي :- بریالي اوسئ مل پاڅوال صیب (یا نور......).

په دویم حالت کې ورته وايي:- تیار شئ!نو شپه میری هر یو تن ځان برابروي. په درېیم حالت کې ورته وايي:- ارام شئ! نو شپه میری هر یو تن ځان پټه خوله کوې. په څلورم حالت کې ورته وایې:- مرش! شپه میری هر یو تن (یو قدم) پښې پر ځمکه یو وارې وهي او په گډه سره یو اواز کوي (هوو!). په پـېـنځم حالت کې ورته وایي:- یو- دوه! شپه میری هر یو تن دوه قدمه پر ځمکه وهې او په گډه سره یو اواز کوي له هر قدم سره (هوو!)،

چې هرکله میر( یا دریځ، مشرانو، لویانو، درې گونو چارو استازو، د افغانستان دننه نیو چارو وزیر، ولس مشر یا د هېواد د ازادۍ په ورځ د تیریدوکې ) ته 25 پـېـنـځه وېشت قدمه واټن پاتې شوه.

تعلیم قدم پیله وې پاتې شونې د نه وې چې د ښوونکي یا د میر له امر نه ورسته.په تعلیم قدم کې پښې په ځمکه وهي او ورسره اواز کوې هر کله چې تر پـېـځه قدمه واټنه پورې امیر ته پاتې شوه

لاسونه سره تړي په ورنو کلک نيسي او د مير په لور ګور کوي. په شپږم حالت کې ورته وايي:- تعليم قدم !. بيا شپه ميري سره په ګډه وايي يو!، خپلو پښوته ډب ورکوي. بيا وايې دوه! بيا خپلو پښوته ډب ورکوي. بيا وايې درې! بيا خپلو پښوته ډب ورکوي.
او موضون قدم ( ارامه تيريدل،ارام قدم، هوسا حرکت) کوي.
د صف تړلويا برابر ول د شپه مير و(پوليسو، څارواکي) په تېريدوکه (رسم ګز شت، پريټ) کې د هېواد د ازادۍ په ورځ نهه، نهه تنه په اوږدو او نهه، نهه تنه په لنډو وي 9X9 په هره يو ټولي وې. چې ټول سره 81 تنه کېږې. چې نوموړي ټولي په لس ګونو ګنه وې.
او افغانستان د شپه مير و سيستم تيارونه دِ ښي لور ته لوړ تنان وې او ګس لور ته ټيټ تنان وې.
له ښې لوړ لور څخه د9X9 تنيز صف تړلو پيل کوي او په ګس ټيټ لور يې پای ته رسوې. او د افغانستان د ملي پوځ سيستم تيارونه دِ لمړي صف ته لوړ تنان وې. او نهم صف ته ټيټ تنان وې. له پيل لوړ لور څخه د (سرتيرو،ساتونکو،پوځيانو،اردو) 9X9 تنيز صف تړلو پيل کوې او د پای په ټيټ لور يې پای ته رسوې.
کله هم چې تېريدوکه بشپړ ېږي.د ګڼې شمـېره يې سل زرو تنو شپه ميرو،ساتونکو ته رسيږې.نو ځکه د هر يوه شپه ميراوساتونکی د احترام او سلامۍ لپاره د دوی ستر مير( هر يو :- د شپه ميرو ستر مير د افغانستان دننه نيو چارو وزير... نوم يې... پلانکي صيب او ساتونکو ستر مير افغانستان د ملي دفاع وزير... نوم يې... پلانکي صيب ) په سر لوڅي موټر کې تيار سۍ ولاړ وي.

**د ټولو برا بر شویو او تړل شویو ټولیو په وړاندې تیرېږي. نو ځکه په پښونه شي کوی چې د دوره ډېر و تنو په وړاندې په پښو تېر شي. ځکه په سر لوڅي موټر کې تیار سی، ولاړ وي او د څودانو د ټولیو په خواکې ودرېږي. د دوی په لور ګور کوي په نظامې سلامی، ولاړ وي او ورته وایي:- اسلام علیکم ورحمته وبرکاته؟ ، په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانګړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- وعلیکم ورحمته وبرکاته! او بیا ورته وایې:- ستړي مشئ؟ په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانګړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- ژوند!، ژوند!، ژوند!. او بیا ورته وایي:- د شپه میرو ستر میر د افغانستان دننه نیو چارو وزیر...... پلانکي!، یا د ساتونکو ستر میر د افغانستان د ملي دفاع وزیر...... پلانکي!**

**په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانګړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- بریالي اوسئ د شپه میرو ستر میر د افغانستان دننه نیو چارو وزیر...... پلانکي صیب!، بریالی اوسئ د ساتونکو ستر میر د افغانستان د ملي دفاع وزیر...... پلانکي صیب!**

**له ټولو ټولیو ته له تېریدونه ورسته نوموړي میران ځي او په دریځ کې ولس مشر د هېواد له ستر لویانو سره ولاړ وي او دوی ورته سلام کوي.وایي :- د افغانستان داسلامي جمهوریت ولسمشر ...... پلانکي صیب اسلام علیکم ورحمته وبرکاته! د افغانستان داسلامي جمهوریت ولسمشر......**

**پلانکي وایي:- وعلیکم ورحمته وبرکاته!**

**او بیا ورته وایې:- ستړي مشئ؟ په ځواب کې د افغانستان داسلامي جمهوریت ولسمشر ......**

**پلانکي وایي:- ژوند!**

**او بیا ولس مشر ته لاس ورکوي او غیره، ولس مشر ورته وایې مننه! او په خوا کې ور سره ودریږې. تیریدوکه پیل کېږي.**

**او د هر یوه ټولی په اړه ولس مشر ته ځانګړي معلومات وړاندې کوي. ورسره خبرې اترې او خپلې خوښۍ څرګنده وې.**

**د صف ترلو یا برابرول په عادي حالت کې 45 پـښځه ځلوېښت کسیزه ټولی وې.**

**د نظام جوړه ونه:**

**ټولی مشر لومړی وار وایي:- ارام شئ!**

**ټولی مشر دوهم وار وایي:- تیار شئ!**

**ټولی مشر دریم وار وایي:- د ښاغلي پاڅوال صیب د احترام لپاره ښي لور ته ګور!**

**ټولی مشر څلورم وار وایي:- د ښاغلي پاڅوال ته د درېیمې پوهنځۍ د زدکړیالانو د شتونوالي رافور ستاسو ښاغلي پاڅوال په وړاندې اوروم!، وړاندې کوونکی شبیر احمد لغمانی!، د دیارلسو شپږ اویاوم کال د څلورم کال زده کړیال.**

**ښوونکي (د شپه میر و میر): مننه ! وړانګور او ارام شئ ورکړه!**

**ټولی مشر په پـښینځم وار وایي:- وړانګور!**

**ټولی مشر په شپږم وار وایي:- ارام شئ!**

ښوونکي (د شپه میرو میر): خپله موخه، ورمونه، وړانگويني اود زده کړې کوم ځپرکی د زده کړيالانو زهنونو ته رسوي! . ؛. ۲۵۱
میر: مشر، سالار، ښاغلی. ؛. ۱۵۰، ۲۵۱، ۲۸۵، ۲۹۲، ۳۷٦، ۳۹۰، ۴۱۷، ۴۳۰، ۴۲۸، ۴۳۱ او ۴۳۲
میره: ټټنگ، دښته، بیابان. ؛. ۷۸ او ۳۹۹
میریالي خیل: په مهترلام کې ختيځ لور ته د ډاگ په اخیره برخه کې د کوچیانو کلی دی. ؛. ۱۸۹
ن
ناوکۍ: ناوې، ناوی . ؛.١٦٩ او ۱۷۰
ناکۍ: ناک ته ورته جلۍ ، چې شفاف نازک مخ ولري له میده خالو سره . ؛. ۲۲۹
نڅا: گډا، بازې، رقص. ؛. ۲۸۸، ۲۸۹ او ۴۲۳
نذر: شرط . ؛.۱۷۲
نغوته: اشاره. ؛. ۱۴، ۸۲، ۸۴ او ۳۸۵
نقره : سپین زر. ؛. ۱۲۳ او ۳۴۵
نگهبان: څښتن، ساتونکی. ؛. ۲۰۳
نمره اول: د ښوونځۍ نوم دی چې ما په کې منځنۍ ښوونه کړي. ؛. ١٦٥ او ١٦٦
ننداره: لیدنه، کتنه ، ۲:) ننداري يې جمع ده یا سینما. ۳:) ننداړتون : نمایشگاه . ؛. ۱۱۴، ۳۸۰ او ۳۸۱
ننه توزي: مقدمه ، مخکې وینا، سریزه. ؛. ۴، ۷۲ او ۳٦۰
ننه واتې : خواست دامن، ریباری. ؛. ۳۳۸

**نوکر:** خدمت گار، غلام. ؛. ۱۸۳، ۱۸۴ او ۲۰۷

**نوموړ:** میړنی، نامتو، سرلوړی، سرفرازه . ؛. ۱۰۱

**نیمنانو:** نیم نانی، ښه هلک ( په سهیل کې نانی هغه هلک ته وایې چې عمر یې له کس نه کم وي او نوم یې هم زده نه وي.نو د احترام لپاره ور ځخه پوښتنه کوي نو د نانی په نوم یې بولي ، اوکه نوم یې نه ورځې او له کس نه عمر کې ستر وي نو د احترام لپاره ور ځخه پوښتنه کوي نو د کاکو په نوم یې بولي، هغه هلک ته وایې چې ځوان شوی نه وي عمر یې له ځلورو ځخه تر نهو کلو پوري وي.نمچه هلک) په الینگار ولسوالۍ کې د سلینگار کلي نه پورته د چهارقلعه، براخېلو او الوخیلو قریو ترمنځه پرته قریه ده. زموږ د دوهم کلی نوم دی. ؛. ۵۱ او ۲۰۶

**نۍ:** هفته. ؛. ۸۲

**ڼ**

**ڼنکی:** زنکی، جمعه یې زنکـــــیان،هغه ماشومان چې پر مور باندې ډېر زیات گران وي، د ناصرو قوم ځینې خلک رنکي ته ڼنکی وایي. ؛. ۴۲۳

**و**

**واړه:** ټول، درست، گرسره . ؛. ۸۰، ۸۳، ۸۹، ۹۴، ۹۶، ۱۰۶، ۱۰۷، ۱۰۸، ۱۰۹، ۱۱۳ ټول ټال ۷۸ واري

**واورېژونه:** د واورې رېزونه، د واورې رېژونه، برف کوچونه . ؛. ۱۹۳

**واورین :** واوریز، له واورو ډک، پُربرف. ؛. ۷ او ۱۹۳

**وخت: زمان، سهولتونه، ګرځیدنه، څرخا، تاویدنه، چورلیدنه داعصابو پاریدنه، ګبنهی اخیستنه، ترله وتنه: چکر وهنه: بدلیدنه: کړ لیچ: پیښه: کار، چوپړ، خدمت: وار، روڼ: سینګار: څیره، جوله، بڼه: طرز، چم: میلان. ګرځول، چورلول: بڼه ورکول: راپه زړه کول: تاوول: اړول: ستنول: په بل مخ اړول: بې ځایه کول: بدلول: تنبول، په شا کول: مخ کول، توجه کول، سپارل: ترجمه کول، ژباړل: جوړول: ګرځیدل، تاویدل، څرخیدل، چورلیدل، ستنیدل: اوښتل.**

**لکه: زه به لوبغالې ته په یوه نیی ، منځنیی (یک شنبه،سه شنبه، ) تلم په یکیی باندې، لرلید داره بادې ټوپک مې وو ، په نښه ویشتو کې ګسمتې یمه ځکه کبڼ لورې سترګه مې عادت د پټېدو نه لري.کلي کې مو ځاي نه وه په بیړنیو شیبو کې به یو بل ته چمتو وو په خپل منځو کې او ښې لوبوې به مو کولي ډباډب، کیکیشن کای کراټې، کرکټ، خوسي. ؛. ٦٦، ٨٥، ٩٣، ١٩٢ ټول ټال ٣٠ وارې نور.**

**وچه بیړی: د اوښانو کاروان، د اوښانو ګله، د اوښانو قطار، د اوښانو قافله، ( هغه د او ښانو کاروانونه چې په صحراګانو کې تر څو میاشتو منزلونه کوي) . ؛. ١٦١**

**ورانکاری: شراندازی، یاغې، بلواګر، اورپکی، وسله وال . ؛. ١٥۴**

**وردیی: یونفارم، جاله، نظامي لباس. ؛.٢٥١**

**ورګوزار: ورغورځیدل، ټیله کول، سبب کیدل د**

غورځېدو. ؛. ۱۵۸

ورمونو: نصيحتونه. ؛. ١٦٦

وړکتون: د ماشومانو ساتنځی، کودکستان. ؛. ۲۹٦

ولس: قوم، د سيمې وګړي، د سيمې ژوندګړ، جرګه، دمشررانواجلاس. ؛. ۳۳، ٥٦، ٦٦، ۹۸، ۲۴۰، ۴۲۹، ۴۳۱ او ۴۳۲

ونه ځښې : ونه ځکې، ونشکې . ؛. ۱۹۳

ون قدم: ارامه تيريدل،ارام قدم، هوسا حرکت کوي. کله چې تعليم قدم پای ته رسې ارام قدم، هوسا حرکت پيليږي. ۴۳۰

ويجاړ: وران، خراب. ؛. ۳۳۴ او ۳٦۲

ويوکي: لغات، وييکي،ويکي، ويي. ؛. ۳۳، ۴۸ او ۲۴۲

ویۍ: لغات، وييکی. ؛. ١٦، ۴۴، ۴۷، ۷۳، ۹۸، ۳۸۸، ۳۹۰، ۳۹۴، ۴۰۱، ۴۰۵، ۴۱۳، ۴۱۵، ۴۲۰، ۴۲۵ او ۴۲۸

ویۍ: د حيرانتيا اوز، بې برکته ناره يا غږ. ؛. ۲۱٦

ه

هاران: د حضرت لوط (ع) د پلار نوم دی. د حضرت ابراهيم (ع) د مشر ورو نوم دی ، او د ازر ستر زوی . ؛. ۲٦ او ۸٦

هټيوال: دوکاندار، هټۍ وال ؛. ۳۴۴

هرُم: د اور شغله . ؛. ۷، ١٦١ او ۲۰٦

هېرهوون: له ياده باستل شوي، هېرکړل شوی، له پامه باستل شوی. زما د نږدي ملګري او دوست توريالي « هېرووون » مشهور په تړون د تګاب ولسوالۍ . ؛. ٦ او ۱۴۹

**ي**

**یکۍ:** **بیسکل. ؛.۴۳۵**

**یوه نۍ:** **یک شنبه. ؛. ۴۳۵**

**لنډون**

**په دې ټولګه کې مخففات د اصلي کلمو پر ځای یوازې دغه لاندېنی راغلی دی.**

**ج - ۱ :** **جانداد « الکوزی » . ؛. ۷۱ یو اویاوم چوپړی**



Name of This Poetry Book

# Calir Ki De Dado Dod

Poet: Eng. Safiullah Firdows

safiullah.janan@gmail.com
Skype: safiullahfirdows
0093 (0) 786904799